د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبان ها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

په دې گڼه کې:


- تور ادبیات
- «اوبو وړی» او د مهاجرت د ژوندانه ځینې انځورونه
- د لسم ټولگي پښتو مضمون کې د ځینو متونو ژبنۍ او مفهومي څېړنه
- په پښتو ژبه کې نا اړین او تکراري نویزونه
- د طاهر کلاچوي په شاعرۍ کې د تلمیحاتو تحلیل

او نور...





- دري میاشتنۍ
- دربیمه دوره
- کال: ۱۴۴۷س/ ۱۴۰۵ل
- د تأسیس کال: ۱۳۱۰المریز
- کابل- افغانستان

۱

ژبني، ادبي او فولکلوري دري میاشتنۍ څېړنیزه مجله
کابل
۱۴۰۵ المریز کال، ۱ گڼه


# Kabul

## Quarterly Journal

**Establishment year: 1931**
**Research and Scientific Publication of**
**Afghanistan Science Academy**

Afghanistan Science Academy
Torabaz Khan, Shahbobo Jan Str.
Shahr-e-Now, Kabul, Afghanistan.

0202201279

د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
معاونیت بخش علوم بشری
مرکز زبانها و ادبیات
د پښتو ژبې او ادبیاتو انستیتوت

# کابل

ژبنۍ، ادبي او فولکلوري درې میاشتنۍ څېړنیزه مجله

د تأسیس کال: ۱۳۱۰ لمریز
د ۱۴۴۷س./ ۱۴۰۵ ل. لومړۍ ګڼه

## یادونه

✓ مقاله دې له یوې رســـمي پتې څخه چې په هغې کې د لیکوال نوم، تخلص، علمي رتبه، د ټیلیفون شمېره او برېښنالیک پته وي، د علومو اکاډمۍ ادارې ته را ولېږل شي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید پوهنیزه ـ څېړنیزه، بکره او له منل شویو علمي معیارونو سره برابره وي.

✓ رالېږل شوې مقاله باید په بله خپرونه کې نه وي خپره شوې.

✓ د مقالې سرلیک باید لنډ او له منځپانګې سره سمون ولري.

✓ مقاله باید د ۸۰ او ۲۰۰ کلمو ترمنځ لنډیز ولري او د څېړنې پو ښتل شوې پو ښتنه ځواب کړای شي. همدغه راز لنډیز باید د یونسکو په یوې ژبې ژباړل شوی وي.

✓ مقا له با ید د سریزې، اهمیت، مبرمیت، موخې، د څېړنې پوښـــتنې، د څېړنې روش، پایلې او مأخذونو لرونکې وي او په متن کې مأخذ ته نغوته شوې وي.

✓ مقاله باید د لیکوالۍ له اصولو سره سمه وي، املایي او انشایي تېروتنې ونه لري.

✓ د مقالې حجم حد اقل یې ۷ مخه او حد اکثر یې ۱۵ معیاري مخونه وي، د فونټ ســایز ۱۳، د کرښــو ترمنځ فاصله باید (Single ) وي او ادارې ته دې سافټ او هارډ کاپي دواړه را ولېږل شي.

✓ د مجلې کتنپلاوی د علومو اکاډمي د نشراتي لایحې له مخې د یوې مقالې د تائید او رد واک لري.

✓ د رالېږل شویو مقالو شننه او څېړنه د لیکوالو فکري زېږنده ده، لیکوال ته بویه چې سپیناوی یې په خپله وکړي، اداره یې په سپیناوي کې کوم مسئولیت نه لري.

✓ د مجلې له چاپ شویو مقالو څخه استفاده کول، بې له مأخذه جواز نه لري.

✓ ادارې ته رالېږل شوې مقاله بېرته لیکوال ته نه ورکول کېږي.

بسم الله الرحمن الرحيم

**خپرندوی:** د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**مسئول مدیر:** څېړندوی خالد تکل

**کتنپلاوی:**

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکېب

څېړنپوه دوکتور رفیع الله نیازی

څېړنپوه محمد آصف احمدزی

**چاپ ځای:** حبیب ناصري مطبعه. کابل ـ افغانستان

**پته:** د افغانستان د علومو اکاډمي، توره باس خان واټ،

کابل، شهرنو، د شاه بوبو جان کوځه

**د اړیکو شمېرې:**

۰۷۸۱٦٦٦٦٦۲- ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹

**د مجلې برېښنالیک:** magazinekabul@gmail.com او info@asa.gov.af

**د کلني ګډون بیې:**

په کابل کې: ۳۲۰ افغانۍ

په ولایاتو کې: ۱۴۴۰ افغانۍ

په نورو هېوادونو کې: ٦۰ امریکایي ډالر

په کابل کې د یوې ګڼې بیه:

د علومو اکاډمۍ د څېړونکو او استادانو لپاره: ۷۰ افغانۍ

د زده کوونکو او محصلینو لپاره: ۴۰ افغانۍ

د نورو ادارو لپاره: ۸۰ افغانۍ

# لیکلړ


| ګڼه | سرلیک | لیکوال | مخګڼه |
| --- | --- | --- | --- |
| ۱ | تور ادبیات | څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي | ۱ |
| ۲ | پښتو لنډۍ، د خاموشۍ نړۍ اوچت غږ | استاد عبدالخالق رشید | ۲۳ |
| ۳ | په پښتو ادب کې سانېټ | نوماند څېړندوی جاوید افتاب | ۵۷ |
| ۴ | «اوبو وړی» او د مهاجرت د ژوندانه ځینې... | څېړنوال دوکتور نورالحبیب نثار | ۸۳ |
| ۵ | د لسم ټولګي په پښتو مضمون کې د ځینو... | څېړندوی خالد تکل | ۹۷ |
| ٦ | د ګلشن افغان په اړه د کورنیو او بهرنیو پوهانو ... | څېړنپوه عبدالرحیم بختانی | ۱۲۱ |
| ۷ | د طاهر کلاچوي په شاعرۍ کې د تلمیحاتو تحلیل | پوهنیار محمد ولي الهام | ۱۴۳ |
| ۸ | په پښتو ژبه کې نااړین او تکراري نویزونه | څېړندوی احمد الله وصال | ۱٦۷ |

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي

# تور ادبیات

# Dark Literature

Prof. phD.Sayed Nazim Sayedy

**Abstract**

Dark literature is not a new phenomenon and has a long history worldwide, but it remains largely new and unexplored for us, making its study essential.

Dark literature refers to literature that does not cultivate beauty or aesthetic appeal, but rather explores dark, frightening, mysterious themes and the psychological fears of humans.

Dark literature deals with human misperceptions, despair, pessimism, misconduct, hardships, and conflicts, and examines how a person comes to reject or negate human values.

Dark literature is not limited to dark narratives alone; it also extends to black comedy, dark satire, dark poetry, and other forms of dark writing.

**لنډیز**

تور ادبیات نوي ښکارنده نه ده، نړۍ کې یې ډېر مزل کړی، خو موږ ته په ټوله معنا نوې او ناسپړل شوې ده، نو ځکه یې څېړل اړین دي.

تور ادبیات هغو ادبیاتو ته وایي چې ښکلا او حسن پالنه نه کوي، بلکې ګونګ، ډارونکي، مرموز او د انسان د رواني ډار موضوعات څېړي.

تور ادبیات د انسان پر ناسم دید، ناهیلیو، بدبینیو، ناوړه چلند، ناخوالو او ناندریو بحث کوي او دا څېړي چې یو انسان څنګه انساني ارزښتونه نفي کوي.

تور ادبیات یوازې پر تورو کیسه ییزو ادبیاتو نه ختمېږي، بلکې پر توره کومېډي، تور طنز، تور شعر او تورو لیکلو باندې هم وزرې خوروي.

## سریزه

د ادبپوهانو په وینا لکه څنګه چې د نړۍ ټولنیز او طبیعي وضعیت په بدلون کې دی، همداسې فرهنګي او ادبي وضعیت هم په چټکۍ سره په بدلون کې دی. پخوانیو ژانرونو کې ډېر ځله د منځپانګې ترځنګ شکلیاتو ته هم توجه کېده، خو نن سبا منځپانګه د ادبیاتو بنسټ دی او ارزښت ورکول کېږي، نو ځکه دا منځپانګه کله په سپین شعر یا نظم او کله هم په تور شعر یا نظم کې را څرګنده شي.

له ښه مرغه د انساني ټولنې له غوښتنو او اړتیاوو سره سم ادبپوهانو د تورې ارواپوهنې ارزښتونو ته په کتلو سره تور ادبیات هم تشخیص کړای شول او دا یې جوته کړه چې تور ادبیات په ټوله بشري ټولنه کې شته، خو یا ورته څوک متوجه شوي نه دي او یا یې هم دغه ارزښت په ادبي او فلسفي سترګیو له نظره تېر کړی نه دی، خو که پایلې یې په ادبي او رواپوهنیزه توګه له نظره تېرې شي، نو بیا جوتېږي چې ارزښت لري او که نه؟

نو ځکه نن سبا د نړۍ په ادبیاتو کې تور ادبیات د پام وړ ګرځېدلي، خو پښتو ادب لا هم له دغه ځېله بې برخې دی، تمه ده چې زموږ د دې لارې لارویان ورته پاملرنه وکاندي او له پښتو ادب سره یې اشنا کړي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت په دې کې دی چې د پښتو ادب مینه وال او څېړونکي به د تورو ادبیاتو لیکلو او هر اړخیزه څېړلو ته متوجه او په اړه به یې کار وکړي، پښتو ته به یې راوړي او په پښتو ادب کې شته تور ادبیات به تشخیص کاندي.

مبرمیت یې دا دی چې لیکوال او څېړونکي د تورو ادبیاتو په وسیله د ټولنې رغون او پرمخیون ته پاملرنه وکړي، هغه انسانان چې په ناهیلیو او بدبینیو ککړ دي له دې لارې خپلو عیبونو ته متوجه او د ناروغۍ مخنیوی یې وکړي.

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه د تورو ادبياتو څېړل، عامول، په پښتو ادب کې يې موندل او بېلگې يې جوتول دي. ترځنگ يې که په نورو نومونو نومول شوې وي له هغې نومونو سره يې د دغه نوم پرتلنه او مناسبه کارونه ده.

## د څېړنې پوښتنې

الف) اصلي پوښتنه

تور ادبيات کومو ادبياتو ته وايي؟

ب) فرعي پوښتنې

۱. د تورو ادبياتو مخينه له کومې ژبې را غځېدلې ده؟

۲. د تورو ادبياتو ځانگړنې کومې دي؟

۳. پښتو ادبياتو کې تور ادبيات شته او که نه؟

۴. تور ادبيات يوازې پر شعر او داستان چورلي او که نوره منځپانگه هم رانغاړي؟ او داسې نور.

## د څېړنې ميتود

دغه ليکنه د توصيفي- تحليلي ميتود پر اساس مخ ته وړل شوې ده.

## د مقالې متن

### د تورو ادبياتو کليدي بحث

تور ادبيات هغه اصطلاح ده چې د نړۍ په گڼو ژبو کې يې په اړه ډېر کار شوی، خو زما د معلوماتو له مخې پښتو ادب ته لا هم دا ا صطلاح نوې او په نښت حساب ده، نو ځکه مې يې څېړنه اړينه وبلله.

تور ادبيات هغو ادبياتو ته وايي چې په هغې کې د انسان په اړه ناسم ديد موجود وي، انساني ارزښتونه په کې له پامه غورځول کېږي، ناهيلي، بدبيني او دې ته ورته مسايل په کې محوري موضوعات وي.

يا تور ادبيات د ادبياتو هغه برخه ده چې د ښکلا او جمال پالنې پر ځای، د گونگو، مرموزو، ډارونکو او د انسان د ذات د روان پېژندنې پر مسايلو چورلي.

په بله وینا ټولو هغو ناخوالو، بدبینیو، ناوړه انســـاني چلندونو او ناهیلیو ته وایي چې یو لیکوال یې په خپل اثر کې د نورو په اړه وړاندې کوي او په اړه یې لاســـوندونه هم تراشي.

د ادبپوهانو په وینا تور ادبیات لاندې ځانګړنې لري چې د همدغو ځانګړنو له مخې تور ادبیات باله شي:

۱ــ د انسان په اړه ناسم او مغرضانه فکر. ۲ــ د انساني او آن الهي ارزښتونو نفي کول. ۳ــ د هر ډول خوځښت، شور، زوړ، پړسوب او ارمان نفي کول. ۴ــ د ټولنې او د انسان له وجودي موقعیت څخه ناهیلي، ورته بد کتل او ترې ځان ساتل. ۵ ـــ د ځان وژنې خیالات، ځان څنډې ته کول او پر یوازیتوب ټینګار کول. ٦ـــ د ابتذال ستاینه او له انساني وجوده د بېزارۍ لټون.

تور ادبیات د هغو ټولنو زېږنده دی چې له خونړیو جګړو یې سر را پورته کړی دی او ایله یې پوچو او کوڅه یي ادبیاتو ته لار موندلې ده. (قاسم نژاد، ۱۳۸۱: ۵۲ م)

له پورته ځانګړنو څخه څرګندېږي چې تور ادبیات په اکثریتو بشري ټولنو کې زېږي، خو په داسې حالاتو کې چې انسان یا له انسانیته په تنګ شي، یا یې ټولنه د ټولنیزو ناخوالو له امله چاودنې ته برابره شـــوې وي او یا هم لیکوالو د ټولنې ناســـمی پر همدې ډول ادبیاتو ســـمول غواړي، نو ځکه یې په لیکلو پیل وکړي، خو هغه ټولنې چې په مذهبي، عقیدوي، فکري او آن ټولنیز روان له امله ځپل شوې وي او جګړه په کې روانه وي، نو په هغو ټولنو کې بیا د دغو ادبیاتو د پنځېدلو بســـتر هم وېړ دی او هم د تمدنیت یا تخلیقیت نښه یې بولي.

د ساري په ډول په ا سلامي ټولنه کې ډېر ځله موږ د انسان د خیر ښېګڼې فکر لرو او په دې نظر یو چې لیکوال د ټولنې ســـترګې دي، نو ســـترګې او ماغزه باید بینا، رانه، تازه او فعال وي او که فعال نه وي، نو یا یې ړوند او یا یې لېونی بولو، خو دلته ګورو چې د تورو ادبیاتو لیکوال د انســـان په اړه ښـــه فکر نه لري، انســـاني ارزښـــتونه ګوابنـــي، هر ډول انســـاني فاضـــله مدینه ننګوي، له ټولنې او د انســـان له وجودي موقعیت څخه ناهیلی وي او فکر کوي چې ټول عمر به په جګړه کې ښـــکېل وي، نو ځکه یا یوازېتوب او یا هم ځان وژنې ته ارزښـــت ورکوي او که په داســـې حالاتو کې د

مســـئوليت اداينه ورته وړاندې شي، نو بيا کوځه يې يا پوچ ادبيات پنځوي او په گومان يې خپله پازه يې تر سره کړې ده.

خو يو شمېر ادبپوهان چې د ادبياتو ترځنگ په ټولنپوهنه او رواپوهنه کې هم گوتې وهي، هغوی بيا د تورو ادبياتو لپاره پر پورته ځانگړنو سربېره ځينې نورې ځانگړنې هم ټاکي چې دغه ځانگړنې ډېر ځله د نورو علومو له ديده کتل شوي دي، لکه:

✍ توره او ډارونکې فضــا جوړونه: د دوی په باور د تورو ادبياتو داســتانونه معمولاً په زړو او لرغونو ودانيو کې چې ماڼۍ ته ورته يا ماڼۍ وي، زړو عبادت ځايونو، تياره او له ژويو څخه ډکو ځنگلونو او په نړېدلو ډارونکو کورونو کې پېښــېږي، چې که د ناول په بڼه وي، نو هر لفظ يې انسان ډاروي او که په انځوريزه بڼه وي، نو بيا يې انځورونه د زړه مراندې بې سيکې کوي.

✍ ماورا الطبيعه توکي: په دغو توکو کې ارواحگانې، شــيطانان، هيولا گانې، نا پېژندل شوي مخلوقات او ساکښ موجودات وي، چې دا هم د انسان په ډارولو کې ښه رول لوبوي.

✍ مرموز او پيچلي شخصيتونه: معمولاً په دغه ډول داستانونو کې تياره او تور اتلان، گوا ښونکې او گوا ښېدونکې مېرمنې او بالاخره د پټو رازونو لرونکي انسانان يې غړي وي.

✍ د اندېښــنې او وحشـــت حس: په دې ځانگړنه کې ليکوال هڅه کوي چې په لوســـتونکو کې اندېښــنې، ډار، وحشـــت او ناخوالې پيدا کاندي او بيا يې پســـې وغځوي.

✍ د روان پوهنې تومنه: په دې برخه کې ليکوال هڅه کوي چې لوســـتونکو ته د لېونتوب، گناه، عذاب، وجدان، يوازيتوب او څنگ ته کېدلو په اړه مســـايل وړاندې کړي. (ويکي پيډيا، ۱۴۰۵: وېب)

له پورته ځانگړنو جوتېږي چې انســان کله ناکله بايد تورو ادبياتو ته هم سر ورښــکاره کړي او د ټولنې له هغو واقعيتونو خبر شي، چې له بده مرغه د انســـاني ټولنې په موجوديت پ ښېږي او د انسان په وسيله پ ښېږي. معنا دا چې ځينې انسان چې په رواني ناورغۍ اخته وي هغه په يوې بڼې نه يوې بڼې د نورو انســانانو له ځور، کړاو او ډارولو خوند اخلي او دغه خوند يې د دې لامل کېږي چې د ځينو مظلومو او ډارونو

انســانان ژوند واخلي، نو لیکوال دا خپله پاژه بولي چې د داســې انســانانو کړنې هم را برسېره او ټولنه یې پر واقعیتونو خبره کاندي.
رومانیایي څانګه وال او کره کتونکی لوســین ګولډمن په دې اند دی؛ دا ادبیات په یوې داسې ټولنې کې زېږېدلي چې هلته جګړه مار ځواکونه ورو ورو د خپګان او سســتۍ پر ناروغۍ اخته شوي، ځکه لکه څنګه چې لیکوال د یو داسې شخص چې په واقعي نړۍ کې نه شته، د ژوند حالات نه شي بیانولای، همدا سې د هغو اتلانو د ژوند حالات هم نه شي بیانولای چې په جګړه کې یې سرښندنې او اتلولۍ کړي او اوس په واقعي نړۍ کې نه شته یا هم د نابودۍ په حال کې دي. (قاسم نژاد، ۱۳۸۱: ۵۳ م)
د لوســین په باور تور ادبیات د هغو اتلانو چې د هېواد لپاره یې قربانۍ ورکړي او سرښــندنې یې کړي، لکه څنګه چې په کار دي حال، احوال او ســتاینې یې نه شي وړاندې کولای، ځکه نه هغه خلک ژوندي دي او نه یې هم ټولنه منښتې ته چمتو ده او یا هم ســیاسي او ټولنیز حالات د دې جوګه نه دي چې ځینې مســایل بیان شي، چې له ښــه یا بده مرغه زموږ ادبیاتو هم پر همداســې اغزنو لارو مزل کړی. چا کور، کالي، ډوډۍ ته ډېر ارزښت ورکړی، چا هم د اسلامي جوړو شوو ګوندونو موخو ته او چا هم له حالاتو د زړه چاودون له امله احســاســاتي او عاطفي څرګندونې کړي، چې ډېرو یې لږ وخت وروسته پر خپلو لیکنو پښېمانۍ څرګندې کړې دي.
خو د شمالي امریکا مشهور لیکوال لیزاجي سمیټ بیا له وحشت او فانتیزۍ نه ډکو تورو ادبیاتو څخه خوند اخلي او وایي چې ځوانان باید د ژوند له تورو، تورتمونو او وحشــت له صــحنو او پېښــو څخه خبر شي او دا یې د ژوند په خوږو کې هم په دې نیت ګډ شي چې دا هم د ژوند یوه برخه ده، چې د همدغې موخې د ترسراوي لپاره یې ډېرو لیکنو انځوریزه بڼه خپله کړې ده. (فررو، ۱۴۰۵: وېب)
که د تورو ادبیاتو تاریخچې ته تم شــو، نو د ادبپوهانو په وینا تور ادبیات سره له دې چې د شلمې پېړۍ زېږنده نه دی، خو یو دا سې ادبي پړاو دی چې په شلمې پېړۍ پورې اړه لري او دا ځکه چې په شــلمې پېړۍ کې د ادبیاتو ځینې ځانګړنې د تورو ادبیاتو له ځانګړنو سره جوړښــت لري، لکه: ۱ـــــ توره او مبهمه فضــا (ځمکه). ۲ـ ناحقیقي یا سیوري لرونکي شخصیتونه. ۳ ـــ غمجنه او خپه لهجه. ۴ـــ د ناحقیقي

فضـا د رامنځته کولو لپاره د ابهام، خوب او خیال پراخه کارېدنګ. ۵ ـــ د ځانګړې ژبې کارونه (په ځانګړې توګه په ډرامو کې).

دغو ځانګړنو ته په کتلو سره ویلای شـو چې تور ادبیات ناڅاپي نه دي پیدا شـوي، بلکې ګڼ لاملونه لري چې د غه ادبیات وپنځېږي او بیا ورو ورو وده وکړي، لکه را واخله:

**الف) فکري زمینې:** د علم او ټکنالوژۍ پرمختګ په ځانګړې توګه د علمي نظریو وړاندې کولو انسـان له تزلزل او بې ثباتۍ سره مخامخ کړی دی، لکه: د انشـټین د نسبیت نظریې، د هایزنبرګ د قاطعیت د نه شتون نظریې، د پوپر باطلېدلو نظریه او د فروید د روان پوهنې نظریات یې ښې بېلګې دي، خو له فلسفې سره په څنګ کې تورو ادبیاتو په فلسـفې کې هم ښـې غځونې کړي، چې دا غځونې ورته له فلسـفي نظریاتو پیدا شوي او لاندې برخې رانغاړي:

**لومړی:** په فلسفه کې د شکاکیت نظریه چې هیوم په کې ډېر مزل کړی او همداسې د عقل پېژندنې د محدودیت نظریه چې کانت په ډېره ښـه بڼه طرحه کړه او ډېره موده یې پر عقل او مینې هم دا بحث متمرکز کړی و، خو بالاخره د عقل پر پردو، غځونو او محدودیتونو یې داسې نظریې ورکړې چې تر دې دمه ورته لوی فلاسفه هم نه وو متوجه شـوي چې دا مسـأله تر ډېره موږ په ځینو ناولونو کې موندلای شـو، لکه د نصیر احمد احمدي په جوجو ناول کې چې لولو: "تواب سترګې رڼې کړې، په تورو تیرو کې پروت و. یو دم یې غږ وهل، ورمېږ یې کوږ کړ، ویې ګرځول.

د جوجو غږ یې واورېد:

ـ میلیاردونه کیلو متره مزل کانګې او سردردي لري.

تواب ور وکتل، جوجو پر تکه توره ډېره ناسـت و، اوږده، څوکې څوکې غوږونه یې نېغ ولاړ ول، مخې ته یې په هوا کې د ولاړ سکرین پر شنه لمبه رڼه ګوته تېروله.

تواب په زحمت کېناست، سر ته یې لاس ونیو.

جوجو وویل:

ـ ستن مې در لګولې ده، ښه کېږې.

تواب وویل:

ـ چېرته یو؟

ـ د تورې سیارې په یوه سمڅه کې.

تواب سترګې ورپولې، د څو کوټو په اندازه پراخ ځای و. د هسکې سمڅې چت، دېوالونه، او غولی تکې تورې ډبرې وې، تواب سفینې (فضا ته د تللو وسیله) ته وکتل، ویې ویل:

ـ څو ورځې مزل مو کړی؟

ـ پینځه ورځې، په ساعت کې مو میلیونونه کیلو متره سرعت درلود.

ـ خو زما هېڅ هم نه دي په یاد، اخیرې وار دې په باغ کې یوه ګولۍ راکړه.

ـ هماغه ګولۍ درته ښه وه، دا پینځه ورځې یې بې هوښه ساتلی وې، کنه دومره وخت دې د سفینې اکسیجن پر پزه او خوله نه پرېښوده.

تواب ودرېد، یوې خوا ته کوږ شو، لاس یې پر یوه توره ډبره پورې ونیو.

جوجو وویل:

ـ په سا اخیستلو کې خو مشکل نه لرې؟

تواب سر ورپړسول، بېرته یې تش کړل، ویې ویل:

ـ نه ښه یم، یوازې لږ ګنګسیت لرم؛ نو دا توره سیاره ده؟

ـ هو، تکه توره، خو ته باید یو څه استراحت وکړې، وروسته به له سمڅې وځو.

جوجو پر سکرین لاس تېر کړ، شنه رڼا ورکه شوه، د سفینې دروازه یې خلاصه کړه، یو کارټن یې را وایست، تواب ور وکتل، جوجو وویل:

ـ بیسکېټ دي، ترڅو چې د دې سیارې له خوراکونو سره بلدېږې، همدا به خورې.

تواب وویل:

ـ اوبه.

ـ د اوبو غم نه شته.

جوجو سفینې ته ننوت.

د تواب سترګې رڼې را وختې، زانګې وانګې مخکې لاړ، ټیټ شو، له تورې تیږې اوږده نرۍ ژېړه ټوټه ور پورته کړه، په ځیر یې ورته وکتل، خولې ته یې ور وړه، غاښونه یې پرې ولګول، ویې ویل:

ـ طلا!

ګوتې يې مړې شـوې، د طلا ټوټه يې له لاســه ولوېده، تورې ډبرې ته ودرېد، په ډبره کې د سرو زرو را وتلي پنډ رګونه تېر ول.

سترګې يې وبرېښېدې، له يوه چاکه يې تک سور کوچينی غمی را وايست، غمي اوه رنګه رڼاوې کولې.

د جوجو غږ يې واورېد.

ـ الماس دی.

تواب کېناست، د چرګې د هګۍ په اندازه بل شين ځليدونکی غمی يې ور پورته کړ، په غمي کې شنې، زرغونې ليکې تېرې وې.

جوجو وويل:

ـ ها! دا واغونده.

تواب ور وکتل، په يوه لوېشت موجود پسې خړ، اوږد کميس ځښېده.

تواب په حيرانۍ ورته کتل.

جوجو وويل:

ـ ته بايد دا کميس واغوندې.

تواب کميس ور واخيســت، ګوتې يې پرې ټينګې کړې، ټوټه يې د چرم غوندې کلکه وه.

جوجو وويل:

ـ ټول کميس د ونې له يوې نيمې پاڼې جوړ دی.

د تواب سترګې رډې را وختې.

جو جو وويل:

ـ دلته يو رقم ونې دي، غټې ونې، هره پاڼه يې دوو، دوو نيمو ميترو ته رسېږي، نارينه يې له همدې خړو پاڼو کميسونه ګنډي، ښځې يې سرې پاڼې ور اخلي.

تواب کميس واغوست، جوجو ته يې وکتل.

جوجو وويل:

ـ دلته پرتوګ نشته، همدې کميس تر بېډيو پورې پټ کړی يې، هله نو خپلې کښلې جامې په سفينه کې کېږده.

تواب خپلې جامې پر څوکۍ کېښـــودې، یودم یې چیغه کړه، خپلو تکو تورو تېرو غوړونو ته یې لاسونه ور وړل.

جوجو ورته وکتل، تواب د سفینې په دروازه کې خپل مخ ته وکتل.

جوجو وویل:

- په بې هوښۍ کې مې غوړونه یو څه در اوړده کړل...." (احمدي، ۱۳۹۹: ۱۱- ۱۴ مخونه)

دلته گورو چې د کانټ د عقل پېژندنې د محدودیت نظریه کوم ځای ته رســېږي، یعنې دغه ډول داستانونه ښکاره خبره ده چې د حقیقت په نړۍ کې ځای نه لري او نه یې په اړه فکر کېدلای شي او په ښکاره جوتوي چې دا ډول مسایل، خوب، خیال او مبهمات دي او په ښکاره له عقله تېښته او یو ډول ناپېژندل شوې نړۍ یا فضا ته تگ دی، خو که څوک وپوښتي چې دا عقل څه شی دی، نو دوکتور حمید عنایت د هیگل په ژباړل شــوي (عقل در تاریخ) کتاب کې داســې نغوته لري: "عقل؛ یوه نه ختمېدونکې قوه او مرغلره ده چې د ټولو بې پایو جسمي او معنوي هستیو منځپانگه رانغاړي او دغه راز بې پایه صــورت دی؛ یعنې هغه څه دی چې ماده په خوځښــت راولي... که پر دې منښته وکړو چې عقل له نړۍ بې نیازه دی، نو پر دې هم منښته په کار ده چې نړۍ له عقله بې نیازه نه ده." (عنایت، ۱۳۷۹: شپږم او اوم مخونه)

که د عقل دغه پېژند ته ځیرنه وکړو بې له شــکه عقل هغه مرغلره ده چې ماده په خوځښـت راولي، انسـان هڅاند او متحرک کوي او تل د ورکې د لټون قوه ور ښـیي، نو پر همدې اسـاس که د نصیر احمد احمدي دغه ناول یو څه له حقیقته لرې او له عقله تېښته ده، خو په ورته وخت کې پر دې خبرې هم سترگې پټېدل نه دي په کار چې نورې سیارې هم شته او دغه سیارې موجودات لري او ژوند کوي، تکثر او تکثیر لري او بالاخره په فضـا کې یې یو ځای نیولی دی چې د ژوند په محدوده کې په کې مېشــت دي، نو ځکه دا مســایل د عقل پېژندنې له محدودې څخه وځي، خو گورو چې د عقل غځونو پراو ته داخلېږي او ورو ورو وده او پرمخیون کوي.

په دې معنا د سـفینو او څېړنیزو راکټونو په وسـیله انسـان له خپل مداره ووت، یو بل کهکشـــان او ســیارې ته لاړ، هلته یې څېړنې او گروېږنې وکړې او لا یې هم کوي، سـپوږمکۍ یې جوړې کړې، اسـمان ته یې پورته کړې، له ځمکې یا زموږ له سـیارې

سره يې اړيکې ورکړې، په وسيله يې د بېلابېلو ټېکنالوژيکي وسايلو لپاره فريکونسۍ وغځولې او دغو فريکونســـيو له انټرنټ، راډيو او ټلويزيوني څپو واخله د ژوند تر لويو ذراتو او کشـفياتو پورې اسـانتياوې زموږ د نړۍ يا ځمکې انسـانانو ته ورکړل، چې دا ټول د عقل برکت دی او لا هم دا عقل غځونې کوي او له محدوديته ځان باسي، خو د کانټ د نظريې پلويان لا هم په دې گروهه دي چې د انســـان عقل په محدوديت کې دی او هغه څه يې چې زړه غواړي، فاضــله مدينه يې ده او يا يې هم عقل په اړه موندنې کړي او يا يې فرضيې ورته ټاکلي چې هغې ته نه دی رسېدلی.
معنا دا چې د انسان غړونه په فضا کې موجود دي، د انسان د سترگو ميگا پکسل په يوه ثانيه کې په زرونو او لکونو کې دی، د انســـان د حافظې سرعت په في ثانيه کې په ميليونونو دی، خو لا هم عقل په دې نه دی توانېدلی چې دا ټول کشــف، واضــح او يا يې ومومي. د انســـان د غړونو بېرته اورېدل يا د ځينو مطرحو څېرو او شخصيتونو د غړونو موندل لا تر اوسه هم په ناممکناتو کې دي او همداسې د برموډا مثلث برزخي مسايل په توهماتو او نامانوساتو کې چورلي.
دا و د فکري نظريې لومړی بحث، په دويم بحث کې د غرب د ځينو فلاســـفه وو له لارې د فلسفي نظام د اغېزې د موضوع څېړل دي چې په دوی کې مشهور هغه يې شوپنهاور، نيچه او د اگزيستانسياليست فلسفه ده. په نړۍ کې د اگزيستانسياليزم اهميت تر هر څه وړاندې د هغو ادبي اثارو منندوی دی چې معمولاً د دغه مکتب مو ضوع د بشري موقعيت نظريات رانغاړي، لکه د کامو (۱۹۱۳- ۱۹۶۰م) د طاعون او سيزيف نکل، د ژان پل سارتر (۱۹۰۵- ۱۹۸۰ م) ککړ لاسونه او د زړه لړزه نکل، نو پر همدې اســـاس د ابتذال له غلو نه ډک تاکېد ته د تورو ادبياتو ځانگړنه ويلای شـو. د دې ترخنگ کله چې په اروپا کې فاشـيزم پيدا کېږي او ورو ورو وده کوي، نو ليکوال د تورو ادبيـاتو ليکلو تـه زور ورکوي او هڅـه کوي چې پـه دې ډول خلـک مســـايلو ته متوجه کاندي، خو دا چار تر نورو په اقليتونو کې زياته وده کوي، لکه يهوديانو کې، خو له دې خبرې دې داســـې معنا نه اخيســـتل کېږي چې گواکې فاشـيسـتي ادبيات په نورو ټولنو کې نه شـته، آن پښـتو ادب هم له دغه برخليکه بې برخې نه دی، چې لنډه بېلگه يې په لاندې توگه نغوړو:

"همدا چې ډرایور جیپ د کور مخې ته ودراوه او لا حویلۍ ته نه و دننه چې مولا جان په بیړه له موټره را کښووت او په چابکو قدمونو بیا د سترګو په رپ کې لومړي پوړ ته ورسېد، خو لومړي پور ته په ختلو ژر په زړه کې ور وګرځېدل:
کسټ مې لکه چې هېر شو:
په منډه موټر ته بېرته ور وګرځېده، په درنګ شـــېبه کې یې د موټر له ټایپه کســـټه را وکښــله او بېرته ســیده په چابکو قدمونو پورته لومړي پوړ ته ور وخوت، پرته له دې چې دروازه ټک ټک کړي د نامحرمې ښـځې د ځای دروازه یې پرانیســـتله. د دروازې نابېره پرانیســـتلو ښـــځه خورا ووېروله، له خولې یې بې واکه کړیکه پورته شـــوه. مولاجان ژر غبرګې ته ځان ور واچاوه او په دم ګړۍ کې یې له هغې وېره ویستله. خپله مونډۍ... د هغې له مخ سره وجنګوله، سینې ته یې را نږدې کړه او په ورو یې خپلې شونډې هم د هغې له شونډو سره سلېښ کړې او چې ښه پوره خوند یې له یوه بله واخیست ښځې په ورو شان مولاجان ته کړل:...." (سوله مل، ۱۳۸۷: ۷۲ مخ)
په پښـتو ادب کې تر ماټو خان ماټو وروسـته عبدالوکیل سـوله شـینواری او عصـمت قانع په تاوکښــو یا جنیسي- کیســو کې نوم لري او پرته له شـکه دا کیســې داســې انځوروي چې ته وا دا هر څه دوی په خپلو سترګو لیدلي او په ټولنه کې یې شته، نو ځکه وایو چې د نړۍ اکثریت ټولنې له داســې مســایلو ډکې دي، خو څوک یې د را برســېره کولو جرأت لري او څوک یې هم نه، څوک یې د ټولنې د فاســدېدلو بنســټ بولي او څوک یې هم د ټولنې د واقعیتونو په توګه انځوروي چې د مخنیوي یا یې هم عامېدنې لپاره هلې ځلې وشي.
نو دغو مســـایلو ته په کتلو سره ځینو لیکوالو دا اړینه وبلله چې د دې پر ځای تورو ادبیاتو ته مخه کړي او په دې توګه د فاشـیســـتي ادبیاتو مخه پرې ونیسي-، چې دا تجربه په ځینو ټولنو کې بریالۍ او په چټکۍ سره پر مخ ولاړه او په ځینو ټولنو کې لا یې هم درک نه شته، لکه زموږ په ټولنه کې.
**ب) ټولنیزې زمینې:** په معاصره دوره کې د تورو ادبیاتو لیکوال د ټولنیزو، سیاسي، فرهنګي او فلسفي ناخوالو او شاتګونو ا صلي اتل دی، خو په دې شرط چې د خپل وخت پر حالاتو به چورلي، نو ځکه یې په څو مقولو کې را ټولولای شو:

**لومړی:** دوه نړۍ والې جګړې، لکه البرکامو او ژان ژنه (۱۹۱۰- ۱۹۸۷ م) د الجزاير د خلکو په جګړو پورې اړوند مسايل يې د ځينو اثارو منځپانګه وه.

**دويم:** د مارکسـيزم چلند چې د اکثريتو ډرامه ليکوالو لېوالتيا يې د تورو ادبياتو ليکلو خوا ته زياته کړه، لکه ويتکه ويچ (۱۸۸۵- ۱۹۳۹ م)، مروژک لهسـتاني او واسلاو هاول چک.

**درېيم:** د بوروکراسـۍ او ټکنوکراسـۍ وده او ورسره د غربي نړۍ په پېچلي ټولنيز نظام کې د ما شينيزم خيرى چې د کافکا د مسخ او محاکمې اثر او د اوژن يونسکو (۱۹۱۲- ۱۰۸٦ م) نوي مستأجر اثر د ليکلو لامل شو.

**څلورم:** د صـنعتي پانګوالۍ وده، څکه د پانګوالۍ نظام د خپلو ځانګړو رسـنيو په مرسته د ولس د فکري او ادبي خوراک لامل کېږي او دغه فکري او ادبي خوراک يې له ليکواله زړه توري. په داسې حالاتو کې ليکوال به يا بغاوت کوي او يا به هم سر په ګرېوانه او زنګانه کې ننباسي، خو که دا يو يې هم ونه کړ، نو بيا به په نظام پسـې متې را بډ وهي او بدې ردې به پسې وايي او په شکل د اشکالو به يې ښکنځي، چې همدغه مسـايل د شـلمې پېړۍ د تورو ادبياتو ليکوال له ټولنې تجريدوي او په اصطلاح د ټولنې او پانګوالۍ نظام پر وړاندې يوازې پاتېږي.

البته د انفرادي پانګوالۍ لپاره کله نا کله غولوونکي مباحث اړين وي او د تورې روانپوهنې ځانګه وال يې ځينې مسـايل په دې ډول را بربنډوي: "ډېرو به دغه جمله اورېدلې وي چې «پيسه د ټولو بديو ريښه ده». په دغه جمله کې اغراق شوې سمه نه ده؛ خو دا موضوع له پامه هم نه شو غورځولی چې پيسې د ډېرو فرېبونو لامل هم کېږي، د پيسـو په پار فرېب کول مختلف دليلونه لري، ځينې خلک د پيسـو ترلاسـه کولو لپاره خلک غولوي، ځينې يې د پيسـو پټولو لپاره خلک غولوي او... تر ټولو مشـهور فرېب چې په توره ارواپوهنه کې د پيسـو اړوند کېږي د مسـلکي سـوالګر له خوا ترسره کېږي، دا خلک د ډېرو پيسو په لرلو بيا هم هڅه کوي چې خلکو ته فرېب ورکړي، ترڅو پيسـې په لاس راوړي. دوی د پيسـو لاسـته راوړلو تر ډېره د تورې ارواپوهنې له تخنيکونو ګټه اخلي. حتي ځينې يې د دې په پار چې پيسـې لاسـته راوړي د خپل بدن يو برخه زخمي کوي، ترڅو د نورو خلکو له خوا د زړه سـوي وړ

وګرځي، حتی ځینې بدمرغه خپل اولادونه په همدې پار په نشـــه يي توکو روږدوي ترڅو دوی د خپلو فرېبونو د يوې برخې په توګه وکاروي.
په دغه برخه کې مدني حالت يوه بله کارېدونکې لاره ده، ځينې وخت هڅه کېږي چې خپل واده پټ کړي، ترڅو قرباني په دام کې ګېر کړي. دا ښايي د مالي، جنسي يا نورو لاملونو لپاره ترسره شي." (پيس، ۱۴۰۳: ۹۱- ۹۲ مخونه)
ښايي پوښتنه پیدا شي چې دا خو د روانپوهنې بحث دی، له ادبياتو سره يې څه کار او دا مســايل تورو ادبياتو ته څه ورکولای شي، خو اصـلي خبره همدا ده چې دا ټول مسايل د ادبياتو په وسيله کېږي، د مايوسۍ ادبيات، د چالاکۍ او ځيرکۍ ادبيات، د ناهيلۍ ادبيات او په اصــطلاح ټول چمونه او دوکې د الفاظو او ادبياتو په وســيله وړاندې کوي او په وسيله يې ځان يا مادي پړسوب او يا هم جنسي پړسوب ته رسوي، خو دا چې د ټولنې اخلاق، د ټولنې باور او د ټولنې لورى کومې خوا ته بيايي، هغه ورته نه ارزښت لري او نه ورته اړين دی او ښايي لا اضافي تبصره او ملنډې هم ووهي چې هوښــيار او پوه خلک يې غولولي دي، نو ځکه د تورې ارواپوهنې يا روانپوهنې بحث کله ناکله له تورو ادبياتو سره نېغ په نېغه اړيکه لري.
**پنځم:** سرې جګړې هم په دې برخه کې خپلې اغېزې ښندلې دي، ځکه په خلکو او ولس کې يې وېره او ناندرۍ پيدا کړې او هره شــېبه دې ته په تمه ول چې يوه نه هېرېدونکې او ګوابښونکې پېښه به رامنځته کېږي. (قاسم نژاد، ۱۳۸۱: ۵۳ مخ)، نو ځکه دغو پنځو مســايلو يا برخو د تورو ادبياتو په رامنځته کولو، ودې او پراختيا کې رغنده رول لوبولی دی، خو چې کله يې په ادبي ټولنو کې زېږون وشــو او ښيا يې غځونې وکړې، نو د نورو ټولنو لپاره بيا دا مســـايل اســـاس نه وو او نه يې هم د دغو لاملونو له مخې زېږون او وده کوله.
په نورو ټولنو کې ګڼ لاملونه لري چې په لومړيو کې هم ورته نغوتې وشـــوې، په دې معنا ناهيلې، ژور خپګان، پرله پسې زړه تنګون او دې ته ورته مسايل هغه موضوعات وو، چې د تورو ادبياتو په پنځونه او وده کې يې رول لوبولی دی، خو کله ناکله دغه مســايلو له نوســتالژيکو ادبياتو سره هم اړيکه پيدا کړې، خو چې بنســټ يې وکتل شي، نو لامل به يې تېر ارمان نه، بلکې د تورو پېښــو غندنه يا سر په سر ســتونزې

زېږونه وي، چې لیکوال یې لومړی فاشیستي ادبیاتو، بیا کوڅه یي ادبیاتو او تر هغې وروسته د تورو ادبیاتو پنځولو ته اړ ایستی دی.
په پښتو ادبیاتو کې د سیاسي او ټولنیزو نظامونو بدلون هم په دغو مسایلو کې ژور رول لرلی دی، چې کله د واکمن له خوا ولس او کله هم د ولس له خوا واکمنان غندل شوي چې دغه چار یې د سېمبولیزم یا رومانټیزم له کړکۍ کړی، خو د دې خبرې هېڅ بدل هم نه دي په کار چې اکثریت ادبي ښوونځي په لومړیو کې د سېمبولیزم له لارې را ننوتي دي، لکه د فیمنیزم نظریه چې د سېمبولیزم له لارې را ننوته او «د بې واکه صورتونه» یا د «غنې ځاله» په نامه یې په ټولنه کې ځالې وکړې.
**پ) ادبي زمینې:** د ادبپوهانو په اند تورو ادبیاتو تر ډېره د سېمبولیزم، رومانتیزم او سور ریالېزم له ادبي مکتبونو څخه تومنه اخیستې ده، خو د جنیسيـ فقر له منځه وړلو او په دې برخه کې د ژورې انګېزې پیدا کولو او ورته ودې ورکولو مېشتغالی یې بیا د ناتوریالیزم ادبي ښوونځی دی، ځکه دغې برخې د تورو ادبیاتو د جنسیي لېوالتیاوې برخې پیاوړې کړې دي.
د ادبپوهانو په اند د تورو لیکنو زیاتره برخې د بېرونۍ نړۍ له ستاینو او څرګندونو څخه نه یوازې ډډه کوي، بلکې مخ ترې هم اړوي او هڅه کوي چې د ذهن پر علامو، نښو، ککړتیاوو او خپګانونو ډډه ولګوي او د الفاظو پر جادوګرۍ یې منګولې ښخې کړي چې په وینا یې دا مسایل د سېمبولیزم ځانګړنې او اصول هم دي چې ایرلنډی لیکوال جیمز جویس (۱۸۸۲- ۱۹۴۱ م) یې نوموتې څېره ده.
ښایي پوښتنه پیدا شي جمیس جویس په دې برخه کې کوم داسې کار کړی چې نوم یې سر ته راغلی یا له بیروني نړۍ سره ولې اړیکه نه لري؟ همدا لامل دی چې ادبپوهان د ده د ژوند راز را سپړي او وایي چې د جویس نړۍ، داخل پالې یا دروني نړۍ ده چې په دې نړۍ کې نښې یا علامې ډېرې ارزښت لري چې د معاني په تداعۍ سره ذهني ککړتیا او خپګان یې په جوړښتي او بدسټیزه توګه رغول کېږي او مفاهیم نوې جاجونه مومي.
البته دلته د یوې خبرې روښانول اړین دي او هغه دا په پورته متن کې د تورو لیکنو خبره هم یاده شوه، د ادبپوهانو په وینا ادبیات یوازې په تورو ادبیاتو نه بسنده کېږي، بلکې تور طنز، تور شعر، تور کرکټر او توره کومېډي هم لري چې د تورو ادبیاتو په

ځېر توره کومېډي هم مشـــهوره ادبي طرحه ده او توره کومېډي یا ترخه او تیاره کومېډي هغې کومېډۍ ته وایي چې معمولاً د ټلویزیون او فلم له لارې وړاندې کېږي او موضوع یې د تورې هجوې او طنز په چوکاټ کې د خپګان، وېرې، ناخوښۍ او تابو تزریقول دي.

د دوی په وینا غوره توره کومېډي سره له دې چې همهاله انســـان بوختوي، خو په ورته وخت کې د انســـان هغه ناخوالې او بې خوندۍ وړاندې کوي چې له امله یې انســـان ځورېږي او ډېر ځله پوچو او بې خونده خبرو ویلو ته هم اړ کېږي، خو په حقیقت کې د ټولنې ناخوالې وي.

توره کومېډي ګڼې ځانګړنې هم لري چې مهمې یې له حقیقته شروع کېدل، د ځو اړخیزو شخصیتونو رامنځته کول، د نوښت رامنځته کول او د خپلې موضوع پر پای پوهېدل دي چې په داســـتان لیکلو کې دا مهمه مســـأله هم ده. (مکتب ســـینما، ۱۴۰۲: وېب)

که له دې بحثه را تېر شو ادبپوهان د تورو ادبیاتو لپاره د سېمبولیزم او سور ریالیزم ترڅنګ د رومانتیزم ادبي ښوونځي هم مهم بولي او د رومانتیزم ادبي مکتب مهمې ځانګړنې چې په تورو ادبیاتو کې بنسټیز رول لري، په ژوره توګه د یوې موضـوع نه سـپړنه، پر عقل او منطق بې باوري، د خوبونو اصـالت، د اندېښـو نه شـتون یا ورته پاملرنه نه کول او اندېښـمنه یا کړکېچنه فضـا ده چې په دغو آثارو یې پرده غوړولې ده او په همدې پار د سور ریالیزم اکثره لیکوال د تورو لیکوالو په ډله کې شمېري، خو پر تورو لیکوالو د دغه ښوونځي مهمه اغېزه د ذهني تورونو شتون، خوبونه او د ځان ناخبري (ناخوداګاه) ځواکونو د واک نه شتون دی، چې پر دوی یې ژوره اغېزه ښندلې او د تورو لیکنو لیکلو ته یې مخه کړې ده. (قاسم نژاد، ۱۳۸۱: ۵۴ مخ)

پورته ټولو ځانګړنو ته په کتلو سره پوښـــتنه پیدا کېږي چې تور ادبیات په پښـــتو کې کله او څنګه پیدا شوي؟

که چېرته د معاصرې پېژندنې له مخې یې وګورو، نو لا هم د دغو ځانګړنو په لرلو سره د تورو ادبیاتو خبره مبهمه او ګونګه ده او ښـــایي د ډېرو ادبپوهانو ځواب دا وي چې په پښتو ادبیاتو کې تور ادبیات نه شته، خو که د تورو ادبیاتو ځانګړنو ته ځیرنه وشي او بیا یې شـالید لکه د نړۍ د نورو تورو ادبیاتو په رڼا کې په پام کې ونیول شي، پرته

له شـــکه له انگریزانو سره د افغانانو د هرې جگړې ځینې پنځېدلي ادبیات د تورو ادبیاتو بېلگه کېدای شي، خو زما په نظر د تورو ادبیاتو ځینو ځانگړنو ته په کتلو سره يې موږ بېلگه د پټې خزانې په ځینو بوللو کې هم موندلای شـو، لکه د شـیخ سـوري په بولله کې چې لولو:

"د فلک له چارو څه وکړم کوکار
زمولوي هر گل چې خاندي په بهار
هر غټول چې په بیدیا غوړېده وکا
روژي يې پاڼې کاندي نار په نار
ډېر مخونه د فلک څپېړه شنه کا
ډېر سرونه کا تر خاورو لاندې زار
د واکمن له سره خول پرېباسي مړ سي
د بېوزلو وینې توی کاندي خونخوار
چې له برمه يې زمري رپي زنگلو کې
له اوکوبه يې ډاري تېر و جبار"
... تر اخره (هوتک، ۱۳۹۰: ٦٩ مخ)

د تورو ادبیاتو په ځانگړنو کې یوه ځانگړنه، ناهیلي، بدبیني او ناخوالې دي چې یا به له انسانه وي، یا به له ټولنې او فرهنگ نه، یا به له سیاست او اقتصاد نه او یا به هم له نورو ټولنیزو مـسایلو نه، چې پرته له شکه په دغه قـصیده کې دا ناخوالې او گیلې شـته؛ په دې معنا شـیخ اسـعد سـوري په خپله دغه قصـیده کې د فلک له چارو یا د ټولنې او طبیعت له روان وضـــعیت نه ناهیلی دی، شـــکایت او گیله کوي او د امید ټولې لارې او گودرې د خپل ملک د مشرـ په مړینې سره ختمې بولي او په دې توگه د تورو ادبیاتو ژوره ځانگړنه په دغه قصیده کې مومو چې په یو ډول نه یو ډول يې تور ادبیات بللای شو، خو په پخواني تعریف کې بیا دا نومونه ورته نه وه.

که د امیر کروړ او شـــیخ اســعد ســوري له زمانې را ووځو، نو د کلاســیکې یا دویمې دورې د سرلارو شاعرانو او لیکوالو په شعرونو او لیکنو کې هم د تورو ادبیاتو ځانگړنې په ښکاره توگه موندلای شو. د دویمې یا کلاسیکې دورې سر لاری شاعر خوشحال خان خټک هم په دې اړه ځینې شعرونه لري چې یوې برخې ته به يې تم شو:

"څو د واړه کار و بار و تاته شمارم
که یې شمارم در مانده به شم په شمار
موافق مې په خور منځ یو زویه نشته
همګي واړه د خپل غرض وي یار
که ما زده وای چې د زویو هسې کار دی
ما به زنا کاوه نه کور د کور روزګار
حال زما د اولاد دا دی چې مې ووې
په اولاد د نورو نه یم خبر دار
اورنګزېب بادشاه هم زوی د شاه جهان دی
خبر دار به یې د ده په کاروبار
مال اولاد واړه فتنه دي په جهان کې
په دا دواړه به زړه نه تړي هوښیار
یا په دا زمانه خوی د خلکو نور شو
یا څو و دا جهان هسې مکار"
(خټک، ۱۳۸۷: ۵۵۲ مخ)

د خوشحال خان خټک په دغه قصیده کې ګورو چې بیا هم د تورو ادبیاتو ځانګړنې په ټوله معنا تطبیقبږي، په دې معنا په دغه قصیده او دې ته ورته ګڼو قصیدو او شعرونو کې یې له حالاتو تېښته، له زمانه شکایت، ناهیلي، ناامیدي، د ټولنې ناخوالې او ناندرۍ او دې ته ورته مسایل نغښتې وي.

خوشحال بابا په دغه قصیده کې لومړی له خپلو زامنو او بیا له اورنګزېب او په ټوله کې د خپل عصر له ټولو زامنو ګیله من او ناهیلی دی، دی وایي چې اوسني زامن نه د پلار سترګو ته ګوري او نه یې هم د ژوند هغه حالات په یادېږي چې مور او پلار به ورسره شپه او ورځ سترې او ستومانه ول. مور به یې وخت ناوخت بې خوبي ورسره ګالله، جامې او پرتوګونه به یې ور مینځل، پلار به یې د ده د صحت او تربیت غم کاوه، په مدرسو او تعلیمي مرکزونو به یې ګرځاوه او یا به یې په کور کې ورته استادان نیولي ول او دی به یې د علم په رڼا منور کاوه. همداسې د ده د تربیت او د صحت غم یې هم پر سر و، خو چې نن ځوانان شوي، په ښه او بد پوه شوي او د پنځو ټنګو

خاوندان شوي، نو ميندې او پلرونه ورته بوج، زاړه، له کاره لويدلي او د نړۍ له حالاتو بې خبره ښکاري، په داسې حال کې چې د تجربو او د ټولنې دنگ څلي همدوی دي او هر ډول تودې سړې لومړی دوی تجربه کړې دي.

د خوشحال په وينا دی هم د چا زوی او د چا لمسی و، د مور او پلار د رضا او خوښې لپاره يې خپل ژوند ځانګړی کړی و، خپله دنيا او خوښي يې د مور او پلار په خوښۍ او سوکالۍ کې ليده او د هغوی هره خبره او کړنه د ده د ژوند لارښود و، خو دريغه چې اوسني اولاد دا هر څه ليدلای او درک کولای نه شي.

که تر خوشحال وروسته په درېيمه ادبي دوره کې تور ادبيات وپلټو، نو هم په نثر او هم يې په شعر کې په کافي اندازې بېلګې موندلای شو، چې هم به په جوليز او هم به په منځپانګيز لوښي کې پوره او کره وي، خو دا چې تر اوسه پورې د پښتو ادب لمن له دې اړخه کتل شوې نه ده، نو ځکه موږ ته نوې او تازه ښکارنده ښکاري.

د معاصرې ادبي دورې په ګڼو هنري نثرونو کې يو سرلاری ناثر پوهاند دوکتور لعل پاچا ازمون دی چې په خپلو ګڼو اثارو کې يې د تورو ادبياتو بېلګې په ډېر هنري بڼه وړاندې کړي چې ورته به ځير شو:

"- دا څو شپې دې خوب ډېر ګډوډ دی؟

- خوب به مې څنګه برابر شي.

سوړ اسويلی يې ګرېوانه ته کوز کړ، مکۍ ورته وويل:

- دا د څه شي درد دی چې ته يې نارامه او بې خوبه کړی يې؟

ادم خان شونډې چيچلې:

- بس څه يې کوې؟

- ستا درد زما درد دی.

- پوهېږم.

- نو بيا؟

- بيا خبره دا ده چې زه خو د خانۍ دستر خان وخوړم.

- د خانۍ دسترخان څنګه وخوړې؟

- دادا مې ښه ډېره شتمني راته پرېښوده.

- خو ښه دی کنه!.

ـ نه وایم چې ښه نه دی، خو...

د کوټې دریمځي ته یې وکتل:

ـ د لمر څرېکې ګورې؟!

مکۍ یې سترګو ته کتل چې دا په دې سړي څه وشول؟

ـ ګورم یې، ولې؟

ـ د لمر څرېکې ځان حتمي د کوټې منځ ته را رسوي او دا کوټه پرې رڼه ده.

ـ دا خبره په څه پورې کوې؟

ـ دا خبره دې پورې کوم چې دادا راته شتمني پرېښوده، خو هغه شتمني چې د لمر د دغو وړانګو په څېر ځان تیارې کوټې ته رسوي، هغه یې راباندې ونه لوروله.

یو څو قدمه یې واخیســـتل، د کوټې په منځ کې ودرېد، لاس یې د لمر څرېکو ته ونیوه:

ـ لمر ګورې؟

ـ ګورم یې؟ دادا درته پریمانه جایداد پرېیښی، نه لوڅ یې نه وږی، شکر وباسه!

ـ هزار بار شکر، خو کاش د لمر په څېر یې دا کوټه هم راته رڼه کړی وای!

ـ رڼه ده کنه، ګیس یې درته اخیستی دی!

ادم خان له ځان سره وخندل، مکۍ یې سترګو ته ودرېده او له ځان سره یې وویل:

ـ یا الله ته پرې ورحمېږې، دا په ادم خان څه وشول؟

ادم خان د مکۍ سترګو ته کتل:

ـ زه لېونی نه یم.

ـ خدای دې نه کړي، ما خو نه دي ویلي؟!

ادم خان وخندل:

ـ هی هی زمانې!

مکۍ ادم خان له ګوتې ونیو:

ـ ګوره! په تن پټ او په خېټه موړ یې، له هر چا نه ښه در رسي، نور څه غواړې؟

ادم خان وروځې را ټولې کړې:

ـ هی هی، کاش ز...." (ازمون، ۱۴۰۳: ۴-٦ مخونه)

په دغه ببلگه کې پرته له شکه، یاس، ناهیلي، په تېر ژوند او وخت پسې ارمان، ځینو مسـایلو ته ارزښـت نه ورکول او یا هم ځینې مسـایل په عادي او ژوره توگه نه کتل له ورایه لیدل کېږي او دا د تورو ادبیاتو کلیدي مسایل دي.

د استاد په دغه ببلگه کې گورو چې خبره په ناهیلی او ارمان روانه ده او اتل پر خپلو بې تفاوتیو او موضوعاتو ته په سطحي کتلو پښېماني ښیي، خو لا یې هم مېرمن پوه نه ده چې دی پر څه دی او څه وایي؟

خو کله چې وروسته پوهېږي چې خاوند یې په زده کړو پسې خپه دی او په کلي کې د خپل کلي مېرزا حیثیت او شخصیت د شته وو او جایداد په پرته مقایسه کوي، نو ورته جوتېږي چې اصلي شته جایداد نه، بلکې تعلیم او تحصیل دی او دا د زده کړو تر ټولو ښه ارزښت دی، خو هغه وخت ورته خلکو ارزښت نه ورکاوه او پر وړاندې یې بې تفاوته ول، نه یوازې ولس بلکې لیکوالو هم دغو مسایلو ته جدي پاملرنه نه کوله، نو ځکه استاد ازمون دغې ستونزې ته متوجه شوی او په ډېر ظرافت یې ډیزاینوي.

## پایله

زموږ ادبیات په ټوله کې د تورو ادبیاتو ببلگې زیاتې لري او لکه څنگه مې چې وویل، دغه ببلگې ډېر ځله د ټولنیزو ناخوالو، سیاسي، فرهنگي او اقتصادي بدلونونو له امله رامنځته شوي چې د انگریزانو په درې واړو جگړو او همداسې د اشغال په وختونو کې یې ببلگې یو څه زیاتې شوي، نه یوازې په جگړو او اشغال کې، بلکې د مهاجرتونو او گډوالیو په برخه کې هم داسې ببلگې شته، چې څېړل او سپړل یې اړین دي، خو دا چې د تورو ادبیاتو په اړه په پښتو ادب کې زما له نظره کومه مقاله تر سترگو شوې نه ده، نو ځکه دا بحث دلته په ټوله معنا نوی دی، هیله ده گران څېړونکي یې پراخ او بشپړ کاندي.

## مأخذونه


۱. احمدي، نصـــیر احمد. (۱۳۹۹ ل)، رنگه غوړونه (جوجو ۲)، (ناول): جلال اباد، مومند خپرندویه ټولنه.

۲. ازمون، لعـل پـاچـا. (۱۴۰۳ ل)، د سرو زرو غـابښ (نـاول): (- - -)، ازمون اکاډمي.

۳. پوهنغونډ، ویکي پیډیا. (۱۴۰۵ ل). ادبیات گوتیک، انټرنټي پا ڼه. لاس رسی: ۲۶/ ۲/ ۱۴۰۵ لمریز کال. .www.wikipedia.org

٤. پیس، مایکل. (۱۴۰۳ل). توره اروا پوهنه، د محمد نبوي ستوري پښتو ژباړه: کابل، د احمد زبیر نظري خپرندویه ټولنه.

۵. خټک، خوشحال خان. (۱۳۸۷ ل)، د خوشال خان خټک کلیات، د عبدالقیوم زاهد مشواڼي اوډنه، پرتلنه، سمون او ویپانگه (له نویو زیاتونو او سمونو سره)، دویم چاپ: کابل، دانش خپرندویه ټولنه.

٦. شینواری، سوله مل عبدالوکیل. (۱۳۸۷ ل). صیغه یي نکاح (لنډه کیسه)، پښتو کیسه ډایجسټ، دریمه گڼه: کابل، د دانش خپرندویې ټولنې تخنیکې څانگه.

۷. فررو. (۱۴۰۵ ل). ادبیات سیاه در ایران، انټرنټي پاڼه، لاس رسی: ۲۴/ ۲/ ۱۴۰۵ لمریز کال. https://fararu.com/fa/news/

۸. قاسم نژاد، علي. (۱۳۸۱ل)، فرهنگنامه ادبی فارسی(دانشنامه ادب فارسی)، به سر پرستی حسن انوشه، جلد دوم، چاپ دوم: تهران، سازمان چاپ و انتشارات وزارت فرهنگ و ارشاد اسلامی.

۹. مکتب سینما. (۱۴۰۲). چگونه طنز سیاه بنویسیم؟، انټرنټي پاڼه، د خپرېدو کال: ۱۴۰۲/۱۲/۲۰ لمریز، لاس رسی: ۲٦/ ۲/ ۱۴۰۵ لمریز. https://cinemaschools.ir/

۱۰. هوتک، محمد بن داود. (۱۳۹۰ل)، پټه خزانه، د پوهاند عبدالحی حبیبي سریزه، علامه رشاد خپرندویه ټولنه: کندهار.

۱۱. هیگل، گیورک ویلهلم فرېډرېش. (۱۳۸۵ ل)، عقل در تاریخ، د دوکتور حمید عنایت ژباړه، دریم چاپ: تهران، یاران چاپخونه.

استاد عبدالخالق رشید

د نهرو پوهنتون د پښتو ژبې استاد

# پښتو لنډۍ، د خاموشې نړۍ اوچت غږ

(له ویدونو سره یوه لنډه پرتله)

# Pashto Landay: The Resonant Voice of a Silent World

(A Comparative Analysis with the Vedas)

Prof.Abdul Khaliq Rashid

**Abstract**

Throughout my lectures, I have frequently encountered a recurring question: beyond its classical and contemporary literary traditions, does the Pashto language possess any other literary asset or intellectual heritage that could demonstrate its relevance and potential within today's globalized and knowledge-driven world?

This question is indeed worthy of serious consideration. Pashto speakers and scholars must reflect upon it and seek an answer without succumbing to exaggeration, empty rhetoric, or unfounded claims of superiority. They should endeavor to identify and articulate those distinctive features and contributions that may substantiate the language's significance. Alternatively, they should candidly acknowledge either that such resources are lacking or that we have not yet reached the necessary level of research, innovation, and scholarly development required to present this "virgin Pashto," in Khushal Khan Khattak's words, to the world with the dignity, splendor, and elegance it deserves.

For centuries, the beauty and richness of this language have remained obscured by ignorance, neglect, narrow-mindedness, irrational skepticism, and patriarchal social structures, preventing it from attaining the recognition and appreciation it merits.

## لنډیز

ډېر ځله د خپلو لکچرونو په لړ کې له دې پوښتنې سره هم مخامخ شوی یم چې راته وایي، پښتو ژبه پرته له دې چې اوسنی او کلاسیک ادب او ادبیات لري بله کومه داسې ادبي متاع هم لري چې د هغې له مخې د دغې ژبې له اړتیا او وړتیا سره په اوسني هڅې واله او علمي نړۍ کې مرسته وکړای شي؟

دا پوښتنه په رښتیا هم پردې ارزي چې باید پښتو ویونکي او پښتو څېړونکي فکر پرې وکړي او هغه تکی او یا ځواب پرته له دې چې ځان د لاپو شاپو او بې منطقه لوړتیا غوښتنې منګولو ته ور واچوي، په دغه اړه ولټوي، پیدا یې کړي او یا دا چې اعتراف وکړي چې یا یې نه لرو او یا موږ تر اوسه هم د څېړنو او ایجاد هغې کچې ته نه یو رسېدلي چې خپله دغه د خوشحال په وینا (بکره پښتو) د نړۍ په وړاندې د ناوېتوب پر دریځ باندې له هغه پرتم او ښکلا سره ودروو، هغه چې د دې په ښکلا او ښایست کې له آدمه تر دې دمه ناپوهیو، بې غوریو، تنګ نظریو، بې منطقه نا باوریو تربت کړې دي.

## سریزه

زه خو وایم چې پښتو ځوانه ده، هغوې چې پر دغې ژبې خبرې کوي، هغوی هم زیات شمېر لا د ناپوهۍ په مرګي خوب ویده دي او یو شمېر یې له خپلې ژبې دومره لرې او پردي ژبپالي شوي چې خپله پښتو مور یې تر پام نه ورځي او پردیو هغو ته یې د نوکرۍ او غلامۍ پړي په دواړو لاسو نیولي او هڅه کوي چې د خپلې پښتو مور پر ځای یې د خپل کور پر بلې باندې هم دلته او هلته لکه راته کېښنوي.

له تاریخي اسنادو او حقایقو سره خو دا ځواب هم شته چې که پښتو د نړۍ د لومړنۍ ګرامر لیکونکې دمور او ادې (یاد سانسکریتپوه پاتنجلۍ په وینا چې وایي مور یې ادکي وه) د زوی یې پانیني ژبه همدغه پښتو وه او یا دا چې د نړۍ لومړني یوناني

مورخ هیردوتس پکتویس او بیا د ځانګړو کالیو، وسلو، هېواد او ژبې خاوندان بولي او یا دا چې اوس اوس پردې هم خبرې روانې دي چې ویدي سرودونه له اوله په سانسکریت ژبه کې نه ول، بلکې په داسې یوه ژبه کې وو چې هغه له سانسکریت سره په چم ګاونډ کې پرته ژبه وه چې دا هم زما په نظر له پښتو پرته بله ژبه نه شي کېدای، او یا هم له هغه وروسته د البیروني مأخذ (ورا مهیر) د پښتو ژبې خاوندان د (آپه‌ګان) یا (اپوکین) په نوم سره یادوي او یا دا چې پښتو ژبه له یوه تلپاتې نامه (عبدالاحد مومند) سره فضا ته وخته او په نړیواله کچه څلورمه ژبه شوه چې له خارجي فضا یې زمزمه تر نړیوالو پورې ورسېده، نو بیا به ستونزه په څه کې وي چې موږ داسې یوه لرغوني او ژوندۍ ژبه لرو، خو بیا هم موږ د مرګي په خوب ویده پښتانه د هغې پرتم په فکر کې نه شو نیولای او یا د هغې پر وړاندې خپل راتلونکي هم داسې ړانده او کاڼه وساتو لکه چې موږ ساتل شوي وو، د دغه احساس او بې غورۍ معنا پرته له دې چې له یوې سرې ښېرا څخه چې د پخوانیو او اوسنیو بې غوریو پر وړاندې یې له ځان سره مله کړو بله چاره نه لرو چې:

په آخرت خوار شې ریباره

په ایرو پټ اور دې لیده پرې ودې سومه

## د څېړنې موخه

د دې څېړنې موخه دا ده چې پښتو لنډۍ چې د شفاهي ادب غني برخه ده له ویدونو سره پرتلیزې وڅېړل شي او ادب ارزښت یې جوت او را وسپړل شي.

## د څېړنې پوښتنې

لنډۍ له کوم ادبي ارزښت څخه برخمنې دي؟

ویدونه د لنډیو کومې ځانګړنې لري؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي ـ توضیحي دی او د څېړنې ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

پښتو ژبه په خپله آرامه خوځنده غږېږه کې د یوې خاموشې نړۍ غږ له ځان سره لري، دغه غږ چې پښتنو ونه شوای کولای لومړی یې په خپله واوري او بیا یې تر نورو پورې

په هغه شان لکه چې د دغه غږ درد او زوږ دی ورسوي، دغه خاموش غږ هغه فولکلوریک ادب او ادبیات دي چې یو اړخ یې د (لنډۍ ـ لنډیو) په فولکلوریک ژانر کې د ډله ییز شعور، ډله ییز احساس او ډله ییز ادراک په بڼه انعکاس مومي چې دا ځانګړنه په خپل وار او ځای کې د لوړ انساني ادبي او معنوي ایجاد هغه معنوي ډالۍ ده چې د خپل هر اړخیز ماهیت او ارزښت له مخې په نړیوال ادب کې په دغه معنوي کم او کیف او ورتیا سره نه لیدله کېږي. دغه ځانګړي شفاهي ډول (ژانر) نه یوازې د یوه ملت او یوې لرغونې ټولنې د معنوي او هنري ژوند او تجربې هېنداره بلل کېږي، بلکې په دغه ډول کې د یوه ناسپړلي او منل شوي تمدن ځرګندونه هم شوې ده چې د آسیا په زړه کې یې د یوه معنوي ډله ییز میراث(Spiritual collective heritage) په بڼه له یوې خوا وده کړې او له بلې خوا یې له اوږدې زمانې را په دیخوا د همدغه بشري معنوي میراث د ارزښتونو په لېږد کې له نسلونو تر نسلونو روزنیزه او معنوي برخه هم اخیستې ده، چې پښتانه یې تر اوسه هم د خپلې ناخبرۍ او نالوستۍ له امله پر یوه نامه نه، بلکې په څو نومونو لکه لنډۍ، مسرۍ، استیانې، ټپې، سندرې، ټیکۍ او نورو سره یادوي، چې په مطلب  کې یې بیاهم، همهغه یو هنري او معنوي وزن او ورم پروت دی چې له یوه پښتون تفکر او تخیل څخه را وتلی دی.

د دې لپاره چې دغه بحث د لنډیو په باره کې دی اجازه راکړئ هغه جالبې لنډۍ هم له تاسو ګرانو پوهانو او فولکور پېژندونکو سره شریکې کړم چې ما په دې نږدې وختو کې د ناچاپ پښتو قاموس یا فرهنګ ( فرهنګ ارتضایي) د قلمي نسخې په پاڼو کې ولیدې او ومې لوستې، دا هغه لنډۍ دي چې له نن څخه  څه باندې ( ۲۲۰) کاله دمخه په  ۱۲۲۵ هجري (۱۸۱۰م ) کال کې د یاد فرهنګ د لیکوال ارتضی خان (محمد ارتضی خان قوم افغان عمرخیل ابن نواب امان خان برادر زاده امیرالامرا نواب نجیب الدوله بهادر)  له خوا ثبت شوې دي.

دا یادونه دلته ځکه اړینه بولم چې د دغو ثبت شویو لنډیو په لړ کې یو شمېر داسې لنډۍ هم تر سترګو کېږي چې په هغو کې تر اوسه پورې لږ او ډېر بدلون هم رامنځ ته شوی دی او تر ټولو جالبه خو لا دا ده چې د دغه اثر لیکوال دغه سندرې یا لنډۍ د لنډیو په نوم هم نه پېژني، دی لنډیو ته (استیانه یا استیانې) وایي چې موخه او مطلب به یې خامخا ستاینه یا ستاینې وي. زه فکر کوم چې دا لومړی څوک دی چې

موږ ته د لنډیو د یوه بل نامه ( ستاینه یا ستاینې) یادونه هم کوي، معنا دا چې د ده په قول لنډیو ته (ستاینې ) هم ویل شوې دي. مرتضی خان دغه یادونه په فارسي ژبه کړې چې وایي : « درباب دانستن اشعارهای پشتو که آنرا در زبان مذکور استیانه میگویند» (فرهنگ ارتضایي - قلمي نسخه، ۸۱۷مخ ).

نوموړي یو شمېر لنډیو ته د خپل فرهنګ (۱٦٦) فصل ونډه کړې چې په هغه کې یې دا لاندې لنډۍ یا ستاینې هم ثبت کړي، زما په نظر دی لومړنی لیکوال دی چې په خپل فرهنګ کې یې پښتو لنډۍ ثبت کړې دي چې دلته یې په ګډه سره لولو:

**څه باندې دوه سوه شل کاله دمخه یو شمېر لومړنۍ ثبت شوې لنډۍ:**

ثبتونکی: محمد ارتضی خان

ماخذ : فرهنګ ارتضایي د ۱۲۲۵هجری ۱۸۱۰م کال تالیف

باید ووایم چې په لنډیو کې ما هېڅ ډول کمی او زیاتی نه دی کړی، په څه ډول چې ثبت او لیکل شوې دي هم هغسې مې راوړې دي، کېدای شي په ځینو لنډیو یا ستاینو کې څه وزني کمی هم وي، راځئ چې د دغې مقالې په پیل کې لومړی دا ولولو او بیا به د خپل بحث پرتلیزه لړۍ همداسې کرار کرار سره وغزوو.

لکه چې دي د اسمان ستوري
هومره زما په لالي وایه سلامونه

دا مسافر راغلل له سیله
ننني شپه د محبوبا بدرله وینه

دا لونګین مې اوبو یو وړ
د غم شریکه یاره نسه ګودرونه

عالم چې کوډې کوډې وایي
کوډې مې دا دي نرۍ سترګې تورومه

دا ته لا ښه یې غم غلط کړې
زه په خالي انګړ کې ناسته یم غمجنه

دا مار خوړلی به خدای روغ کا
زلفو خوړلی روغ به نشي اوبه مرینه

که هغه تللی یار مې راشي

د سرو پیزوان د پیربابا شکرانه کړمه
ته لیونی به شې که خدای کا
د محبوبه د شونډو رس دې وڅاکنه
دا یار مې وړوکی بنجاره شو
چې مرغلرې خرڅوي گوري خالونه
زما د ستا په سرسوگند یي
چې بې له تا مې په کار نه دی نورې جونه
دا نیمه شپه شوه یار رانغه
په نمایی پلنگ به اور ولگومه
په میرو ورک لالی مې بیا موند
اوس یې دیدن کړم که گیلې ورته کومه
دا ته خو لاړې په یوه لور شوې
ماته خو اور شول ستا د ناستې بورجلونه
او یاره راشه چې درځار شم
دا برنی شپه مې بیلتون په خوب لیدنه
دا خو دې خدای نکا  لالیه
چه ته به نه یی زه به کړم دنیا خوبونه
د ژبی سرمی شه تنهاکې
زما لالیه تا به ډیرپی یادومه
په وړاندی ځم په وروستو گورم
که څوک رایشي د یار راکا پیغامونه
زما دخه نصیب که خدایه
لکه اوسی په میرتون  شپه تیرومه
نن می آغه عالم یادی گی
چه دلی نشته په کړوهنود یی کورونه
زما دا زړه کباب خانه شه
ځکه د ریتو غخو بوی می له خولی ځینه

د یار(ې) شونډې سرې څه زیب کا
بل یې میسی دهیرا نیلم غاښونه
(فرهنگ ارتضایی، ۸۲۴ مخ)

دفرهنگ ارتضایي د فهرست په وروستی برخه کې لیکل شوی :
« فصل شصت وشش درباب دانستن اشعارهای پشتو که آنرا در زبان مذکور (**استیانه**) می گویند».

**یادونه:** د فرهنگ ارتضایي د خدا بخش پر یوازنۍ نسخه باندې د نهروپوهنتون استاد گران ډاکتر محمد انور خیري کار کوي. دغه جالب او د پاملرنې وړ فرهنگ چې پښتو ویي یې په دوو ژبو(فارسی او اردو) معنا شوي د خپل وخت په خورا مهمو فرهنگونو کې راځي، چې نه یوازې په قاموسي لحاظ لوړ ارزښت لري، بلکې د تاریخي او تشریحي ژبپوهنې له مخې هم د پښتو ژبې په اړه ځانگړې اهمیت او د څېړنې وړ معلومات لري.

**(۲) پښتو لنډۍ؛ د لرغونو ویدي سندرو اوسنۍ هینداره**

پښتو لنډۍ، سندرې، مسرې یا ټپې په آسیا کې د یوه لرغوني معنوي تمدن نښه او هینداره ده، دغه پرتمین میراث د آسیا د یوه خورا مهم لرغوني تمدن له ارزښتونو ( وید – ویدا ) سره تړاو لري، چې معنا یې (پوهه، علم، زده کړه او علمي وده) ده. دغه ویدا یا ویدونه په خپل ذات کې تر ډېرې کچې د ډله ییز شعور او تفکر ایجاد او پایله بلل شوې ده، چې په نړیواله کچه پر (ویدی سندرو) یا سرودنو باندې هم نامتو شوي دي، ځکه خو پښتو لنډیو ته هم چې د (سندرو، بدلو، ستاینو) نوم ورکړل شوی، چې لامل یې له همدغو سرودنو سره مادي او معنوي ورته والی په ډاگه کوي، داسې چې له یوه بل سره د معنوي پیغامونو او ارمانونو په لرلو سره گډې یو رنگۍ او ورته والي البته په یوه زماني توپیر سره ساتلی شي.

دا چې لنډۍ له ویدونو او له هغو وروسته له اپانیشدونو سره ډېرې نږدې او په موضعي لحاظ ورته والی لري، همدا ده، ډېر څه چې په اپانیشدونو کې موږ لولو ورته موضوعات په یو شمېر لنډیو کې هم تر سترگو کېږي، ځکه خو، هندي فلسفې پوهان دا هم وایي چې اپانیشادونه د هندي فلسفې زړی او جوهر بلل کېږي، اپانیشادونه د یوه ټاکلي لیکوال له خوا نه دي لیکل شوي، بلکې د بېلا بېلو لیکوالو له خوا په

بېلابېلو وختونو کې لیکل شوي دي، د هندي پوهانو نظر دی چې اپانیشادونو اسمانی وینې او څرګندونې هم نه دي، بلکې دا هغه میراث دی چې له یوه پښت څخه بل ته د زمانې په ترخ کې لېږدول شوي دي او تر نن پورې را رسیدلي دي. د لیکلو د نېټې په اړه یې پوهان په دې باور دي چې د (۶۰۰-۷۰۰ ق م ) په شاوخوا کې لیکل شوي دي، اپانیشادونه تر زیاتې اندازه د هغو فلسفي پوښتنو جونګ دي چې هغه د طبعیت او مطلقي هستۍ په اړه طرح شوې دي، په هغو کې په دغه اړه هم خبرې کېږي لکه وایي: **انسان څه شي دی او انساني جوهر یعني څه ؟** همداسې د روح او جسم په اړه هم اوږده بحثونه په دغو لرغونو معنوي متونو کې لوستلای شو. بله مهمه خبره چې د ویدونو په شکلي برخه کې یې کولای شو، هغه د دوی هنري اړخ او ارزښت دی، دا ټکی په پښتو لنډیو کې هم څرګند دی، پوهان وایي چې:« **ویدیک ژبه له استعارو ډکه ده...** » همدغه ټکی موږ په لنډیو او د هغوی په جادویي هنري وړتیا کې هم لیدای شو، معنا دا چې لنډۍ په خپله لکه ویدي اپانیشادونه چې معنا پټه او سپیڅلې پوهه ده.

اپانیشاد له دریو کلمو څخه جوړ دی ( اپا ) چې معنا یې (نژدې) ده، ( نې ) چې معنا یې (کښته) او (شد) چې معنا یې (کښېناستل او ټیټېدل) دي. په ټولیزه توګه دا معنا هم ترې اخیستلای شو: «د ښوونکي پښو ته د زده کړې لپاره ور ټیټ شه» اپانیشاد ته ویدانتونه هم وایي، ځکه باور داسې دی چې ابانیشاد په خپله د ویدونو وروستۍ برخه جوړوي، ډېر پخواني اپانیشادونه په خپله ویدونه او د ویدونو برخه دي چې له میلاد څخه پخوا له شپږمې پېړۍ را په دې خوا یې لیکل پیل شوي دي. اپانیشادونه په عمومي لحاظ د ویدانتي تفکر او فلسفې پراخه او ښکلې تشریح او څرګندونه ده. په دغه برخه کې په عمومي توګه یو شمېر پېچلي او کړکېچن فلسفي مسایل او پوښتنې هم طرحه او تشریح شوي دي. د اپانیشادونو څېړونکي وایي چې دغه فلسفي او فکري ارزښتونه په څلورو بڼو (پوښتنو او ځوابونو، روایتونو، تشبیهاتو او کنایو او سمبولیزم) کې رامنځته شوي دي. د دغو فکري او فلسفی درسونو یوه خورا مهمه برخه د مغل نومیالي واکمن شاه جهان د مشر زوی داراشکوه او نورو له خوا په دري ژبه هم ژباړل شوې ده.

سندرې په هنري لحاظ دا وړتیا لري چې ځان یې په پښتو شفاهي ادب کې د ویدونو د هنري وړتیا کچې ته رسولي او د ژوند اررښتونه یې په لوړو هنري ارزښتونو سره موږ او نړۍ ته ور پېژندلي دي.

مخ دې په سپین کې سرخي وایي

لکه خاصه چې پرګلاب وغوړوینه

په دغه لنډه لیکنه کې هم هڅه شوې چې لنډۍ له خپلو ټولو مادي او معنوي وړتیاوو سره د بشریت له یوه منل شوي معنوي میراث (ویدونو یاویدي سندرو) سره په یوه نوي پرتلیز تحلیل کې سره وپېچو چې په دغه برخه کې د لنډیو د تحلیل او پرتلې لپاره د شونتیا په پام کې نیولو سره یو نوی ادبي بحث پرانیزو.

لومړی: « **ویدونه د زمان او واټن، یا هم زمان او مکان څخه لرې تجربه او تخلیق نه دی**»

لکه چې د اپانیشدونو په اړه مو یوه لنډه یادونه وکړه، زیاتره ویدپوهان پردې باور نه دي چې د بشري میراث دغه سندرې یا ویدونه به په پیل کې د انفرادي شعور تخلیق او ایجاد وي. په داسې حال کې چې دغه سندرې د خپل ماهیت او مرام له مخې یو هنري او معنوي تخلیق (Artistic and spiritual creation) دی چې د ډله ییز شعور او هڅو پایله بلل کېدای شي. د همدغه تعامل پر بنسټ په پښتو لنډیو کې هم له اوږدې مودې بیا تر اوسه پورې دغه لوی ډله ییز فکري تخلیقي تمایل او لړۍ لیدله کېږي. معنا دا چې د ایجاد سکه یې په یوه فکري کارخانه کې نه ضرب کېږي او انفرادي اړخ یې ډېر تت دی. دا چې پوهان پردې باور دي چې ویدونه د زمان او واټن، یا هم زمان او مکان څخه لرې تجربه او تخلیق نه دی، همداسې پښتو لنډۍ هم د زمان او مکان تر همدغې قانونمندۍ لاندې راځي، په دې اړه یوازې دومره باید ووایو چې دلته زمان او فاصله په یوه معنوي نسبي لړۍ پورې تړلي ټکي دي چې په مطلقه توګه نه چوکاټ بندي کېږي. دلته پر ژوند او پر چاپېریال باندې د معنوي اغېز تر سیوري لاندې پر بېلا بېلو موضوعاتو باندې رڼا اچول کېږي چې په ډېره ساده توګه د هر ډول ذهنیت له خوا هر اړخیزه هنري عکاسي، تعبیر او انطباع ترې کېدای شي. لکه: دا لاندې لنډۍ:

غمونه ډېر دي زه يوازې
زه به په دې **غمو** کې څنگه لويه شمه
که يارانه راسره نه کړې
دومره خو وايه چې **مئين** دربندې يمه
زما د لرې **وطن** ياره
**سپوږمۍ** ته گوره زه پر بام ولاړه يمه
اسمان په **ستورو** ښه ښکارېږي
چې ستوري نه وي اسمان څه ښايست لرينه
اسمان ته لار د ختو نشته
**ليلی مجنون** په عاشقۍ ختلي دينه
اسمان کې ستوري راته خوښ کړه
زه به دا ستا مينه په **ستوري** ماتومه
په بې درمانه **رنځ** اخته يم
جانان مې ښه په حال خبر دی نه راځينه
پيکی دې بيا په کوچو غوږ کړ
لکه دوربين د **فرنگي** شغلې وهينه
گاديه سر دې د ويشتو دی
زما لالی دې په **دکن** ولگاونه
په خوله دې حال راسره يو دی
د **زړه کوڅې** دې رانه بيلې دي مينه
که مې نصيب د بدو نه وای
په شنه **جلگه** به منگی ولې ماتيدنه
زړگی خو دا و چې تا يو وړ
**گلاب** خو نه دی چې به وسپړې گلونه
مازديگر لمونځ دې قبول مه شه
ديدن دې پرېښود د ايمان کوې سوالونه
مخ په مړوند کله پټېږي

لالی به هسې را نه ځان خپه کوینه

په دغو یادو لنډیو کې وینو چې ژوند له څو اړخونو او څو زاویو په کې انځور شوی دی، که دغه هره لنډۍ موږ د یوې علمې څېړنې (Scientific research) لپاره چې په یو ځانګړي علم پورې به اړه لري سرلیک وټاکو، څه باید ووایو چې پر یوې بریمنې پایلې او یوه ښه علمي تحقیق به ور مخامخ نه شو؟ اسمان ته لار د ختو نشته ... څه باید ووایو چې انسان ته څه پیغام ورکوي؟ هلته د ختو لار نشته خو بیا هم انسان (لیلی او مجنون) وکولای شول چې ځان تر هغه ځایه ورسوي، دلته په دغو ټولو لنډیو کې خپلې خپلې زمانې شو نتیاوې په پام کې دي، پښتو لنډۍ اسمان ته د ختو وسیله (مینه) ښیي، همدغه مینه د زمان په تېرېدو سره هڅه کېږي او دغه هڅه بیا خپله بڼه د انشتاین خبره (چې ساینسي پرمختګونه هم له تخیله پرته ممکن نه دي) په اوسنې عصر کې د تکنالوژۍ غبرګ ته رسوي او وروستۍ پایله یې هغه وسیله کېږي چې د هغې د کشف او ایجاد په واسطه انسان ځان سپوږمۍ ته ورسوي. لکه: چې اوس یې موږ شاهدان یو. په عین حال کې که موږ غواړو د دغې لنډۍ لپاره د زمان پوښتنه رامنځته کړو، نو دا خو له شکه پرته ویلای شو چې دغه لنډۍ په زماني لحاظ د لیلې او مجنون د کیسې همزولې ده... دا چې د لیلې او مجنون کیسه کله رامنځته او یا کله زموږ ذهني دنیا کې (ادب) ته را رسیدلې په دغه اړه یوې بلې څېړنې ته اړتیا ده. دا بله لنډۍ چې اسمان کې ستوری را ته خوښ کړه، هم موږ ته یوه خورا دقیقه انساني انتباه راکوي او له یوه دقیق ارتباطي چینل سره مو مخامخ کوي، د یوې شېبې لپاره که موږ د خپل موبایل او تلویزیون پردې ته لږ ځیر شو، څه فکر کوو چې دغې لنډۍ موږ ته دغه اوسنی حالت زرګونه کاله د مخه په خپلې دغې اوسنۍ وړتیا سره زموږ په مخ کې نه دی ایښې؟ له همدې امله موږ حق نه لرو چې ووایو موږ د انسان او د هغو په علمي او تخنیکي بریاوو کې هم خپل ځای لرو؟ له شکه پرته لرو یې، خوله بده مرغه چې موږ ته نړۍ، موږ ته علم او موږ ته هنر له دغې کونجه تر اوسه نه دي را کتلي. په هر ډول، که لږ د پښتني ژوند دغه څرګند معنوي میراث ته متوجه او ځیر شو باور دی چې په دغه برخه کې موږ ډېر څه ژوند، انسان، هنر او ټولنې ته په معنوي لحاظ که څوک وخت را کړي اوس هم ورکولای شو، په دې شرط چې پوهه او حوصله د تور جهالت تر سپینو وزرونو لاندې په رڼا ورځ په بډه ونه وهو او متمدنه ټولنه

هم موږ ته زموږ هېواد ته د جهل او ناپوهۍ په سترګو د خپلو سیاسي غرضو په خاطر رانه ونه ګوري او زموږ د اصلي درد غږ واوري چې:

په څه ناپوه طبیب مې سر شو

درد مې د زړه دوا د سترګو راکوینه

**دویم:**

په ویدونو کې بله لویه ځانګړنه داده: «څه چې ویل کېږي، څه چې ایجادېږي هغه باید اغېز ولري» دغه مهم او د پاملرنې وړ ټکي په رښتیا هم ویدونه په خپله ټوله وړتیا سره د ژوند د عملي لارو چارو څرګندوی او بولندوی کوي، ویدونه داسې څه نه وایي چې هغه پر ټولنه او ټولنیز ژوند باندې اثرونه لري، کیدای شي اثر هم بیا دوه اړخه ولري (منفي او مثبت) خو ویدونه یوازې پر مثبت اړخ باندې ډېر ټینګار کوي، ځکه مقدس ویدونه د ټولنې او ژوند پر وړاندې تل لارښوده معنوي دنده او دریځ لري.

راځئ دغه ویدونه ولولو:

لکه څنګه چې ورځې په ورځو پسې خارو دي،

لکه څنګه چې ترلي موسمونه پر یو بل پسې را درومي،

لکه څنګه چې د هر ځای ناستي خپل مخکنی نه دی ناکام کړی،

د دوی ژوند په سمه توګه سمبال کړه،

ای د ښه ژوند برابرونکیه!

یا دا :

خپل بشپړ(ښه) ژوند وکړئ ،

زوړ عمر په زړه پورې ومومئ ،

تاسې ټول یو پر بل پسې ګورئ،

زموږ پاسوال دعا د لا نه شیانو خالق دی،

هغه به ستاسې دعمر ورځې اوږدې کړي!

(ویب: https://factsanddetail)

پښتو لنډۍ، د هغو جوړښت او معنوي وړتیا هم پر همدغه اصل باندې ولاړه ده، ما مخکې یاده کړه چې د ټولنیز تفکر په کچه د ټولنیز شعور، ټولنیز ایجاد او ټولنیز ژوند تشریح په خپله پر ژوند او کایناتو باندې د اغېز څرګنده بېلګه او پایله ده. په پښتو

لنډیو کې د اغېزمنتوب ځانګړتیا د هغو له عام منښت څخه په ډاګه کېږي، که لنډیو یا دغو پښتو سندرو دغه اوچت اثر او اغېز نه درلودی، نو بیا به یې دا دومره عام مقبولیت لکه سپېڅلي کتابونه له کومه کاوه؟ موږ تر اوسه هم نه شو کولای چې د پښتو ژبې د دغه لوی معنوي میراث (لنډیو) د دغه لوی بشري او معنوي اغېزمنتوب (Effectiveness)په باره کې ژور فکر وکړو او یا یې درک کړو. زه باور لرم چې تر هغو چې مقدس کتابونه نه ول رامنځ ته شوي کیدای شي دغه لنډۍ به د دې جوګه وې چې د خلکو او ټولنې د لارښوونې دنده درلوده، خو له بده مرغه چې موږ لا هم د خپلې ژبې (پښتو) پر دغه لوی انساني ارزښت باندې نه پوه شوي یو، نه مو لکه څنګه چې وږ ده کار پر کړی او نه مو کله د هغو د اغېزمنتوب عملي اړخ د ژوند لپاره د ارزښت (value) په توګه په معنوي تنده په پام کې نیولی دی، ځکه چې که خبره وهم کړې بیا پر یوه پایله پای ته رسېږي چې هغه د اوسني پښتون خپله ناپوهي او نالوستي ده. د ویدونو د عصر او یا هم تر هغو د مخه پښتون دغه ستونزه نه درلوده ځکه هغوی تمدنونه رامنځته کړل او موږ هغه تر اوسه هم ونه پېژندل، ځکه چې موږ کله هم دا هم نه منو چې موږ دې له اسلام څخه پرته یو مهال د کوم بل مذهب پلویان او پېروان هم وو.

او که نه، هره پښتو لنډۍ په خپل دغه لنډ تنګ جوړښت سره د کایناتي(universal) ژوند د ارزښتونو د مثبتو اغېزو لنډه او له معنا ډکه مجموعه ده چې د کایناتي طبعي او هنري شته والي عملي سیر (practical Direction) د ژوند لپاره لارښوونه کوي. دلته د غزلو او قصیدو، اوږدو اوږدو شعرونو او مثنوي ګانو خبره نه ده؛ بلکې په یوه وړه لنډۍ کې یوه فلسفه او یو اوږده بحث او لکچر ځای کړای شوی چې حیرانیتا یې د اوسني عصر د یوه کمپیوټري چېپ له وړتیا لږه نه ده، راځئ په لنډیو کې د پراخ ټولنیز او انځوریز اغېزمنتوب پر کرامت پسې یوه وړه شمعه ولګوو:

چې سود او زیان دې په کې نه وي
غمازه ولې بدوې د خلکو زړونه
پرما دې وار د ځوانۍ تیر کړ
ستا دې رانه شي له دکنه مهرانونه
جانان په ټوکه نه پوهیږي

ما په خورو زلفو واهه مرور شونه
ته ترسیند پورې زه را پورې
اوربل جاله کړه دواړه زلفې تنابونه
آخر به ما پرچا حلال کړې
تر دیوالو ښکاره کوې سپین مړوندونه
هلکه مرې که پاتې کیږې
دامې دستور دی نرۍ سترګې توروومه
په اخرت خوار شې ریباره
په ایرو پټ اوردې لیده پرودې سومه
چې خوله دې راکړه په خندا شوې
زه دې له ګله په خندا خوشاله شومه
په باغ کې مه ګرزه دلبره
ګلان شرمیږي مخ په پاڼو پټوینه

زه پښتو لنډۍ د اوسني عصر پښتو ویدونه بولم، که لږ ورته ځیر شو، که لږ د هرې لنډۍ زړه (مطلب) ته ور ننوځو، موږ له شکه پرته د ژوند، آزادۍ او هنر، د شعور او لا شعورۍ یوې جالبې دنیا ته په رښتینې حیرانتیا سره هم کتلای او هم ننوتلای شو، کولای شو په ټوله کلاسیکه شاعرۍ کې داسې یوه د حیرانتیا وړ ښکلا او وړتیا، انځور او د حیرانتیا وړ اغېزمنتیا لیدای شو؟ دا هم هغه ویدي اغېز دی چې له هغې ویدایي زمانې بیا زموږ په دغو ویدونو (لنډیو) تر موږ پورې راغزیدلی او را رسیدلی دی چې کولای شو اوس پر هره یوه باندې یو ځانګړی کتاب او ځانګړې څېړنه وکړو ځکه چې په لنډیو کې دغه وړتیا شته ده:

ته تر سیند پورې زه را پورې
اوربل جاله کړه دواړه زلفې تنابونه
چې سود او زیان دې په کې نه وي
غمازه ولې بدوې د خلکو زړونه
که مې ته روغ لیونی نه کړې
بیا مې د بنګو پیاله مه بوله مینه

مازديګرى دي ښېرې مه کړه
ته به د ناز ښېرې کوې رښتيا به شينه
که مې ته روغ ليونى نه کړې
بيا مې د بنګو پياله مه بوله مينه
دا په ځير ځير چې راته ګورې
جانانه تا په ما کې څه ليدلي دينه
که خداى کول خداى به دې راکړي
ماته د کلي ماشومان دعا کوينه

**دريـــــــم :**

**جبر او اختيار**

« او مرګه! له دغه ځايه ولاړ شه، خپله ځانګړې لاره تعقيب کړه، پر دغه لاره سفر نه کوې، زه تاسو ته وايم، که سترګې لرې او اورې، زموږ اولادونو ته لاس مه ور وړه ، زموږ اتلان مه را ټيي کوه.» [Rig veda,'X.18 reads:1]

د ژوند دا ډول رومانتيکه څرګندونه او پېژندنه يا جبر او اختيار بله ځانګړتيا ده چې د ويدى سندرو ستېه ورباندې ولاړه ده، هسې چې نن سبا لوى فيلسوفان پردې باوري دي او دا مني چې انسان يو تخليق دى، په ويدونو کې هم د انساني ژوند رومانټيک والى منل شوى اصل دى چې په ځانګړي نزاکت سره يې له لومړنيو باورونو لکه: د طبيعي موجوداتو، حيواناتو او انسانانو له نمانځنو سره په څنګ کې مطرح کوي. دغه د ژوند او مرګ رومانټيک تعبير هم په ويدونو او هم په پښتو لنډيو کې له پراخې او درنې فلسفې سره سر لګوي په ويدونو کې لولو:

زه دلته دغه منار د ژوند کولو لپاره جوړوم،
هېڅوک نه پرېږدم چې دغې کچې ته ورسېږي،
کيداى شي دوى سلګونه مني دلته تېر کړي،
خو آخر يې هم مرګ دى،
او مرګ هم تر دغه غره لاندې...

ظاهراً ښکاري چې نړۍ د مايوسۍ او د حتمي مرګ تر سيوري لاندې ده، دلته د ژوند منار جوړيداى شي، خو دلته انسان د خوشحالۍ لپاره نه دى راغلى، دلته تلپاتې

ژوند نشته، له دغې پراخې نړۍ سره باید د عقل په تول چلند وشي، نه د کم عقلۍ!
زما مطلب په دغه لړ کې دا دی چې همدغسې یو رومانتیک انځور نامتو رومانتیک شاعر لامارتین په څومره یوه اوږده تصویر کې په خپله رومانتیکي ایدیا او انځورونه کې زموږ مخې ته ږدي او وایي:

«پر لمر لویده، هغه وخت چې فضا سکوت ونیسي، پر یوه ډبره ناست یم،
د شپې په انتظار اسمان ته گورم ...
د یوې خوا سر پهار د ونې اورم، داسې ښکارېږي لکه روح چې،
په هدیره په خپل کالبوت پسې الوزي...
زهره هغه زیبا ستوری هم له افقه سر را باسي او مخامخ چمن په خپله روڼا سره روښانوي...
نابره یوه دلفریبه وړانگه د دې ستوري، زما پر تندي لوېږي او پر سترگو مې نښلي...
ای نری وړانگې!....
ای مطبوعی او زیبا روڼا!... څه را څخه غواړې؟
آیا ته راغلې یې چې زما خسته او پژمرده روح روڼ کې؟
آیا ته، یو چا ، د تیره بختانو دیدار ته را لیږلې یې؟
آیا ته د امید د روڼا په ډول د دوی پر مخ ځلېږې؟
آیاته دهغې ورځې سهار نه یې چې هیڅ نه هیریږي ؟
ستا روڼا زما زړه را سوځي او بل ډول احساسات را کې اچوي، د هغو خلکو په خیال کې لوېږم چې له ژوندانه یې زړه پرې کړی دی.
په رښتیا هم، ای زما قشنگې روڼا!
ته لکه چې د هغوی روح یې؟
ښایې چې هغه سعادت مند ارواح به په دې ډول د دنیا سیر کوي؟
نو هر وخت چې دوی را په یاد سي ځان په اسمان کې گنم...
آه ، ای عزیزو ارواحو!
ای هغه روحانو چې له دنیا او مصیبتو څخه یې لرې یاست!
هره شپه تاسې راځئ او زما خیالات را روښانوئ!

راسئ نوې آرامي او عشق زما په زړه کې واچوئ،
لکه نسيم،
چې مړاوي ګلان غوړوي،
تاسې هم ما ښاد کئ ، راسئ ....!
افسوس !
چې له افقه يوه توره کرغيړنه وريځ راپورته شوه او هغه،
زيبا وړانګه يې راڅخه پټه کړه!   (طلوع افغان، ۱۳۱۲: ۸ مخ)

دا هغه شاعرانه انځورونه وه چې تعبير او انځور يې انفرادي تومنه لري، که موږ په همدغه تنده او موخې سره سره سر ور دننه کړو، نو هلته بيا موږ همدغه تعبير چې څرګند شاعر يې لکه: لامارتين په يوه اوږده افسانه کې زموږ په وړاندې انځوروي، په پښتو لنډيو کې په لنډه او ساده او جامعو ټکو کې په ځانګړې پښتنې او شعوري وړتيا سره په ښښه کېږي لکه:

چې خدای کوي هغه به وشي
ولې دې سر په زنګانه ايښی مينه
راشه تقدير ته تدبير نشته
چې درنه ځار کړم د سورکو شونډو سرونه
د نيا د غم په ورځ  پيدا ده
کم عقل خلک پرې کورونه جوړوينه
په دنيا مه نازېږئ خلکو
دنيا فاني ده په ارمان به سره ځونه
قبر سوری کړه حال مې واخله
په خمارو سترګو مې پرېوتل ګردونه
په آخرت کې به نارې کړم
زه د دنيا نه ارمانجن  راغلی يمه
په پير شهباز مې چارګل کېږدئ
زيارت يې درونږ دی ګونډې پېغله کونډه شمه
غم دې کميس نه دی چې زوړ شي

زما له عمره سره سم دی زوړ به شینه
د تابه هیر یم که به یاد یم
زه چې قدم په قدم ږدم تا یادومه
د مازدیگره زیړیه لمره
په روغو وایه د رنځورو سلامونه
پیغلې په گور کې ارمان وکړ
روپۍ مې کور وربل مې خاورې زړوینه
مسافري دې روزې مه شه
زه دې په سپینه خوله ویده پرېښې یمه
دزړگي حال ویلي نه شم
د سوال یاري ده اوس به گډه وډه شینه ...
مرگی د سترگو کنج ته راغی
ما ویل سلام دی، ده وې کور دې ړنگومه

په دغه اړه ډېرې نورې ژوندۍ بېلگې هم شته چې په هغو کې د ویني یا شفاهي ادب وړتیا او لوړتیا د لیکني ادب په پرتله څو ځله له ورایه لوړه او اوچته ښکاري او لامل یې هم دا دی چې د پښتو ژبې دغه شفاهي یا وگړنی ادبي ډول فولکلور په اوسنۍ نومونې ( د پوهې دودیز علم ) چې کیدای شي دغه نومونه ډېره دقیقه نه وي، تر لیکني ادب پر انساني فردي او ټولنیز چاپېریال او شعور باندې زیاته موده برلاسی پاتې شوی ځکه، خو په دغه ډول کې د انساني ژوند تجربې د پنځو، شپږو زرو کالو ( معنا دا چې لیک پیدا شوی او لیکنی ادب رامنځته شوی) خبره نه ده، بلکې کیدای شي تر دغو هم د زیاتو کالونو بریا او محصول ورته ووایو. دغه څه چې نن سبا یې پوهان د جبر او اختیار د فلسفې تر سرلیک لاندې په اوسنۍ علمي بڼه څېړي او یا یې لولي، همدغه اصل ویدونو یا پښتو لنډیو موږ ته ډېر پخوا په همدغه فلسفي رنگ او خوند سره په ښه کړی دی.

**څلورم:**

**کايناتي مينه او لېوالتيا**

ځان د ځمکې مور لمنې ته وسپاره،
هو، د هغې پراخې، ښنونکې او مهربانه لمنې ته،
هغې ځوانې، نرمې، آرامې او ژغورونکې ته،
څو دې د ورکې له غېږې څخه وژغوري...
('Rig Veda,' X, I 8 reads: 1)

په ويدونو کې د کايناتي مينې او لېوالتيا د څرګندونې خبره تل له پراخ طبعيت او ناپايه کايناتو سره په تړاو يوه ځانګړي انداز کې مطرح ده، کايناتي انځور، ستاينه او ان کله کله عبادت دی، چې انسانان يې پېړۍ پېړۍ د خپلو حيرانتياوو مينه وال کړي وو چې اوس هم په يو څه بدلون سره پر همهغه لاره روان دي، د لمر او سپوږمۍ، د طبعيت د نورو خلقتونو لمانځنه او پرستش هم په خپله د انسان له لېوالتيا سره تړلي څيزونه وو، موسمونه، سيندونه، غرونه، برېښناوې، توپانونه او ان حيوانات دا ټول هغه څه وو چې انسان له هغو سره په نېغه توګه د تماس، دښمنې او درناوي په انداز کې اوسېدلي دي. ځمکه په ځانګړې ښکلا او درنښت سره په ويدونو کې ياده شوې او ستايل شوې ده: « اى نړۍ، زموږ لپاره بچيان راوړه چې په تا کې ځای پر ځای شي، له ناروغۍ او زواله خوندي، موږ ته اوږد ژوند را ډالۍ کړه، موږ به کله هم ستا په وړاندې د نذرانې په برخه کې سستې او ناغېړي ونه کړو. اى ځمکې، نيکي را ته راوړه، ترڅو مې حال ښه شي، ته چې د جنت شريکه يې، ماته نيکي او نيکمرغي را په برخه کړه.» ( On the Vedic Conception of the Earth. Atharva Veda, xii, 1) on JSTOR

په پښتو لنډيو کې هم دغه مهم اصل تر اوسه پورې د تقدير او تقدس په کچه هم د پاملرنې وړ دی او هم د ستاينې، ځکه خو طبعيت او کاينات په پښتو لنډيو کې هم لکه په ويدونو کې په خپلې ټولې حيرانتيا سره تر هرڅه دمخه وړتيا مومي او په ځانګړي هنري تندې او تخليق سره خپل ځای او وړتيا هم دکايناتو او هم د ټولنې په وړاندې په نښه کوي، ښکلا مومي، د ټولنيزې او هنري وړتيا لوړو ته ځان رسوي داسې چې په لوستلو سره يې نه يوازې انسان د خوشحالۍ احساس کوي، بلکې د هڅې،

کشف او موندنې پر لور يې هم لارښوونه کوي، په لاندې لنډيو کې په مينه ناک نظر سره د طبعيت او کايناتو بېلابېلې برخې په خپلو جالبو او ښکلاييزو ځانگړنو سره ليدای او لوستای شو لکه:

چې بلبلان پرې خپه کېږي
خزانه تا په **باغ** کې څه ليدلي دينه
پيرانو پيره را رسيږه
بېړۍ غرقېږي په تخته ولاړه يمه
د اسمان ستورې شوې جانانه
اسمان چې مځکې ته راځي قيامت به وينه
زما د لرې وطن ياره
سپوږمې ته گوره زه پربام ولاړه يمه
پر لويو غرو د خدای نظر دی
په سر يې واورې په لمن يې زيړگلونه
په هندوستان مې گل کرلي
په ننگرهار ولاړه يم بوی يې راځينه
په تورو سترگو دې مين يم
لکه په تورو غرو چې اورې بارانونه
کور يې په کلي معلوم دی
د بام پر سر يې کشمالي کرلي دينه
د غره په سر کې دې مار وخوره
چې جنازه دې په مشکنو وتړمه
سپوږمۍ د خدای روی مې در وړی
جانان مې مه رسوا کوه ماته راځينه
اسمان په ستورو ښه ښکارېږي
چې ستورې نه وي اسمان څه ښايست لرينه

## پنځم:

## د طبعیت او انسانیت وصال

« په ژوند کې تمځای نشته.../ ویدي سندره»

ویدونه او لنډۍ د خپلې لویې ورتیا او کرامت له مخې طبعیت او انسانیت سره وصلوي، له ډېر پخوا څخه انسان د طبعیت هینښتاوو ته حیران و چې تر اوسه هم دا تګلاره او دا د حیرانتیا وړ رمزل له دغو ټولو اوسنیو پرمختګونو سره هم پر خپل پای نه دی لګیدلې، انسان له خپل پیدایښته بیا تر ننه پر طبعیت ور ننوتی خو لا تر اوسه هم په دغه ناپایه ورشو کې خپل وروستي منزل ته نه دی رسیدلی، په ویدونو کې رښتیا ویونکو ( رشي ګانو) ډېره هڅه کړې چې (ځان او جهان ) ته په دقت سره وګوري، فکر ور باندې وکړي او هغه رابطه پیداکړي چې پر هغې باندې څنګه ځان (انسان) او جهان سره تړل شوي دي؟ څنګه یې تړلی؟ په دغه اړه په ویدونو کې په زړه پورې بحثونه راغلي چې په ټوله کې له طبعیت سره د انسان مینه او اخلاق ښیي او آن د انسان د مینې له امله د طبعیت ډېرې برخې پیدا شوې دي.

د انسان او طبعیت په ژوره اړیکه او فلسفه کیدای شي عادي خلک په لومړي څرک کې ګوته په غاښ شي، خو تر کومه ځایه چې علمي څېړنې ښیي، دا هغه اړیکه ده چې انسانان یې په مستقیمه او غېر مستقیمه توګه له طبعیت سره لري، طبعیت څه شی دی، چېرې دی او څنګه دی؟ پر دغو پیچلو مسایلو لا علمي نړۍ هم نه ده توانېدلې چې یوې وروستۍ پایلې ته ځان ورسوي، ځکه دلته پایله بیا هم د ناپایتوب (لایتناهی والي) په لمنه کې نغښتې ده او هرڅه په دغه اړه لا هم اټکلي بڼه لري او نسبیت هم په طبعیت او هم پر انسانیت باندې واکمني کوي، له بلې خوا ورته والي او پرتله والي بل ټکی دی چې موږ په دغه برخه کې د یوه حیرانوونکي منطق او لامل په ښکېل کې ساتي او هغه څه چې کله معما او کله کله هم درواغ راته ښکاري خو بیا هم هغه بشري ژوند د حیرت په لمنه کې ور نغاړي.

پر انسان طبعیت ګران دی، ځکه چې دی د هغه په زړه کې ژوند، د ژوند تقلید او تجربې تر سره کوي، مینه ورسره لري او الهامترې اخلي، د خپل ځان د خوښیو او دردونو همراز یې بولي او د خپلو دردونو همرازي ورسره کوي، انسان چې په هر حالت کې ځان خوار او بې اسرې احساس کړي، له ځانه او له جهانه مرورتیا احساس کړي،

همدغه شېبه ده چې بیا د طبعیت غېږې ته چې مقدسه ورته ښکاري ځان رسوي او هلته د آرامۍ احساس ور په برخه کېږي، په ځینو وختونو کې طبعیت چې انسان هغه د یوې تلپاتې لویۍ تر ټولو ښکلې او برلاسې هستونه بولي له هغه سره تلپاتې مینه او اړیکه ساتي، پښتو لنډۍ هم د ژوند او طبعیت د وصال دغه رمز ته په درنه سترګه ګوري او په ځانګړې ښکلا سره یې انځوروي لکه:

باران د ځمکې آبادي ده
شیرینه یاره زه په تا اباده یمه
پاس په کمر ولاړه ګله
نصیب د چا یې اوبه زړه درخېژومه
زما به ته یادېږې یاره
که د جنت په منارو ولاړه یمه
جانانه راشه چې په پوخلا شو
عمر د ژمي مازدیګر دی تېر به شینه
نه مې څوک وو نه را په کار شول
د ګړنګ پاڼه وم کوهي ته ولوېدمه
په باغ کې مه ګرځه جانانه
ګلان شرمیږي مخ په پاڼو پټوینه
په باغ کې ګرځې خرما غواړې
په سترګو ړوند یې خرما زه ولاړه یمه
باران که اوري ودې اوري
واورې دې نه اوري چې لارې بندوینه
زړه مې دا ستا خبرې غواړي
لکه د للمې غنم غواړي بارانونه
جانانه دومره راسره وی
لکه بربښنا چې د بارانه سره وینه

## شپږم:

## مینه او لنډۍ

« له یو چا سره مینه، معنا دا چې ته هغه په ... سترګو ګوري.../ ویدي سندره»

ویدونه او لنډۍ د تلپاتې مینې پیغام رسونکي دي. دا یو بل تلپاتي او جاویداني ویدايي اصل دی چې په زرګونو کالو زړو میراثو کې خپله ورتیا د ویدي سندرو د ستاینو له مخې مونډلې او تر اوسه هم دغه اصل د هنري هڅو او نوښتونو تلپاتې ارزښت جوړوي، د یونان لرغوني فیلسوف پلوتینیوس چې تر میلاد مخکې يې ژوند کاوه هم د مینې په اړه همداسې یو نظر لري لکه چې وايي:

" And Love –"born at the banquet of the gods" – has of necessity been eternally in existence, for it springs from the intention of the Soul towards its Best, towards the good; as long as Soul has been, Love has been......

Thus Love is at once , in some degree a thing of Matter and at the some time a Celestial, sprung of the Soul; for Love lacks its Good but from its very birth, strives towards It. (PLOTINUS, ENNEAD VI P 106 )

ژباړه: « او مینه، د خدایانو په خیمه کې زیږېدلې ده، د ننني شته والي اړینه ننبه ده، چې غوړېدنګ يې د روح له ولکې څخه د ښو پر لور دی...د ښو پر لور، لکه چې روح ده او مینه ده... ځکه خو مینه په یو ځل، په یوه کچه او په یوه وخت کې د روح سپېڅلې خوځېدنه او هڅه ده او مینه له خپل پیله بیا یوه خوږه پاملرنه ده چې تړوله هڅه او مبارزه د هغې پر لور ده ...»

مینه او د هغې په باره بحث یو خورا اوږد او پېچلی بهیر دی، چې تعریف يې زما لپاره څه چې د ډېرو لپاره آسانه کار نه و او نه دی، خو دومره باید ووایو چې هر څه ظاهر او باطن لري، ځکه موږ نه شو، کولای هر څه او هره تړلنیزه او طبیعي پدیده یوازې له یوه اړخه وګورو او یا يې له یوه اړخه وپېژنو.

مینه همداسې یو مفهوم دی چې تعبیرونه ترې څو اړخیز دي، ځینې پوهان او مفکرین خو دا هم وايي چې مینه تر هر څه دمخه خوندي ساتنه ده، دا تعریف خو زه فکر کوم چې یوازې د انسان لپاره په یوه ډول نه یو ډول توجیه کیدای شي، چې یا

به ډارېږي، یا به یوازې وي او یا به جنسي لېوالتیا په پام کې نیسي، خو چې هر څه وي بیا هم (مینه) خپله پېچلتیا لري او په سلګونو څېرو، رازو او پردو کې نغښتې جادویي غمی دی چې یو کوچنی اړخ یې تر یوې کچې په رنګارنګۍ کې تعریف او توصیف کېدای شي، نه دا چې ځینې په عقیدوي لحاظ وایي چې جنسي غوښتنې ترک کړه، ښکلا پرېږده، بس بیا به هرڅه ستا وي؟

خبره په اصل کې داسې نه ده، هسې چې مینه وړه او غټه نه لري، هسې چې مینه یوازې ښکلې او بدرنګه نه لري، هسې چې مینه یوازې انساني او غېر انساني نه لري، هسې چې عقلي او ناعقلي نه لري، هسې چې کافره او مسلمانه نه لري، هسې چې شپه او ورځ نه لري، هسې چې خوږه او ترخه نه لري، هسې چې سپینه او توره نه لري، په همدغه پراخه مفهوم سره مینه په پښتو لنډیو کې په خپل واقعي ډول او وړتیا سره لیدای او احساس کولای شو. په پښتو لنډیو کې مینه د مینې په شان او مینه د مینې لپاره انعکاس شوې او ونډه شوې ده، دا چې پورته اشاره ورته وشوه چې (مینه د خدایانو په کېږدۍ کې زېږېدلې ده) معنا دا چې باید په جدي توګه متوجه وو چې په دغه جمله کې معنویت په عام مفهوم سره مطرح دی نه یوازې د مذهب په خاصه معنا او مفهوم.

پښتو لنډۍ موږ ته د معنویت پر پوله پراخه دنیا او پراخه وړتیا را په ګوته کوي، چې دا یې له لوړو او معنوي ځانګړتیاوو څخه ده، زه نه شم کولای په دغه اړه نور څه ووایم، تر ما په دغه برخه کې لنډۍ په ډېر څه پوهېږي او تر ما یې ښه موږ ته ویلای او ستایلای شي. یو څو بېلګې:

اور چې بلېږي آخر مړ شي
زړه چې مئین شي همېشه لمبې وهینه
مینه دې پټه پاتې مه شه
رب دې رسوا کړه چې تاوان در باندې شمه
مینه دې بین راته غږېږي
د چمچه مار په شان کړه وړه درځمه
ناز په بې نیازو خلکو مه کړه
قدم زما په لېمو ږده چې ناز دې وړمه

که عاشقي له اوره نه وای
پتنګ به ولې شیرین ځان په اور سیځنه
زما او ستا یاري په څه شوه
په مینه مینه دې کتل مئین دې کړمه
دا په ځیرځیر چې راته ګورې
جانانه تا په ما کې څه لیدلي دینه
دا په ځیرځیر چې درته ګورم
ما در کې نښې د یارۍ لیدلې دینه
مینه په تلو راتلو زیاتېږي
کله راځه کله به زه درځم مئینه
مینه دې نه کوم ډارېږم
د لرې لرې تماشې به دې کومه
ولې به نه ژاړم عالمه
چې پرې مئین یم هغه سترګې نه وینمه
زه خو دا ستا په مینه هست وم
لکه خزان وهلې پاڼه زېړه شومه
مئینه یم منکره نه یم
که شینکۍ خال مې د چړو په څوکو ځینه
مئین سپېره چیرې ولاړ دی
ساړه ساړه اوسیلي کړي باد یې راوړینه
مئین د خدای ګنهګار نه دی
په زېړو ګلو د هر چا مینه راځینه
د مینې اور به مې مړ نه شي
که له جامو سره دریاب ته ودانګمه
د محبت په رنځ رنځوره
راشه چې درکړم د سورکو شونډو سرونه
تر دې خیالي ځوانۍ دې ځار شم

درکړې خدای ده مینه زه درسره کړمه
یار مې هندو زه مسلمانه
د یار د پاره درمسال جارو کومه
نجلۍ د خدای روی مې در وړی
چې په مخ راشۍ مخ ته مه نیسه لاسونه
مینه د خدای د رسول ښه ده
دا نورې مینې بې وفا پاتې به شینه
تبه مې نه ده چې به جوړ شم
زه دکاږه اوربل شمال وهلی یمه
د مینې اور را باندې بل دی
ځکه لمدې جامې له ځانه تاوومه
مینې دې داسې لیونی کړم
لکه قصاب په لارې ځم گوتې شمېرمه
د مینې یار مې پیدا نه کړ
د عاشقۍ دفتر مې ټول ولټاونه
اول مې فکر درته نه و
اوس مې د زړه ستنې کړې درپسې دینه

**اووم:**

**بېلتون، جدايي، فاصلې او مهاجرت**

یو بل ټکي چې لرغوني ویدونو هغه ته پاملرنه کړې هغه بېلتون او هجرت، دا د انساني ژوند یو بل غمیز څپرکی دی چې تل د بېلا بېلو عواملو له مخې ورسره مخامخ شوی دی، دغه برخه تر ډېره حده بیا هم د انساني ناچارۍ او مجبوریت ښبه ده، کېدای شي په ځینو وختو کې دغه انساني بهیر مثبت وي او مثبتې پایلې هم ولري، په تاریخي لحاظ د نړې د ټولو ملتو او خلکو پر ژوند باندې د دغه اصل سیوری له دوو خواوو را خور دی، په دغه برخه کې ډېرې کیسې شته دي. زموږ له ژوند، افسانې او تاریخ له مخې یو لوی مهاجرت او بېلتون هغه مهال رامنځته شو چې کله

آريايانو له اوسني افغانستان څخه د بهارت يا هندوستان پراخو ورشوګانو ته خپل مهاجرت پيل کړ، د دغه مهاجرت په اړه لولو چې:

"Foreigners from the north are believed to have migrated to India and settled in the Indus Valley and Ganges Plain from 1800-1500 BCE. The most prominent of these groups spoke Indo-European languages and were called Aryans, or "noble people" in the Sanskrit language. These Indo-Aryans were a branch of the Indo-Iranians, who originated in present-day northern Afghanistan. By 1500 BCE, the Indo-Aryans had created small herding and agricultural communities across northern India."

( The Indo-Aryan Migration and the Vedic Period - Humanities LibreTexts)

سره له دې چې په خاصه توګه د دغه مهاجرت يادونه په ويدونو کې نه ده شوې، ځکه چې دغه تاريخي – افسانوي مهاجرت د اوسنيو نويو څېړنو له مخې نه دی تر سره شوی، زه خپله هم په دې برخه کې په دې نظر باوري يم چې دغه مهاجرت نه دی ترسره شوی، ځکه چې يادونه يې په ويدونو کې نه ده شوې، زما خپل نظر دا دی چې د اندآ کاش جنوب د ويدي سندرو زانګو ده، چې له هغه ځايه تر هندوستان پورې را خواره شوي دي، يوه خبره چې د هندوستان د نيمې وچې د تمدن په نامه يادېږي، د هغوی جغرافيايي اوږده او لنډ د آريانا او بهارتا ول چې يوه ډله خلک او د يوه کلچر او يوه مذهب پيروان ول چې په همدغو اوسنيو موقعيتونو کې اوسېدلي دي، لکه چې اوس هم اوسي. دوی له يوه بل سره تګ راتګ او اړيکي درلودل چې څرګنده بېلګه يې د هغو مذهبو منل او نمانځل دي چې په دغه وچه کې د تاريخ په بېلابېلو دورو کې رامنځته شوي او له منځه تللي دي. بېلتون، کوچ، هجرت، جدايي او مهاجرت مفهوم هم تر ډېره حده په همدغه جغرافيايي ماحول کې د بحث وړ و چې په همدلته د پښتنو له ژوند سره له ډېر پخوا مل او ملګري شوي دي. په ويدونو کې دغه مفهوم د انساني ژوند په تړاو راغلی اوتعريف شوی دی، جدايي له ځآنه، جدايي له روح ، له ژونده، له کلي او کورنۍ څخه مطرح ده. چې پر همدغې لړۍ کولای شو

نوموړی مفهوم په پښتو لنډیو کې هم په همدغه ډول سره وګورو. سربېره پردې دا هم ویلای شو چې په پښتو لنډیو کې دغه اصل په کومیک او تراژیک دواړو ډولو سره تعریف او توصیف شوی دی، چې زموږ د اوسني او تېر ژوند له اوږده بهیر سره هم خپل کلک تړاو ساتلی شي، آن چې نن هم موږ له دغه درده بې غمه نه یو، همدا اوس د نړۍ داسې کونج او داسې سیمه نشته چې هلته به له روانو ستونزو او غمیزو تللی او شړل شوی پښتون افغان نه وي، ځکه خو د جدایۍ له ښاماره اوس هم سرټکوي د پښتولنډیو پر زنو باندې ښکلی خال دی، چې زموږ له اند و ژوند سره ملتیا کوي او پښتو لنډیو ته هم خپله لار ور موندلې ده. یو څو بېلابېل انځورونه :

ستا به وطن او خلک هېر وي
دلته دې پورې دروازې ما ژړوینه
جدایي راغله لارې دوې شوې
مرګ مې قبول دی جدایي نه قبلومه
د بېلتانه سره مې څه دي
چې په څراغ راپسې ګوري مالتونه
راځه چې کلي ته نږدې شو
بېلتونه زه دې په صحرا لیدلی یمه
بېلتون په هر چا مېلمه کېږي
پر ما چې راشي تېروي میاشتې کلونه
که دې وطن راسره پرېښود
لکه توتي په مالیدو به دې ساتمه
سترګې مې مه پټوئ خلکو
زه د جانان په انتظار یم رابه شینه
څوک په رضا له ملکه نه ځي
یا ډېر غریب شي یا د یار له غمه ځینه
ما د کوچۍ له عمره ځار کړې
چې سهاري اور یې بلېږي دوی ترې ځینه
د خدای پامان دې وي وطنه

که زیړی ګل شوم مخ به نه در اړومه
مسافري دې ډېره وکړه
رنګ مې دې هېر دی په نامه دې ناسته یمه
د مسافرو لویه خدایه
باران به اوري څوک به ځای نه ورکوینه
نن مې په ځیره ځیره ګوره
سبا به پټه وم د کډو په ګردونه
یار مې کوچی وکوچ یې وکړ
ما یې خالي درګاه ته پورته کړل لاسونه
وطن د یار په سترګو خوند کړي
چې یار مې نه وي څه وطن څه بې وطنه
جانانه خپل وطن ته راشه
که خلک ډېر دي پرې آباد دي خپل کورونه

Rig Veda: Rig-Veda, Book 10: HYMN CLXXXIII. The Sacrificer, Etc. (sacred-texts.com)

## اتـــــم

### ښځینه دم او قدم

« مور د خدای ځانګړې لوربینه ده.../ویدي سندره»

هسې چې وایي پښتو لنډۍ اصلاً د مېرمنو او ښځو تخلیق دی، کېدای شي تر ډېره حده خو نه، مګر په تمامه معنا سمه وي، خو دا ټکی په دغه اړه د یادونې وړ دی چې آریایي ویدونه په دغه برخه کې ډېر حساس دي او د ښځې (ښځو) برخې ته یې ځانګړې پاملرنه کړې ده، هلته ځمکه هم مور یاده شوې، داسې چې د هغې هر څه او هر ارزښت ته باید په درنښت او پرتم سره وکتل شي، همدا ده چې مېرمنې ته هم په ویدونو کې په لوړ درناوي سره کتل شوي او د هغوی مقام ته یې تر لوړ مقام پورې وړتیا ورکړې ده، ویدي باورمن مور د خدای ځانګړې لوربینه او پر هغو ټولو ارزښتونو او ستاینو یې پسوولې هغه چې په ټولنه کې ژوند ښونکي او ژوند ستایونکي دي. یوه ویدي سندره دلته په ګډه سره لولو او بیا د هغې په رڼاکې د همدغې موضوع په اړه

د لنډیو زړونو چې خپله ښځینه نوم دی د ښځینه احساس او ادراک په تنده ور ننوځو د ویدي سندرې ژباړه داده:

پرېږده چې دا مېړوښې مېرمنې له نېکو مېړونو سره وي،
خپل ځانونه په خوشبویۍ او بې حسه احساس سره سينگار کړي،
په ښکلو او وړگینو وپسولل شي،
له اوښکو او غمونو په امن وي،
او اجازه ورکړئ چې مېرمنې اووم ځای (غالباً اووم اسمان) ته پورته شي !

دغه ویدي سندره ده چې یو مهال زموږ په حقیقت پوهو نیکونو ښځو ته ویلې وه، هغو ښځو ته چې لمسیانې او کړ وسیانې یې نن سبا په داسې ټولنه کې ساه وباسي چې هلته ژوند او د هغه ارزښتونه له هره پلوه ټولنیز او یا په بله وینا تش په نامه ټولنیز قراردادونه گواښوي، د دغه ټکي لوی لامل په هره ټولنه کې ټولنیز دریځ، اقتصادي گټې او نورې مادي اړیکي بللای شو، نافذان یې د خپلو دوو موخو په خاطر ان چې معنوي وړتیا وې هم خپلو ځاني گټو او ځان غوښتنو ته سپر کوي، په داسې حال کې چې دغه درغلۍ او بې عدالتۍ بیا په خپل ځنگ کې داسې زړې هم زرغونوي چې یوه ورځ نه یوه ورځ هغه په خپله ځان د ټولنې له ژورتیا څخه د هغې سرته راپورته کوي، انسان لکه چې موږ پوهېږو د مخلوقاتو په منځ کې د خپل جوړښت له مخې خورا پېچلی او په اوږد مدار سره پېژندونکی موجود دی، د هغه عقل او منطقي جوړښت یو داسې مغلق بهیر دی چې د تولستوی په وینا« یوازې یو ځواک دی چې هغه پېژني» پر هغه او هغو هیښتیاوو چې موږ لا هم ورته گوته په غاښ یو هم (یو ځواک یو الله) برلاسی دی، ځکه خو د هغه په وړاندې د انسان پر یوه حال پاتې کېدل او درېدل ناشوني دي.

دا هم یو بل ویدي سرود:

ای ښځې! پاڅه، د ژوند نړۍ ته راشه،
ای بې ځانې، له یو چا سره په درواغو ناسته یې،
له مېړه سره ستا ازلي برخلیک ټاکل شوی،
چا چې ستا لاس نیولی،
تا هغه د عاشق په توگه، په مینې سره غوړولی دی....

یوه بله ویدایی سندره :

پربېږدئ چې دا مېږوښې میرمنې له نیکو مېړونو سره وي،

او خپل ځانونه په خوشبویۍ او بې حسۍ سره سینګار کړي،

په ښکلو او عادلانه ګېڼو وپسولل شي،

له اوښکو او غمونو په امن وي،

او اجازه ورکړئ، چې مېرمنې اوم (اووم اسمان ) ته پورته شي !

**پایله**

پښتو لنډۍ په شرقي فولکلوري ادب کې یوازینی ژانر دی چې په هغو کې د ښځو خاموش غږ په خپل بشپړځواک سره انعکاس مومي، خو یوه ټکي ته باید هم موږ او هم نړیوال ځیر وي چې په پښتو لنډیو کې ښځه دومره خپلواکه او د خپلې رایې خاونده ده چې هېڅوک او هېڅ ځواک نه شي کولای د هغې غږ ارام کړي. که موږ کله غواړو چې د ښځینه آزادۍ رښتینې ننداره وکړو، باید چې په پښتو لنډیو کې دغه سپېڅلې هینداره وګورو، پښتو لنډۍ د هغه قوم او هغې ټولنې معنوي شتمني چې ښځه په کې محکومه او له خپلو ټولو مادي حقونو څخه بې برخې شوې ده. نړۍ باید دغه ببلګې او د هغو ببلابېل اړخونه سره لولو:

خدای به دې بیا راته احتیاج کړي

څمبک څمبک زلفې مې بیا په مخ راځینه

که لېونۍ درپسې نه شوم

نو سودایي به خامخا درپسې شمه

باران د ځمکې آبادي ده

شیرینه یاره زه په تا آباده یمه

جاله لاهو کړه جاله وانه

ناوخته کېږي د اشنا غېږې ته ځمه

ټینګه مې مه نیسه په غېږ کې

سبا به بوی د لونګین در څخه ځینه

جانانه مري کهٔ پاتې کېږي

دا مې عادت دی نرۍ سترګې تورومه

جانانه بد مې اموخته کړې
چې خولهٔ در نهٔ کړم مرور گرځې مینه
یاره یاری دې کړې  نه ده
د زلزلې په شان دې ریږدي اندامونه
جانان په ټوکه نه پوهیږي
ما په خورو زلفو واهه مرورشونه
جانانه دومره پر ما گران یې
چې ته روان یې زه دې شمیرم قدمونه
یو خوا پښتو بل خوا جانان دی
زه د پښتو ځنځیر شکوم جانان له ځمه
خمارو سترگو ته دې وایه
چې مې د صبرکاروان نه ایساروینه
دیدن مې کورته پسې یوور
په قدرمن جانان مې ځان بې قدر کنه
په رویبارانو پوره نه شوه
نوره ځولۍ په نازولو گرزومه
زما  د مینې یار ملنگ شو
اوس به دیرې د ملنگانو لټومه
جانانه خپل وطن ته راشه
که خلک ډیردي پر آباد دي خپل کورونه
که مرور شې ځان به خوارکړې
جنکۍ کله مرور پخولا کوینه
مینه یم منکره نه یم
که شنکی خال مې د چړو په څوکو ځینه
د آخرت بار به دې دروند شي،
ډیر مې د زنې خال ته مه گوره مینه
دا پیغلتوب مې دغم دود کړې

خيالي ځوانان راپسې مري خونکاره شومه
زه چې وړه وم ليونۍ وم
د سپيني خولې له قدره څه خبره ومه
سترگې مې تاته تور ولې
چې ته رانغلې په سالو به يې پاکومه
که مې ته روغ ليونی نه کړې
بيا مې د بنگو پياله مه بوله مينه
خال به دې يارله وينو کيږدم
چې شينکي باغ کې گل گلاب وشرموينه
راشه زما د پلار مزدور شه
په مزدورۍ کې گوندې ما درکې مينه
نورې ښيرې به درته نه کړم
دومره خپه شې لکه زه چې ځومره يمه

## مأخذونه


۱- محمد ارتضی خان.۱۲۲۵ هـ، ق، (۱۸۱۰ م) فرهنگ ارتضایی، د خدا بخش کتابخانې قلمي نسخه.

۲- https://factsanddetails.com/world/cat۵۵/sub۳۵٤/entry-٥٦٢٥.htm.

۳-[X.'Rig veda,۱۸ :reads۱]

۴- طلوع افغان. ۱۳۱۲ لمریز کال د اسد (۱۹مه)، (۸ ) مخ ...

۵-[ ' X, I 'Rig Veda,۸ ] :reads

٦- Atharva Veda, xii, On the Vedic Conception of the Earth.۱ on JSTOR

۷-. ( P VI ENNEAD ,PLOTINUS۱۰٦ )

۸- ( The Indo-Aryan Migration and the Vedic Period - Humanities LibreTexts)

۹- Rig Veda: Rig-Veda, Book ۱۰: HYMN CLXXXIII. The Sacrifi cer, Etc. (sacred-texts.com

نوماند څېړندوی جاوید افتاب

# په پښتو ادب کې سانېټ

# The Sonnet in Pashto Literature

Nominee Assistant Prof. Javed Aftab

**Abstract**

The sonnet originated in thirteenth-century Italy, with Petrarch as its foremost classical exponent. This genre later spread to other European countries, particularly to England in the sixteenth century, where it became firmly established. In English literature, the sonnet was first introduced by Thomas Wyatt and Henry Howard. Later, William Shakespeare, and Edmund Spenser introduced structural and technical modifications, developing the sonnet to such an extent that each established a distinct form associated with his own name.

The sonnet achieved international recognition, particularly through English literature. From English, the sonnet entered Urdu literature and subsequently Pashto literature. According to my findings, the first sonnet writers in Pashto literature were the late Qalandar Momand (d.۲۰۰۳), Amin ul Haq Amin and the late Saleem Raaz (d. ۲۰۲۱), whose work will be discussed in this article.

The sonnet is a poetic genre consisting of fourteen lines divided into two sections: the first comprises eight lines, introducing the theme, while the second consists of six lines, developing the theme and bringing it to a conclusion. The sonnet accommodates a variety of subjects and is characterized by a distinctive rhyme scheme, four major internationally recognized types, and five fundamental features, all of which are discussed in detail in the article.

## لنډیز

سانېټ د ایټالیې د دیارلسمې پېړۍ ادبي ایجاد دی چې تر ټولو مخکښ کلاسیک شاعر یې پیټرارک دی. دغه ژانر وروسته د اروپا په نورو هېوادونو، په تېره انګلستان کې په شپاړسمه پېړۍ کې دود شو. په انګرېزي ادب کې سانېټ تهامس ویاټ او هنري هاوارډ معرفي کړ. شکسپییر او سپېنسر د سانېټ په تخنیکي جوړښت او بڼې کې د ځینو بدلونونه په راوستلو سره دې ژانر ته دومره پرمختګ ورکړ چې هر یوه یې په خپله نامه یو ځانګړی ډول ثبت کړ. په انګرېزي ادب کې سانېټ نړیوال شهرت او حیثیت خپل کړ او له همدې ژبې یې اردو ادب او بیا پښتو ادب ته هم لاره وکړه، چې زما د موندنو له مخه په پښتو ادب کې لومړني سانېټ لیکوال قلندر مومند، امین الحق امین او سلیم راز دي چې بېلګې به یې په مقاله کې ولولو. سانېټ یو نظمي ژانر دی چې ټولټال څوارلس مسرې او دوې برخې یا بندونه لري چې لومړۍ برخه اته مسرې لري چې د موضوع پېژندنه په کې کېږي او دویمه برخه شپږ مسرې لري چې په کې موضوع وده او پای ته رسېږي. په سانېټ کې مختلف موضوعات بیانېدلی شي، ځانګړی قافیوي نظام، څلور نړیوال ډولونه او پنځه اساسي ځانګړنې لري چې تفصیل یې په مقاله کې لوستلی شئ.

## سریزه

جیاکومو دا لېنتیني (Giacomo da Lentini) د دیارلسمې پېړۍ اغېزناک او نوښتګر ایټالیایي شاعر دی. هغه د سیسلي د ادبي مکتب یو مخکښ استازی و او د روم د امپراتور دویم فریډریک په دربار کې رسمي منشي و. د دربار سیاسي ـ اداري چاپېریال او اشرافي فرهنګ د هغه د شاعرۍ پر فکري او هنري جوړښت ژور اغېز پرېښی و.

جیاکومو دا لېنتیني په خپل عصر کې د لوړې ادبي مرتبې څښتن و او د ورپسې نسل شاعرانو، هغه د یوه استاد په توګه منلی و. د ایټالیایي ادب بنسټګر شاعر دانته الیګېري هم د هغه لوړاوي ته په خپل اثر "الهي کومېډي" (برزخ برخه، څلورویشتم سرود، ۵۵-۵۷ بیتونو) کې ځانګړی درناوی کړی دی. دا یادونه د دې ښکارندوی ده چې د لېنتیني ادبي نفوذ یوازې د خپل عصر تر پولو محدود نه و، بلکې د ایټالیایي شاعرۍ د تاریخ پر بنسټیز بهیر یې هم اغېز کړی دی.

په دودیز ډول لېنتیني د سانېټ (Sonnet) د شاعرانه فورم ایجادګر او د هغه آثار په همدې قالب کې تر ټولو لومړنۍ پېژندل شوې بېلګې ګڼل کېږي. څېړنې ښیي چې د ده لومړني سیسلي سانېټونه د ولسي شاعرۍ له جوړښتي عناصرو سره نږدې اړیکه لري. د ویلیم بېیر له نظره، د دغو سانېټونو[2] لومړۍ اته مسرې - چې د (A,B,A,B,A,B,A,B) په قافیه کې دي - له هغه اتهییز (مثمن) بند سره سمون لري چې په سیسلي کې د ستروموټو په نوم پېژندل کېده. داسې ښکاري چې د همدې بند پر بنسټ دوه – درې بیتیز یو بند یا مسدس ور زیات شو او په دې توګه د څوارلس مسریز سیسلي سانېټ بشپړ قالب رامنځته شو.

د لېنتیني ټول را پاتې آثار - چې شاوخوا څلوېښت غزلیزې ټوټې دي - د مینې پر موضوع ولاړې دي. دا مینه د درباري مینې د دود له مخه په فیوډالي تصور کې انځور

---

[1] - Sicilian School

[2] - William Baer

[3] - Strambotto: مثمن (اتهییز) په څېر یو اته مسریز ایټالیایي ولسي فورم/بند دی چې د سانېټ د جوړښت بنسټ یې برابر کړ.

شوي؛ یعنې مَین د خپلې معشوقې د وفادار خدمتگار په توگه وړاندې کېږي. د هغه په شاعرانه میراث کې سانېټونه، کانڅونې ، تنځونې او یو دیسکوردو شامل دي [2] (Encyclopedia Britannica, ۲۰۱۵).

نو سانېټ د ایټالیایي ادب اختراع ده. د دې شعري صنف د رامنځته کېدو په اړه د ادبي تاریخ په روایتونو کې راغلي چې د ۱۳۲۸ز. کال د «گُډ فرایډې » په ورځ د فرانسې د آویگنان (Avignon) ښار په لویه کلیسا کې د لارا (Laura) په نوم یوه ښکلې نجلۍ په عبادت بوخته وه. په همدې ځای کې د ایټالیې نامتو شاعر فرانچېسکو پیټرارک هم و. د پیټرارک نظر پر لارا ولگېد او د هغې د بېساري حسن او جمال اغېز پرې دومره ژور و چې د هغه په دروني نړۍ کې د موسیقۍ اله راوېښه شوه. له دې تجربې سره سم د احساساتو او جذباتو نوې څپې وزېږېدې او د غنایت او داخلیت له ژور ادراک څخه د سانېټ شعري جوړښت را وټوکېد.

د ادبي تاریخ له مخه، لارا نږدې پنځوس کاله د پیټرارک پر فکري او عاطفي نړۍ اغېزمن حضور درلود. پیټرارک همدغه احساسات د سانېټونو په بڼه قلمبند کړل، چې ډېر ژر په ایټالیا کې د عامو او خاصو دواړو تر منځ د منلو وړ وگرځېدل او د هر زړه نغمه شول (Spiller, 1991: 89).

له همدې امله، سانېټ تر ننه پورې په ایټالیایي ادب کې یو منلی او مروج شعري فورم دی، لکه څنگه چې په پښتو، پارسي او اردو ادب کې غزل ځانگړی دی. وروسته دا شعري فورم له ایټالیې څخه فرانسې ته ولېږېد او له هغه ځایه د لنډ تاریخي او

---

۱- Canzoni: له سانېټ څخه اوږد، موسیقیز او تشریحي ایټالیایي فورم دی.

۲- Tenzoni : شعري مکالمه ده چې شاعران په کې د شعر له لارې له یو بل سره مناظره کوي.

۳- Discordo: د ایټالیایي ادب شعري فورم دی چې شاعر په کې یو فکري یا عاطفي اختلاف څرگندوي؛ د مینې عقل او احساس یا د وفادارۍ او ناهیلۍ تر منځ ټکر انځوروي.

٤- گُډ فرایډې (Good Friday) د عیسوي دین له مهمو مذهبي ورځو څخه ده. دا هغه ورځ ده چې د عیسوي الهیاتو له مخې حضرت عیسیٰ (ع) پر صلیب ځړول شوی او د انسان د گناهونو د کفارې لپاره یې قرباني ورکړې ده. دغه ورځ د ایسټر (Easter) نه دوې ورځې مخکې راځي او د عیسوي کالیز په چوکاټ کې د عبادت، ماتم او روحاني تأمل ورځ گڼل کېږي، خو اسلامي عقیده بیا دغه مسایل او وضاحتونه په ټوله معنا ردوي او حقیقت نور څه بولي.

جغرافيايي مسير په ترڅ کې انګلستان ته ورسېد، چې هلته يې د ادبي ودې نوي پړاوونه ووهل او د شکسپيير او نورو شاعرانو له خوا يې کلاسيک حيثيت وموند.

### د څېړنې اهميت او مبرميت

په پښتو ادب کې د سانېټ په اړه منظمې، تحليلي او جامع علمي څېړنې کمې يا د نشت برابرې دي، حال دا چې دا شعري قالب په نړيوال ادب کې يو له تر ټولو تخنيکي او فکري ژورو فورمونو څخه ګڼل کېږي. د دې ليکنې ځانګړې اهميت دا دی چې سانېټ د پښتو شاعرۍ د دوديزو فورمونو تر څنګ د نوې شعري تجربې په توګه معرفي او علمي تحليلوي، د سانېټ تخنيکي جوړښت په روښانه ډول تشريح کوي چې د پښتنو شاعرانو او څېړونکو لپاره لاربښود ارزښت لري، د پښتو سانېټونو بېلګې دا ثابتوي چې پښتو ژبه د سانېټ د سخت تخنيکي چوکاټ د زغملو وړتيا لري او د وارداتي ژانرونو د منلو، بدلون او تطبيق پر مسئله رڼا اچوي.

د څېړنې مبرميت په دې کې دی چې معاصر پښتو شعر له نوي بڼې، ژانري تنوع او نړيوالو ادبي فورمونو سره د تعامل په پړاو کې دی او د سانېټ په څېر د ژانرونو علمي پېژندنه د دې بهير لپاره اړينه ده.

## د څېړنې موخه

د څېړنې اساسي موخه دا ده چې په پښتو ادب کې د سانېټ شعري فورم علمي پېژندنه او تشريح، د نړيوال سانېټ او پښتو سانېټ تر منځ د ورتهوالي او توپيرونو ښودنه او په پښتو ادب کې د سانېټ د بريالۍ تجربې ارزونه وشي او همدارنګه پښتنو شاعرانو او څېړونکو ته د سانېټ د ليکلو او څېړلو لپاره يو نظري او عملي بنسټ برابر شي.

### د څېړنې پوښتنې

په دې څېړنه کې لاندې پوښتنې ځواب شوي دي:

۱. سانېټ له تاريخي او ادبي پلوه څنګه رامنځته شوی او په نړيوال ادب کې يې کوم تحولونه تېر کړي دي؟

۲. د سانېټ بنسټيز تخنيکي توکي کوم دي او څنګه کارېږي؟

۳. سانېټ د اردو او انګرېزي ادب له لارې څنګه پښتو ادب ته راغلی دی؟

۴. د پښتو سانېټونه تر کومه بريده د نړيوال سانېټ له تخنيکي معيارونو سره سمون خوري؟

## د څېړنې میتود

دا څېړنه د کمپوزیټ میتود یا تشریحي – تحلیلي، پرتلیز او تاریخي میتودونو پر بنسټ تر سره شوې ده.

## د مقالې متن

کله چې انګرېزي شعر مطالعه کوو، نو څو ژانرونه (ایپک، ډرامه، بیلډ ، لیرک، اوډ ، ۱
ایلیجي او سانېټ) په مختلفو وختونو کې د لوستونکو د ځانګړې پاملرنې وړ دي چې په دوی ټولو کې سانېټ د ځانګړې یادونې وړ دی. سانېټ په ټولو کې ممتاز او له تخنیکي پلوه پوخ ژانر دی. د نورو په پرتله دا ژانر په انګرېزۍ کې ډېر منل شوی او مشهور دی. سانېټ یو غربي نظمي ژانر دی چې له پېړیو راهیسې د اروپا په ډېرو ژبو کې منل شوی دی.

د سانېټ - SONNET کلمه د ایټالیایي ژبې له "Sonetto" څخه اخیستل شوې چې لغوي معنا یې "لنډ غږ یا راګ" یا "خفیف آواز" ده او په اصطلاح کې هغه څوارلس مسریز نظم ته وایي چې د قافیو ترتیب یې په ځانګړې ډول له ټاکلو قواعدو سره سم برابر وي، فکري یووالی او د احساس شدت د سانېټ اړین توکي دي. د سانېټ موضوعات اکثر د مینې، طبیعت، فلسفې او انساني احساساتو په اړه وي. [په پارسي کې یې "غزلواره یا سانِه" بولي او په پښتو او اردو کې په اصلي نامې "سانېټ/ سونېټ" سره دود ده.] سانېټ په اصل کې د غنایي شاعرۍ ژانر دی. په یاد مو وي چې د غنایي شاعرۍ ټول ژانرونه د سازونو د هماهنګۍ لپاره رامنځته شوي دي. لکه، غزل (lyric) د لایر (lyre) د هماهنګۍ لپاره رامنځته شوی و. لایر ګیتار یا سېتار ته ورته آله ده. په همدې ډول سانېټ هم د موسیقۍ اړتیاوو ته په پام سره راڅرګند شو، خو له موسیقۍ سره یې تړاو ډېر دوام ونه کړ، بلکې یوازې په ادبي حیثیت سره پاتې شو.(ملک، ۲۰۲۳: ویب)

---

[1]- Ballad

[2]- Ode

[3]- Elegy

ویل کېږي چې لومړی سانېټ د روم سلطنت پاچا د دویم فریډریک (۱۱۹۴-۱۲۵۰م.) یوه درباري شاعر لیکلی و. له دې مخکې که بل چا لیکلی وي، په اړه یې معلومات نه لرو. (سهیل احمد، ۲۰۰۵: ۱۸۵ مخ) د سلیم اختر په وینا، په ۱۲۲۰م. کال کې د سانېټ پیل ثابت دی. د سانېټ لومړنۍ نمونې د سیسلي ادبي مکتب شاعر "جیاکومو دا لېنتیني" ته منسوبې دي چې دا ژانر یې د دیارلسمې پېړۍ په پیل کې معرفي کړ. فرانچېسکو پیټراک[1] سانېټ ته ښه پرمختګ ورکړ؛ ځکه ورته پټرارکي سانېټ ویل کېږي. پټرارکي سانېټونه اکثر د لارا (Laura) په نامه یوې معشوقې ته لیکل شوي چې د مینې، ښکلا او معنوي عشق بیان یې ورته کړی دی. سانېټونه په بنسټیزه توګه واده کړې ښځې ته د یوه ناکام او نامراد شاعر له خوا لیکل کېده چې د وروستو زمانو شاعرانو په کې بېلې - بېلې تجربې وکړې او دغه خاصیت یې بېخي ور بدل کړ (اکبر، ۲۰۲۵: ۲۵ مخ). له اېټالیې وروسته د اروپا نورو هېوادونو ته ور وپېژندل شو. په انګلستان کې په شپاړسمې پېړۍ کې دود شو. په انګرېزي ادب کې سانېټ تهامس ویاټ[2] او هنري هاوارډ[3] معرفي کړ. وایاټ د پیټرارک د سانېټونو ژباړې وکړې، خو د قافیې جوړښت یې ور بدل کړ (اکبر، ۲۰۲۵: ۲٦ مخ). هنري هاوارډ هم په کې په نوې بڼه قافیې ورکارولې چې له درو دوه بیتیو او یوې مزدوجې (اب اب، اب اب، اب اب، جج) رغېده. انګرېزي سانېټ په همدې بڼې عام شو چې ډېرو شاعرانو، لکه سپنسر، فېلیپ سیډني، ویلیام شکسپیر او جان مېلټون په همدې قالب کې عاشقانه شعرونه ولیکل. په دوی کې ځینو یې په دې قالب کې هم مناسب او د خپل مزاج او سلیقې مطابق بدلونونه راوستل، چې د سانېټ د مختلفو ډولونو لامل شول (داد، ۱۳۸۵: ۳۵۴ مخ). شاعرانو دا ژانر د ښکلا او مینې اړوند احساساتو د بیان لپاره په ښه ډول وکاراوه (اختر، ۲۰۱۰: ۱٦۲ مخ).

سانېټ د لرغونتوب او د غنایي کیفیت له مخه په لوېدیځ ادب کې خورا لوړ ځای لري. سانېټ پرته له استثنایي بڼو، عموماً له څوارلسو مسرو جوړېږي، قافیې په کې حتمي وي او شمېر یې له پنځو تر اوو پورې رسېږي (سهیل احمد، ۲۰۰۵: ۱۸۵

[1]- Francesco Petrarch

[2]- Thomas Wyatt

[3]- Henry Howard, Earl of Surrey

مخ). سانېټ د قافیې د بېلابېلو طرحو له پلوه ډول - ډول بڼې لري چې اصلي بڼه یې هماغه ده چې په دیارلسمې پېړۍ کې د ایټالیایي دوو وتلو شاعرانو "پټرارک" او "دانته" له خوا دود شوه او وروسته بیا د رنسانس په پېر کې د عاشقانه شعرونو د نمونو په ډول عامه شوه (داد، ۱۳۸۵: ۳۵۳ مخ). په اصل کې سانېټ ټول څوارلس مسریز نظم دی چې پر دوو بندونو وېشل کېږي؛ د لومړي بند لومړۍ او وروستۍ مسره همقافیه وي، په منځ کې یې درې بیتونه انفرادي قافیې لري او د دویم بند لومړۍ او څلورمه مسره همقافیه وي، د منځ دوې مسرې یې هم قافیه بدلوي او وروستی بیت یې هم جلا قافیه غوره کوي (اختر، ۲۰۱۰: ۱۶۲ مخ)، چې دا د سانېټ اصلي او لومړنۍ بڼه ده؛ خو وروسته د قافیو د تخنیکي جوړښت له مخه یې په ډولونو کې توپیرونه راغلي چې په خپل ځای کې به روښانه شي.

د سانېټ د فن په اړه ویل شوي چې دا ډېر ستونزمن فن دی. دا ښکاره خبره ده چې په دې تخنیکي جوړښت او چوکاټ کې په اسانۍ سره یو فکر ځایول ناشونی دی. لکه څنگه چې یو گوهرتراش په ډېر باریک کار له یوې تیږې ښکلی الماس جوړوي، همداسې یو ستر او ژور فکر په یوه لنډ شاعرانه قالب کې ځایول د دې فن ځانگړنه ده. د دې کار مثال سمندر په صراحي کې ځایول دي. سانېټ لیکوال یوازې هغه وخت په څوارلس مسرو کې خپل فکر بیانولی شي چې د ژبې په نازکو رنگونو او د خیال په باریکیو کې پوره مهارت ولري. له همدې امله د سانېټ لیکل په تر ټولو ستونزمنو شاعرانه فنونو کې شمېرل کېږي (بیدار، ۲۰۱۴: ۹۰ مخ).

پښتو ته سانېټ د ځینو نورو نثري او نظمي ژانرو په څېر د انگرېزي او اردو ادب له لارې راغلی دی. په اردو شاعرۍ کې سانېټ نسبتاً یوه نوې تجربه ده. اردو سانېټ څوارلس مسرې، ځانگړې وزن او یو ځانگړی احساسي یا فکري تسلسل لري. په اردو ادب کې د سانېټ نظم پېژندنې او دودولو امتیاز اختر شیراني ته ورکول کېږي، خو په دې اړه د نظر اختلاف شته. د قیوم نظر په اند، "د یوه بیان له مخه په اردو کې لومړی سانېټ نظم ن. م. راشد [نذر محمد راشد] لیکلی و، خو کوم سانېټ چې په عامو خلکو کې خپور شو، هغه د اختر شیراني نظم و؛ له دې سره لومړی سانېټ لیکل اختر شیراني ته منسوب شو"، خو گل اکبر خان (۲۰۲۵: ۲۸ مخ) وایي: "ن. م. راشد

په اردو ژبه کې لومړی منظم سانېټ لیکوال یادېږي. د هغه سانېټ "محبت ہی محبت" (۱۹۴۰م.) په اردو کې د دې صنف اولنۍ کامیابه هڅه ده"؛ نو ویلی شو چې د اردو ژبې لومړنۍ سانېټ لیکوال نذر محمد راشد دی.

ډاکټر محمد زبیر حسرت وایي: "د اردو شاعرانو تر څنګ پښتو مترقي شاعرانو هم دې پله توجه وکړه او مختلفو موضوعاتو باندې یې سانېټونه ولیکل، پکښې قلندر مومند، سلیم راز، هاشم بابر او ډاکټر امین الحق امین غوره شاعري کړې ده."

ځینو لیکوالو او څېړونکو په پښتو ادب کې لومړی سانېټ لیکوال نوموتی شاعر اروانښاد سلیم راز بللی دی؛ د کوزې پښتونخوا لیکوال او استاد ګل اکبر خان (۲۰۲۵: ۳۰ مخ) په خپلې مقالې "د سلیم راز سونیټس" کې لیکي: "زه له خپل پلار او ورور سره د سلیم راز په بلنه د هغوی کور ته لاړو، په خبرو - خبرو کې راپورته شوه چې هغوی په پښتو کې سونېټ لیکلي دي او دا سهره هم د هغوی پر سر پرته ده چې په پښتو کې په اول ځل سونېټ هم هغوی لیکلی دی، نو ما ورته وویل، که تاسو سره د لیک په بڼه کوم سونېټ وي، نو ما ته یې وښایئ. هغوی راته په خپل کتاب "زه لمحه – لمحه قتلېږم" کې دغسې ۱۴ سونېټس په ګوته کړل. ما چې هغه ولوستل، نو د بین الاقوامي [نړیوال] سونېټ په معیار ښه برابر وو."
پروفیسور حنیف خلیل وایي: "د اوس لهپاره زما دعوه هم همدا ده، کومه چې د سلیم راز وه، چې په پښتو کې د سونېټ معرفي کولو سهره د هغوی پر سر پرته ده. زما دعوه حرف اخر نه دی، که د اشرف مفتون معیاري سونېټ میلاو شو، نو زه به د خپلې دعوې نه واوړم" (اکبر، ۲۰۲۵: ۳۰ مخ).

خو زما په اند، د ښاغلي دا نظر د تامل وړ ځکه دی چې موږ په پښتو ادب کې نور سانېټونه هم لرو، چې لیکوال یې لږ مخکې یاد شوي او دغه لیکوال هم د سلیم راز (۱۹۳۹ زوکړه) همعصره وو. په دوی کې قلندر مومند (۱۹۳۰ زوکړه) او امین الحق امین (۱۹۳۰ زوکړه) په عمر کې تر ښاغلي راز نهه کاله مشران وو؛ خو دوی یوه هم له خپلو سانېټونو نه سره د لیکلو نېټه لیکلې نه ده چې موږ ته د لومړي سانېټ لیکوال په ګوته کړي. په دوی درو شاعرانو کې لومړی د قلندر مومند سانېټ "د سپرلي کاروان ته" تر عنوان لاندې د ۱۹۶۷م. کال د بانګِ حرم په یوه ګڼه کې د یوه قلمي همکار "ملګري - Comrade" په نوم خپور شوی چې د یادې خپرونې مشخصه ګڼه راته

معلومه نه ده او د امین الحق امین سانېټ د ده په شعري ټولګه "ګورې وریځې" په ۷۵م مخ کې خپور شوی چې دا کتاب د کابل دولتي مطبعې لهخوا په ۱۳۶۶ل. (۱۹۸۷م.) کې چاپ شوی دی. د هاشم بابر په دوو شعري ټولګو "هم هغه لټون" او "د مېلې هلک" کې مې د سانېټ بېلګه پیدا نه کړه او د ده کلیات یا نورو شعري ټولګو ته مې لاسرسی نه درلود. د سلیم راز په دوو شعري ټولګو "زه لمحه لمحه قتلېږم (۲۰۱۷ چاپ)" کې څوارلس سانېټه او "ټول جهان سره نږدې وم (۲۰۲۲ چاپ)" کې ځلور سانېټه خپاره شوي چې ټول اتلس سانېټه کېږي.

د اوس لهپاره به دا قضاوت ستونزمن وي چې ووایو؛ په پښتو کې لومړی سانېټ لیکوال فلانی دی؛ ځکه دا خبره لا کره کول او څېړنه غواړي، خو د شاعرانو عمر او مخکې خپرېدو په لحاظ ویلی شو چې تر سلیم راز مخکې به قلندر مومند او امین الحق امین سانېټ لیکلی وي، خو ښاغلي راز په شعور توګه سانېټ لیکنې ته مخه کړې وه. اوس به د قلندر مومند او امین الحق امین د سانېټونو بېلګې ولولو:

دَ سپرلي کاروان ته

قلندر مومند

څه په تا باندې انصاف دی، زه څه نه
وایم مجرم یم
چې زما په برخه رسی، دا سپرلی مې
د چمن دی
هره پاڼه زېړه شوې، هر یو ګُل سوی
رېمن دی
نه مستي شته د بُلبُلو، نه دَ ګُلو
شونډې سرې دي

غُټې سر هسکول نه شي، دَ ګُلچین
ګوتې ارې دي
نه ګرېوان پکښې شلېدلی، نه بنګړي
پکښې ماتېږي
د سپرلي په هنګامو کښې، وچې
پاڼې دې کرسېږي

امین الحق امین

زه محلونه مرمرین نه لرم
ته به جونګړه کې اوسېدلی
نه شې
جامو له ستا ټوکی رېښمین
نه لرم
زیګه خامتا ته اغوستلی نه
شې
څه لېونی په ما مَینه نه شې
بیا به په کړو خپله پښېمانه
یې ته
په تور د مینې چې رنګینه
نه شې
بیا به پرېشانه او ستومانهیې
ته

دغه حال مې د ګلشن دی، نو زه ګرم
يم که څه وايم

بس دی ډېر مې زړه تنګ شوی، نور
دا حال کتلی نه شم
اوس خپل حق ورځنې غواړم، اوس د
برخې طلبګار يم
بې رامې دې په ځان نورې، زغمل نه
شم، وړلی نه شم
نور فرېب خوړلی نه شم، چې انصاف
نه دې ويزار يم
حقيقت ته ګوته نيسم، چې دروغ
وئيلی نه شم
نو زه کومې باندې ګرم يم، زه په
کومې ګنهګار يم؟
(بانګِ حرم پېښور له فائل څخه،
۱۹٦۷)

د جنت حورې زه جنت نه لرم
بلو لمبو کې اوسېدلی نه
شې
زه خو هغه يم چې راحت نه
لرم
زما په شانتې ته کېدلی نه
شې
زما او ستا مينه کېدلی نه
شي
زمونږ سماج دغه زغملی نه
شي
(امين، ۱۳٦٦: ۷۵ مخ)

د قلندر مومند سانېټ په اېټاليايي يا پيټرارکي قالب کې ليکل شوی، خو د لومړي بند لومړۍ او اتمې مسرې يې قافيې ماتې کړي او د امين الحق سانېټ په انګرېزي يا شکسپېيري قالب کې منظم او په ټول پوره ليکل شوی دی. له انګرېزي يا نړيوال سانېټ سره د قلندر مومند او سليم راز د سانېټونو يو توپير دا دی چې دوی خپل هر سانېټ ته عنوان (نوم) ورکړی دی چې دا د سانېټ تجسس او تلوسه له منځه وړي، خو د انګرېزي سانېت لومړۍ مسرې د سانېټ عنوان وي، چې لوستونکی د وروستي بيت تر لوستلو پورې په تجسس کې ساتي او د اوج غوټه وروستی بيت سپړي.

له دې درو شاعرانو پرته ما د کوم بل پښتون شاعر په شعرونو کې د سانېټ بېلګه ونه مونده، لامل يې د ځينو شاعرانو شعري ټولګو ته زما نه لاسرسی او يو څه کمووختي او لټي وه.

## د سانېټ ځانګړنې

ټاکلی جوړښت: څوارلس مسرې

د سانېټ تر ټولو څرګنده ځانګړنه څوارلس کرښې (مسرې) دي. دا مسرې زیاتره د آیامبک پېنټامیټر  په وزن کې لیکل کېږي. څوارلس مسرې د سانېټ د جوړښت نښه ګرځېدلې ده. که د شکسپیر وي، که د پیټرارک او که د بل هر معاصر شاعر، دا محدودیت شاعر اړ باسي چې خپل پېچلي فکرونه او احساسات په یوه تنګ چوکاټ کې ځای کړي چې همدا د وضاحت او کره‌والي لامل ګرځي (James, 2025: Net).

## قافیوي سکیم

سانېټ یو ځانګړی قافیوي نظام او وزن لري. سانېټ د مسرو د شمېر پر محدودیت سربېره د قافیوي نظم پابندي هم لري. دا قافیوي جوړښت د شعر موسیقیت او ښکلا ته ځانګړې بڼه ورکوي. ولې قافیه مهمه ده؟ قافیه د نظم او یووالي حس رامنځته کوي او د سانېټ ښکلا زیاتوي. دا د شاعر د موضوعي پرمختګ له‌پاره وسیله هم ګرځي (James, 2025: Net). د سانېټ په مختلفو ډولونو کې د قافیو همغږي هم توپیر کوي چې د سانېټ په ډولونو کې روښانېږي.

## ولټا – اوړونځی

"ولټا" چې په ایټالیایي کې د "څرخ یا اوړون" معنا لري، په سانېټ کې هغه مهم اوړونځی یا عطف ټکی دی چې سانېټ د لومړي او دویم بند تر منځ تر سره کېږي او سانېټ ته ژوروالی او خوځښت ورکوي. دا بدلون زیاتره د نظر، لحن یا استدلال په بدلېدو کې څرګندېږي او په دودیز ډول د پیټرارکي سانېټ د اته‌ییز (مثمن) او شپږیز (مسدس) تر منځ ځای پر ځای کېږي؛ ځکه لومړی برخه ستونزه یا کړکېچ بیانوي او وروستۍ برخه نوې زاویه یا ځواب وړاندې کوي. په شکسپیري سانېټ کې ولټا (د عطف ټکی) زیاتره د وروستي بیت په پیل کې راځي (James, 2025: Net).

---

[1] - په ځلورمه ځانګړنه کې تشریح شوی دی.

## آهنګي جوړښت – آیامبک پنټامیټر [1]

د سانېټ بله ځانګړنه دا ده چې اکثر د آیامبک پېنټامیټر په وزن کې لیکل کېږي چې هره مسره پنځه پښې او هره پښه دوه ټکي (یو بې‌فشاره + یو فشارداره) لري چې ټول لس سېلابه وي. دا وزن د طبیعي وینا له موسیقۍ سره ورته دی؛ ځکه پر غوږ خوږ او لوستل یې اسان وي. آیامبک دې ته وایي چې دوې څپې داسې ترتیب شي چې پر اولنۍ فشار راشي او پر دویمې رانه‌شي، لکه: د شکسپېیر په مشهور سانېټ ( Shall I compare thee to a summer's day) کې چې Shall I دوه سېلابه پرله‌پسې داسې راغلي چې پر Shall فشار راځي او I پرته له فشاره ویل کېږي. ورپسې په compare کې پر comp فشار راځي او are پرته له فشاره ادا کېږي. همداسې د مسرې تر پایه دغسې جوړښت لري چې داسې پنځه جوړو ته پېنټامیټر ویل کېږي (اکبر، ۲۰۲۵: ۲۴). شاعر کولی شي په دې چوکاټ کې تخنیکي نوښت هم وکړي، لکه د مسرې په منځ کې وقفه (caesura) یا د اضافي ټکي کارونه، چې پر معناداره ټکو زور راولي.

### موضوع

که څه هم سانېټ د هرې موضوع د بیان وس لري، خو له تاریخي پلوه تر ټولو زیات د مینې، وخت او طبیعت په اړه کارول شوی دی.

**مینه:** د عاشقانه جذباتو د شدت او پېچلتیا د بیان لپاره تر ټولو عامه موضوع ده؛ شکسپېیر، پیټرارک او جان ډن ډېر سانېټونه پر همدې موضوع لیکلي دي؛

**وخت:** د عمر تېرېدنه، د ښکلا زوال او د فنا حتمیوالی؛ دا موضوع زیاتره له مینې سره یوځای سپړل کېږي؛

**طبیعت:** د کنایو او تشبیهاتو له لارې فلسفي او عاطفي ژورتیاوې څرګندول.

په تېرو پېړیو کې شاعرانو دا ځانګړنې ساتلې دي، خو ورسره یې نوښت هم کړی دی چې سانېټ هم د کلاسیکې ښکلا او هم د نوې شاعرۍ وسیله وګرځي. د همدې

[1]- Iambic Pentameter

لپاره سانېټ تل د انساني تجربو د پېچلتیاوو د انځورولو یو ژور او پیاوړی قالب پاتې شوی دی.

## د سانېټ ډولونه

له اېټالیایي ژبې نه اخېستل شوی دا صنف د انګرېزي ژبې له لارې په اروپایي نړۍ کې ډېر شهرت وموند، خو د وخت په تېرېدو سره په سانېټ کې د بڼې او جوړښت له پلوه نوې تجربې رامخته شوې چې له مخه یې سانېټ په مختلفو ډولونو ووېشل شو، چې په اردو، پارسي او پښتو ادب کې یې درې یا څلور مشهور ډولونه کښته پورته کېږي او په انګرېزي کې د اشلي روبېنسن په مقاله "د سانېټ اته ډولونه او د هغو د پېژندلو لارې چارې" کې اته ډولونه یاد شوي (روبېنسن ۲۰۲۵: وېب). زما په اند، که دغو اتو ډولونو پسې ځو، نو بیا د دې شمېر له دې هم اوړي؛ ځکه داسې ډېرو شاعرانو د سانېټ په تخنیکي جوړښت او بڼې کې په لږ بدلون راوستلو سره یو نوی ډول رامنځته کړی یا کولی شي، چې دغه تجربه د پښتو ژبې نوموتي شاعر اروانباد سلیم راز هم کړې ده؛ نو تر هغې چې د یوه - یوه فرد پر ځای د دوی دغه انفرادي هڅه پر یوه منلي او نړیوال سبک او ډول نه وي بدله شوې، د اوس لپاره همدا څلور مشهور او نړیوال ډولونه کافي دي:

(۱) پیټرارکي، (۲) شکسپیري، (۳) سپېنسري او (۴) مېلټوني سانېټ. له دغو څلورو ډولونو څخه لومړنی او ابتدایي ډول یې "اېټالیایي سانېټ" بلل کېږي او پاتې نور ډولونه د نوي یا عصري سانېټ په توګه ځانګړی ارزښت لري.

### ۱. اېټالیایي یا پیټرارکي سانېټ – Italian or Petrarchan

اېټالیایي سانېټ یوه پخوانۍ او لرغونې بڼه ګڼل کېږي. دا بڼه د اېټالیایي شاعر پیټرارک له خوا پېژندل شوې ده. نوموړي په خپلې هوښیارۍ او مهارت سره سانېټ دومره هنري او تخنیکي کچې ته ورساوه چې تر ننه د پیټرارک سانېټ کلاسیک ګڼل کېږي. د محتوا او بڼې له مخه په دې سانېټ کې ځانګړي تخنیکونه کارېدلي دي. دا سانېټ څوارلس مسرې او دوې برخې لري؛ لومړۍ برخه یې اته مسرې او دویمه یې شپږ مسرې لري؛ یعنې لومړۍ برخې ته یې مثمن او دویمې هغې ته مسدس ویل کېږي. په لومړۍ برخه کې یې د موضوع پېژندنه وړاندې کېږي او په دویمه کې یې

د ودې او غوړېدو له پړاوونو تېرېږي (صديقي، ۲۰۱۸: ۱۳۷ مخ). دغه وېش په اصل کې د نظم دوه رُخه بلل کېږي؛ په لومړيو اتو مسرو کې يوه موضوع شاربل کېږي يا يوه پوښتنه را ټوکېږي يا يو ډول منظرکښنه کوي يا شاعر يو فکر يا تاثر ته شاعرانه جامې پر تن کوي. راتلونکې شپږ مسرې د پوښتنې يا مسئلې حل رامخته کوي يا د وړاندې کېدونکي منظر يا فکر پايله راوباسي. ژبې او بيان ته په کې ځانګړې رنګ ورکول کېږي، له صنايعو او بدايعو ګټه اخيستل کېږي او د جوړښتي، موضوعي او منطقي يووالي څرګندونه په کې کېږي (سهيل احمد، ۲۰۰۵: ۱۸۵ مخ). لومړۍ برخه (مثمن) دوه څلور مسريز يو بند وي، رديف اختياري دی، خو د قافيو تخنيکي ترتيب يې بايد داسې وي:

ا ــــــــ
ب ــــــــ
ب ــــــــ
ا ــــــــ
ا ــــــــ
ب ــــــــ
ب ــــــــ
ا ــــــــ

په دويمه برخه (مسدس) کې دوې يا درې جلا قافيې راځي. د دې برخې د قافيو ترتيب د شاعر په اختيار کې وي. په عامه توګه په دې برخه کې د قافيو نظام په لاندې مختلفو ډولونو کې وي (صديقي، ۲۰۱۸: ۱۳۷ مخ):

۱- که دوې قافيې کارېږي، نو په دې ترتيب وي:

ج ــــــــ
د ــــــــ
ج ــــــــ
د ــــــــ
ج ــــــــ
د ــــــــ

په دې قافیه کې خوش کلامه پښتون شاعر سلیم راز د "خپلواکي" او "د ګلاب ښکلیه ګله" تر سرلیک لاندې دوه سانېټونه لیکلي، چې یوازې د لومړۍ برخې د دویم څلوریز منځ مسرې (دویمه او درېیمه) یې له لومړي څلوریز سره په قافیه کې ملتیا نه کوي (په بېلګه کې دغه قافیه په * نښه شوې). دا دواړه سانېټه د هغه د شعري جونګ "زه لمحه – لمحه قتلېږم" په ۵۰م او ۱۱۱م مخونو کې راغلي چې یوه بېلګه یې دلته لولو:

**خپلواکي**

چې سر ټیټ نه شي طاقت ته (ا)
نو بیا پوې شئ غلام نه دی (ب)
ګیر د جبر په دام نه دی (ب)
کړئ کفن شمله غیرت ته (ا)
ځیر شئ خپلې پښتو پت ته (ا)
د منصور غوندې په دار شئ (*)
څاڅکی څاڅکی وینه لار شئ (*)
سم منزل د حیرت ته (ا)
ځان نه وروستو قافلو ته (ج)
لارې سمې د مزل کړئ (د)
حاجت نه وي بیا ډیوو ته (ج)
په سرو وینو مشال بل کړئ (د)
د خپلواک ناوې زلمیو[1] ته (ج)
خور اوربل بیا ول په ول کړئ (د)
(راز، ۲۰۱۷: ۱۱۱ مخ)

۲- که د قافیو شمېر درې وي، نو داسې وي:

ــــــــــ ج
ــــــــــ د
ــــــــــ ه

[1] - دلته "زلمو" سم راځي، نه "زلمیو"؛ ځکه هم قافیه برابروي او هم وزن.

_______ ج
_______ د
_______ ه

۳- دغه درې قافيې په دې ترتيب هم راتللی شي:

_______ ج
_______ د
_______ ه
_______ ه
_______ د
_______ ج

## ۲- انګرېزي يا شکسپېيري سانېټ – English or Shakespearian Sonnet

هنري هاورډ[1] د شپاړسمې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د انګرېزي سانېټ يوه نوې بڼه رامنځته کړه چې له تخنيکي پلوه له ايټاليايي سانېټ سره توپير لري. په دې ډول سانېټ کې لومړۍ دولس مسرې په څلور - څلور مسريزو درو بندونو او په شپږو قافيو کې ليکل کېږي چې په هر بند کې دوې قافيې کارېږي. يوه په لومړۍ او درېيمه مسره کې او بله په دويمه او څلورمه مسره کې، په پای کې دوې همقافيه مسرې يا په بله وينا، يو مصرع بيت په جلا قافيه کې ورزياتېږي. داسې فرض کړئ چې په شکسپېيري سانېټ کې ټولې اووه قافيې کارېږي او په دې ترتيب ليکل کېږي:

_______ ا
_______ ب
_______ ا
_______ ب
_______ ج
_______ د
_______ ج
_______ د
_______ ه

[1]- Henry Howard

و ـــــــــ

ه ـــــــــ

و ـــــــــ

ز ـــــــــ

ز ـــــــــ

په دې ډول سانېټ کې وروستۍ دوې مسرې (بیت) د اوج نقطه ده او د نظم پر بشپړتیا سربېره یو ژور تاثر هم رامنځته کوي.

شکسپېیر د هنري هاورډ دغې بڼې ته دوام ورکړ او دومره په‌کې مشهور شو چې دا بڼه د اختراع کوونکي پر ځای د ویلیم شکسپېیر په نامه وپېژندل شوه. د پیټرارک د سانېټ په څېر د اتمې مسرې په پای کې وقفه یا ګرېز نه لري. په دې کې له پیله تر پایه یو فکر دوام مومي او په وروستیو دوو مسرو کې داسې ښکاري چې مفکوره خپل اوج ته رسېږي. له همدې امله د انګرېزي سانېټ وروستۍ دوې کرښې مهمې دي. په دې سانېټ کې د هنرمند د هنر ازموینه په دې وروستیو دوو مسرو کې څرګندېږي. د وقفو او ګرېز نشتوالی او د پنځو پر ځای د اوو قافیو کارونه انګرېزي سانېټ لیکنه د ایټالیایي سانېټ پر نسبت اسانوي. په هنري او تخنیکي لحاظ دا سانېټ د ایټالیا-یي سانېټ په پرتله ټیټ دی، له همدې امله ورته نامنظم سانېټ هم ویل کېږي (ملک، ۲۰۲۳: وېب) .

اروانښاد سلیم راز په دې ډول کې هم ډېره اعلی طبع ازمایي کړې ده او زما د پلټنې له مخه یې په کې شپږ سانېټه لیکلي چې درې یې په "زه لمحه – لمحه قتلېږم" او درې یې په "ټول جهان سره نږدې وم" ټولګه کې چاپ شوي دي. دا هر سانېټ یې د موضوع او له تخنیکي پلوه په ټول برابر دی چې تر دغو سرلیکونو لاندې لیکل شوي: "ګلاب ته، انتظار، زلفې، انسان، باچا خان او یو عظیم شاعر ته". یوه نمونه به یې ولولو:

**انسان**

هغه انسان، هغه عظیم انسان

چې فرښتو ورته سجدې

وکړې

هغه انسان، یو مجموعه د
ایمان
نائب د حق یې چې دعوې
وکړې

انسان د خدای هغه عظیم تخلیق
له تصور نه د فنکار عظیم
انسان د خدای هغه اعلی تخلیق
هغه د فکر نه باریک او فهیم
دغه انسان، هغه انسان نه
دی
د یو په پښو کښې د بل سر
تېټ دی
دغه انسان د هغې شان نه
دی
عظمت یې ګوره لکه غر تېټ
دی
انسان، انسان ته به محتاج وینو
دلته د زړو چې څو راج وینو
(راز، ۲۰۲۲: ۵۰ مخ)

### ۳- سپنسري سانېټ – Spenserian Sonnet

په انګرېزي ادب کې ایډمنډ سپنسر د سانېټ یوه بشپړه نوې بڼه معرفي کړه. د سپنسر سانېټ هم درې څلوریز (مربع) لري او د شکسپېیر د سانېټ په څېر د لومړي څلوریز لومړۍ مسره له درېیمې مسرې او دویمه مسره له څلورمې مسرې سره همقافیه وي. د شکسپېیر له سانېټ سره د سپنسر د سانېت توپیر په دې کې دی چې د ده د هر څلوریز وروستۍ مسره د راتلونکي بند له لومړۍ مسرې سره همقافیه ده. په ورته ډول، د لومړي څلوریز دویمه مسره د دویم څلوریز له لومړۍ مسرې سره همقافیه وي او د

دويم څلوريز دويمه قافيه د دریيم څلوريز لومړۍ قافيه کېږي. وروستۍ دوې مسرې لکه د شکسپیير د سانېټ په څېر په سپنسري سانېټ کې هم همقافيه وي او له پاتې درو څلوريزو څخه جلا وي. د سپنسر د سانېټ د قافيو تخنيکي جوړښت په دې ډول دی:

______ ا
______ ب
______ ا
______ ب
______ ب
______ ج
______ ب
______ ج
______ ج
______ د
______ ج
______ د
______ ه
______ ه

د قافيو دا ترتيب دا روښانوي چې په دې ډول کې هم د پيټرارکي سانېټ غوندې پنځه قافيې کارېږي. دا په څلورو برخو وېشلو سره له شکسپیيري سانېټ سره ورته-والی پيدا کوي، خو د قافيو ترتيب يې له هغه جلاوالی ښيي. د سپنسر لهخوا دغه ايجاد شوی سبک د خلکو په منځ کې ډېر عام نهشو.

**۴- مېلټوني سانېټ – Miltonic Sonnet**

د سانېټ هغه ډول دی چې په لومړي اتهبيز (مثمن) کې د پيټرارکي سانېټ په پيروۍ د قافيو بڼه يې (اب ب‌ا - اب ب‌ا) ده، خو د شپږيز (مسدس) په پيل کې کومه وقفه نه لري او د دغه شپږ مسريز بند د قافيو ترتيب معمولاً د (جد - جد - جد) په بڼه وي. د سانېټ دغه ډول د اتلسمې پېړۍ شاعر جان مېلټون دود کړی دی. مېلټون سانېټ ته فلسفي، ديني او سياسي رنګ ورکړ. نوموړی بېرته پيټرارکي سانېټ ته ور وګرځېد.

د هغه سانېټ ژورفکري، آزادي او فردي تجربې بیانوي. یوه نمونه یې دلته لولو چې په پیډمونټ کې د وروستي قتل عام په اړه یې لیکلی و:

Avenge, O Lord, thy slaughter'd saints, whose bones (a)
Lie scatter'd on the Alpine mountains cold, (b)
Ev'n them who kept thy truth so pure of old, (b)
When all our fathers worshipp'd stocks and stones; (a)
Forget not: in thy book record their groans (a)
Who were thy sheep and in their ancient fold (b)
Slain by the bloody Piemontese that roll'd (b)
Mother with infant down the rocks. Their moans (a)
The vales redoubl'd to the hills, and they (c)
To Heav'n. Their martyr'd blood and ashes sow (d)
O'er all th' Italian fields where still doth sway (c)
The triple tyrant; that from

these may grow (d)
A hundred-fold, who having learnt thy way (c)
Early may fly the Babylonian woe. (d)

(داد، ۱۳۸۵: ۳۵٦ مخ)

له تخنیکي پلوه مېلټوني سانېټ له اېټالیایي هغه سره ډېر لږ توپیر لري، بلکې د پیټرارکي له لومړي ډول سره یو شان دی، چې له هماغه لږ توپیر سره د ښاغلي راز "خپلواکي" او "د ګلاب ښکلیه ګله" سانېټونه مېلټوني هم بللی شو.

تر جان مېلټون وروسته په سانېټ کې د روماني شاعرۍ پېر (۱۸-۱۹ پېړۍ) راځي چې ویلیم ورډزورث، جان کېټس، پرسي بېشي شېلي او نور یې سرلاري دي. دوی په سانېټ کې د طبیعیات، احساساتو او فکري آزادي بیانولو تجربې وکړې. په معاصر دور (۲۰-۲۱ پېړۍ) کې د سانېټ دودیزه بڼه اوس هم کارېږي، خو ځینې شاعران یې له کلاسیکې قافیې او وزن څخه آزاد کړي. رابرټ فراسټ، اډنا سېنټ ونسېنټ ملای او ازرا باونډ د معاصر دور مخکښ سانېټ لیکوال دي (اکبر، ۲۰۲۵: ۲۷ مخ).

په انګرېزي ادب کې د سانېټ پنځم ډول "معاصر سانېټونه" دي. هلته سونېټ تر اوسه هم یو محبوب شعري فورم دی. ډېر معاصر شاعران لا هم سونېټونه لیکي، خو عصري سونېټونه تر یوې ځانګړې بڼې یا موضوع پورې کلک پابند نه وي. آن ځینو خلکو معاصر سانېټ د دودیزو سونېټونو د سیوري نښه بللې ده. کله - کله عصري سانېټونه د دودیزو څوارلسو کرښو (مسرو) پابندي کوي او کله بیا نه. همدارنګه، دوی د قافیې له بڼو سره لوبې کوي او د موضوعاتو په انتخاب کې هم ډېر خپلواک وي .( Robinson: 2025)

پر دې سربېره یو بل ډول "مسلسل سانېټ" دی. ځینو شاعرانو مسلسل سانېټونه هم لیکلي دي چې په کې په یوه نه یوه بڼه د یووالي نښه پټه وي. په انګرېزي کې شېکسپېیر د مسلسل سانېټونو لړۍ مثالي ده چې شمېر یې ۱۵۴ سانېټونو ته

رسېږي. په دې وروستيو کې هندي شاعر او ناول‌ليکوال وکرم سيټ په انګرېزي ژبه يو بشپړ ناول په مسلسل سانېټونو کې ليکلی دی چې په ديارلسو بابونو کې يې ۵۹۰ سانېټونه رانغښتي دي (سهيل احمد، ۲۰۰۵: ۱۸٦ مخ). دې ډول ته د "داستاني سانېټ" نوم هم ورکولی شو.

په پښتو کې سانېټ ليکل عام څه چې لا يې ډېر شاعران له نوم سره هم ډېر اشنا نه دي، ښايي لامل يې دا وي چې دغه فورم په سمه او بشپړه توګه نه دی راپېژندل شوی. د لرې پښتونخوا ليکوال او شاعرانو ورسره د انګرېزي او اردو ادب له مطالعې بلد دي؛ ځکه خو لومړنی پښتو بېلګې هم د هماغه ځای شاعرانو ته منسوبې دي او په پښتو کې دغه وياړ قلندر مومند، امين الحق امين او سليم راز خپل کړی دی. د دې تر څنګ استاد ګل اکبر خان يو بل پښتون ليکوال او شاعر دی چې په انګرېزي ژبه يې سانېټونه ليکلي او د سليم راز ځينې سانېټونه يې له پښتو نه انګرېزي ته په همدې قالب کې ډېر ښه ژباړلي. د تخنيکي جوړښت او قافيو ادلون بدلون له پلوه په سانېټ ليکنه کې سليم راز هم د انګرېز معاصرو شاعرانو په څېر نوې تجربې کړې؛ په خپلو ځينو سانېټونو کې يې د قافيو په بدلون سره نوې بڼې وړاندې کړې، چې يوه بڼه يې په دې ډول ده: (اب ب ا، ا ج ج ا، د و و د، ه ه)؛ يعنې د لومړۍ برخې (اته‌ييز) دواړه څلوريز يې په لومړۍ او څلورمې مسرو کې سره همقافيه او د منځ مسرې (دويمې او درېيمې) يې سره په قافيو کې جلا دي. د دويمې برخې (شپږيز) د څلورېز لومړۍ او څلورمه مسرې سره په خپلو کې همقافيه او د منځ له همقافيه دوو مسرو سره جلا قافيه لري او وروستی بيت يې جلا مصرع دی. په همدې ترتيب په لومړۍ برخه کې د قافيو په لړ توپير سره په (اب ب ا، ت ج ج ت، د و و د، ه ه) بڼه کې سانېټونه لري.

د ښاغلي سليم راز د سانېټونو مثبت اړخ دا دی چې د موضوع او بڼې له پلوه يې ځان د انګرېزي سانېټ تر هماغه پخواني دوديز او ټاکلو اصولو او چوکاټونو پورې محدود او منحصر کړی نه دی؛ يعنې پښتو ادب ته يې دغه نوی ژانر له وچ کلک تقليد سره نه دی راوړی، بلکې له دواړو اړخونو يې آزاد کړی، چې زما په اند، دا يوه ښکلې تجربه ده. د موضوع له پلوه نوموړي د خپل ټولنيز ژوند او د ټولنې اړتياوو ته په کتلو سره په سانېټ کې دغه موضوعات وړاندې کړي: د خپلواکۍ ارزښت، د نومياليو مبارزو

مشرانو (باچا خان، فیض الله فیض) د شخصیتونو او فیوضاتو بیان او یاد، انسان او شاعر خپلو مسوولیتونو ته متوجه کول او د طبیعت ستاینه او انځورول. په ایټالیا کې د سانېټ له ایجاده وروسته پر شکسپیري، سپنسري او مېلټوني سانېټونو سربېره د ګڼو نورو شاعرانو په نامو ډېر نور ډولونه هم یادېږي چې لامل یې په دغه ژانر کې د دوی نوې تجربې او په لړ توپیر ادلون بدلون راوستل دي، چې ورته نوښت په پښتو کې سلیم راز کړی دی او د یوه نوښتګر هنرمند په څېر یې په دغې نقاشۍ کې د خپل هنري برس د تازه او زرینو رنګونو نقش پرېښی، چې د انګریزي ادب د دود له مخه دغه نوی ډول ښاغلي راز ته منسوبولی او د ده په نامه یادولی شو. په دې هیله چې په دغه ژانر کې د ده دا لار نور پښتانه شاعران هم ونیسي او خپله طبع ازمایي په کې وکړي.

**پایله**

سانېټ که څه هم د شاهي دربار په لمن کې روزل شوی، خو د دربار د تملق او چاپلوسۍ هېڅ نښه په کې نه تر سترګو کېږي. شاعرانو دا ژانر تر ډېره د ښې او جوړښتي چوکاټ په امېل تړلی، خو سره له دې، سانېټ پر خپل ټول شکلیز او عروضي پابندۍ سربېره د اند او تخیل د ازاد پرواز پراخه فضا برابروي. د سبک خاوند شاعرانو په دې تنګ چوکاټ کې هم اخلاقي، فلسفي او دیني موضوعات نظم کړي دي. په هر حال، دا باید ومنو، لکه څنګه چې غزل د عشق او مینې د تودو او سړو څپو، د خوږو او ترخو پېچ و مېچ ښکارندویي کوي، سانېټ هم د همدې جذباتو تر ټولو نغز او هنري انځور وړاندې کوي (سهیل احمد، ۲۰۰۵: ۱۸۶ مخ).

موضوعي اړخ ته که وکتل شي، سانېټ او غزل تر ډېره بریده له یو بل سره ورته‌والی لري. څنګه چې غزل په لومړیو پړاوونو کې د حسن او عشق لپاره ځانګړی شوی و، همداسې د سانېټ موضوع هم حسن او عشق وه. له پیټرارک نه تر الزبیت دور پورې نږدې ټولو شاعرانو په سانېټ کې همدغه موضوع نغاړلې. له همدې امله په انګرېزي کې له سانېټ نه مراد یوه ځانګړې عشقي منظومه اخېستل کېږي. د سانېټ لیکوال معشوقه د غزل د معشوقې په څېر بې‌رحمه، جفاکاره او بې‌حسه وي، حال دا چې عاشق وفادار او له زړه پرې مَین وي، د هغې په عشق کې لېونی وي، له غمه یې ساه

اخلي، پر ظلمونو يې د غوسې اظهار کوي او د پاملرنې غوښتنه ترې کوي. تر شپاړسمې پېړۍ پورې سانېټ يوازې همدې موضوعاتو ته ځانګړې پاتې شو، خو ملټن دا دود مات کړ او شخصي مسايلو او ملي حالاتو په منظومولو سره يې د موضوعاتو لمن پراخه کړه. ورپسې ورډزورث د طبيعي منظرو تر څنګ سياسي، مذهبي او ټولنيزو موضوعاتو ته هم په سانېټ کې ځای ورکړ. له دې وروسته د سانېټ په منځپانګه کې د بېلابېلو موضوعاتو بيان دود شو او يو نوی رنګ او خوند يې پيدا کړ.

سانېټ يوه تلپاتې شعري بڼه ده چې د پېړيو په اوږدو کې يې شاعران او لوستونکي تل مينه‌وال پاتې شوي دي. د جوړښت، قافيې او وزن په برخه کې د دې ژانر سخت اصول، هم د شاعر لپاره ننګونې دي او هم د هنري نوښت فرصتونه. که شاعر دا اصول په مهارت سره وکاروي، کولی شي داسې اثار رامنځته کړي چې هم تخنيکي پياوړي وي او هم عاطفي اغېز ولري.

**وړانديزونه**

که د ســـانېټ پر بشـــپړې تاريخچې، ډولونو، ځانګړنو او نورو اړخونو نورې څېړنې او مقالې وليکل شي، نو له موږ سره به د دغه ژانر په پېژندنه او د معلوماتو په بډاينه کې لا مرســـته وکړي. همدارنګه که د نورو شـــاعرانو په شـــعرونو کې يې بېلګې وپلټل شي، نو پر دې به پوه شو چې نورو شاعرانو دغه ژانر په کوم کيفيت خپل کړی او څه ډول تجربې يې په کې بيان کړي او دا به لا ښه شي که د پښتو سانېټونه انګليسي او نورو نړيوالو ژبو ته په همدې قالب کې وژباړل شي، لکه څنګه چې استاد ګل اکبر خان دغه هڅه پيل کړې ده.

## مأخذونه


۱- اختر. سليم. (۲۰۱۰م.). تنقيدي اصطلاحات: لاهور، سنګ ميل پبليکيشنز.

۲- امين، امين الحق. (۱۳٦٦). ګورې وربځې: کابل، دولتي چاپوخونه.

۳- بيدار. مجيد. (۲۰۱۴م.). اردو کی شعری و نثری اصناف: حيدرآباد، سابق صدرشعبه اردو جامعه عثمانيه.

۳- خان. سهيل احمد او محمد سليم الرحمن. (۲۰۰۵م.). منتخب ادبی اصطلاحات: لاهور، سويرا آرټ پريس.

۴- خان. گل اکبر. (می، ۲۰۲۵م.). د سلیم راز سونیټس: لیکوال میاشتینی مجله، دري دېرشم جلد پنځمه گڼه. پېښور.

۵- داد، سیما. (۱۳۸۵). فرهنگ اصطلاحات ادبي، درېیم چاپ. تهران، انتشارات مروارید.

٦- راز. سلیم. (۲۰۱۷م.). زه لمحه لمحه قتلېږم. درېیم چاپ: پېښور، یونیورسټي پبلشرز قصه خوانی.

۷- راز. سلیم. (۲۰۲۲م.). ټول جهان سره نږدې وم. ترتیب او تدوین: افتاب سلیم: مردان، سنگر پبلي کېشنز.

۸- صدیقي. ابوالعجاز حفیظ. (۲۰۱۸م.) کشاف تنقیدي اصطلاحات. دویم چاپ. اسلام آباد: اداره فروغ قومی زبان. پرنټنگ کارپوریشن آف پاکستان.

۹- ملک. عبدالعزیز. (۲۰۲۳م.) سانیټ: تعارف و تجزیه. جهان اردو وېبپاڼه، د اخیستني کال: سنبله، ۱۴۰۴: (https://www.jahan-e-urdu.com/?p=8874).

۱۰- Encyclopedia Britannica. 2015. (n.d). Giacomo da Lentini. In Encyclopedia Britannica. Retrieved Dec 25, 2025, from: (https://www.britannica.com/biography/Giacomo-da-Lentini)

۱۱- James. What are the 5 Characteristics of Sonnet? Nevermorepoem web site, 2025.

۱۲- Robinson, Ashley. The 8 Types of Sonnets and How to Tell Them Apart. Dec 26, 2025, (https://blog.prepscholar.com/types-of-sonnets).

۱۳ - Spiller, Michael R. G. 1992. The Development of the Sonnet: An Introduction. Routledge.

څېړنوال دوکتور نورالحبیب نثار

# «اوبو وړی» او د مهاجرت د ژوندانه ځینې انځورونه

# Representations of Migrant Life in "Obo Wurray"

Assoc. Prof PhD. Nurul Habib Nisar

## Abstract

*Obo Wurray* is a masterpiece novel that depicts major and minor events from the era of Afghan migration, exile, and jihad, while narrating the extraordinary stories of Afghans' clandestine journeys to the West. This study seeks to answer the question: What kinds of hardships, challenges, and sufferings did Afghans endure during that period? Despite its literary and historical significance, the novel has not yet received the scholarly attention it deserves.

As a vivid reflection of the experiences and realities of migration and jihad, *Obo Wurray* serves as a valuable literary mirror of a crucial period in Afghan history. It is hoped that this article will contribute to future research in the field of migration literature and Afghan narrative studies. Given its rich portrayal of historical realities, the novel may eventually be recognized as a historical novel. The present study examines and analyzes selected representations of migrant life as portrayed in the novel.

## لنډیز

«اوبو وړی» هغه یو شهکار ناول دی چې د افغانانو د مهاجرت، جلاوطنۍ او جهاد د زمانې ځینې لویې وړې پېښې بیانوي او لوېدیځ ته د دوی د قاچاقي تګ عجیبې غریبې کیسې کوي. دغه څېړنه دا پوښتنه ځوابوي چې افغانان هغه مهال له څه وړ ستونزو او

ناخوالو سره لاس و گرېوان وو؟ تر اوسه پورې دې ناول ته لازمه توجه نه ده شوې. څرنگه چې «اوبو وړی» د مهاجرت او جهاد د شېبو د ننداري يوه قدنما هنداره ده، ودې شي چې دغه مقاله په دې برخه کې له راروانو څېړنو سره مرسته وکړي. احتمالاً چې دغه ناول به په راتلونکي کې يو تاريخي ناول وبلل شي. دلته په دغه ناول کې د مهاجرت د ژوندانه پر ځينو انځورونو بحث شوی دی.

## سريزه

«اوبه وړی» د اجمل پسرلي ناول دی. د «داستانونه» په نامه اختصاصي مجلې د خپل دويم خپرنيز کال د يوولسمې او دولسمې گڼې پر ځای د ۱۳۸۰ل په جوزا/ د ۲۰۰۱م کال په جون کې له پېښوره خپور کړی. د کمپيوټر او چاپ چارې يې دانش کتابتون تر سره کړې دي. دا هغه يو شهکار ناول دی چې د افغانانو د مهاجرت، جلاوطنۍ او جهاد د زمانې او لوېديځ ته د قاچاقي تگ عجيبې او غريبې کيسې راته کوي او دا راته وايي چې افغانان هغه مهال له څه ډول ستونزو او ناخوالو سره لاس او گرېوان وو. پخوا تر دې چې په «اوبو وړي» ناول کې د افغانانو د مهاجرت د ژوندانه ځينې انځورونه له نظره تېر کړو، د خپلې څېړنې هدف، ضرورت او د کار طريقه توضيح کوو او بيا د ناول لنډيز وړاندې کوو.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

«اوبو وړی» د هجرت او جهاد د زمانې د داستاني ادبياتو يو شهکار اثر دی- د مهاجرت ژوند او د هغه مهال د کندوز، کابل، پېښور او ځينو نورو سيمو او وطنونو خبرې په کې شوې دي. د مهاجرت د ادبياتو د سر په ناولونو کې راځي، خو ارزول شوی نه دی. دغه ناول د هجرت او جهاد د داستاني ادبياتو د يوه مخکښ ناول په توگه کتنه، شننه او ارزونه غواړي.

## د څېړنې موخې

د مقالې هدف د هجرت او جهاد د ادبياتو د يوې شهکارې بېلگې په توگه د «اوبو وړي» ناول ادبي او هنري ښکلا ته پام وراړول او د افغانانو د مهاجرت د ژوندانه ځينې انځورونه ښودل دي.

## د څېړنې میتود

د موضوع د څېړنې میتود توصیفي- تشریحي او ډول یې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

### د ناول لنډیز

«اوبو وږی» چې مرکزي کرکتر یې ګلدین دی، کیسه یې په کندوز کې پیلېږي. ګلدین د لېسې شاګرد وي چې د کمونیست پلوه حکومت د سازمان غړی شي. په مخ یې دانې راخېژي او د ملګریو یې نوره ځنې کرکه کېږي. پلار یې چې یو دیندار سړی دی، ډارېږي چې ونه نیول شي. پلار یې رضا کوي چې کابل ته به ولاړ شي، خو پلار یې له ګلدین او نورې کورنۍ سره له کابله غزني ته د ګلدین د ماماګانو کره ځي او له هغه ځایه ټول د ژوب له لارې پېښور ته ځي، سور صلیب دوې کېږدۍ او راشن پاس ورکوي. بیا په کچه ګړۍ کې د ختیو کور برابروي او ګلدین ورسره سر پرانیستی جومات هم جوړوي. د سید جمال الدین افغان لېسې تر جوړېدو وروسته ږیره پرېږدي، توره پګړۍ پر سر کړي او د «حزب اسلامي» غړی شي. په رخصتیو کې جهاد ته هم ولاړ شي او په سپینه شګه کې عکسونه هم واخلي، چې راشي، انانسر مقرر شي. خو یوه ورځ د «اتحاد اسلامي» د مشر په وصف کې شعارونه ووایي، په حزب کې یې موقف خراب شي، خو له لېسې فارغ شي. بیا ګلدین په پېبو کې د شیخ جمیل الرحمان دفتر ورشي او سلفي شي. هغه ورته تزکیه ولیکي او شهادتنامه سعودي ته د بورس لپاره ولېږي. څوک ورته ووایي چې سعودي د سید جمال الدین د لېسې شهادتنامه نه مني، د کابل د حبیبیې لېسې شهادتنامه او د حزب اسلامي له مشر نه تزکیه دې واخلي. کله چې داسې وکړي، سعودي جمیل الرحمان ته خط راولېږي چې ستا کس دوې بېلابېلې شهادتنامې او تذکرې رالېږلې دي، له دې سره یې جمیل الرحمان هم له ځانه وشړي. له قاچاقبر سره خبره وکړي او اروپا ته د تلو هڅه وکړي، په دوبۍ کې ونیول شي او بېرته ډیپورټ شي. د ګلدین ګاونډۍ کونډه چې دی به ورکره تللو، د ګلدین مور ته وایي چې له زوی نه یې حامله شوې ده.

تر دې وروسته، ګلدین ایران ته وتښتي، د بخار د دېګ جوړولو په کارخانه کې کار کوي. هلته له ایراني سره جنګ وکړي، بندي شي، چې راخلاص شي، بیا خپل کار پیل کړي.

څه موده وروسته، ډاکټر نجیب الله ملي مصالحه اعلان کړي او ګلدین کابل ته راشي، له دې ځایه کندوز ته ولاړ شي، د چاردرې ولسوال مقرر شي. مجاهدین په ښار حمله وکړي او دی هم مجاهدینو سره ولاړ شي، چې هغوی پرې شک وکړي، بېرته د کندوز ښار ته وتښتي. کمونیست پلوي هم پرې شکمن شي، چارواکي بدل شي او ولسوالي پاتې شي، ګلدین کابل ته راشي او د څو پوستو قوماندان شي. د خپل مشر په وینا، پوستې شورای نظار ته تسلیم کړي او د مجاهدینو د حکومت له راتلو سره چارواکی شي. لومړی ځل د حضرت صبغت الله مجددي او دویم ځل د برهان الدین په واکمنۍ کې کندوز ته په پلاوي کې پېښور ته ولاړ شي. هلته ورته ګاونډیان ووایي چې مور دې مړه شوه، کورنۍ دې په تا پسې ایران ته ولاړه او کونډه هماغه وخت ورکه شوه، خدای زده چې چېرته ولاړه؟!

ګلدین د مور قبر ته دعا وکړي او بېرته کابل ته راشي، دلته ټپي شي او پېښور ته یې د علاج لپاره بوځي. تر جوړېدو وروسته، بیا له قاچاقبر سره خبره وکړي او د لندن په نیت له پېښوره لاهور- له هغه ځایه کراچۍ- بیا مصر ته پرواز وکړي. ونیول شي او بېرته پاکستان ته ډیپورټ شي. بیا یې واستوي، لندن ته ورسېږي او ناول پای ته ورسېږي.

**د مهاجرت د ژوند ځینې انځورونه**

د ناول د لیکلو لپاره د موضوع انتخاب ډېر مهم دی. لیکوال ښکلې موضوع انتخاب کړې ده. دا موضوع ځکه جالبه ده چې زموږ له خاطراتو جوړه ده. موږ هر یو، په تېره زموږ مهاجر او آواره نسل په کې د خپل تېر ژوند ډېره ښه ننداره کولی شي. د نصیر احمد احمدي په وینا، د ناول لپاره «ښه او کامیابه موضوع هغه ده چې د ډېرو خلکو په ژوند پورې یا په مستقیم او یا هم غیر مستقیمه توګه اړه ولري. خلکو ته د هغوی خپلې او یا هم د نورو خاطرې ور په زړه کړي او خپل اوسنی او یا هم تېر ژوند په کې وویني.» (الهام، وېب) د ډاکټرې شریفه شریف په وینا، لیکوال د ژوند د پټو انځورونو او شېبو د بیان دنده لري، خو دا حق یې نشته چې د لوستونکي پر ځای دې دی قضاوت وکړي او نتیجه دې ځنې واخلي. د دې آغلې په نزد، ښه ادبي یا هنري اثر هغه دی چې لوستونکی فکر کولو ته وهڅوي (پسرلی ایمل، ۲۰۲۰، ۱۴۸مخ). پر دې اساس، د اجمل پسرلي په اوبو وړې کې د افغانانو د مهارت د ژوند انځورونه او شېبې ډېرې زیاتې

بیان شوې دي او لوستونکی فکر کولو ته وربولي. د گلدین کورنۍ چې د مهاجرت په پیل کې د کچه گړۍ په کمپ کې مېشت شوه. دغه وخت په ناول کې داسې انځور شوی: «دوی د پېښور په کچه گړۍ کې مېشت شول. د سره صلیب له خوا د دوو خېمو، راشن او دوا مرسته ورسره وشوه. هفته لا نه وه پوره چې د گلدین دانې په وچېدو شوې. ځو وخته یې خېمه په ډاګ ولاړه وه، بیا یې ختې شروع کړې، خره یې ورته واخیسته. اوبه به یې پر خرې د کچه گړۍ له خوړه راچلولې. د دېوال درېمه پخڅه چې یې ووهله، گلدین پلار ته وویل:

«دادا، د کور له اړخ سره به یوه یوه پخڅه دېوال راوگرځوو، جومات به یې کړو. دلته خلکو ته عادي سازماني اصلي غړی ښکاري. کېدی شي لا عربان یې ودان کړي.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۲۰مخ)

له دې کار سره هم مهاله گلدین ته مکتب وریادېږي، خپل گاونډي دلاور ته وایي:

«انډیواله! د مکتب غم څوک څنگه وخوري؟

مکتب په پردي وطن کې له کومه شي؟ په گلبهار کې محمدي جومات ته مخامخ د TTC په نوم جرمنیان د خیاطي او نجاري کورسونه لري. اصلاً د پاکستانیانو لپاره دي، خو افغانانو ته هم اوس داخله ورکوي. که کسب زده کوې، وربه شو!» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۲۱مخ)

دا هغه مهال دی چې لا د مهاجرو افغانانو لپاره مکتبونه نه دي جوړ شوي، خو د کسبونو زده کولو اسانتیا شته چې گڼو افغانانو په کې داخله اخیسته او په څو میاشتو کې به یې څه کسب زده کاوه، چې تر زده کړې وروسته به د کسب وسایل هم وړیا ورکول کېدل او د چا چې کسب نه و زده، هغوی به لاس مزدوري کوله، په کراچیو به یې د خوړو توکي خرڅول او وړې سوداگرۍ یې کولې. د گلدین مشر ورور گلابدین او پلار یې هم ځانونه په دغو کارونو کې بوخت کړي وو؛ په ناول کې لولو:

«گلابدین له لمانځه وروسته، رېړه بوږه ته بووله، پیاز، ټماټر او الوگان یې پلورل. پلار یې له لمر ختو سره فردوس ته ځان رساوه، د اور گاډي له پټلۍ سره به یې د مالونو پوستکي سم له لاسه اخیستل او خرڅول.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۲۳مخ)

په پېښور کې لومړنۍ لېسه چې د مهاجرو افغانانو لپاره جوړه شوه، سید جمال الدین افغان لېسه وه چې د انجنیر حکمتیار تنظیم جوړه کړې وه. په ناول کې د دې لېسې جوړېدو ته داسې اشاره شوې:

«دلاور له اوبو ډک د غوړیو ټیم د خرې ملا ته ورپورته کړ، په ستما یې وویل:

پخوا تا د مکتب خبره کوله، په بوره کې د افغانانو مکتب شروع شوی، که دې خوښه وي، د وطن د مکتب اطلاعنامه درسره واخله، سبا به پسې ورشو!

گلدین بل پیپ د خرې له ملا سره نیولی، پړی یې په خوله کې و، دلاور ته یې سر وسناوه، بیا یې پړی تر ټیمانو تاو راتاو کړ، ویې ویل:

گومان نه کوم چې اطلاعنامه به پیدا کړم. په داسې لارو مو هجرت نه دی کړی!

دلاور  ورته وویل، خیر دی اطلاعنامه دې سر وخوري، د حزب مکتب دی، یو نه یو خو به لا پېژندوی په کې وي، چاره به دې وکړم. رښتیا، د دغې لېسې مدیر پېژنو، په اختر کې کور ته راغلی و، ویل یې په کمپ کې متعهد خلک ډېر دي، که لږ؟ ما ستا د جومات ودانولو کیسه «الف» نه «یې» پورې وکړه. دوی وعده کېښوده چې د شنبې پر ورځ د سید جمال الدین افغان لېسې ته ورشي. د شنبې پر ورځ چې دوی د سید جمال الدین لېسې مدیریت ته ورغلل، مدیر ته دلاور وویل:

مدیر صاحب! ورور گلدین دی، هغه جومات یې چې آباد کړ.

مدیر سترگې سره وروستې، ورو یې وویل:

خدای دې اجرونه نصیب کړي.

دلاور ورته وویل:

صاحب! مکتب یې پاتې دی، داخله غواړي، خو اطلاعنامه یې ورکه کړې ده.

مدیر گلدین وپوښت:

پخوا په څووم کې وې؟

صاحب! لسم مې خلاص کړی.

مدیر د مېز له روکه یوه سپینه پاڼه راوایسته، گلدین ته یې ونیوله.

ته یوه عریضه ولیکه، ان شاء الله امر به درکړم.

گلدین او دلاور په یوولسمو ټولگیو کې داخل شول.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۲۴ـ ۲۵مخونه)

په ناول کې گلدین خپل نوم په روح الله اړوي او وایي چې دا یې د ایران د انقلابي مشر امام خمیني سره د مینې له کبله پر ځان ایښی. گلدین شعارونه ورکوي او د شاگردانو او استادانو په غونډو کې اناونسري کوي. هغه وخت، د اخوان المسلمین د مشرانو کتابونه لوستل په یو دود بدل شوي وو، چې شاگردانو او باسواده مهاجرو به ډېر لوستل؛ په ناول کې راځي: «گلدین به ډېر کله خالي درسي ساعتونه او په اونۍ کې یو دوه ځل له رخصتۍ او د ماسپښین له جمعې وروسته د لېسې کتابتون ته تلو. ده د حسن البناء، سید قطب او مودودي گڼ کتابونه په کتابخانې کې وکتل، امانت یې واخیستل او په کور کې یې ولوستل.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۲٦مخ)

کمپونو په پیل کې برېښنا نه لرله. مهاجرو به د وطن د حال احوال معلوملو لپاره بي بي سي فارسي اورېده، ځکه چې هغه مهال یې پښتو څانگه لا نه وه جوړه. په ناول کې راځي: «روح الله (گلدین) راډیو ولگوله. د فارسي بي بي سي وروستۍ تبصرې وې، بېرته یې مړه کړه. یوه ټوټه گوړه یې خولې ته کړه، د شنه چای غټ غوړپ یې تر ستوني تېر کړ. رحمت الله خپلې مخې ته ایښی ببوزی ورواخیست، ژر ژر یې ځان ته پکی وواهه.

د گلدین مور راغله، هغې ته یې وویل:

قیامت دی قیامت!! مورې ویل خان آباد تود دی، دلته خو سور اور دی.

د گلدین مور ورته وویل:

آوازه ده چې کمپ ته برق ورکوي؟

گلابدین وویل:

ستنې یې ایښې دي، نن سبا به تر مورې راورسېږي.»(پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۲۹ مخ

هغه مهال مهاجر ځوانان او ان د لېسو شاگردان د جهاد لپاره افغانستان ته راتلل. گلدین هم افغانستان ته د جهاد لپاره راځي. دا کیسه په ناول کې داسې بیان شوې: «روح الله (گلدین) سهار وختي د خپل همصنفي امین الله له تره سره، چې په سپینه شگه کې قوماندان و، جهاد ته ولاړ. خلک د ماښام په جمع ولاړ وو، گلدین روح الله د کور ور ژر ژر ټکاوه چې دروازه خلاصېده، د دلاور سترگې پرې ولگېدې، راغی غېږ یې ورکړه. روح الله گلدین ویش واخ وکړ، ورته ویې ویل:

ظالمه! مه مې ټینګوه، د جبهې ستړیا به په میاشت کې ونه وځي. دا اوس په جومات ښویه راتېر شوم. په پېښور کې مې دغومره دم نه و چې درته ودرېږم، خدای دې ترې راتېر شي.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۳۳مخ)

په افغانستان کې زیاتره- حتی ټول د امام ابو حنیفه د مذهب پیروان وو، خو د مهاجرت پر مهال عربو د اهل حدیثو مسلک هم ورته راولېږداوه. ګلدین هم غوره وبلله چې له اهل حدیثو سره ملګری شي؛ هغه له ځان سره وایي: «د حزبو اتحاد خراب شوی ... د اتحاد په باره کې مې سخت شعارونه ورکړل ... د سیاف مقاله ګوره- د دې رحمت الله خان شیطانیانې پسې ګوره، د بینش استاذ خبر واوره ... زما یې د جومات په لانجه څه، خلک چې د سړک د غاړې جومات ته خرپېږي، دوی پوه شه، کار یې ... له وهابیانو سره مې څه پاتې دي؟ یو څو جمعې به ورسره وکړم ... سخته مخ ته دي ... دولسم په خلاصېدو دی ... او دغه یې وخت دی.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۴۰ ـ ۴۱ مخونه)

دغه راز، د پاکستان پولیسو به مهاجر تنګول، کار روزګار ته یې نه پرېښودل او پیسې یې ترې اخیستې؛ د ګلابدین له خولې به یې واورو:

«د شنبې په ورځ ګلابدین وختي راغی، ویل یې پولیسو بده ورځ ایښې وه. زه په منډه خلاص شوم، تر شلو ډېرې رېړې یې له بار سره نهر ته واچولې. ګلدین وویل: دغه حال دی، په دې ملک کې خو والله که څوک غریبي ته هم پرېږدي. پلار یې غاړې تازه کړې وې، ویل: مور دې هم دواړه پښې په یوه بوټ کې ننوېستي، راته وایي چې یو شل زره روپۍ درکړم، په کور کې کل کمال دغه لرو، ښې بدې ته مو ساتلي، در به یې کړم، خو پام ورسره کوه چې قاچاقبران یې ونه خوري.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۵۵ مخ)

ګلدین له پلاره پیسې اخلي او امریکا ته د قاچاقي تللو هڅه کوي، وایي چې «د قاچاقبر په ټاکلې نېټې اسلام آباد ته لاړه، شپه یې له قاچاقبر سره وه، سهار یې دوبۍ ته ولېږه. په دوبۍ کې یې یوه شپه انتظار درلود. هلته دی له نورو مسافرو سره هوټل ته ولاړ. سبا چې کله میدان ته تلو، پولیسو پرې اشتباه وکړه، دی یې کښېناوه، دوهمه ورځ یې بېرته الوتکې ته ورووست، پاسپورټ یې وروسپاره او اسلام آباد ته یې ولېږه. د اسلام آباد په هوایي ډګر کې یې د FIA هغه افسر ولید چې د تګ په وخت قاچاقبر ورپېژندلی و، د هغه په مرسته له میدانه ووت.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۵۵ مخ)

تر دې وروسته، ګلدين له کوره پټ ايران ته ځي، د پاکستان پوليس او سرحدي ځواکونه ترې ځای پر ځای رشوت اخلي، خو په آخر کې ايران ته رسېږي او تر هغه وخته هلته وي چې ډاکټر نجيب الله د ملي مصالحې اعلان وکړي، بيا دی کابل ته راځي. د نجيب الله دولت سقوط کوي او دی له مجاهدينو سره يوځای کېږي، خو يوه ورځ لرې پښتونخوا ته د تللو تکل کوي، چې د خپلې کورنۍ پوښتنه وکړي.

«ګهيځ ګلدين په فلاينګ کوچ موټر کې پېښور ته روان شو، له باړه‌رو سره له موټر ښکته شو، له ځان سره يې پرېکړه وکړه چې د کوڅې له شا دلاور ته سر ورښکاره کړي، حال به واخلي چې پېژندوی ونه ويني. که کونډه وه، پښې به سپکوي، که نه وه، ورځې به او له دلاور سره به سلا کوي. د دلاور ور يې ژر ژر ودرباوه، دلاور راووت، د وره په خوله کې وچ ودرېد، ځير ځير يې ورته وکتل، بيا يې يو دم ورټوپ کړل، غېږ يې پرې وګرځوله، ملا يې ورټينګه کړه:

مه کوه دلاوره! لارې هسې هم هډوکي راچغزي چغزي کړي.

کور ته سره ننوتل، غاړه يې تازه کړې، څو آيته يې ولوستل، بيا يې ګلدين ته وويل:

د خدای رضا ده- خدای دې وبخښي، د ټولو دغه لار ده، په هجرت کې مرګ عيناً شهادت دی.

د ګلدين زړه درېږده، غونې يې زېږ شو، نېغ نېغ يې دلاور ته وکتل، ورو يې ورته وويل:

نه يم خبر.

وئ، وبخښه، لا نه يې ....

څوک څوک مړ شوی؟

مور دې په حق رسېدلې.

کله؟

ما ويل ته خبر يې!

نه.

څو کاله وشول؟ په څه وه؟

د زړه تکليف يې و....» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۱۲۴مخ)

ګلدين خبرېږي چې د مور مړی يې په کچه ګړۍ کې خاورو ته سپارل شوی، دعا ورته کوي او له دې هم خبر شي چې کورنۍ يې په ده پسې ايران ته تللې، بېرته کابل ته

ځي او هغه مهال پښتونخوا ته بيا ستنېږي چې په کابل کې تېپي شي. دا ځل چې د تورخم پر مزي اوړي، خاسه دار ترې پيسې اخلي او دا هغه کار و چې دوی له هر تلونکي مهاجر سره کاوه. د مهاجرت دا تريخ انځور په ناول کې داسې راغلی:

«گلدين يې په رېړي کې کښېناوه او له مزي سره واوښتل. له مزي ها خوا خاسه دار رېړه په لرگي ووهله، فريدون ته يې وويل:

شابه نمبر راواخله!

فريدون ورته وويل:

د څه شي نمبر؟

خاسه دار د فريدون په نس لرگی کېښود، ټېله يې کړ، په لوړ غږ يې ورته وويل:

وځه!

رېړې والا فريدون ته وويل:

پنځه روپۍ ورکړه، ځان باسه!!

خاسه دار لرگی په ښي لاس نيولی و، د چپ لاس ورغوی يې پرې واهه. گلدين پنځه روپۍ ورته ونيولې، خاسه دار وويل:

شابه جېب ته لاس کړه، نورې!!

د فريدون په جېب کې درې روپۍ وې، هغه يې پسې ورکړې او روان شول.» (پسرلی اجمل، ۱۳۸۰، ۱٦٥مخ)

**د برنيو انځوريزو بېلگو لنډيز**

مهاجر لومړی په کمپونو کې په کېږديو کې اوسېدل چې وروسته يې د خټو کورونه جوړ کړل.

په پيل کې له مهاجرو سره سره صليب د کېږديو، راشن او درملو مرسته کوله.

په لومړي سر کې د مهاجرو لپاره د دوی خپل ښوونځي نه وو. د ښوونځيو جوړولو لړۍ د حزب اسلامي له سيد جمال الدين افغان لېسې سره پيل شوه.

هغه مهال بهرنيانو د مهاجرو افغانانو لپاره د حرفوي زده کړو لکه خياطۍ، نجارۍ، ويلډينگ او نورو کورسونه جوړ کړي وو.

افغانانو د مهاجرت پر مهال وړې سوداګرۍ کولې، په ربړو یا کراچیو یې د خوړو توکي، ترکارۍ او مېوې پلورلې. پولیسو به تنګول او پیسې به یې ځنې اخیستې.

مهاجرو ځوانانو د ښوونځیو د درسونو تر څنګ د اخوان المسلمین د مشرانو فکري آثار لوستل.

په پیل کې د مهاجرو په کمپونو کې برېښنا نه وه- د اوړي ګرمي او د ژمي ساړه یې زغمل.

هغه مهال نورې داسې رسنۍ نه وې چې خلک ورباندې ځانونه د وطن له حاله خبر کړي. یوازې د بي بي سي راډیو فارسي خپرونه وه چې مهاجرو به اورېده.

مهاجر ځوانان او د لېسو شاګردان به د جهاد لپاره افغانستان ته راتلل.

عربو له مهاجرو سره مرستې کولې او په دا ترځ کې یې سلفیت هم خپراوه.

جهادي تنظیمونه خپلو کې په مثبتو او منفي سیالۍ بوخت وو.

د مهاجرت له پیله افغانانو لوېدیځو هېوادونو ته قاچاقي تګ شروع کړ.

د تورخم پر مزي د اوښتو لپاره پاسپورټ او ویزې ته اړتیا نه وه، خو خاسه دارو به افغانان تنګول او رشوت به یې ځنې اخیست.

**شننه او ارزونه**

«اوبو وړی» پر جالبې موضوع لیکل شوی، د خاطراتو هنداره ده. موږ هر یو، په تېره زموږ مهاجر او آواره نسل په کې د خپل تېر ژوند ډېره ښه ننداره کولی شي. د ناول نوم د خپلې کیسې له روح سره ښېخي برابر دی، جاذبه لري، بنیادم لوستلو ته وربولي. څوک چې په ژوند کې د دې کیسې د کرکټر ګلدین غوندې تجربې کوي، بویه چې په سیند لاهو شوی او اوبو وړی دی. د ناول موضوع ته له پام سره یې غوره نوم ورباندې ایښی.

«اوبو وړی» ناول د کمونستانو له راتلو سره پیل او د مجاهدو له خپلمنځي جګړو سره ختم شوی. دا هغه ناول دی چې په افغانستان کې وسله وال جهاد، لرې پښتونخوا ته د افغانانو مهاجرت، کابل ته د مجاهدانو ننوتل او لوېدیځ ته د افغانانو قاچاقي ورتګ له پوره تفصیل سره څېړي. که د ناول لیکلو د هنر له مخې هم ورته وکتل شي، یو ښه ناول دی، ځکه چې لیکوال یې د ناول او لنډې کیسې ښه لیکوال دی او د کیسه لیکنې د تیورۍ په باره کې یې هم پخې لیکنې کړې او څو اړوند کتابونه یې ژباړلي دي.

د گلدین کرکټر چې د یوه ابن الوقت انسان بېلګه ده، له رواني پلوه ښه انځور شوی. ډیالوګونه یې د هر کرکټر له سویې او روان سره برابر دي. تلوسه لري او «تلوسه په چوپتیا کې ده- د پرله پسې پېښو تر منځ په تشه کې ده- د یوې خطرناکې پېښې د را منځ ته کېدو د ژمنې او د هغې د منځ ته راتګ تر منځ په فاصله کې ده. د لوستونکي د اندېښنې زیاتول په دې کې نه دي چې چې کار تر سره شي، بلکې په دې کې دي چې کار وځنډېږي. تلوسه اصلاً د یو څه د پېښېدو په اټکل کې ده- نه د هغه څه په پېښېدو کې.» (عمر، ۱۳۹۴، ۸۱ مخ). په «اوبو وړې» کې یې هرې پېښې ته رواني او منطقي صحنه جوړه کړې ده، ځکه چې یوه پېښه له بلې زېږي یا د بلې پېښې نتیجه وي- تصادفي نه رامنځ ته کېږي (سیدي، ۱۳۸۹، ۷۱مخ). دغه راز، د صحنې د پیل او پای د مودې له ثابت پېژند پرته، د کیسې د صحنو په باره کې منسجمې خبرې نه شي کېدی چې صحنه دې ورسره ښه جوړه شي (https://storygrid.com/scenes/) . د صحنې ښه جوړول ښه انځورګري غواړي او ښه انځورګري دا ده چې لوستونکی پر هغې ځمکې په هماغه زمانه کې وګرځولی شي چې پېښه په کې را منځ ته شوې ده. (سیدي، ۱۳۸۹، ۸۹ مخ)

د اوبو وړې لیکوال د ناول لیکنې په فن له هره اړخه پوره دی، دې او دې ته ورته ټولو خبرو ته یې له دقت سره پام کړی. مګر دوې خبرې چې اعتراض وړباندې کېدلی شي، یوه یې دا ده چې کورنۍ یې په ګلدین پسې ایران ته ځي او بیا یې حال احوال نه معلومېږي چې څه شوه؟ دغه راز، په کچه ګړۍ کې د ګلدین ګاونډۍ کونډه چې په ده یې تور لګولی و- نه شي معلوم چې هغه رښتیا و او که تش یو تور و. دغه راز، د کونډې برخلیک هم نه دی معلوم چې څه ورسره وشول؟ دا خبره سمه ده چې د ناول د تیورۍ له مخې، کله کله لیکوال ځینې خبره نیمایي کې پرېږدي او لوستونکي ته وخت ورکوي چې په باره کې یې فکر وکړي، خو هلته ځینې داسې علامتونه او کوډونه هم وي چې لوستونکی یې په مټ حقیقت ته رسېدلی شي، مګر دلته داسې څه نخښې نښانې نه راته ښکاري. په ناول کې د مهاجرت په باره کې ډېرې خبرې شوې دي.

## پایله

«اوبو وږی» هغه یو شـــهکار ناول دی چې د افغانانو د مهاجرت او جهاد د زماني ځینې لویې وږې پېښـــې بیانوي او په دا ترڅ کې لویدیځ ته د دوی د قاچاقي تګ عجیبې غریبې کیســـې کوي او دا راته وایي چې افغانان هغه مهال له څه ورِ رواني او نورو ډول ډول ستونزو او ناخوالو سره لاس و ګرېوان وو؟ دا د مهاجرت او جهاد د شیبو د ننداري یوه قدنما هنداره ده. له تخنیکي اړخه هم ښــه انسـجام لري. ژبه یې هم د کیســې ژبه ده. د مهاجرت د ژوند کوم انځورونه چې دلته ورباندې بحث وشو، د هغه چا کیسه راته کوي چې په سـیند لاهو شـوی او اوبو وږی وي. دا او دې ته ورته نورې ډېرې خبرې او انځورګرۍ چې په اوبو وږي ناول کې شـــوې دي، د لیکوال تخیل نه دی- د هجرت او جهاد د زماني هغه تاریخي واقعیت دي چې د ادبي حقیقت جامه یې اغوســـتې او ښایي چې دغه ناول په راروان وخت کې تاریخي ناول وګڼل شي.

## مأخذونه


۱. الهام، نصرت. وېب: https://tolafghan.com/articles/٧٤٠٦

۲. پسرلی، ایمل. (۲۰۲۰). د کیسو کیسې. کابل: سروش کتابپلورنځی.

۳. پسرلی، اجمل. (۱۳۸۰). اوبو وږی. پېښور: دانش کتابتون.

۴. سیدي، سید نظیم. (۱۳۸۹). ناول به څنګه لیکو؟ جلال آباد: مومند خپرندویه ټولنه.

۵. عمر، محمد آصف. (۱۳۹۴). ښه ناول وپېژنئ. جلال آباد: مازیګر کتاب پلورنځی.

٦. See: "How to Write Scenes: Structure, …", https://storygrid.com/scenes/

څېړندوی خالد تکل

# د لسم ټولګي په پښتو مضمون کې د ځینو متونو ژبنۍ او مفهومي څېړنه

# A Linguistic and Conceptual Study of Selected Texts from the Grade 10 Pashto Curriculum

Assistant.prof.Khalid Takal

**Abstract**
This academic study presents a linguistic and conceptual analysis of selected texts from the Grade 10 Pashto textbook. A number of representative texts were carefully selected from the textbook and subsequently examined from grammatical, semantic, and pedagogical perspectives. The study further investigates the extent to which these texts are appropriate to the learners' cognitive and educational level, and evaluates how effectively the textbook author has taken into account the intellectual capacities, learning needs, and socio-cultural environment of the target audience (students).

**لنډیز**

په دې علمي او څېړنیزه مقاله کې د لسم ټولګي د پښتو مضمون د ځینو متونو په اړه ژبنۍ او مفهومي څېړنه شوې ده. له پښتو مضمون څخه د متونو ځینې بېلګې غوره شوي، چې تر غوراوي وروسته یې همدغه بېلګې له ګرامري، مفهومي او پیداګوژیک اړخه څېړل شوې دي. دلته به دا هم ولولئ چې دا بېلګې څومره د شاګردانو له سویې

سره متناسب دي او د کتاب مؤلف څومره د خپلو مخاطبانو (زده کوونکو) ذهني وړتیا او چاپېریال په پام کې نیولی دی؟

## سریزه

په دې علمي څېړنیزه مقاله کې غواړم چې د لومړۍ ژبې په توګه د پښتو مضمون په ځینو متونو چې ژبنی او مفهومي اړخ یې کومې ښېګڼې او څه نیمګړتیاوې لري، ځینې لنډې تبصرې او د سمووني وړاندیزونه شریک کړم. دلته پښتو د لومړۍ ژبې په توګه موخه له هغه مضمون څخه ده چې په پښتنو سیمو کې د پښتنو زده کوونکو لپاره تدرسېږي.

د لسم ټولګي پښتو (لومړۍ ژبه) مضمون د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست په ۱۳۹۰ لمریز کال چاپ او خپور کړی. د کتاب لیکوال پوهنمل بریالی باجوړی دی، علمي او مسلکي ایډیټ یې محمد زرین انځور کړی دی. کتاب اته ویشت لوسته، ویېپانګه او مأخذونه لري چې په ۲۰۹ مخونو کې په ساده او رنګه بڼه خپاره شوي دي. په دغو اته ویشتو لوستونو کې ۲۴ لوستونه د ادبیاتو موضوعات رانغاړي او پاتې څلور لوستونه نور ټولنیز مسایل روښانوي. د تعلیمي نصاب د نورو کتابونو په څېر دا کتاب هم په پای کې ویېپانګه لري چې ټولټال په کې (۴۳٦) ویيونه او اصطلاحات راغلي دي چې ۱۳ یکې بېلابېلې اصطلاح ګانې او ۲۰ تکراري لغاتونه راغلي دي، داسې تکراري چې هم د متن په داخل کې معنا شوي او هم د کتاب په پای کې په ویېپانګه کې یې معنا راغلې ده. په دغو اصطلاحاتو کې داسې ادبي اصطلاح ګانې هم شته چې زما په ګومان شاګرد ته به یې مفهوم ډېر ګران وي، یا خو باید هېڅ نه وای او که وای هم غوره به وه چې په وروستي ټولګي کې راغلې وای. د بېلګې په توګه سانسور، غلو، ردیف، رومانتسیزم، ریالیزم، تشبیه، استعاره، کنایه او ځینې نورې، که څه هم دا د ادبیاتو ډېرې عامې اصطلاح ګانې دي، خو د شاګرد له صلاحیت او وړتیا لوړې ښکاري.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې په نصاب کې د ژبنیو مضامینو په اهمیت او ارزښت خبره وشي. موخه دا ده چې د نصاب ښېګڼې څرګندې او نیمګړتیاوې یې را وسپړل شي.

## د څېړنې پوښتنې

په نصاب کې د ژبې مضامین څومره مهم دي؟

د لسم ټولګي پښتو له ژبني او مفهومي اړخه کومې ښېګڼې او نیمګړتیاوې لري؟

## د څېړنې میتود

د دې څېړنې میتود تشریحي ـ توضیحي او د اړتیا په صورت کې انتقادي هم دی.

## د مقالې متن

په دې مقاله کې د لسم ټولګي د پښتو ځینې لوستونه غوره شوي دي چې په هر لوست یې ژبنی او مفهومي تبصرې شوي، منځپانګیزې نیمګړتیاوې او د پېغامونو نا دقیق والی، ددغو تبصرو نورې برخې دي چې وړاندې به په مقاله کې ورته نغوته وشي.

د لسم ټولګي پښتو، د دریم لوست عنوان دی، (سوله) دا لوست له پیله تر پایه د سولې، امن، زغم او استقامت ښوونه کوي، ګڼې جملې په کې د جګړو فزیکي او رواني زیانونه بیانوي، د جګړې ضد ادبیاتو یو نیم بیت شعر او لنډۍ هم په کې راغلي چې محتوا یې د سولې پېغامونه دي. د عنوان متن رنګه دی او تر عنوان را ښکته د سپینې کوترې انځورګري په کې د سولې سمبول انځور شوی دی. که څه هم د کوترې انځور ډېر تت راغلی، خو بیا هم له انځور یې مفهوم اخیستل کېږي. له شک پرته سپینه کوتره د سولې سمبول دی، خو کلیشه شوی او ډېر تکراري، پر سپینې کوترې سربېره، د زیتون پاڼه، لاس موټی کول او د دوو ګوتو اشاره، د شمعې رڼا، د مات شوي ټوپک انځور، د سترې مه شي د لاسونو انځور او ځینې نورې نښې هم شته چې د سولې، امن او عدم تشدد پېغامونه لېږدوي، خو د نصاب په اکثرو کتابونو کې یوازې او یوازې همدا یو انځور دی چې په کار وه، یو څه نوښت په کې شوی وای او ځینې نور سمبولونه هم کارېدلی وای.

د همدې لوست په دولسم مخ کې دا څو جملې لولو: «سوله د جنګ بندول، د شخړو لرې کول او د اختلافاتو ختمول دي. یا سوله هغه ترون دی چې جنګ او شخړې پرې ختمېږي. که په کوم ځای کې سوله نه وي، نو هلته خلک یو له بل سره په جګړه اخته

وي. د ژوندانه ټول ورځني کارونه، نه شي کولای او خلک دې ته اړ کېږي چې لرې ځایونو ته مهاجر شي او ژوند په سختۍ تېر کړي. په جګړه کې خلک وژل کېږي. میندې او پلرونه بې اولاده کېږي، ماشومان بې پلاره او بې موره کېږي.» (باجوړی، ۱۳۹۰: ۱۲ مخ)

استاد غضنفر وايي، د نثر کمزوري، د معلوماتو ګډوډې او انشايي ضعف، هغه څه دي چې متن بې خونده کوي. (غضنفر، ۱۴۰۳: ۲۲۷ مخ)

له شک پرته د نثر کمزوری، د جملو نه رساوالي او د مفهوم نیمګړتیاوو، د نصاب پاسنی متن بې خونده کړی او د زده کوونکو لپاره يې د جملو لوست ګران برېښي. که وغواړو چې دغه متن رسا، ساده او بامفهومه کړو، نو پاسنۍ جملې داسې ليکو: (سوله د جنګ، شخړو او اختلافاتو ختمول دي. سوله هغه تړون دی چې شخړې پرې ختمېږي. چېرته چې سوله نه وي، هلته جګړه وي، خلک د جګړې له سیمې د سر و مال د خونديتوب لپاره کډوالۍ ته اړ شي او ژوند په کړاوونو کې تېرېږي.) د نصاب متن په پرتله دا متن لنډ، رسا او د جنګ د زيانونو ټول مفهوم په کې را اخيستل شوی دی. د نصاب په متونو کې به له ګڼو داسې جملو سره مخامخ شئ چې بې‌ځايه اطناب سربېره پر دې چې جملې يې ګونګې کړي دي، بلکې مفهوم چې د لوست اساسي موخه ده، هغه هم پکې ورک دی.

د همدې لوست ګڼې جملې ګرامري ضعف لري، په بې خونده تکرار راغلي دي چې دغه تکرار د متن مفهوم ته د ګټې پر ځای، تاوان رسولی دی.

د لسم ټولګي پښتو پنځم لوست چې د پښتو ژبې لوی شاعر او ليکوال خوشحال بابا راپېژني او د هغه د شعرونو د بېلګو ترڅنګ، د هغه اثار او د مبارزو يادونه هم کوي، د دغه لوست ځينې برخې يې د لسم ټولګي د لارښود سره په ټکر کې دي. په لارښود کې د پنځم لوست په اړه لولو: « د لوست پوهنيزې، مهارتي او ذهني موخې: د دې لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې تر لاسه کړي:

- د خوشحال خان خټک او د هغه د علمي شخصيت په اړه به معلومات ترلاسه کړي او متن به روان ولوستلای شي.

د خوشحال خان بابا د علمي او ادبي اثارو نومونه به وپېژني.

د خوشحال خان بابا د شعر په معنا او مفهوم به پوه شي.

د متن لنډيز به په خپله ژبه وويلای شي.

د لوست د پای فعاليتونه به حل کړای شي.

د خوشحال خان خټک د لوست پېچلي لغتونه به معنا او په جملو کې وکاروي.

د خوشحال خان خټک د علمي کارونو په اړه به يوه مقاله وليکلای شي.» (نژند، ۱۳۹۲: ۳٦ مخ)

د لوست لومړی موخه راته وايي چې زده کوونکي به د خوشحال بابا له علمي شخصيت سره اشنا شي، خو په دغه لوست کې ګڼې داسې برخې راغلي چې د خوشحال بابا علمي شخصيت ته نه، بلکې سياسي او نظامي شخصيت ته اشاره کوي، چې زما په ګومان زده کوونکي ته د خوشحال بابا تر سياسي شخصيت، د هغه علمي شخصيت ور پېژندل به غوره او مهم وو. د بېلګې په ډول د لسم ټولګي پښتو په ۲۵ مخ کې لولو: «خوشحال خان د پښتنو د امپراتورۍ د بيا جوړونې او د افغاني دولت د جوړښت لپاره توره تر ملا کړه او ويې ويل:

د افغان په ننګ مې وتړله توره

ننګيالی د زمانې خوشحال خټک يم

خوشحال خان له مغلو سره ډېر جنګونه وکړل، په ډېرو جنګونو کې يې مغلو ته ماته ورکړه، تر دې چې د هند مغلي پاچا اورنګزيب پخپله لاهور ته راغی او په حسن ابدال کې يې دوې مياشتې تېرې کړې.»

پاسنی متن د خوشحال بابا علمي او ادبي شخصيت نه، بلکې سياسي فکر، ليدلوری او د مغلو پرضد د خوشحال د فکر تصوير را ښيي.

په املايي تېروتنو او د ليکنښو پر ناسمې کارونې سربېره، دغه لوست د زده کوونکو له صلاحيت پورته ښکاري، ځکه په دې لوست کې د خوشحال بابا ډېر داسې شعرونه او د نثر بېلګې راغلي چې زده کوونکي خو پرېږدئ، آن ښوونکو ته يې په مفهوم پوهېدل ګران او ننګونکي برېښي.

د بېلګې په توګه د لسم ټولګي پښتو په ۲۸ مخ کې د خوشحال خان خټک له (بياض) څخه د نثر يوه برخه راغلې ده چې زه يې کټ مټ دلته رانقلوم: «په اخير د جمادي الثاني د تيرا نه را روان شوم. راز علي، حسن علي، موسی و غېره ښه، ښه سواره بدرقه را سره وو. په بازار راغلم، هور ته ايمل خان په مخه راغی، سره کېناستو. دی تيرا ته

راته، وې چې راسره جار وځه، ما وې چې که زه پوهیدای چې ته به رایشې زه به ستا و راتلو ته معطل وم. اما اوس روان یم. افریدیو ستنولم، ستون نه شوم. اوس جار وځم څه خو عیب غوندې شي. یو څو خبرې مو سره وکړې، روان شوم، افریدي مې سره رخصت کړل. رو پای بها مې هر کدام ته ورکړه، د څخوبي په لار ایمل خان سره ډکې لره راغلم، شپه مې هورته تېره کړه. سبا ببړی راغله، پورې شوو، ورو، ورو مومندو کې تلو. واړو ښه پښتونولي کوله. هر ځای به په ښه روش راغله. ضیافت و غیره به یې ښه وکړو. ځای په ځای راسره وو. تر خپل حدود نه یې تېرولو، مهمند ښه عالم ولید شه.»
(باجوړی، ۱۳۹۰: ۲۸ مخ)

د لوست درېیمه موخه وایي چې تر دغه لوسته وروسته به زده کوونکي د لوست د متن د لنډیز برخه ولوستلی شي او وروستۍ موخه بیا وایي چې زده کوونکي به د خوشحال بابا د علمي کارونو په اړه د یوې مقالې د لیکلو جوګه هم شي.

ښایي د لسم ټولګي یو زده کوونکی د خوشحال بابا د اثارو او علمي شخصیت په اړه ښه مقاله ولیکي او هم د دغه لوست ساده متن ښه ولولي، خو ګومان نه کوم د بیاض متن چې څو سوه کاله پخوا لیکل شوی، یو زده کوونکی دې روان ولوستلای شي، زما په ګومان د بیاض د متن راوړل نه کومه اړتیا وه او نه هم د زده کوونکي لپاره کوم تعلیمي پېغام لري. زه پوه نه شوم چې په دغه اثر کې د بیاض د متن له راوړلو څخه د کتاب د مؤلف موخه څه ده او زده کوونکی په څه باندې پوهول غواړي، خو د نصاب په ډېرو دغه ډول متونو حکم کېدای شي چې د مؤلف مخاطب یو زده کوونکی نه، بلکې د ادبیاتو یو متخصص دی.

د لسم ټولګي پښتو د شپږم لوست عنوان دی، (پښتو نحوه یا جمله پوهنه) د تعلیمي نصاب دا او دې ورته ډېر عنوانونه داسې دي چې د تعلیمي متن ځانګړنې نه لري، د تعلیمي متن د ځانګړنو په اړه پوهاند محمد اقا شېرزاد لیکي: «د تعلیمي متن عنوان خپلې ځانګړنې لري چې باید لنډ او روښانه وي، پېچلې کلمې او ترکیبونه ونه لري، له منځپانګې سره تړاو ولري، عنوان د موضوع استازیتوب وکړي، زده کوونکي متوجه کړي او د لوستلو لېوالتیا پیدا کړي.» (شېرزاد، ۱۳۹۵: ۱۲۷ مخ)

پر عنوان سربېره د دغه لوست د متن ځینې برخې نحوي، محتوایي او پیداګوژیکې ستونزې لري، په دې لوست کې د نحوې څلور تعریفونه راغلي دي، د نحوې د

موضوعاتو ترتيب او تسلسل پکي مراعت شوی نه دی او بله دا چې شاګرد ته پکې د شاګرد نه، بلکې د ژبې د يو متخصص فکر شوی دی.

د لوست د پيل جملې داسې دي: «لومړی تعريف: نحوه عربي کلمه ده چې لغوي معنا يې لار، طريقه، روش، طرز او دود دی. په اصطلاح کې د ګرامر هغه برخه ده چې په جملو کې د کلمو د ځای پر ځای کېدلو، د کلمو پر اړيکو، ترتيب او ترکيب باندې غږېږي.

دويم تعريف: په بله وينا نحوه هغه پوهنې ته ويل کېږي چې د يوې ژبې د جملو، عبارتونو، فقرو، ترکيبونو له جوړښت، ترتيب او تنظيم څخه بحث کوي.

درېيم تعريف: د وينا د توکو خپل منځي اړيکې او جوړښت د نحوې موضوع ده.

څلورم تعريف: جمله پوهنه په يوې جملې کې د کلمو (مورفيمونو) د ګرامري ترکيب د يوځای کېدو طريقه، ترتيب او معنوي رابطه په يوې ټاکلې ژبه کې څېړي.»

څرګنده نه ده چې د څلورو تعريفونو له راړولو څخه موخه څه ده او ولې زده کوونکی اړ ويستل شوی چې د نحوې څلور تعريفونه زده کړي، په پاسنيو څلورو تعريفونو کې که يو تعريف بسنه کولای، نو دويم تعريف تر نورو جامع، لنډ او د نحوې د بحث ټول موضوعات رانغاړي. په همدې لوست کې د جملې تر تعريف، بېلګو او ډولونو له مخه په ترکيب باندې خبره شوې ده چې پکار وه، لومړی جمله وپېژندل شوې وای او وروسته بيا په جمله کې په ترکيب بحث راغلی وای، يا هم ترکيب او عبارت چې په جمله کې دننه مطالعه کېږي، تر جملې وروسته په بل لوست کې تشريح شوی وای. پر دې سربېره د جملو بېلګې په جلا توګه نه دي راغلې چې د مبتدا او خبر برخې يې څرګندې شي، بلکې ټولې جملې په متن کې اغږل شوې دي چې زده کوونکی نه پوهېږي چې اوس په دې جمله کې مبتدا کومه ده او خبر کوم دی او نه هم د جملو د مبتدا او خبر له برخو کومه کړی يا کرښه تاوه شوې ده چې دا دوې برخې سره جلا کړي.

د لسم ټولګي پښتو په اتم لوست کې عنوان دی: (ولسي کيسه) تر دغه عنوان را کښته لومړی په ولسي ادبياتو کې د شفاهي کيسو په اړه ځينې معلومات راغلي دي، ورپسې په پښتو ژبه کې د ولسي کيسو بېلګې په دوه ډولو وېشل شوې چې يوه ډله يې د پښتو ژبې خپلې ولسي کيسې دي او بله ډله يې هغه ولسي کيسې دي چې

پښتو ژبې ته د ژباړې له لارې د نورو ټولنو څخه راغلي دي. د پښتو د ولسي کیسو څخه د (ادم خان او درخانۍ، مومن خان او شېرینو، طالب جان او ګلبشره) او د ځینو نورو منظومو کیسو یادونه شوې ده، خو جالبه دا ده چې د زده کوونکو لپاره چې کومه کیسه غوره شوې ده، هغه کیسه د پښتو ژبې او پښتني چاپېریال ولسي کیسه نه ده، بلکې د غربي ټولنې (چک جمهوریت) د خلکو یوه ولسي کیسه ده چې د پېغام، محتوا، د کیسې د کرکټرونو، مکالمو او د پېښو د چاپېریال له اړخه ډېرې نیمګړتیاوې لري. دلته د دې کیسې یوه برخه لولو: «یوه شپه له سیلۍ سره باران هم ورېده، سخت توپان و او خلک په خپلو کورونو کې وو. یوه سپینې سرې ښځه په یو کور کې یوازې اوسېده. د هغې د کور دروازه وډبیده. هغې فکر وکړ چې سیلۍ دروازه ټیل وهله، خو لږه شېبه نه وه تېره چې ور په زوره، زوره وډبېده.

سپین سرې ژر دروازه خلاصه کړه، ویې لیدل چې یو ځوان سړی په لمدو خیشتو جامو کې ولاړ او له یخنۍ نه رېږدي. سپین سرې ښځې ته یې وویل:

زه مسافر یم، که نن شپه دې راته په خپل کور کې ځای راکړ، نو زه به دې دا احسان ټول عمر نه هیروم.

سپین سرې ښځې وویل:

ښه ده، دننه راشه په نغري کې اور بل دی. خپلې لمدې جامې وچې کړه، خو زه ډوډۍ هم نه لرم او ستا لپاره کټ هم نشته. ته مجبور یې چې له نغري سره نژدې پر دې کمپله شپه تېره کړې.

سړي ورته وویل:

بس چې سرپنا وي، نور مې هېڅ نه دي په کار

ښځې په نغري کې نورې وچې درې کېښودې، اور تازه شو، سړی چې تود شو او جامې یې هم وچې شوې، نو د خپل کمیس له جیبه یې د اوسپنې یو مېخ راویست. دا یې په خپلو لاسونو کې اړوه را اړوه. ښځې ورته کتل، خو غږ یې نه کاوه. سړي ښه شېبه له دې مېخ سره لوبې وکړې، بیا یې له ښځې پوښتنه وکړه: ته خبره یې چې دا مېخ څومره د کار دی؟

ښځې له وړې نه تار جوړاوه په ډېره وچه لهجه يې ورته وويل: هو خبره يمه، مېخ په لرګي کې ټک وهل کېږي. سړي وخندل او وې ويل:

ته نه يې خبره زه له دې مېخ شوروا جوړولی شم. ښځې په قهر وويل:

هسې اوتې بوتې مه وايه، دا ناشونې ده.

سړي وويل: که ما درته ثابته کړه، نو منې به يې

ښځې وويل: ښه ده ثابته يې کړه! بيا يې د ښوروا پخولو ديګ ورته راوړ. سړي مېخ په تل کې کېښود او اوبه يې پکې واچولې. بيا يې ديګ په اور کېښود. لږه شېبه چې تېره شوه، نو سړي د ديګ سر لرې کړ او ښځې ته يې وويل:

که لږه مالګه او تور مرچ راکړې، نو ښوروا به تياره شي.

ښځه پاڅېده د يوې الماری دروازه يې پرانيستله او وې ويل:

هو مالګه او مرچ خو په کور کې وي.

سړي ته يې د مالګې او تورو مرچو پوړی ور کړې. ده مالګه او تور مرچ په ديګ کې واچول. يو څو شېبې نورې هم تېرې شوې، سړي بيا د ديګ سر ايسته کړ او ويې ويل:
د پيازو يوه غوټه که وای، نو د ښوروا خوند به نور هم زيات شوی وای.

ښځې ورته بد بد وکتل، خو بيا له ځايه راپاڅېده او وې ويل:

ګورمه که چېرې پياز وي!

يوې بلې الماری ته لاړه او د هغې دروازه يې پرانېستله. سړي سر اوچت کړ او په الماری کې يې د خوړو توکي وليدل.

ښځې د پيازو يوه غوټه را واخېسته او سړي ته يې وويل: اوس به نو چاقو هم غواړې.
سړي وخندل او د ښځې نه يې پياز او چاقو واخېستل...»

کيسه اوږده ده، خو بلاخره سړی په ډېر چل، فريب او چالاکی، شوروا پخوي او دواړه يې خوري، کيسه ښه کيسه ده، خو څو تعليمي نيمګړتياوې هم لري. لومړی خبره دا چې د ښوونې او روزنې اصول راته وايي چې موږ بايد له تعليمي متونو دا تمه ولرو چې هغه د شاګرد په سلوک کې مثبت تغيير راولي، خو دلته کيسه شاګرد ته د چل، فريب او منفي چالاکی درس ورکوي چې دا د تعليمي متن يو عيب ګڼلی شو. دويمه خبره دا ده چې موږ يوه مذهبي او دودپاله ټولنه يو، زموږ په ټولنه کې که يوه ښځه هر

ځومره بوډۍ او سپينې سرې شي، لومړۍ خو په کور کې يوازې نه اوسېږي، حتمن يې د کورنۍ نږدې يا لرې خپل ورسره وي او يو پردي او بېگانه سړي ته خو په هېڅ صورت په کور کې شپه نه ورکوي، نو دا د کيسې بل ټولنيز، فرهنگي او اخلاقي عيب دی چې زموږ د ټولنې سيکالوژي او فرهنگي ارزښتونه په کې له پامه غورځول شوي دي.

او درېيمه خبره دا چې ولې موږ د غربي ټولنې ولسي کيسه په نصاب کې له اړتيا پرته شامله کړو! پښتو ژبه پراخ او بډايه ولسي او تحريري ادبيات لري چې مؤلف کولای شول د خپلې ژبې او ماحول يو ولسي کيسه د زده کوونکو لپاره غوره کړي چې هم يې تعليمي اړخ پياوړی وي او هم يې د ټولنې مذهبي او فرهنگي ارزښت ته پام شوی وي.

په (٦٢) مخ کې د غزل بېلگه لولو:

چې دې وگوري ومخ ته وطن پرېږدي
وطن څه دی چې روح والوزي تن پرېږدي
که ښښتن وي د تومنو ستا په مينه
درويزه کاندي اختياره تومن پرېږدي
بلبلان که دې له حسنه خبردار شي
ستا د مخ په ننداره به چمن پرېږدي
څه خو مخ و بتخانې وته جار باسه
چې د بتو پرستش برهمن پرېږدي
ښه چې زړه مې مسافر شو ستا په لورې
عقيق لا شي قيمتي چې وطن پرېږدي
د جفا د مړو ژوند څه وي حسينه
که د جور خوی زما گلبدن پرېږدي
(باجوړی، ١٣٩٠: ٦٢ مخ)

په کتاب کې د پاسني شعر شاعر معلوم نه دی، خو د غزل تر تعريف وروسته زده کوونکو ته د غزل د بېلگې په توگه راوړل شوی دی چې د محتوا له پلوه يوه عشقي غزله ده، خو د غزل له الفاظو او تشبيه گانو داسې ښکاري چې دا به د پښتو د

کلاسيکي دورې د هندي سبک د کوم شاعر غزل وي، ځکه تشبيهات او لفظونه يې پېچلي او د نورو ژبو دي، چې زما په ګومان د دغه پېچلي غزل پر ځای که د معاصرې دورې د کوم شاعر غزل غوره شوی وای، نو زده کوونکو ته به يې مفهوم ساده او ژر هضمونکی و.

د لسم ټولګي د نهم لوست عنوان دی: «سيد بهاو الدين مجروح» په دې لوست کې ځينو محتوايي او ژبنيو مسأيلو ته پام پکار وو، که خبره په عنوان وکړو، نو د لوست په ټول متن کې (سيد بهاو الدين مجروح) ليکل شوی، د پښتو ژبې چې له عربي يې خلاصی نشته، ځينو مواردو ته دقت پکار دی، لکه دلته د بهاو الدين پر ځای بهاء الدين ليکل، ځکه چې دا د ليکوال خاص نوم دی او ليکوال په خپلو ټولو اثارو کې د عربي قاعدې پيروي کړې ده، که څه هم په پښتو ژبه کې د عربي ژبې همزه (ء) چې معمولاً د کلمو په پيل، منځ او پای کې راځي او په پښتو ژبه کې په ساده (الف، و او ی) اوړي، لکه په پاسني عنوان کې، خو په نصاب کې بيا پکار وه چې د ليکوال نوم څه ډول چې د ليکوال په اثارو کې راغلی دی، هماغسې يې ليکل پکار دي. (ښکلی، ۱۳۹۸)

د همدې لوست دا لاندې جملې لولو: «يو وخت د افغانستان د تاريخ ټولنې رئيس هم و او د ادبياتو په پوهنځي کې يې د فلسفې تدريس کاوه. په ۱۳۵۸ هـ. ش. کال کله چې روسانو پر هېواد يرغل وکړ، نو مجروح د هجرت لاره ونيوله او په پېښور کې يې (افغان اطلاعاتي) مرکز جوړ کړ، د دغه مرکز دنده دا وه چې د افغانستان له حالاتو څخه نړيوال خبر کړي او هم به يې د افغانستان په حالاتو تبصرې او تحليلونه کول.»

د نثر کمزوري يوه خوا او د جملو نه رساوالی بله خوا، هغه د ضعف ټکي دي چې د نصاب د مضامينو متن يې د مفهوم له اړخه له ننګونو سره مخامخ کړی دی. د ځينو کلمو تصريف او حذف کولای شي زده کوونکو ته متن ساده او مفهوم يې اسان کړي، د بېلګې په توګه د نصاب پاسنی متن غواړو ساده او بامفهومه کړو: (ښاغلي مجروح د افغانستان د تاريخ ټولنې د رياست ترڅنګ د ادبياتو په پوهنځي کې فلسفه هم تدريسوله. پر هېواد د روسانو تر يرغل وروسته، پېښور ته کډوال شو او هلته يې

(افغان اطلاعاتي) مرکز جوړ کړ، چې د افغانستان پر حالاتو یې خبرونه او تحلیلونه خپرول.)

دغه متن مو د نصاب تر متن ساده، روان او د مفهوم له اړخه غني کړ، پر هېواد د روسانو د یرغل نېټه مو ځکه حذف کړه چې زده کوونکو ته تر نېټې ددغه یرغل منفي اغېزې مهمې دي چې ترې خبر شي، د تاریخي پېښو د نېټو نه دقیق والی هم په نصاب کې یوه نیمګړتیا ده. ډېر کله د کلمو تصریف د نثر له روانۍ سره مرسته کوي، لکه په پاسني متن کې چې ځینې کلمې د پښتو جملې د جوړښتي مجبوریت پر اساس له یو حالته بل ته تصریف شوې، لکه: (رئیس، په ریاست، تدریس کاوه، په تدریسوله، تبصرې او تحلیلونه کول، پر خبرونه او تحلیلونه خپرول) واوښتې چې متن یې ساده او روان کړ. په پښتو ژبه کې د کلمو تصریف د جنس، حالت، عدد او ځینو نورو ګرامري قاعدو او ژبنیو مجبوریتونو له مخې رامنځته کېږي.

د یوولسم لوست عنوان دی (پښتو هنري نثر) په دغه لوست کې لومړی د الفاظو په تغییر د هنري لوست ګڼ تعریفونه راغلی دي، ورپسې په پښتو ادب کې د هنري نثر لیکنې په تاریخچه اوږد بحث شوی او ورپسې د هنري نثر یوه کوچنۍ ټوټه هم راغلې ده چې د هنري نثر دا برخه به دلته رانقل کړو:

**لارښوونکی**

«له فریب او درواغو سره نا اشنا وم. مکر او چل مې زړه ته لار نه درلوده. دروغ مې نه پېژندل. د ژوندون د لوی لارې مسافر وم. له پرېشانه خوبه را پاځېدم. قافله ډېره پر مخ تللې وه. یوازې زه وم چې د لارښوونکي په انتظار مې لویې لارې کتلې. ډېر راغلل، تېر شول مګر یوه هم د زړه سوي په سترګو راته ونه کتل. ځینو به د ګوتو په اشارو لار راوښودله، خو د ګوتو د اشارو لارې ډېرې اوږدې وې.

ځینو به د دې لپاره چې ځانونه په ما وساتي، زه به یې له ځان سره روان کړم، خو چې خطر به تېر شو، نو بیرته به یې زه پر لویه لاره پرېښودلم. دوی به لاړل. همداسې د لارښوونکي په انتظار د ژوندون په لویه لار کې ولاړ وم. ځو ته راغلې. زه دې تر لاس ونیولم. زه هم په پاک زړه په تا پسې روان شوم او د لارې د موندلو په غرض مې ستا لمنه ټینګه کړه. هرې خواته به چې تلې درپسې تلم او تا هم ماته د لار موندلو ډاډ راکاوه. ناڅاپه موسمي توره وربځ پیدا شوه، باران او ږلۍ وربدل شروع شول.

اسمان او ځمکه په خروش راغلل، لارې ګډې وډې شولې، خو زه ډاډه وم چې تا غوندې لارښوونکی لرم او تاته مې سترګې وې چې د زمانې په دې توره دربیله کې به لار راوښيي. مګر په هماغه حال کې تا په ډېرې حیرانتیا مخ را واړاوه او له ما څخه دې پوښتنه وکړه چې: (ای مسافره! لار راوښیه، لار کومه ده؟) هغه وخت نو زه پوه شوم چې زما د ژوند د لارې لارښوونکی یوازې زه یم او باید زه پخپله، خپله لارښوونه وکړم.» (باجوړی، ۱۳۹۰: ۷۴ – ۷۵ مخونه)

د دغه لوست څه باندې دوه نیم مخونه د هنري نثر تعریف او په پښتو ادب کې د هنري نثر تاریخچې ته ځانګړې شوي دي، خو نږدې نیم مخ کې پاسنی هنري نثري متن راغلی دی. پاسنی نثر د مفهوم له پلوه ساده او د پیغام له اړخه عالي دی، ځکه د زده کوونکو لپاره پکې په فردي ځواک د باور او د ځان جوړونې په اړه، هغوی ته انګېزه ورکوي. ترڅنګ یې زده کوونکو ته دا روښانوي چې څنګه عاقلانه پرېکړه وکړو او د ژوند له ناخوالو څنګه درس او عبرت واخلو.

د لسم ټولګي د دولسم لوست عنوان دی: (د پښتو ادبیاتو لرغوني دوره) په عنوان کې یوه کوچنۍ تېروتنه ښکاري او د (لرغونې) کلمه په (لرغوني) لیکل شوې ده، د لرغونې کلمه د دورې لپاره باید په اوږدې (ې) تصریف شي.

اساسي پوښتنه دا ده چې د پښتو ادب د لرغونې دورې د شاعرانو د شعرونو لوست د ښوونځي د زده کوونکو کوم درد دوا کوي؟

په دې لوست کې د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې ټول (۲۳) شاعران معرفي شوي او د کلام بېلګې هم را اخېستل شوي دي چې له امیر کروړ نیولی تر شیخ عیسی مشواڼي پورې یې یو په یو د شعر له نمونې سره معرفي کړي دي.

د لسم ټولګي په لارښود کتاب کې د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د لوست اساسي موخې داسې بیان شوي: «د لوست په پای کې به زده کوونکي لاندې موخې ترلاسه کړي:

د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې په اړه به معلومات ترلاسه کړي.

د پښتو ادبیاتو لرغوني مرکزونه به وپېژني.

د پښتو ژبې د لومړي شعر او شاعر په اړه به معلومات ترلاسه کړي.

د امیر کروړ په شعر کې به د سوبو او بریو په اړه خبرې وکړای شي او شعر به په نثر واړولای شي.
د پښتو ادبیاتو د لرغونې دورې د نورو نامتو لیکوالانو او شاعرانو په اړه به معلومات ترلاسه کړي.
د پښتو ادبیاتو لرغوني منظوم او منثور اثار به وپېژني.
د متن د پای فعالیتونه به په بشپړه توگه ځواب کړای شي.» (نژند، ۱۳۹۲: ۷۷ مخ )

د لوست لومړی او دویمه موخه راته وایي چې زده کوونکي باید د خپلې ژبې له ادبي، فرهنگي او تاریخي میراثونو سره اشنا شي چې دا ښه خبره ده، ډېر لرغوني شعرونه د عرفان، اخلاقو، ښوونې، صبر او تقوا پیغامونه لري چې پکار ده په نصاب کې راشي، خو په ترتیب او تدریجي شکل، نه داسې چې زده کوونکي ته د نابغه فکر وشي.
د لوست دریېمه، څلورمه او شپږمه موخه تعلیمي او پیداگوژیک صعف لري، ځکه دلته د زده کوونکي ذهني صلاحیت او وړتیا له پامه غورځېدلې ده.
د امیر کروړ شعر له نن څخه (۱۳۰۷) کاله وړاندې یعنې څه باندې دیارلس پېړۍ مخکې ویل شوی دی چې په دغه شعر کې داسې زړې کلمې او ژبني اصطلاحات شته چې په اوسنۍ پښتو کې کاملاً نشته، د امیر کروړ شعر په دومره حد پېچلي لغات لري چې د لسم ټولگي زده کوونکي خو پرېږدئ، چې ځینو ښوونکو ته هم پرې پوهېدل ستونزمن دي او په معنا او تحلیل پسې یې قاموسونه گوري. د لرغونې ادب ژبه ډېره درنه ده، زړې کلمې لري او د پښتو ژبې له ننۍ محاورې سره بشپړ توپیر لري. دا شعرونه وضاحت، شرحې او تفسیر ته اړتیا لري، که ښوونکی ښه تدریس ونه کړي، ښایي له ادب سره د زده‌کوونکو علاقه کمه شي. لرغونی ادب دې د تعلیمي نصاب برخه وي، خو په مناسبه کچه، د زده‌کوونکو له سویې سره برابر، د تفسیر سره یو ځای او د ښونیزو موخو سره مل؛ په دې برخه کې د ښوونکو روزنه او مناسبې تشریحي لارښوونې هم مهمې دي. پاموړ دا چې «زده کوونکو ته داسې کلمې راوستل شي چې هغوی یې په معنا وپوهېږي که چېرته په لوست کې معنا داره کلمې کمې وي، نو زده کړه اغېزناکه نه شي کېدلای.» (بانډه وال، ۱۳۷۹: ۳۵ مخ)
د لسم ټولگي څوارلسم لوست چې افضل خان خټک را پېژني، د پیل جمله یې داسې ده. «تاریخ مرصع په پښتنو تاریخونو کې یو مهم او ارزښتمن کتاب دی چې افضل

خان خټک ليکلی دی.» ښايي جمله د مفهوم له اړخه کومه غټه نيمګړتيا ونه لري، خو ګرامري ضعف لري، غوره به وه چې دا جمله داسې ليکل شوې وه: (د پښتنو د تاريخ په اړه په ليکل شويو کتابونو کې «تاريخ مرصع» مهم او ارزښتمن کتاب دی چې...) که په تعليمي متونو کې خاص نومونه په قوسونو کې ونيول شي، دا چاره له ښوونيزې پروسې سره مرسته کوي او آر متن ته د زده کوونکو پام ژر ور اړوي.

په همدې لوست کې د تاريخ مرصع د نثر يوه کوچنۍ بېلګه راغلې چې دلته يې را نقلوم:

«ميرزا بله چاره بې له صلحې ونه ليدله، سړي يې تر ميان کړل. وا ويې بلل، ورته يې وويل چې دما کور هم ستاسو خپل دی. پښتانه چې په عقل کې ساز وار دي ځکه ډېر نفساني دي. په لږ سود مقصود ډېر بهبود تر شا کوي. ورځ په ورځ به مشرانو د اولس ميرزا ته امد و رفت کاوه. يوه ورځ اته سوه کسه راغلل همګي بې وسلې. يو محمود د محمد چغرزي زوی، يو چړوکی په خپله بډه وړې وه چې ورننوتل، د ميرزا بد نيتي يې وليدله.

هغه دې نورو ته ووې چې که وايئ زه به ميرزا مړ کړم. هغو نورو منع کړ چې حق د نمک ساتلی بويه. موږه سره بد نه کا. دا چوغلي جنکاګيګيانې کړې وه چې دا هومره ډېر به يو ځلې بيا نه مومې او له دوی نه په نېکۍ خلاص نه شې. دا وخت غنيمت وګڼه او واړه قتل کا.

واړه يې وترل، يو، يو يې وواژه. په هغه وخت يو لوی ملک د ميرزا په خدمت غرض وکړو چې دوه التماس ارزو لرم که قبول شي، ميرزا ووې چې قبول دي. اول يې دا ووې چې وراره زما ملک احمد له قيده خلاص شي. بادشاه يې خون معاف که بل دې د اولس اطفال بند نه شي، بلکه پربېږدئ هر لور ته چې درومي. ميرزا قبول کړ. ميرزا ورته ووې چې زما ګمان و چې ته به خپل سر غواړې يا به دوه کسه ځوانان غواړې. ده ورته ووې چې تر دې واړو زه ښه نه يم. که دومره عزيزان مې مري زه به خپل ځان په څه خلاصوم.» (باجوړی، ۱۳۹۰: ۱۰۱ – ۱۰۲ مخونه)

پاسنی متن د پښتو ژبې پخوانی متن دی چې له اوسني متن سره جوت توپير لري او کوم سلاست او رواني چې په اوسني پښتو متن کې شته، هغه په پخوانيو متونو کې نشته، ځکه چې د تاريخ په اوږدو کې زموږ ژبه په مستقيم او غېر مستقيم شکل د

دري او عربي تر اغېزې لاندې وه چې ببېلګه يې د تاريخ مرصع په دغه متن کې ګورئ چې تر عربي او دري کلمو لاندې کرښې کش شوې دي. دا متن د مفهوم له اړخه د شاګر له سويې لوړ دی، لوستل يې پېچلي دي، ځکه د لوست مواد د زده کوونکي له تجربې لوړ دي، نو کله چې د لوست مواد د زده کوونکو له تجربو لوړ وي، هغه وخت زده کړه اغېزناکه کېدای نه شي. (صالحي، ۱۴۰۳: ٦١ مخ)

پر دې سربېره بله نيمګړتيا يې دا ده چې د شاګرد په سلوک کې منفي بدلون راوړلی شي، ځکه د متن يوه برخه د تشدد پېغام لري چې زما په ګومان په دغه عمر کې بايد شاګرد د قتل، وژنو، ترلو او دې ته ورته کلمو څخه لرې وساتو او ټول فکر يې په مثبتو او انګېزشي متونو بوخت کړو.

د لسم ټولګي پنځلسم لوست دی: (پښتو لنډه کيسه) تر دغه عنوان ښکته په يوه انځورګرۍ کې يوه مور ښکاري چې خپلو بچيانو ته د کيسې ويلو په حال کې ليدل کېږي. د انځورګرۍ په ليدو زده کوونکي فکر کوي چې په دې لوست کې به يوه په زړه پورې کيسه لولي، خو خبره داسې نه ده، بلکې د کيسې پر ځای دلته ټول متن د پښتو لنډې کيسې تاريخچې او په نړيوال ادب کې د لنډې کيسې لپاره د ټاکل شوي چوکاټ په تيورۍ خبرې کېږي. بناً د دغه لوست انځورګري له محتوا سره په بشپړ ټکر کې ده چې دا يو پيداګوژيک ضعف ګڼلی شو.

په دغه لوست کې يوه بله نيمګړتيا ته چې زما ور پام شو هغه د دغه لوست د متن جملې دي چې له ادبي ښکلا محرومې دي، اکثريت جملې وچ او معلوماتي مطالب بيانوي چې د هنر مينه پرې نه ماتېږي او فکر کوې چې د پښتو ژبې د مضمون پر ځای د تاريخ يا جغرافيې مضمون لولم. له دې خبرو زما موخه دا نه ده چې د ژبې د مضمون ټول مطالب دې په هنري يا ادبي ژبه وليکل شي، بلکې مطلب مې دا دی چې لږ تر لږه د پښتو مضمون ژبه دې تر تاريخ، جغرافيې او ساينس سره توپير ولري، دلته دې جملې متني ښکلا ولري چې زده کوونکي زده کړو ته علاقه مند کړي او د ادبياتو په ارزښت يې وپوهوي.

د همدې پنځلسم لوست په پای کې راحت زاخيلي، ماسټر عبدالکريم، مير مهدي شاه مهدي، قلندر مومند، موسی شفيق، محمد دين ژواک او امين افغانپور د پښتو ژبې د مخکښو کيسه ليکوال په استازيتوب ياد شوي دي؛ غوره به نه وه چې د کتاب

لیکوال له دغو لیکوالو څخه د یوه یې، یوه داسې لنډه کیسه هم راخېستې وای چې تعلیمي او اخلاقي پېغام یې لرلی، زموږ د فرهنګ تصویر پکې وای او هم د هنري نثر بېلګه وای؟

د لسم ټولګي شاړسم لوست انګریز شاعر او لیکوال ویلیام شکسپیر را پېژني، د دغه لوست ګڼې جملې ګرامري او مفهومي ابهام لري، خو د بېلګې په توګه یوازې دا لاندې جملې لوو:

«شکسپیر ۳۸ نندارې ولیکلې او په نړۍ کې یې د لوی ډرامه لیکونکي نړیوال شهرت ګټلی دی. د ده شعرونه د انګلیسي ژبې په مشهورو شعرونو کې حسابېږي.»

په پاسنیو جملو کې  د (لوی ډرامه لیکونکي) عبارت پر ځای باید د لوی ډرامه لیکوال عبارت راغلی وای، ګومان کوم د لیکونکی کلمه د لیکوال له کلمې سره ډېر معانیز توپیر لري او د نصاب مؤلف د کلمو دغې معانیز نقش ته نه دی ور ځیر شوی. په (د ده شعرونه د انګلیسي ژبې...) د جملې په دغه برخه کې که د انګلیسي پر ځای د انګریزي ژبې شعرونه راغلي وای، ښه به و، ځکه شکسپیر د انګلستان و او د انګلیس ژبه انګریزي ده چې له انګلیسي سره په ګڼو مواردو کې څه نا څه توپیر لري. ترڅنګ یې پښتانه انګلیسانو ته انګریزان او یا هم پرنګیان وایي، نو دا چې کتاب پښتنو ته لیکل شوی، پکار وه د انګلیسي پر ځای انګریزي راغلی وای.

د لسم ټولګي په اتلسم لوست کې د (کاڼه) په عنوان د پښتو ژبې د نامتو کیسه لیکوال میر مهدي شاه مهدي یوه لنډه کیسه راغلې ده چې دلته یې را نقلوم:

«دومره مې یاد شي چې ډاکټر وویل: د ده محرقه ده.

نور بیا هغه وخت پوه شوم چې زما نظر بې انتها تېز شو. د لیدو او اورېدو طاقت مې له اوله نه یو په لس زیات شو، خو حیران په دغه وم چې ګېر چاپېره په کوټه کې د ښځو ژړا وه. ځوک خو لا په ما را پرېوتي و او په ساندو کې به یې ویل: خدای دې وبخښه! تا له دې خدای اته واړه جنتونه درکړي.

ما به ورسره په زوره امین کړو، خو ما به داسې محسوسه کړه لکه چې دوی زما امین نه وي اورېدلی.

خدای خبر چې دغه سلسله به څومره جاري وه چې په دې کې زما د کورنۍ یو څو کسان زما کټ ته مخامخ کېناستل او هغه یو کس پکې وویل:

هسې د غورځولو سړی نه دی، ښه یاد سړی دی چې مړی درنه سپک نه شي.
یو بل پکې اواز وکړو: ده هم ډېره موده د خلکو خوړلې ده. نن به ورله دا ټول بدل په یو ځل خلاصوو.
همدغه شان په لږ ساعت کې ټولې جرګې دا فیصله وکړه چې څومره کیدای شي، نو مړی به یې درنوو.
دغلته زما په زړه نوره نه ځائیده. په اوچت اواز مې دغې جرګې ته وویل:
ای زما خپلو خپلوانو مسلمانانو تاسو ته معلومه ده چې زما په کور کې یوه پیسه هم نشته. په قرضونو کې تر سره ډوب یم. بچي مې ماشومان دي. ښځه مې کونډه شوه. زما غوندې غریب دپاره چې څنګه د اسلام فیصله ده، هغه شان وکړئ او هغه دا چې په کفن ضروري کې مې ښخ کړئ چې زما جامې دي. د قرضونو له وجې تاسې زما لازمه لازمه فدیه نه شئ ادا کولی، نو خیرات، خو لا لویه خبره ده. زه لا لګیا وم نورې خبرې مې هم کولې، خو په دغه کې د یوې زنانه په ژړغوني اواز کې وویل شو: لالا هر چا چې پیسې ولګولې، نو یوازې دا کور یې پاتې دی. دا به په قرض کې ورپسې ولیکم. خو اوس درنه مړی بې عزته نه شي.
ما خپل اواز نور هم په زوره کړ، چې د وړو مور یې واوري، خو زما دا خیال راغلو چې دا ټول کاڼه دي. زما جنازه چې اوچتېده، نو دومره مې واورېدل چې د حلوا او وریژو دیګونه پاخه دي.
هغه وخت هم ما یوه چیغه ووهله چې: دغه هر څه حرام دي. خو دغه خلک هم ټول کاڼه وو.
کوم وخت چې جنازه وشوه، نو سخات ته خلک کیناستل او کله چې سخات وېشل کېده، نو ما اواز وکړو:
زه مرض وصیت ته نه یم پرېښی او که لږه موقع راته په لاس راغلې وای، نو ما به د قرضونو په رڼا کې وصیت کولو، خو اوس تاسې څه کوئ!
ولې زما بچي خواروئ؟
خو دلته هم زه پوه شوم چې دا ټول خلک کاڼه وو، ځکه چې ما خبرې کولې او هغوی یو بل ته سخات بخښلو او کوم وخت یې چې سخات تقسیمولو نو عجیبه خبره پکې دا وه چې غریبانو ته لس روپۍ او مالدارانو ته پکې پنځوس روپۍ وې. د سخات له

تقسیم وروسته چې زما جنازه اوچته کړای شوه او د قبر په څنډه کېښودل شوم، نو ماته خپله تور سرې او واړه بچي او د ددوی غریبي را مخکې شوه. ما لا د دوی په غریبۍ او بې وسۍ ژړا کوله چې په دې کې زه په قبر کوز کړی شوم او په لږ ساعت کې راباندې د خاورو غر جوړ کړای شو. خو زه حیران په دغه وم چې ماته په قبر باندې بېل بېل سړي ښکارېدو. د هغوی خبرې مې اورېدې ما بالکل خپل ځان د هغوی په منځ کې ولاړ لیدو. کوم وخت چې په قبر د قران کریم تلاوت شروع شو، نو زما زړه خوشحاله شو.

ما ویل اوس به دغه ټول مسلمانان د قران کریم د هدایاتو په رڼا کې زما د غریبانو بچو او تور سرې لپاره څه بندوبست وکړي او هغه وخت خو نور هم خوشحاله شوم چې په ټولو کې یو مشر عالم مسئلې ته پاڅېده. په دغه وخت کې دا اواز هم شو چې: تاسو خدای وبخښه! فاتحه به د خیرات په ځای کې اخېستل کېږي.

خدای خبر چې ما به د دغه تقریر په هکله نور څومره سوچ کولو چې په دې کې ملا صاحب د میراث په مسئله شروع وکړه او وې ویل:

که چېرې مال یې پاتې نه وي، نو تجهیز تکفین د مړي اول د ده په نژدې خپلوانو دی، که خپلوان یې نه وي او یا بې وسه او غریبان وي، نو په بیت المال باندې او که بیت المال نه وي، نو بیا په ټولو مسلمانانو دی.

هغه لا خپل تقریر کولو چې زما زړه را ډک شو. صبر مې ختم شو او چې په ځان پوهېدم، نو هغه مې د مړی نه نیولی و او ما ورته په غوصه کې ویل چې: ولې دا زه درته مومن مسلمان نه ښکارېدم څه؟

ګور کفن مې په تاسو کېدو او کور مو زما لوټ کړو.

زه هم لګیا وم او هغه هم لګیا و، خو زما خبره نه هغه اورېده او نه نورو خلکو.

او چې یو څو ورځې پس زه خبر شوم چې زموږ د کلي غریب الله کاکا مړ شو او بچو ته یې په غیر د قرضونو او لوږو نور څه پرې نه ښودل، نو نورو خلکو غوندې زه هم د هغه په قبر کوڼ ولاړ وم.» (باجوړی، ۱۳۹۰: ۱۲٦-۱۲۷ مخونه)

دا کیسه د پېغام له اړخه په دغه کتاب کې تر ټولو اعلی کیسه ده، د پېغام ترڅنګ زده کوونکي د ادبیاتو لوستلو ته علاقمندوي او بله ښېګڼه یې دا چې د متن ژبه یې

ساده او د زده کوونکو له سویې سره برابره ده، خو په متن کې د لیکنښو ناسمه کارونه یا تېروتنې هغه څه دي چې د لوست پر وخت لوستونکی تېرباسي.
موږ په یوه دودیزه ټولنه کې ژوند کوو او ګڼ دودونه او رواجونه مو داسې دي چې باید نه وای، نو لکه څنګه چې په دغه کیسه کې زموږ یو ناسم رواج نقد شوی دی، د پېغام برخه یې د زده کوونکو د اخلاقي روزنې او د ټولنې د اصلاحي فکر په ترویج کې ډېر څه را زده کوي. زده کوونکو ته د لنډو کیسو د لوستلو بله ګټه دا ده چې د دوی ذهني وده، په ټاکلې موضوع د تمرکز زیاتېدل او د تصور ځواک یې پیاوړی کوي.
د لسم ټولګي پښتو د نولسم لوست عنوان دی: **(لفظي صنعتونه)** تر دغه عنوان ښکته په انځور کې بیا د عبدالروف بېنوا د یو اثر (ادبي فنون) انځور راغلی دی. ددغه کتاب د ځینو لوستونو د انځورګرۍ ترمنځ همغږي کمرنګه ده، لکه د همدې لوست په انځور کې  چې ګورئ، لیکوال د لفظي صنعتونو د عنوان په انځورګرۍ کې له کمي سره مخامخ شوی او پر ځای د دې چې د عنوان مطابق یو مناسب انځور ومومي، د لیکوال د کتاب پر انځور یې خپله تشه ډکه کړې ده. زه په دې اند یم چې له لومړي ټولګي تر دولسم ټولګي پورې د فنونو زده کړه، باید له تعلیمي نصاب څخه حذف شي او د دغه علم موضوعات یوازې او یوازې په تخصصي (لیسانس، فوق لیسانس) دورو کې په محدود شکل تدریس شي. زما په ګومان د فنونو زده کړه د شاګرد په ښوونیز او روزنیز سلوک کې کوم محسوس تغییر نه راولي، نو په دغه صورت کې یې اړتیا هم نه حس کېږي چې د نصاب برخه دې وي.
ښايي یو څوک دا وپوښتي چې د فنونو زده کړه د شاګردانو د ژبې مهارتونه، د تخیل او نوښت ځواک، د ادبي ذوق روزنه او د ځان د بیانولو وړتیا نه زیاتوي؟ له شک پرته د فنونو زده کړه به دا ګټې لري، خو فنون باید په مناسبه، ساده او تدریجي شکل تدریس شي، که چېرته د شاګرد عمر او سویه له پامه وغورځول شي، نو شاګرد دا ډول پېچلي موضوعات نه شي هضمولی او په لوی لاس شاګرد له ذهني فشار سره مخامخ کېږي. زه یې د مکتب په دوره کې له تدریس سره په دې مخالف یم چې په دغه دوره کې د ژبې پر مضمون سربېره نور ساینسي او ټولنیز مضامین هم لوستل کېږي چې هغه هم خپلې پېچلتیاوې لري، نو پکار نه ده چې شاګرد په یو وخت د څو ډوله موضوعاتو پر زده کړه مکلف کړو.

د لسم ټولګي د شلم لوست عنوان دی: (هجري او د هغه حبسيات) او ترې راښکته په وجود خوار يو تن ښکاري چې په زندان کې په ځنځیرونو تړلی دی. په دغه انځور کې چې کوم کس ښکاري ظاهري قيافه يې د يو شاعر نه، بلکې پر نشه يي توکو د روږدي کس را ښکاري. انځورګري يې ډېره روښانه نه ده، که څه هم د يو زنداني حال بيانوي، خو تصوير له عاطفي اړخه کمزوری دی او ګومان کېږي چې د کوم نشه‌يي تصوير وينو. په هر څه صورت په عنوان کې هم ابهام شته، ځکه زده کوونکو تر دې وړاندې د اشرف خان هجري په نوم کوم شاعر نه دی لوستی او نه يې د ژوند له حال احواله خبر دي.

غوره به وه چې عنوان يو څه واضح وای او د هجري پر ځای د شاعر پوره نوم (اشرف خان هجري) او د حبسيات کلمې پر ځای د زندان يا زنداني کلمه راغلې وای لکه: (اشرف خان هجري او د هغه زنداني شاعري) پر دې سربېره که لږه نوره هڅه شوی وای او عنوان له ساده متن څخه يو څه عاطفي شوی وای، نو لا به ښه و، ځکه عاطفي ژبه د شاګرد په حواسو ښايي ډېر اغېز وکړي. استاد ښکلی ليکي، زموږ د زياترو تعليمي او تدريسي کتابونو ژبه له عاطفي پلوه خنثی وي او فکر کوې چې د جغرافيې د کتاب متن لولم. (ښکلی، ۱۴۰۰: ۱۰۷ مخ)

په دې لوست کې د اشرف خان هجري ځينې شعرونه هم راغلي دي چې د معنا او مفهوم له اړخه درانه او پېچلي دي، ځکه اشرف خان هجري که څه هم د هندي سبک پلوی يا استازی شاعر نه دی، خو دا چې په هندوستان کې يې زندان تېر کړی او هلته پاتې شوی دی، نو شاعري يې له هندي سبکه څه نا څه اغېزمنه ښکاري، نو په همدې خاطر يې د شعرونو ځينې برخې پېچلې او لوړ تشبيهات پکې کارېدلي دي چې زده کوونکو ته يې هضمول ګران دي.

د لسم ټولګي د درويشتم لوست عنوان دی: (چاپېريال ساتنه) د عنوان ژبه ډېره رسنيزه ده، له عاطفي پلوه خنثی او پيکه ښکاري، د چاپېريال پاک ساتل يا د چاپېريال خونديتوب چې په اوسنۍ نړۍ کې يوه جدي ټولنيزه موضوع ده، پکار وه چې زده کوونکو ته ډېره جذابه او د دوی د پاملرنې وړ شوی وای، خو د کتاب مؤلف پسې ځان نه دی ستړی کړی او په يو ساده عنوان يې بسنه کړې ده. دا لوست د محتوا له اړخه مهم دی، خو فکر نه کوې چې متن دې د پښتو ژبې کوم ليکوال تخليق

کړې وي، ځکه په متن کې د دري ژبې اغېزې زیاتې دي او گومان کوم چې د دغه لوست متن دې له دري کتاب یا له دري متن څخه پښتو ته ژباړل شوی وي، د بېلگې په توگه د لوست د پیل جمله داسې ده: «زموږ د شاو خوا ټولو موجوداتو ته چاپېریال ویل کېږي.» پښتانه په عامه ژبه کې (ویل کېږي) نه وایي. بلکې وایي: (زموږ د شاو خوا ټولو موجوداتو ته چاپېریال وایي.) گومان کوم (ویل کېږي) د دري ژبې د گفته میشود نېغه ژباړه ده. یا هم په همدې مخ (۱۵۸) کې دا لاندې جمله چې د دري ژبې اغېز پکې له ورایه ښکاري: «د کرنیزو ځمکو او حیواني محصولاتو کمښت د انسانانو ژوند په خطر کې اچوي»

په ټوله کې پاسنی متن د پېغام له پلوه عالي او گټور دی، خو د متن ژبه یې ساده او روانه نه ده او گڼې جملې د ناسمې ژباړې له امله گرامري ضعف لري.

د لسم ټولگي پښتو په ۱٦٥ مخ کې دا دوې جملې لولو:

(د هوتکو له کورنۍ سربېره نور شاعران هم په دغه وخت کې وو چې شعرونه یې ویل.)

(د نارنج ماڼۍ کې یې د ادبي دربار بنسټ کېښود.)

لومړۍ جمله ژبنی سلاست نه لري او دویمه څه نا څه مفهومي ضعف لري.

که لومړۍ جمله داسې لیکل شوې وای، نو بدې به یې څه وه؟

«په دغه وخت کې د هوتکیانو پر کورنۍ سربېره نورو شاعرانو هم شاعري کوله»

دغه جمله د نصاب تر جملې هم لنډه او هم رسا ده.

په دویمه جمله کې (د) د اضافت او ملکیت وییکی دی په تعریف کې لولو چې شیان او پدیدې په یو چا یا یو شي پورې اړوندوي.

د دې جملې څخه خو برداشت دا دی چې نارنج یو څوک دی او ماڼۍ د دغه شخص ملکیت دی، په داسې حال کې چې نارنج د ماڼۍ نوم دی او پکار وه د (د) پر ځای د (په) سربل راغلی وای.

د همدې کتاب په ۱۸۴ مخ کې دا لاندې جمله لولو:

«کله چې د مخدره توکو مصرف کوونکی داسې یو حالت ته ورسېږي چې په جبري توگه د نشه یي توکو مصرف ته اړ وي، نو هغه ته معتاد ویل کېږي.»

پاسنۍ جمله د مفهوم له اړخه خنثی ده او ګومان کوم د دري متن څخه را ژباړل شوې ده. ژباړن/مؤلف نه دی توانېدلی چې د پاسنۍ دري جملې مفهوم د پښتو ژبې د جملې په قالب کې مفهومي کړي.

د لسم ټولګي د پښتو وروستی او اته ویشتم لوست عنوان دی: (پښتو لهجې) په دې لوست کې د پښتو ژبې د لهجو د وېش په اړه نسبي تفصيلي، خو له ګڼو جزيياتو سره معلومات را اخيستل شوي دي.

لهجې لومړي په اصلي لهجو (لوېديځه، مرکزي او ختيځه) او بيا په فرعي لهجو ( د وزيرو، خټکو، احمدزو، کاکړو، وردګو، شينوارو او اپريدو) وېشل شوي دي او د تورو په توپير پکې مثالونه هم راغلي دي.

زما نظر او وړانديز د دغه لوست په اړه دا دی چې له لومړي تر دولسم ټولګي پورې بايد زده کوونکو ته د لهجو وېش او نورو داسې درسي موادو څخه ډډه وشي چې قومي او ژبني مسايل رانغاړي، زما وړانديز دا دی چې دغه ډول درسي مواد بايد يوازې او يوازې د ژبو او ادبياتو پوهنځيو په تخصصي دورو کې تدريس او وڅېړل شي چې لږ تر لږه محصلان خو يې ذهني بلوغ ته رسېدلي وي.

**پايله**

د لسم ټولګي د پښتو مضمون د متونو حجم لوړ او د شاګردانو له ذهني سويې لوړ دی. ژبنۍ نيمګړتياوې پکې زياتې او اکثريت جملې يې د مفهوم له اړخه ګونګې او کمزورې دي. د متونو په زياترو جملو يې د ژباړې سيوري غوړېدلی ښکاري. جملې يې له عاطفي اړخه خنثی او تر ډېره ګومان کوې چې کوم تاريخي يا هم د جغرافيې د مضمون متن دې وي. د کتاب انځورګري هم بې خوندي لري، په معاصره زمانه کې رنګونه په ښوونه او رزونه کې ځانګړی نقش لري، خو له سپېره بخته زموږ د نصاب د کتابونو په انځورونو کې د رنګونو رواني او ښوونيز نقش ته چندان پام نه دی شوی.

## مأخذونه


١. باجوړی، بريالی. پښتو لسم ټولګی، د پوهنې وزارت، د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تأليف لوی رياست، کابل، ١٣٩٠ لمريز کال.

۲. بانډه وال، حسن گل، په لومړنیو ښوونځیو کې د ژبې زده کړې لارښود، د کور خپرونو څانګه، ۱۳۷۹، لمریز کال.

۳. شېرزاد، محمد اقا. لیکوالي، جهان دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۳۹۵ کال.

٤. ښکلی، اجمل. د وینا ژبپوهنه، دانش خپرندویه ټولنه، کابل، ۱۴۰۰ لمریز کال.

۵. ښکلی، اجمل. نوی پښتو املایي لارښود، ناچاپ، ۱۳۹۸ لمریز کال.

٦. صالحي، ثناء الله. د تدریس نوي میتودونه او په زده کړه کې یې رول، «ناچاپ»، د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۴۰۳ لمریز کال.

۷. غضنفر، اسدالله. د ژبې ښکلا، صداقت خپرندویه ټولنه، کندهار، ۱۴۰۳ لمریز کال.

۸. نژند، امین الله، خاموش، فروزان. دوست، شکیلا. مومند، محمد یعقوب، فایز، فیض الله.د ښوونکو کتاب، د پښتو ژبې د تدریس لارښود، لسم ټولګی،د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست، کابل، ۱۳۹۲ لمریز کال.

څېړنپوه عبدالرحیم بختانی

# د ګلشن افغان په اړه د کورنیو او بهرنیو پوهانو لیکنې او څېړنې

# Scholarly Research and Academic Perspectives on Gulshan-e-Afghan: Contributions of Afghan and Foreign Scholars

Prof. Abdulrahim Bakhtani

**Abstract**

The manuscript of Gulshan-e-Afghan (the handwritten Dīwān of Ali Akbar Orakzai) is preserved in the Matenadaran Museum of Manuscripts in Armenia. This manuscript was first identified by the scholar Abdullah Bakhtani Khidmatgar in 1963, who subsequently published an article introducing and discussing it. Since then, numerous national and international scholars have produced studies, articles, and research works concerning this manuscript.

This article presents a comprehensive review of the scholarly research conducted on Gulshan-e-Afghan from 1963 to the present (2025). It examines the contributions of both Afghan and foreign researchers and provides an overview of the major studies, findings, and academic discussions related to this important manuscript.

## لنډیز

د گلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي قلمي دیوان ) د ارمنستان د (ماتیناداران) د قلمي نسخو په موزیم کې خوندي دی. دا قلمي نسخه لومړی ځل په ۱۹۶۳ز کال کې څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتگار ولیدله او بیا یې د دې قلمي نسخې په اړه مقاله ولیکله. له همدې نېټې څخه وروسته ډېرو کورنیو او بهرنیو پوهانو ددې قلمي نسخې په اړه لیکنې او څېړنې کړې دي. په دې مقاله کې له ۱۹۶۳ز کال څخه تر اوسمهال (۲۰۲۵ز کال) پورې چې د گلشن افغان په اړه کومې څېړنې شوې دي، د دغو څېړنو په اړه معلومات وړاندې کیږي.

## سریزه

گلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي قلمي دیوان ) په ۱۹۵۴ز کال کې د ارمنستان د ماتیناداران د قلمي نسخو په موزیم کې کشف شوه. دا قلمي نسخه تر اوسه پورې چاپ شوې نه ده، خو ددې قلمي نسخې د محتویاتو، تاریخي او فرهنگي ارزښت په اړه کورنیو او بهرنیو پوهانو لیکنې او څېړنې کړي دي. په دې مقاله کې په کرونولوژیک ډول له ۱۹۶۳ز کال څخه تر اوسمهال (۲۰۲۵ز کال) پورې کورنیو او بهرنیو پوهانو چې د گلشن افغان په اړه کومې څېړنې کړي دي، د هغو په اړه معلومات وړاندې شوې دي.

## د څېړنې اهمیت او مبرمیت

د دې څېړنې اهمیت او مبرمیت په دې کې دی چې گلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي قلمي دیوان ) په نړۍ کې یوازنۍ یوه قلمي نسخه ده، چې په اتلسمه میلادي پیړۍ کې لیکل شوې ده. د دې قلمي نسخې سیاسي، تاریخي، جغرافیایي، فرهنگي او ادبي ارزښتونه باید توضیح او تشریح شي.

## د څېړنې موخه

د څېړنې موخه دا ده چې گلشن افغان وپېژندل شي، لوستونکي یې د دې قلمې نسخې له منځپانگې او محتوا څخه خبر شي او د دې قلمي نسخې د تاریخي، ادبي او فرهنگي ارزښتونو په اړه معلومات تر لاسه کړي.

## د څېړنې پوښتنې

۱- گلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي قلمي دیوان ) څه ډول کتاب دی؟

۲ -دا قلمي نسخه د کومو موضوعاتو په اړه ليکل شوې ده ؟

۳ -ټولنيز،تاريخي، ادبي او فرهنګي ارزښتونه يې کوم دي؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تحليلي او تشريحي ميتود څخه کار اخيستل شوی دی .

## د مقالې متن

**د گلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي د يوان) په اړه د علمي څېړنو پيل:** د علي اکبر اورکزي او د هغه د ديوان د پيژندنې په اړه په ۱۹٦۴ز کال کې عملي کار پيل شو. ولاديمير کوشيف په خپل کتاب « (گلشن افغان) د اتلسمې پېړۍ د افغان شاعر علي اکبر اورکزي تاليف »کې د علي اکبر اورکزي د ديوان او همدارنګه ددې قلمي نسخې په اړه د علمي څېړنو د پيل په برخه کې داسې يادونه کړې ده:

« د شاعر علي اکبر اورکزي له خوا د پښتو او فارسي ژبو د آثارو د يوې ټولګې قلمي نسخه د ماتيناداران په عربي-فارسي وترين کې د ۵۳۸ شمېرې لاندې ساتل شوې ده. لومړی ارينپوه عالم چې له دې نسخې سره بلد شو، پروفيسور ډي. اين. مکينزي و، چې د ۱۹٦۳زکال په پسرلي کې يې له ماتيناداران څخه ليدنه وکړه او د برتانوي موزيم لپاره يې د دې قلمي ديوان يو مايکروفلم ترلاسه کړ. خو د علي اکبر اورکزي قلمي ديوان په علمي توگه يو څه وروسته په ۱۹٦۴زکال کې هغه مهال معرفي شو، کله چې افغان ژبپوه او شاعر عبدالله بختاني خدمتگار په (کابل مجله ) کې پرې يوه مقاله خپره کړه چې د قلمي نسخې او د پښتو ژبې د څو شعرونو د متن لنډ تفصيل يې درلود. » ( کوشيف،۲۰۲۳: ۷مخ).

د گلشن افغان په اړه د ارواښاد استاد څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتگار دغه مقاله چې پورته يې يادونه وشوه، د کابل مجلې د ۱۳۴۳ هـ ل کال د ميزان ـ د ۱۹٦۴ ز کال د اکتوبر او ستمبر په گڼه کې د « علي اکبر اورکزي او د هغه قلمي ديوان ( گلشن افغان) » تر سرليک لاندې چاپ شوه. دغه مقاله د علي اکبر اورکزي ديوان په اړه لومړنۍ علمي ـ څېړنېزه ليکنه ده. دا مقاله بيا په ۱۳۸۹ هـ ل کال کې « د خدمتگار يوه ادبي موندنه (کشف)»په کتاب کې هم چاپ شو. استاد په خپله مقاله کې د علي اکبر اورکزي د ديوان د کشف او تر لاسه کولو په اړه داسې ليکلي دي:

« د ۱۹٦٤ز کال د جولاي میاشتې پر ۲۲مه نېټه مونږ ( د لومونوسوف په نامه د مسکو په دولتي پوهنتون کې د روسي ژبې د استادانو د کورس فارغ التحصیلان ) د ارمنستان په مرکز ( ایریوان ) کې وو. په دغه ورځ ملګري د ښار نندارې ته ولاړل او زه رنځور وم او استراحت مې کاوه. بېګاه چې ملګري راغلل زمونږ معلمې او د دغه ګروپ لارښوونکې په ډېر تاسف راته وویل: بختانیه! ته نن نه وې او مونږ په موزیم کې د پښتو اشعارو یو زوړ قلمي دیوان ولید. زما ملګري ښاغلي معتمد شینواري ددغه کتاب د هغه مخ نه چې ښکاره ایښودل شوی و، یو څه شعرونه را نقل کړي وو. دا کتاب هلته د عربي او فارسي ژبو د قلمي آثارو په لړ کې ایښودل شوی و او داسې معرفي کېده چې دا د یو عربي شاعر د اشعارو دیوان دی. د شپې د ډوډۍ په مهال دا خبره یاده شوه. ما وویل: باید زه سهار دغه موزیم ته ولاړ شم او دغه کتاب وګورم» (۲) ( بختاني خدمتګار، ۱۳۸۹ : ٥-٦ مخونه).

د مقالې په بله برخه کې د قلمي نسخې د لیکوال او د قلمي نسخې د متن او نورو خصوصیاتو په اړه داسې معلومات وړاندې شوي دي:

« د کتاب مؤلف په مقدمه کې خپل اصل او نسب داسې معرفي کړی دی: علي اکبر ابن قاسم خان اورکزی قوم افغان ساکن تیرا خیبر. شاعر دغه پښتو شعرونه د خپلې ځوانۍ په موده کې لیکلي دي. ډېر ساده، روان او عام فهمه دي. اشعار یې اکثراً د رحمان بابا د اشعارو په وزن او د هغه سبک ته نژدې دي. په نورو وزنونو غزلونه، ترجیع بندونه، قصیدې او رباعیات هم لري. د کتاب صفحې نومرې نه لري. د اشعارو په کسر کې یې خپل لنډ نوم ( اکبر ) ذکر کړی دی. ځینې شعرونه یې کسر نه لري، خو د هغه په ځای دغومره ځای چې یو بیت پکې لیکل کیږي سپین پاته دی. په منځ منځ کې ځینې صفحې او پاڼې هم سپینې دي. داسې ښکاري چې دیوان پخپله د شاعر په قلم لیکل شوی دی »(۳) ( بختاني خدمتګار، ۱۳۸۹ : ۷مخ).

د علي اکبر اورکزي په قلمي دیوان کې د شاعر پښتو او فارسي شعرونه او نثرونه دي. په یاد دیوان کې د علي اکبر د شعرونو او نثرونو تر څنګ د ځینو نورو شاعرانو شعرونه هم شته. د مقالې په بله برخه کې په دې اړه داسې یادونه شوې ده:

« له پښتو اشعارو نه د مخه د پارسي شاعرانو یو څه شعرونه دي او د پښتو اشعارو نه وروسته د رحمان بابا یو شعر هم شته. ورپسې بیا د شاعر یوه بله فارسي منظومه رساله

ده چې ( شاه شاهان ) نومېږي او د ( حضرت شاه نقشبند ) په ستاینه کې ده . بیا په فارسي نظم د ( نسب نامۀ شاه نقشبند) په نامه بله رساله ده، وروسته بیا د شاعر د وخت د بادشاه په اړه، په خپله دده د سفرونو او د دوستانو او دښمنانو په اړه په فارسي ژبه منظوم حکایتونه دي چې دا ټول د علي اکبر اورکزي خپل آثار دي او په یو راز لیکدود لیکل شوي دي. د پښتو اشعار یې په فارسي ژبه یوه سریزه لري. ما دغه سریزه را نقل کړې ده، چې په دې سریزه کې په فارسي نثر کې د شاعر قلمي قدرت، د هغه د معلوماتو اندازه، د شعر او پښتو ژبې په باره کې د هغه فکر او نظر په ښه توګه ثرګندیږي »(۴) ( بختاني خدمتګار، ۱۳۸۹ : ۸مخ).

په ۱۹۶۴ز کال کې د ګلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي دیوان ) میکروفلم کابل ته راورسېد. په دې اړه استاد خدمتګار په خپل کتاب د خدمتګار یوه ادبي موندنه (کشف) کې داسې یادونه کړې ده:

« د ١٩٦٤ز کال د نومبر په ۲۳ مه، چې ما دغه نسخه ولیدله وپوهېدم چې د یو تیراوال پښتون شاعر د شعرونو دیوان او د هغه په قلم په فارسي ژبه لیکل شوې رسالې دي، نو له سهاره تر مازیګره پورې مې ترې یادداشتونه واخیستل، بیا کابل ته راغلم وربانديې مې مقاله ولیکله، چې په هماغه کال د کابل مجلې د ستمبر ـ اکتوبر په ګڼه کې خپره شوه. زما د غوښتنې پربنسټ، د نسخې میکروفلم کابل ته ورسېد. پوهاند عبدالحی حبیبي هغه وکوت، مقاله یې پرې ولیکله، چې زما تر هغې پنځه کاله وروسته په ( وږمه ) کې خپره شوه. »(۵) ( بختاني خدمتګار، ۱۳۸۹ : ۲مخ).

له پورتنیو لیکنو څخه ثرګنده شوه، چې څېړنپوه عبدالله بختانی خدمتګار لومړی څېړونکی و، چې د ګلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي دیوان ) په اړه یې مقاله ولیکل او مقاله یې په کابل مجله کې چاپ شوه. پنځه کاله وروسته په ۱۳۴۸ هـ ل ـ ۱۹۶۹ز کال کې پوهاند عبدالحی حبیبي د ګلشن افغان ( د علي اکبر اورکزی دیوان ) په اړه ( د علي اکبر اورکزي دیوان یا ګلشن افغان ) تر سرلیک لاندې مقاله ولیکله، چې په وږمه مجله کې چاپ شوه. پوهاند عبدالحی حبیبي په خپله مقاله کې د ( ګلشن افغان ) د لیکوال او قلمي نسخې په اړه داسې یادونه کړې ده:

« د ارمنستان د جمهوریت د مرکز ایرېوان په کتابخانه کې یو ډېر خوشخطه او ښکلی منقوش او مذهب ( طلا کاري ) او مصور دیوان سته، چې په هغه کتابخانه کې ئې

نمبر (۵۳۸ ) دی. نه پوهېږم چې دغه قلمي ښکلې او مصوره نسخه څنګه له پښتونخوا او کشمیره ارمنستان ته وړل سوې ده؟ د دې نسخې یو مېکرو فلم د کابل په عامه کتابخانه کې سته. د نسخې خط ښکلی نستعلیق دی او ځینې مصور مخونه هم لري، د تصویر او تذهیب سبک ئې کشمیري او متاخر دی، خو د ښکلا او رنګ او تصویر او تذهیب اټکل ئې په تور میکرو فلم کې ښه نه معلومیږي او فقط دونې ښکاري چې یوه ښکلې او ښه خوشخطه نسخه ده .علي اکبر په قوم اورکزي دی، دا پښتون قوم په تیراه او د کورمې په سیمو کې له قدیمه اوسي او دا هغه وادي ده ، چې تر اسلام د مخه د کوشانیانو د وروستنیو شهزادګانو او د کابلشاهانو په لاس کې وه او اکثر د هندوستان تجارتي کاروانونه او د فاتحانو لښکر به له دغو سیمو څخه تېرېدل. علي اکبر اورکزی له دې ځایه د ۱۱۶۵ هـ ق په حدودو کې هندوستان ته تللی او په اکثرو ښارو ګرزېدلی دی، دده وظیفه غالباً عسکریت دی، خو په پښتو او فارسي ژبو ښه شاعر او لیکوال هم و »(٦). ( حبیبي، ۱۳۴۸ : ۴٦ـ۵۱ مخونه).

پوهاند عبدالحی حبیبي د علي اکبر اورکزي د شعرونو له مطالعې څخه وروسته هندوستان ته د علي اکبر اورکزي د تګ په اړه او همدارنګه د علي اکبر اورکزي د شعرونو د تاریخي اهمیت په اړه داسې لیکې:

« له دې قصیدې څخه ښکاري چې علي اکبر د احمد شاه بابا په زمانه کې کشمیر ته تللی و، ځکه چې نورالدین خان مصلح الدوله پوپلزي په ۱۱۷۵هـ ق ـ ۱۷۵۱ز کال کې له احمد شاهي دربار د کشمیر ناظم مقرر سوی او هغه ځای یې فتح کړی و، خو وروسته د ۱۱۸٦هـ ق ـ ۱۷۷۲ز کال په حدودو کې حاجي کریمداد خان پوپلزي عرض بیګي د کهندل خان زوی هلته مقرر شوی دی او لکه چې علي اکبر په خپل دیوان کې اشارې کوي، دغه حاجي کریمداد د ده مخالف و. دی وایي: ( کریمداد قوم دراني افغان با حقیر عناد ذاتي داشت ) (د افغانستان د دراني قبیلې کریمداد د حقیر په وړاندې ذاتي کینه درلوده). د اکبر په پښتو او فارسي اشعارو کې د ده د عمر ډېر وقایع ذکر شوي دي. دی په پښتو اشعارو کې د متوسطې درجې شاعر ګڼل کېږي او کله نامانوس الفاظ هم استعمالوي، چې ښائي هغه داورکزو له خاصو محاورو څخه وي »(۷) ( حبیبي، ۱۳۴۸ : ۴٦ـ۵۱ مخونه).

د پوهاند عبدالحی حبيبي له مقالې څخه وروسته دريېم څېړونکی چې د ( گلشن افغان ) په اړه ليکنه کړې ده، شرقيه قاسمووا ده. شرقيه قاسمووا په دري ژبه « تاريخچه يک دست خط » ـ « د يوې قلمي نسخې تاريخچه » تر سرليک لاندې مقاله وليکله چې دغه مقاله په ۱۳۵۱هـ ل ـ ۱۹۷۲ز کال کې لومړی د (اخبار) په مجله کې او بيا د (کاروان) په ورځپاڼه کې چاپ شوه. شرقيه قاسمووا د مقالې په پيل کې د (گلشن افغان) د ادبي او تاريخي اهميت او بيا د (گلشن افغان) د پېژندنې په برخه کې د ولاديمير کوشيف د هلو ځلو په اړه داسې ليکې:

« نړۍ يوازې د شلمې پېړۍ تر پيل پورې د پښتو محدود شمير نسخې پيژني. له همدې امله، د پښتو خطي نسخې د افغان ملت د ليکلي کلتور په خزانه کې يوه ارزښتناکه ټولگه گڼل کېږي. د (گلشن افغان) خطي نسخه هم د سينټ پيټرزبورگ د تکړه مستشرق ولاديمير کوشيف له خوا مطالعه او تر څېړنې لاندې ونيول شوه. څو کاله وړاندې، کله چې ولاديمير کوشيف په افغانستان کې و، افغان ليکوال عبدالله بختاني خدمتگار روسي عالم ته وويل چې د ارمنستان د ماتيناداران په موزيم کې په لاس ليکل شويو نسخو کې، يو په زړه پورې افغاني قلمي نسخه ساتل شوې ده، چې د شعرونو دوه ټولگې پکې شاملې دې او کوشيف ته يې وړانديز وکړ چې هغه پورته ذکر شوې ټولگې مطالعه کړي. له يو کال ژورې او دقيقې څيړنې څخه وروسته، د افغان کلتور په تاريخ کې يوه بله پاڼه واړول شوه. لکه څنگه چې ولاديمير کوشيف باور لري، هغه افغاني قلمي نسخه چې په ماتيناداران کې ساتل شوې په نړۍ کې يوازينۍ قلمي نسخه ده.د دې اثر ليکوال نږدې دوه پېړۍ هغو خلکو ته معلوم نه و. دا سمه ده چې د پوپلزي په کتاب کې چې (تيمور شاه دراني) نوميږي، د خانانو نومونو، پوهانو، شاعرانو، ليکوالانو او عالمانو په ليست کې چې د تيمور شاه په وخت کې يې ملي او ادبي نفوذ درلود، د علي اکبر خان اورکزي نوم هم ياد شوی دی. مگر يوازې نوم، پرته له دې چې د هغه په اړه کوم معلومات ذکر شي (۸) (قاسمووا ، ۱۳۵۱ : ۳ مخ).

شرقيه قاسمووا د مقالې په پای کې د (گلشن افغان) د رباعياتو او قصيدو او په ځانگړې ډول د علي اکبر اورکزي د خيالي قصيدې په اړه داسې ليکې:

« (گلشن افغان ) له غزلونو، نظمونو او رباعیانو څخه جوړه ده او د الفبا په ترتیب سره نه ده ترتیب شوې لکه څنگه چې په دیوانونو کې عام دي. د دې ټولگې ډېرې پاڼې خالي دي. د پاڼو په حاشیو کې، د شعرونو مختلف ډولونه او د لیکوال اصطلاحات ذکر شوي دي. دا ټول په دې دلالت کوي چې دا نسخه پخپله د شاعر له خوا لیکل شوې ده. د گلشن افغان ټولې اته قصیدې د لیکوال ژوند لیک پورې اړه لري. اتمه قصیده، چې تر ټولو اوږده گڼل کېږي او هغو پیښو ته وقف شوې چې لیکوال پخپله پکې برخه اخیستې وه، دا قصیده تر ټولو نه په زړه پورې قصیده ده. لیکوال څو کاله په کشمیر کې تېر کړل او له ډېرو لوړ پوړو شخصیتونو سره یې اړیکې درلودې. لکه څنگه چې د هغه له شعرونو څخه څرگندیږي، هغه په ځانگړي ډول هغه شعر ځان ته وقف کړ. د ډېرو دسیسو په پایله کې، شاعر اړ شو چې کشمیر پرېږدي او ډېر وخت یې په جلاوطنۍ او غربت کې تېر کړ. دریمه او شپږمه قصیده د شاعر د جلاوطنۍ د کلونو احساسات منعکسوي. هغه د کریمداد خان د ظلم او حتی د هغه د ملگرو او خپلوانو په وړاندې د هغه د بې عدالتۍ کیسه کوي. په څلورمه قصیده کې، شاعر، چې په جلاوطنۍ کې دی، باد ته خطاب کوي او خپل گران وطن ته یې د سفر لارښونه کوي. په دې قصیده کې، شاعر د هغو ډېرو ښارونو یادونه کوي چې پکې یې ژوند کړی دی او د هغه د ډېرو خپلوانو او پېژندگلو یارانو یادونه شوې ده. هغه په ذهني توگه هڅه کوي چې له ټولو ښارونو څخه تېرېږي او له امیر حسن، احمد جان او نورالله سره وگوري (۹) (قاسمووا ، ۱۳۵۱: ۳ مخ).

د شرقیه قاسمووا د مقالې له چاپ څخه شپږ کاله وروسته په ۱۳۵۷ هـ ل ـ ۱۹۷۸ز کال کې څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتگار د علي اکبر اورکزي ژوند لیک په پښتانه شعرا څلورم ټوک کې چاپ کړ. په دې مقاله کې د علي اکبر اورکزي د دیوان او د هغه د ژوند لیک په اړه معلومات وړاندې شوي دي، چې یوه برخه یې دلته را اخلو:

« علي اکبر د قاسم زوی، په خټه اورکزی، د تیرا د خیبر اوسېدونکی، د احمد شاه بابا معاصر و. دده د دربار د ځینو مشرانو لکه: وزیر شاه ولي خان او حاجي کریمداد خان سره یې پېژندگلوي درلودله او په دولتي او حربي چارو کې یې همکاري کوله. دی د رواني طبعې څښتن د پښتو او دري خوږ ژبی شاعر، خطاط او رسام و. مونږ دی، د ده د شعرونو د هغې مجموعې له مخه پېژندلی دی چې د شوروي ارمنستان،

د ايريوان د ښار د ماتينا داران د قلمي نسخو په موزيم کې تر ۵۳۸ لمبر لا ندې خوندي ده. شاعر په دې کتاب کې ځان: ( علي اکبر ابن قاسم خان اورکزی قوم افغان ساکن تيرا خيبر ) معرفي کړی دی. د اشعارو په کسر کې يې اکثراً خپل لنډ نوم ( اکبر ) راوړی دی. ځينې شعرونه يې کسر نه لري او د کسر ځای يې سپين پاته دی. دا کتاب د ديوان په شکل نه دی او د مسودې او بياض رنګ لري .

د همدې دلايلو له مخه زما دا رايه ده چې دا کتاب به په خپله د مولف په ليک ليکل شوی وي. دا رايه د ښاغلي کوشيف له خوا هم تائيد شوې ده. دا کتاب ميناتورونه هم لري او د ښاغلي کوشيف د څېړنو له مخه ميناتورونه هم د مولف په قلم دي .

کتاب دوه برخې لري: د پښتو او دري شعرونو مجموعې او هره برخه يې په دري ژبه يوه مقدمه لري. په پښتو برخه کې غزلونه، ترجيع بندونه، قصيدې او رباعيات دي او په دري برخه کې د مثنوي او قصيدې شکلونه دي، چې اجتماعي، اخلاقي، تصوفي، عشقي او حماسي موضوعات لري. د کتاب د ليکلو او تاليف نيټه نه ده معلومه، مګر د ځان په باره کې شاعر په يوه قصيده کې وايي چې زه د نادر شاه په زمانه کې زېږيدلی يم» (۱۰) ( بختاني خدمتګار، ۱۳۵۷: ۲۸۷ ـ ۲۸۹مخونه).

په ۱۳٦۵هـ ل ـ ۱۹۸٦ز کال کې څېړنپوه زلمي هېوادمل روسيې ته سفر کړی و، هغه د خپل سفر په جريان کې د ولاديمير کوشيف په مرسته د ګلشن افغان قلمي نسخه مطالعه کړې وه، بيا يو شمېر ليکنې کړې دي، چې ( د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع ) کتاب کې چاپ شوې دي. د دغو ليکنو په اړه « د خدمتګار يوه ادبي موندنه (کشف)» په کتاب کې داسې يادونه شوې ده:

« د ګلشن افغان او د هغه د ليکوال په اړه سرمحقق زلمي هېوادمل هم يو لړ څېړنېزې ليکنې کړې دي. نوموړي د ۱۳٦۵ هـ ل کال د سرطان په مياشت کې د سنت پترز بورګ د ختيځ پېژندنې د موسسې خطي نسخې کتلې. په دې لړ کې يې د نوموړې موسسې د علمي غړي ولاديمير کوشيف په مرسته د ګلشن افغان فوتوکاپي نسخه او پر هغه سربيره د کوشيف يادداشتونه هم وکتل. د پخوانيو ماءخذونو تر څنګ يې د دغو نوو مطالعاتو په حواله لاندې ليکنې کړې دي، چې ( د پښتو د ادبي تاريخ خطي منابع ) کتاب کې چاپ شوې دي:

۱ ـ ګلشن افغان مصوره نسخه ۴۲ ـ ۴٦ مخونه.

۲ ـ د علي اکبر د نظمونو منتخب له روسي ترجمې سره ۵۲ ـ ۵۳ مخونه.
۳ ـ د علي اکبر بولله د خوشحال شهید ویرنه ۸۵ ـ ۸۷ مخونه.
۴ ـ گلشن افغان ۱۲۴ ـ ۱۲٦ مخونه »(۱۱) ( بختاني خدمتگار، ۱۳۸۹: ۵۲ او ۵۳مخونه).

همدارنگه څېړنپوه زلمي هېوادمل په خپل کتاب « په هند کې د پښتو ژبې د ایجاد او ودې پړاونه ـ دریم چاپ » کې د علي اکبر اورکزي پر ژوند لیک او د گلشن افغان د خطي نسخې په مختلفو اړخونو د کتاب له ۳۷۳ مخ څخه تر ۳۸۰ مخه پورې لیکنې کړې دي، چې ځینې مهمې برخې یې دلته وړاندې کوم:

« علی اکبر اورکزی هغه شاعر دی چې د ژوند څه برخې یې په هند کې تیرې کړې دي، ژوند او هنر یې له دې ځمکو سره په ارتباط کې دی. د علي اکبر اورکزي د پېژندگلو له تاریخه لا ډیر وخت نه تیریږي. دا په دې معنی چې تر ۱۳۴۳ هـ ل ـ ۱۹٦۴ز کال د مخه لا د پښتو ادبي څېړنې افغان او خارجي څیړونکي د دغه شاعر له نامه سره نا آشنا و. د ده د آثارو په مجموعه کې د ده د پښتو اشعارو مجموعه هم شته چې په پیل کې یوه مقدمه لري. دا مقدمه په فارسي ژبه ده، تر مقدمې وروسته د ده پښتو اشعار راغلي دي چې قصاید، غزلې، رباعي، ترجیحات او نور شعري انواع لري. د ده په فارسي آثارو کې یې هم قصاید، غزلې، رباعي او مخمسونه شته. د ده د آثارو دغه مجموعه مصوره ده. تصویرونه، میناتورونه او نور یې د کشمیر کار معلومیږي او داسې ښکاري چې دا مصوري به پردې نسخه په کشمیر کی شوې وي.

په دې نسخه کی راغلي تصویرونه د شاعر له ژوند او مشرب سره اړه لري. د ده د آثارو او د نورو څیړنو له مطالعې موږ همدومره څه د ده د ژوند او اند په باب ایستلای شو. د ژوند د وروستیو برخو په باب یې معلومات له موږ سره نشته او نه پرې پوهېږو چې آخر ژوند به یې په هند کې تېر وي او که به بیرته ورکزیو ته راغلی وي؟ ځکه له یوې قصیدې خو یې ښکاري چې ده هند او په زیاته کشمبر ته تگ راتگ درلود د یوې قصیدې له یوه بیته یې دا راوزي چې دی تر ۱۱۹۰ هـ ق ـ۱۷۷٦ز کال پوري ژوندی و.

د علی اکبر اورکزي د پښتو اشعارو مجموعه یا گلشن افغان د شعري انواعو له پلوه داسې څه نه لري چې تر ده د مخه دی په دې سیمه کی اوسیدلو پښتنو شاعرانو په

هغو ژانرونو کې شاعري نه وي کړې. په فکري او موضوعي لحاظ د عشق او محبت او اخلاقو د مکررو موضوعاتو د بیان ترڅنګ د ده پښتو کلام ځینې واقعاتي خبرې هم لري چې د واقعه نګاري له پلوه د هغه زمان له تاریخي وثایقو سره په کتنه کې څه پر مرتب کیدای شي»(۱۲) ( هېوادمل، ۱۳۹٦: ۲۷۳ او ۲۸۰مخونه).

روسي ختیځپوه ولادیمیر کوشیف ( د دراني ستراوکې پر مهال د افغان شاعر علي اکبر اورکزی سرګردانۍ ) تر سرلیک لاندې مقاله لیکلې ده. دغه مقاله په ۱۹۸۹ز ـ ۱۳٦٦ هـ ل کال کې د ( هېوادونه او ختیځ خلک ) په مجله کې په روسي ژبه چاپ شوې ده. کوشیف په دې مقاله کې د علي اکبر اورکزی پر ژوند لیک، ورځنیو فعالیتونو او د ګلشن افغان د خطي نسخې پر مختلفو موضوعاتو باندې څېړنه کړې ده. د مقالې په پیل کې یې د علي اکبر اورکزي د ژوند لیک او د ګلشن افغان د خطي نسخې په اړه داسې لیکلي دي:

« په دې قلمي نسخه کې د علي اکبر اورکزي د پښتو شعرونو تر څنګ د شاعر دري شعرونه او نثري آثار هم شته. د علي اکبر آثار یوازې هنري آثار نه دي، د علي اکبر لیکنې د دې ښکارندویي کوي، چې دی یو تکړه لیکوال و، د شاعرۍ او لیکوالۍ تر څنګ یو تکړه خطاط او هنرمند هم و. هغه خپل کتاب په ښه نستعلیق خط لیکلی او ځینې ځایونه یې په کې انځور کړې دي.

په عمومي ډول هغه هرڅه چې لیکلي دي، هم په زړه پورې او هم اصلي سرچینه ده، لیکوال په دغه کتاب کې د دراني ستراوکۍ د تاریخي اشخاصو په اړه معلومات وړاندې کړي دي. کومو سیمو ته چې علي اکبر سفرونه کړي، د هغو سیمو او خلکو په اړه یې خپل خاطرات بیان کړي دي. هغه ډېر سفرونه کړي، په پوځي تعلیماتو او جګړو کې یې برخه اخیستې، د امپراتورۍ په ختیځ کې یې د والي په دفتر کې دنده ترسره کړې او د ژوند ځینې پېښې یې د افغاني ټولګې (ګلشن افغان) او دري کلیاتو په پاڼو کې منعکس شوې دي. په دې توګه د علي اکبر دیوان د پښتو ادبیاتو په تاریخ کې ډېر اهمیت لري. د دې کتاب په زیاترو برخو کې لوستونکو ته د سیمي د تاریخي او جغرافیایي معلوماتو په اړه لېوالتیا پیدا کېږي. زما په مقاله کې د اتلسمې پېړۍ د افغان شاعر علي اکبر اورکزي په ژوندلیک کې هڅه شوې، چې د هغه د ژوند حقایق

د یوه شاعر، هنرمند او سیاستوال په توګه وپیژنو. زه غواړم هغه سیمې وپیژنم، چې علي اکبر هغو سیمو ته سفرونه کړي.»(۱۳) ( کوشیف، ۱۹۸۹ : ۲۱۵ او ۲۱۷مخونه).

د علي اکبر اورکزي په ګلشن افغان کې پښتو قصیدې ډېر ځانګړی تاریخي او جغرافیایي اهمیت لري. ولادیمیر کوشیف په خپله مقاله کې د علي اکبر اورکزي د خیالي سفر د قصیدې په اړه مفصل معلومات وړاندې کړي دي، چې ځینې برخې یې دلته وړاندې کوم:

« د علي اکبر د سرګردانۍ د انعکاس په توګه، د سیندونو، غرونو، سیمو او استوګنځایونو نومونه په دوامداره توګه د نسخې په پاڼو کې ښکاري، مګر د ډېرو ځایونو نومونه په هغه قصیده کې بیان شوي دي، چې شاعر د اوږده سرک په اوږدو کې خیالي سفر کوي. شاعر د الوداع په ویلو سره سم له لکنهو څخه وځي. د کشمیر د پرېښودو په اړه هم کیسې کوي. شاعر په دې قصیده کې د هند د لکنهو، کتهر او راجپوتانه سیمو په اړه هم خبرې کوي. هغه د اټک سویل ختیځ ته د غزنۍ سیمې یادونه کوي. شاعر په خپل خیالي سفر کې راجستان د خپل اصلي ټاټوبي سره پرتله کوي. له دې ځای څخه د کتهر لیدل ورته ګران کار دی، ځکه چې د بنګال پولو ته نږدې ختیځ ته خورا لرې موقعیت لري.

علي اکبر په خپلو خیالي سفرونو کې د ډېرو ښارونو او کلیو له لارې سفر کوي، په دې خیالي سفرونو کې د هغو خلکو د لیدلو لپاره درېږي چې هغوی یې درناوی کوي، له سیندونو او غرونو څخه تېرېږي. روهیلکهنډ شاته پاتې شو او شاعر ځان په پنجاب کېویني: « سرهند ته نږدې شو، معاذ الله ته زما سلام ووایه.» علي اکبر اورکزي د لویې خیالي قصیدې په یوه برخه کې د جیهلم سیند او روهتاس تاریخي کلا په اړه په خپل خیال کې باد ته داسې وايي: « په پنجاب کې د خپلو دوستانو او خپلوانو ټولو کورونو کې وګرځئ او د جهلم په تېرېدو سره روهتاس کلا ته ولاړ شئ». شاعر په خپل خیالي سفر کې باد ته وايي: « اټک ته لاړ شه، هلته میاه یحی ته درناوی وکړه». علي اکبر، ظاهراً د دې پیر ډېر احترام کاوه: « په دې ډول د لوړو رازونو ماڼۍ ته الوتنه وکړه ، په ژور احترام سره سلام وکړه، په آرامۍ سره، هرڅه پرېږده، د هغه په قبر کې دعا وکړه . »

بیا نوښار کلي ته د لارې په اوږدو کې لاړ شه، هلته به خامخا ملا سعید ووینې، د پسرلي په یوه ورځ د میرې خوا ته مزل وکړه او زما درناوی او سلامونه ورته ورسوه. له دې وروسته به باد د تیرا د شاه آباد کلیو، میاه عمر او خمکني د صوفي مشرانو په لور الوتنه وکړي. همدارنگه د کوټلې کلي ته لاړ شه، چې په هغه ځای کې د علي اکبر پلار، نږدې کسان او خپلوان اوسېږي. »(۱۴) ( کوشیف، ۱۹۸۹: ۲۱۵ او ۲۱۷مخونه).

د روسیې د علومو اکاډمي د سنټ پیترزبورگ د ختیځ پیژندنې انستیتوت علمي غړي ولادیمیر واسیلوویچ کوشیف د افغان شاعر او لیکوال علي اکبر اورکزي د ( گلشن افغان ) د محتویاتو او موضوعاتو په اړه « (گلشن افغان) د اتلسمې پیړۍ د افغان شاعر علي اکبر اورکزی تالیف» تر سرلیک لاندې د دوکتورا تیزس په روسي ژبه لیکلی دی. دا کتاب په ۲۰۰۳ز کال کې چاپ شوی دی. کوشیف په خپل کتاب کې د (گلشن افغان) د لاندې موضوعاتو په اړه څېړنه کړې ده:

**د قلمي نسخې ځانگړتیاوې:** صحافت، کاغذ، ډیزاین، یادښتونه، د (گلشن افغان ) د قلمي نسخې د پښتو او فارسي شعرونو او نثرونو د محتویات څېړنې، د علي اکبر اورکزي د ژوندلیک، ادبیات، تصوف، سیاست او پوځي مصروفیتونو په اړه، د لویې لارې په اوږدو کې د علي اکبر اورکزي د خیالي سفر په اړه څېړنه او معلومات، د علي اکبر د ژبې ځینې ځانگړتیاوې، د میناتورونو او انځورونو په اړه معلومات، په روسي ژبه د دریو لاندې قصیدو ژباړې: ۱ ـ د نادر شاه او احمد شاه په اړه قصیده، ۲ ـ د اصلي ځایونو، ملگرو او دوستانو په اړه قصیده، ۳ ـ د افتوبیوگرافي قصیده. ولادیمیر کوشیف د (گلشن افغان ) د قلمي نسخې د صحافت، کاغذ او ډیزاین په اړه لیکي:

« د قلمي نسخې صحافت له څو پوړیز کارت بورډ کاغذ څخه جوړ شوی چې په تور چرم پوښل شوی، چې ډیر خراب شوی او نسواري رنگ لري. داسې ښکاري، چې د کتاب د صحافت په وخت کې د کتاب پوښ لوند و او له وچیدو څخه وروسته، چرم مات شو او کونجونه یې ټوټې ټوټې شوي دي. د پوښ د ننه برخه یې له نسواري او سور چرم سره پوښل شوې ده. دواړه پوښونه د ملا له تیر څخه جلا شوي او بیا تنظیم شوي دي. د دې قلمي نسخې صحافت د بهاءالدین پیښوري په نوم د یو استاد له خوا شوی و.

هغه کاغذ چې متن پرې لیکل شوی دی کشمیري اصلي کاغذ دی. کاغذ یې نری، ځلیدونکی او کریمي رنګ لري.د پاڼې منځنۍ برخه چې متن لري تیاره خړ رنګ لري. په ځینو پاڼو کې د دې برخې او حاشیو ترمنځ د رنګ توپیر په ځانګړې توګه د پام وړ دی. د میناتورونو کاغذ غټ او ګڼ دی. د کتابکونجونه او څنډې د کشمیري کاغذ په واسطه بیا رغول شوی دی.۲، ۳، ۷۲، ۸۷،۷۲، ۲۱۲، او ۲۱۳ پاڼې یې په خراب ډول ګنډل شوي، چې ځینې یې له مینځه تللي دي. وروستۍ پاڼه یې (۲۲۵ب) لوی مربع شکل مهر لري. پښتو او فارسي متنونه په تور رنګ لیکل شوي دي. په ۱۴ب، ۱۸ب، ۸۲الف، ۸۹ب، ۱۰۱ب، او ۱۳۵ب ، د ۷۸ب، ۷۹الف پاڼو کې لیکنې او ګڼ شمېر سرلیکونه، نقشې او رسمونه له سور، ژیړ، ګلابي، ارغواني، شین او نیلي رنګونه کارول شوي دي. سرلیکونه او نورې مهمې کلمې په تور رنګ لیکل شوي دي»
(۱۵) ( کوشیف،۲۰۲۳: ۸ او ۹مخونه).

د علي اکبر اورکزی (ګلشن افغان) د پښتو او فارسي شعرونو د محتویاتو په اړه کوشیف په خپل کتاب کې څېړنه کړې ده، چې ځینې برخې یې په دې ډول وړاندې کیږي:

« دا قلمي نسخه دوه اصلي برخې لري: په پښتو ژبه کې د شعرونو ټولګه او په فارسي ژبه کې د شعرونو او نثرونو ټولګه. د هرې برخې سریزه په فارسي ژبه ده. په لومړۍ برخه کې شاعر لوستونکي ته د خپل تخلیقي ژوندلیک ځینېبرخې او د دواړو دیوانونو د لیکلو تاریخ معرفي کوي، همدارنګه د شعر او ادب په برخه کې د خپل چلند په اړه څرګندونې کوي.

د قلمي نسخې پښتو برخه یې صوفیانه غزلونه لري، چې د شاعر د کار له لومړیو دورو سره اړه لري او وروسته رباعي، ترجیح، بندونه او اوږدي قصیدې دي، کوم چې د سرچینې د مطالعې له نظره خورا په زړه پورې دي، ځکه چې نوموړی قصیدې تقریبا ټول تاریخي معلومات وړاندې کوي.»(١٦) ( کوشیف،۲۰۲۳: ١٦مخ).

علي اکبر اورکزي په پښتو او فارسي ژبو لیکنې کولې او شعرونه یې ویل او پر دواړو ژبو یې ښه تسلط درلود. له همدې کبله کوشیف په خپل کتاب کې پر دغه موضوع باندې ژوره څېړنه کړې ده، چې ځېنې برخې یې دلته وړاندې کوم:

«علي اکبر د ادبي فعالیتونو درناوی کاوه، د فارسي او پښتو شعرونو غوره آثارو ته یې ډېر ارزښت ورکوه. هغه په خپلو شعرونو کې هڅه کوله چې د هنري اظهار په وسیلو

او د هغو ژبو په بډايه لغتونو کې مهارت ولري چې پکې يې خپل شعرونه ليکلي دي.
هغه د خپلو شعرونو د يوې ټولگې په سريزه کې داسې ليکلي دي:

« د ليکلو هنر يوه لويه او مهمه موضوع ده، په ځانگړې توگه د هغو پښتو کلمو راټولول او ترتيب چې په ندرت سره کارول کيږي او د عمومي خبرو اترو لپاره نه دي. ظاهراً علي اکبر په پښتو او فارسي ژبو کې په مساوي ډول ښه تسلط درلود، لکه څنگه چې د هغه له آثارو څخه څرگنديږي، له دې توپير سره چې د هغه په فارسي شعرونو کې د هنري اظهار د شاعرانه وسيلو کارول خورا څرگند دي. شاعر فارسي ژبه (دري) بولي، په ټول فارسي متن کې پښتو ژبه (افغاني) بلل کيږي او د (افغان) اصطلاح هلته افغانانو، افغان خلکو، افغان قبيلو او داسې نورو ته کارول کيده. د علي اکبر د پښتو ژبې د آثارو لغتونه د عمومي پښتو لغتونو او د ختيځې ډلې په ژبو پورې له اړوندو لغتونو څخه جوړ دي، چې د پښتو ژبې لپاره عامې کلمې لري. علي اکبر د نورو معاصرو شاعرانو په څير تقريبا پرته له کوم محدوديت څخه په پښتو متن کې فارسي لغتونه کاروي. د هغه شعرونه موازي، ډېر وختونه مساوي او ډېر وختونه څنگ په څنگ فارسي او پښتو مترادفات لري»(١٧) ( کوشيف،٢٠٢٣: ١٦مخ).

د ولاديمير کوشيف علمي ـ څېړنيز کتاب ( «گلشن افغان» د اتلسمې پيړۍ د افغان شاعر علي اکبر اورکزي تاليف) کې د (گلشن افغان) قلمي نسخې د مختلفو موضوعاتو په اړه ژوره څېړنه تر سره کړې ده، چې دغه اثر د پښتنو د ادب، تاريخ او جغرافيايي موضوعاتو په اړه گټور علمي کتاب دی. په دې برخه کې زما وړانديز دا دی چې دا کتاب د افغانستان د علومو اکاډمي د ژبو او ادبياتو مرکز او يا د پښتو څېړنو بين المللي مرکز د علمي غړو له خوا په پښتو او دري ژبو وژباړل شي.

له پورتنيو ليکنو او څېړنو څخه وروسته دې پايلې ته رسيږو چې له نن څخه نږدې دوه شپيته کاله وړاندې په ١٩٦٣ز کال کې دغه قلمي نسخه د څېړنپوه عبدالله بختانی خدمتگار او څېړنپوه معتمد شينواري له خوا د ارمنستان د ايريوان ښار د ماتيناداران په موزيم کې تر لاسه شوه. له هغه مهال څخه تر اوسه پورې نږدې (٦٢) کاله کيږي، په دې اوږده موده کې د دې قلمي نسخې پر موضوعاتو، شعرونو او نثرونو باندې ډېرې ليکنې شوې دي، خو اساسي کار چې ددې قلمي نسخې چاپ دی تر اوسه پورې نه دی شوی. له نېکه مرغه د دې قلمي نسخې پښتو برخه يې د څېړنپوه دوکتور

عبدالظاهر شکیب له خوا د اکاډمیکو اصولو او معیارونو مطابق تدوین او د چاپ لپاره تیاره شوه، خو تر اوسه لا چاپ شوې نه ده. د گلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي پښتو دیوان ) د تدوین کار په ۱۴۰۳ هـ ل کال کې پای ته ورسېد او په (۱۶۰) مخونو کې د چاپ لپاره تیار شو. د نوموړي دیوان په پیل کې د پښتو څېړنو بین المللي مرکز مشر اکاډمېسن دوکتور سید محی الدین هاشمي نظر وړاندې شوی دی. د نوموړي د نظر یوه برخه په دې ډول ده:

« تر کومه چې خبره د شاعر د شعرونو دغه دیوان «گلشن افغان » پورې اړه لري، اروانښاد څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتگار شپېته کاله د مخه (۱۳۴۳ هـ ل) کال کې د ارمنستان هېواد د ماتیناداران په موزیم کې لیدلی و، له هغه یې یادښتونه اخیستي، په کابل مجله او بیا په پښتانه شعرا څلورم ټوک کې یې پرې لیکنې کړي، وروسته یې بیا د هغې قلمي میکرو فلم هم تر لاسه کړی او غوښتل یې چې له علومو اکاډمۍ سره د یو رسمي قرارداد له مخې دغه دیوان چاپ کړي، خو ژوند ورسره وفا ونه کړه او دا کار نیمگړې پاتې شو. له نېکه مرغه د پښتو څېړنو د بین المللي مرکز غړي ښاغلي څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکېب دې ته ور پام شوی چې هم به د اروانښاد بختاني صاحب هیله او ارمان تر سره کړي او هم به د دې دیوان په چاپ او خپرولو خپلې ژبې او ادب ته  خدمت وکړي، نو یې د علمي روټین پروژې په توگه د دغه دیوان له واحدې نسخې څخه استنساخ کړي، پر هغه یې څلوېښت مخیزه سریزه لیکلې، چې هم یې په کې د دیوان قلمي نسخه له ټولو مهمو ځانگړنو سره معرفي کړې، د شاعر پر ژوند، زمانه، د وخت پر حالاتو او د آثارو پر منځپانگه یې پراخه او هر اړخیزه څېړنه کړې، د تعلیقاتو په بڼه یې په دیوان کې د یادو علمي، عرفاني، روحاني، ادبي شخصیتونو، د ځایونو د نومونو پېژندنه او د پېښو تشریح په لمنلیکونو کې د لنډو څرگندنو په بڼه کړې، دیوان یې د الفبا په ردیف او ترتیب، چې د مخه یې دا ترتیب گډوډ و، برابرکړی، نوي تر لاسه کړي شعرونه یې هم پرې ور زیات کړي او په پای کې یې وییپانگه هم راوړې او د دیوان یو اکاډمیک متن یې چاپ او خپراوي ته برابر کړی دی»
(۱۸)(شکیب، ۱۴۰۳:الف ـ ج مخونه).

د هاشمي صاحب له نظر څخه وروسته د «گلشن افغان» د بيلابيلو موضوعاتو د توضيح او تشريح په اړه څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکېب څلوېښت مخيزه سريزه ليکلې. دغه سريزه پنځه سرليکونه لري چې په لاندې ډول دي:

۱ـ د ديوان کشف، موندل او تر لاسه کول.

۲ـ د علي اکبر اورکزي په اړه پخوانۍ څېړنې او ليکنې.

۳ـ د علي اکبر اورکزي ژوند او زمانه.

۴ـ د علي اکبر اورکزي د ديوان د واحدي قلمي نسخې پيژندنه.

۵ـ د علي اکبر اورکزي د اشعارو منځپانگه.

د سريزې په پای کې شکېب صاحب له هغو استاذانو او همکارانو څخه مننه کړې چې د دې کتاب د تدوين په چارو کې يې ورسره مرسته کړې ده. په دې برخه کې د نوموړې سريزې د پای څو کرښې وړاندې کوم:

« اوس چې زموږ د مقدمې د پای شېبې دي، نو دلته يوه يادونه لازمي او ضروري بولم چې انسان په خپلې سعې او کوښښ پړ دی، ما خپل کوښښ کړی، که لوستونکو ته په ديوان کې او يا د مطالبو په تشريح کې کومې نيمگړتياوې معلومېږي، نو د خپلې لورينې له مخې دې ما وبخښي او سمې دې کړي، ځکه انسان کمزوری دی، شايد له ما څخه په دې برخه کې تېروتنې شوي وي. همدا ډول د علي اکبر اورکزي د دې موجوده ديوان د سمون او څېړنې په بېلابېلو مراحلو کې له ماسره زياتو دوستانو او ملگرو خپله علمي مرسته کړې ده، چې دلته يې يادونه لازمي بولم چې په هغو کې سرمحقق زلمی هيواد مل، پروفيسور ډاکټر عبدالله جان عابد، ډاکټر محمد زبير حسرت، څېړنپوه عبدالرحيم بختانی، ډاکټر محمد علي ديناخيل، نجيب الله نايل، څېړندوی عزيزالله مبارز، او نور شامل دي چې د ټولو له مرستې او همکارۍ څخه ځانگړې مننه کوم، ستر څښتن تعالی دې ټول شاد آباد او سوکاله لري »(۱۹) (شکيب، ۱۴۰۳:۴۳ مخ).

د تدوين کوونکی له سريزې څخه وروسته د علي اکبر اورکزي له خوا په دري ژبه سريزه وړاندې شوې ده. بيا د نوموړې سريزې پښتو ژباړه ده، چې د څېړنپوه عبدالله بختاني خدمتگار لخوا شوې دی. په دې سريزه کې علي اکبر اورکزي د نورو موضوعاتو

تر څنګ د خپل ژوند او شاعرۍ په اړه هم معلومات وړاندې کړي دي، چې ځینې برخې یې دلته وړاندې کوم:

« وروسته تر دې د نړۍ هوښیارانو ته ښکاره ده، چې تصنیف کول او په تالیف بوختېدل یو لوی او خطرناک کار دی. په تېره بیا د پښتو ژبې تړلول او ترتیبول، ځکه چې استعمال یې کم دی او د قیل و قال د خاوندانو محاوره نه ده او بیچاره مصنف په لږ کمي د مشرانو او کشرانو د ملامتۍ د غشي نخښه ګرځي. په تېره هغه ته چې کله د دغه مشکل فن په لار تللی نه وي او له نورو خبرو څخه یې استفاده نه وي کړې او د ناپوهۍ توري یې د شاعرانو د صحبت په وجه د زړه له صفحې څخه نه وي توږل شوي او د ناموزون او موزون فرق کولای شي، دې سره هم دا خوار فقیر علي اکبر د قاسم خان اورکزي زوی په خټه پښتون د تیرا د خیبر اوسیدونکی، د عمر په ابتدا او د ماشوم توب په موده کې، په داسې وخت کې چې طبیعت مې د خوارانو لاس غوندې د شاعرۍ د فن نه او د سینې مخزن مې د مضمونونو او معناګانو له پیسو نه تش و، د شوق د پادشاه په امر په پښتو ژبه، چې د تېرو محاوره ده او استعمال یې رواج درلود، د څو غزلو په لیکلو مې څو صفحې تورې کړې په بیلا بېلو پاڼو مې ولیکل. مطلب یو یادګار دی چې پاتې شي، ځکه چې ژوند پایښت نه لري خو په دوهم نظر منظور نه شو او صحیح د غلط نه بېل نه شو، ځکه چې د ټولولو اراده مې نه لرله او د بنات النعش (کڼۍ)غوندې مې خواره واره پرېښودل بیا د ځوانۍ په جوش کې د دې فن د یادولو د پاره د ډېرو پوهانو سره د هغه په زده کړه کې مې ډېره سعیه وکړه ورو ورو د لوی خدای په تائید د دغه علم دروازې را ښېرته شوې او د دغه مې په زړه کې د کاڼې کرښه شوه »(۲۰) (شکیب، ۱۴۰۳:۴۷ مخ).

د ( ګلشن افغان ) په سریزه کې علي اکبر اورکزي د خپل فارسي او پښتو شعرونو په اړه داسې معلومات وړاندې کړي دي:

« د شعر د علم مسایل زړه ته داسې ولویده چې یو دېوان مې په پارسي ژبه ولیکه چې ( شاه شاهان ) نومېږي او غزل قصیدې او ترجیعات په کې دي، چې د پوهانو لوړې طبعې ومانه او ځیرکانو د هغه د مینې تخم د زړه په پټي کې وکاره. وروسته مې یقین راغی چې هغه غزلونه چې په پښتو ژبه لیکل شوي دي ټول بیکاره او سر تر پایه د خط ایستلو او محوه کولو وړ دي، ځکه چې د فن د خاوندانو په نظر کې هیڅ ارزښت

نه لري او دا ونه پرته له خجالته بله میوه نه لري. ومې غوښتل چې ټول او ترتیب یې نه کړم او هغه شعرونه له پاڼو نه لیرې وغورزوم په دې وخت کې هوښیارۍ ځان راورساوه او د دې کار نه یې منع کړم او ویې ویل چې ښایي ډېر خلک چې په لغتونو، محاوره، عقل او فهم کې یو تر بله سره توپیر لري ترې ډېر خوند واخلي او هم ستا شعرونه ستا طبیعت زېږولي دي او زوی که هر څومره عیب ناک وي د پلار په نظر کې د عیب نه پاک وي .نو د غورزولو او محو کولو وړ نه دي. نو د هغه د امر سره سم مې هغه شعرونه د پیرزوونې غوندې راټول کړل او د فکر د لامبوزن په مرسته مې دا مرغلرې د طبیعت د سیند له تل نه د لیکلو ساحل ته ورسولې»(۲۱) (شکیب، ۴۸:۱۴۰۳ مخ).

د سریزې په پای کې علي اکبر اورکزي د « گلشن افغان » لوستونکو ته ځینې خبرې، هیلې او وړاندیزونه کړي دي، همدارنگه د « گلشن افغان » د حفاظت لپاره او د لوستونکو او د ځان لپاره یې دعاگانې کړي دي، چې ځینې برخې یې وړاندې کوم:

« د دې ټولو خبرو سره له انصاف دارو لوستونکو نه هیله لرم چې له لیدلو سره سم وچولی تریو نه کړي او وروځې دې نه ځړوي او په ځایو او بې ځایو تورو ته دې گوته نه نیسي او که یې له وسه کېده نو اصلاح دې له لاسه نه ورکوي. ځکه چې د لیکلو مطلب بې سوادانو ته سواد ښودل او د دې ژبې د ناآشناو آشنا کول دي. چا چې پښتو شعر نه وي اورېدلی د دې دېوان په لوستو ډېر زر د دې ژبې ویونکو ته ممتاز کېږي او دا ډېرې گټې لري.

له لوستونکو نه هیله لرم چې له فایدې اخستلو نه وروسته، بېچاره مصنف ته د ښه عاقبت دعا وکړي. خدایه! دا نسخه د دنیا له پېښو نه وساته او مصنف په دواړو جهانو کې خوشحاله ساته د سپېڅلو سره یې په یوه لاره او له دښمنانو نه یې وساته! ای خدایه! ته د هغه چا ایمان وساته چې دا نسخه لولي او ماته دعا وکړي. غوښتونکی له کریم نه نه نامیده کېږي لوی خدای اوري او دعا قبلوي څه رنگه چې د گلو دا کوده د رنگینو الفاظو له غوټیو او د خوږو معناگانو له میوو څخه جوړه ده د خدای

پاک په لقاء(گلشن افغان) ونومول شوه، څو چې د دې ژبې د نه پوهېدونکو مړاوي زړونه د هغه په لوستو تازه شي» (۲۲) (شکیب، ۱۴۰۳:۴۸ مخ).

**پایله**

د بهرنیو او کورنیو پوهانو او څېړنکو د څېړنو له مخې او همدارنگه د « گلشن افغان » د شعرونو او نثرونو له میځپانگې څخه داسې اټکل کېدای شي، چې د علي اکبر اورکزي شعرونه او نثرونه د اتلسمې میلادي پېړۍ ورستیو لسیزو پورې اړه لري. له هغې نیټې څخه تر ۱۹۶۳ز کال پورې چې د علي اکبر اورکزي دیوان کشف او تر لاسه شو، نږدې دوه سوه کاله کېږي. په دې اوږده موده کې دا ارزښتناک ادبي او تاریخي اثر د لیکوالو او نورو خلکو له نظره پټ و.

له نېکه مرغه په ۱۹۶۳ز کال کې دغه قلمي نسخه کشف او تر اوسه پورې چې نږدې ٦۳ کاله کېږي ډېرو کورنیو او بهرنیو پوهانو په دې اړه لیکنې کړې دي. له نېکه مرغه اوس ددې قلمي نسخې پښتو برخه د چاپ لپاره تیاره شوه. زما او د نورو لیکوالو او ددې قلمي نسخې مینه والو هیله دا ده چې د نوموړي دیوان دري برخه یې هم د چاپ له پاره تیاره شي او دواړه برخې د لیکوالو او مینه والو د مطالعې او استفادې لپاره ټولنې ته وړاندې شي.

## مأخذونه

1.__В. В. Кушев, «ГУЛШАН-И АФГАН»: сочинение афганского поэта X V III в. ʻАли-Акбара Оракзая, Санкт-Петербург, 2023 (с. 7).

۲ ـ بختانی خدمتگار ، عبدالله، ۱۳۸۹هـ ل کال، د خدمتگار یوه ادبي موندنه (کشف) ، (۵ـ ٦مخونه).

۳ ـ پورتنی اثر،( ۷مخ ).

۴ ـ پورتنی اثر،(۸).

۵ ـ بختانی خدمتگار ، عبدالله، ۱۳۸۹ هـ ل کال، د خدمتگار یو ادبي موندنه (کشف) ، (۲ مخ).

٦ ـ حبيبي، عبدالحی، ۱۳٤۸ هـ ل کال ،د علي اکبر اورکزی دیوان یا گلشن افغان، وږمه مجله، کابل پوهنتون ـ د ادبیاتو او بشري علومو پوهنځی،۴ـ۵مه ګڼه ،( ٤٦_٥١ مخونه) .

۷ـ پورتنی اثر،( ٤٦_٥١ مخونه) .

۸ ـ قاسمووا، شرقیه، تاریخچه یک دست خط، روزنامۀ کاروان، سال پنجم ـ شمارۀ ٤٤ ، اول قوس ۱۳٥۱ هـ ش ـ۲۲ نومبر ۱۹۷۲ م، (۳مخ) .

۹ـ پورتنی اثر، (۳مخ).

۱۰ ـ بختانی خدمتگار ، عبدالله، پښتانه شعرا، څلورم ټوک، کابل، پښتو ټولنه، ۱۳٥۷ هـ ل کال، (۹۸۷ ـ ۹۹۸ مخونه).

۱۱ـ بختانی خدمتگار ، عبدالله، ۱۳۸۹ هـ ل کال ، د خدمتگار یو ادبي موندنه (کشف)، (٥۲ ـ ٥۳ مخونه).

۱۲ ـ هېوادمل، زلمی ، « په هند کې د پښتو ژبې د ایجاد او ودې پړاونه ـ درېیم چاپ »، د افغانستان علومو اکاډمي، د ژبو او ادبیاتو مرکز، شمشاد مطبعه، ۱۳۹٦ هـ ل کال، (۳۷۳ـ۳۸۰ مخونه).

13 _ В. В. Кушев_О СТРАНСТВИЯХ АФГАНСКОГО ПОЭТА А ЛИ -А КБА РА ОРАКЗАЯ ВО В ЛА Д ЕН И ЯХ ИМ П Е РИ И Д У Р РА Н И _ СТРАНЫ И НАРОДЫ ВОСТОКА _ Вып. XXVI _ Москва

Главная редакция восточной литературы _ 1989_ (с. 212_214).

14 __ В. В. Кушев_О СТРАНСТВИЯХ АФГАНСКОГО ПОЭТА А ЛИ -А КБА РА ОРАКЗАЯ ВО В ЛА Д ЕН И ЯХ ИМ П Е РИ И Д У Р РА Н И _ СТРАНЫ И НАРОДЫ ВОСТОКА _ Вып. XXVI _ Москва

Главная редакция восточной литературы _ 1989_ (с. 215_217).

15_В. В. Кушев, «ГУЛШАН-И АФГАН»: сочинение афганского поэта X V III в. ʻАли-Акбара Оракзая, Санкт-Петербург, 2023 (с. 8_9).

۱٦ ـ پورتنی ماخذ، (۱٦ مخ).

۱۷ ـ پورتنی ماخذ، (۱٦ مخ).

۱۸ ـ اورکزی، علي اکبر، گلشن افغان ( د علي اکبر اورکزي پښتو دیوان )، تدوین: څېړنپوه دوکتور عبدالظاهر شکیب، د علومو اکاډمۍ د پښتو څېړنو بین المللي مرکز، ناچاپ روټین پروژ، ۱۴۰۳ هـ ل کال.
۱۹ ـ پورتنی ماخذ، (۴۳ مخ).
۲۰ـ پورتنی ماخذ، (۴۷ مخ).
۲۱ـ پورتنی ماخذ، (۴۸ مخ).
۲۲ـ پورتنی ماخذ، (۴۸ مخ).

پوهنيار محمد ولي الهام

# د طاهر کلاچوي په شاعرۍ کې د تلميحاتو تحليل

# Analysis of Allusions in Tahir Kalachawi's Poetry

Assistant Prof. M. Wali Elham


## Abstract

Tahir Kalachawi is a prominent mystical poet of contemporary Pashto literature. He was also a physician of his time and composed poetry in Urdu as well. He was influenced by Rahman Baba and Hamza Baba, and is regarded as a leading poet who upheld the mystical and philosophical doctrine of Wahdat al-Wujud (Unity of Being), grounded in the existential and experiential (shuhudi) theories of Sufi poetry. This article, based on an analytical–descriptive method, examines and explicates the literary device of allusion (talmeeh) in Tahir Kalachawi's poetry. Thirty-five allusions have been analyzed in the context of their historical time and circumstances. Since Kalachawi's allusions have not previously been studied in a focused manner, this research provides primary material for critics and researchers of Pashto literature. It opens new avenues for further research, explores an important dimension of Kalachawi's poetry, facilitates future scholarly work, and contributes to the completion of a significant aspect of semantic rhetorical devices.



**لنډيز**

طاهر کلاچوي د پښتو ژبې د معاصر ادب ستر عرفاني شاعر دی؛ د وخت يوناني طبيب و؛ په اردو ژبه کې يې هم شاعري کړې ده؛ له رحمن بابا او حمزه بابا څخه اغېزمن و؛ د عرفاني

شاعري د وجودي او شهودي نظريې پر برنسټ د وحدت الوجود د عرفاني او فلسفي نظريې علمبردار شاعر تېر شوی دی. په دې مقاله کې د تحليلي- تشريحي مېتود پر بنسټ د طاهر کلاچوي په شاعري کې تلميح ادبي صنعت تحليل شوی او تشريح شوی ده، پنځه دېرش تلميحات د وخت او حالاتو په تاثر شنل شوي دي. دا چې تر دې وړاندې د کلاچوي پر تلميحاتو خبرې نه دي شوې، په دې څېړنې سره به د پښتو ادب کره کتونکو او څېړونکو ته خام مواد پر لاس ور شي او په دې اړه به لا نورو څېړنو دروازه پرانيستل شي او د کلاچوي د شاعري يو اړخ به څېړل شوی وي، نورو ته به کار اسانه شي او د ده په شاعرۍ کې به د بديع معنوي صنعت يوه برخه به بشپړه شوې وي.

**سريزه**

د کلاچوي په شاعري کې تلميحات په اکاډميکه ساحه کې چا نه ده سپړلي، نوموړي يوناني حکيم او د اردو ژبې شاعر، په شعوري توګه د اردو ژبې او ادب بنو انجمن سره مخه ښه وکړه او د پښتو ژبې او ادب د شاعرۍ پر لور يې مخه کړه، دا چې د عرفان پر سختو پېچومو يې وجودي شاعري کړې ده؛ همدارنګه د بديع په برخه کې هم ونډه اخيستې او د معنوي صنعتونو له جملې څخه يې تلميح ادبي صنعت هم په خپله شاعري کې کارولی دی. دا څېړنه د نورو څېړونکو له څېړنو سره توپير لري، ځکه چې د کلاچوي ادبي تلميحات ډېر واضح تحليل او تفسير شوي دي. په څېړنه کې د شاعر له لومړي لاس آثارو (شعري ټولګې)، دويم لاس آثارو، بېلابېلو علمي ليکنو او کتابونو څخه ګټه اخيستل شوې ده، اړين معلومات ترې راټول شوي او په تشريحي – تحليلي مېتود او د کتابتوني څېړنې په توګه وړاندې شوي دي.

**د څېړنې اهميت او مبرميت**

د پښتو ادب له بېلابېلو اړخونو څخه يو ستر اړخ بديع دی، چې د کلاچوي په شاعري کې دا برخه نه ده څېړل شوې. کلاچوي له هغو شاعرانو څخه دی، چې په معاصر ادب کې يې تلميحات په هنري ژبه بيان کړي دي. په دې ليکنه کې د کلاچوي د شاعري معنوي صنعتونو له جملې څخه د تلميح ادبي صنعت تحليل شوی او په دې سره د کلاچوي د شاعري د بديع د برخې يوه برخه بشپړه شوې ده او معنوي صنعتونو ځانګه بډايه شوې او همدارنګه د دې لپاره چې زده کوونکو، څېړونکو او اديبانو ته د کلاچوي د شاعري بديعي اړخ په باره کې نوي معلومات وړاندې شوي وي، دا ليکنه تر سره شوې؛ خو د پښتو ادب کره کتونکو ته به خام مواد پر لاس ور شي او د معنوي صنعتونو برخه به غني شي.

### د څېړنې موخه

هره څېړنه د یوې ټاکلې موخې په پار تر سره کېږي، د اکاډمیکو مراکزو علمي او کادري غړي خپلې زیاتره لیکنې او څېړنې د علمي رتبو په موخه تر سره کوي، د دې تر څنګ یې په ضمن کې ژبې او ادب ته هم د خدمت لاسونه بډ وهلي وي، نو په همدې پار  دا چې د طاهر کلاچوي د معاصر ادب عرفاني شاعر په توګه د شاعرۍ له تلمیحاتي برخې څخه څېړونکي، لوستونکي او ادیبان خبر شي او د ادبي تلمیحاتو تحلیل او سپړنه یې وشي، دا لیکنه تر سره شوه، څو په راتلونکو څېړنو کې ترې کار واخیستل شي او ادبي کره کتونکو ته به د کره کتنې مواد چمتو او په پایله کې به پرې پښتو ادب بډای او غني شي. دا چې تر دې مخکې د کلاچوي پر تلمیحاتو چا کار نه دی کړی، نو په دې سره به د کلاچوي د شاعرۍ د بدیع برخې معنوي صنعتونو نا سپړل شوی اړخ و سپړل شي.

### د څېړنې پوښتنې

طاهر کلاچوي کوم ادبي صنعتونه کارولي؟

معنوي صنعتونو کې یې کوم صنعت ډېر کارولی؟

او په تلمیحاتو کې کومو مسایلو ته نغوتې کړې دي؟

### د څېړنې میتود

په څېړنه کې د شاعر له لومړي لاس آثارو (شعري ټولګې) ، دویم لاس آثارو، بېلابېلو علمي لیکنو او  کتابونو څخه ګټه اخیستل شوې، اړین معلومات ترې راټول شوي او په تشریحي – تحلیلي مېتود او د کتابتوني څېړنې په ډول وړاندې شوي دي.

### د مقالې متن

مخکې له دې چې پر کلاچوي او تلمیح ادبي صنعت خبرې وکړو، اړینه ده چې بدیع لږ وپېژنو. اکاډمیسن څېړنپوه دوکتور سید محی الدین هاشمي لیکي: « د بدیع لغوي معنا نوې، تازه او حیرانوونکی شی دی او په ادبي اصطلاح کې هغه پوهنه ده، چې د وینا او کلام له ښکلا او هغو صنایعو څخه چې نظم او نثر ته ښکلا وربښي، بحث کوي.» (هاشمي، ۱۳۹۳: ۳۲۸)

مشتاق مجروح یوسفزی لیکي: « بدیع په اصطلاح کښې هغې علم ته وائي چې د کلام ښائست پرې معلومېږي – یعنې علم بدیع هغه قاعدې دي، چې که چرې هغه په یو کلام کښې پکار راوستی شي، نو په کلام کښې به حسن پیدا شي.» (یوسفزی، ۲۰۱۰: ۴۹)

همدارنګه د تلمیح په اړه فضل محمد پنهان لیکي: « تلیمح هغه ادبي صنعت دئ، چې یو شاعر په خپل کلام کې یوې تاریخي او مذهبي واقعې یا قصې ته اشاره وکړي، که ویونکی په

قصه یا واقعه خبر وي، د شعر په معنی پوهېږي او که نه وي خبر د شعر یا بیت په معنی نه پوهیږي، مثلاً:

نسته بوی د کمیس په درست جهان کي

څه امکان لري په مصر او کنعان کي

په پورته بیت کي شاعر د حضرت یوسف علیه السلام و قصې او د هغه کمیس ته اشاره کړې ده.» ( پنهان، ۱۳۹۰: ۴۶)

تلمیح: په لغت کې لیدو او اشارې کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح که شاعر په خپل کلام کې یوې مشهورې پېښې یا کیسې ته په لنډه توگه اشاره وکړي، تلمیح ورته وایي. (همکار، ۱۳۹۴: ۱۵۳)

تلمیح په لغت کې اشاره کول او یو شي ته کتل دي، د بدیع په علم کې تلمیح هغه معنوي صنعت او ښکلا ته ویلی شي، چې شاعر په خپل شعر کې یوې غورې او مشهورې تاریخي پیښې یا قصې ته اشاره وکړي. (شیرزاد، ۱۳۹۵: ۹۱)

څېړنپوه دوکتور سید نظیم سیدي لیکي: « تلمیح په لغت کې لیدلو، اشاره کولو او نغوته کولو ته وایي او په ادبي اصطلاح کې هغه ادبي صنعت دی، چې شاعر په خپل کلام کې یوې تاریخي پېښې یا کیسې ته په لنډه توگه د اعجاز په بڼه نغوته وکړي.»
(سیدي، ۱۳۹۱: ۹۹)

حنیف خلیل لیکي: «تلمیح په خپل اشعارو کښې څۀ مشهورې واقعې یا متل ته اشاره کول چې پوره خبره و نه کړې په دې اعتماد چې نوره قصه مخاطب ته خپله معلومه ده.» (خلیل، ۲۰۲۲: ۲۰۲)

تلمیح: په لغت کې اشارې او یو شي ته کتلو ته وایي، د بدیع په علم کې هغه معنوي صنعت دی، چې شاعر په خپل شعر کې یوې مهمې تاریخي پیښې یا قصې ته اشاره وکړي، لکه دلته چې د منصور قصې ته اشاره ده:

هر ساعت شمه راکیش دار او سنگسار ته

محبت قایم مقام کړم د منصور

(هاشمي، ۱۳۹۳: ۳۳۱)

د بدیع او تلمیح سره په تړاو به لنډه پېژندنه د طاهر کلاچوي هم وکړو، تر څو معنوي تسلسل رامنځ ته شي. د طاهر کلاچوي اصلي نوم غلام سرور او تخلص یې طاهر دی، خو له تخلص سره د خپل ټاټوبي پښتونخوا د اسمعیل خان دېرې د کلاچې نومې سیمې(کلاچي) نوم هم ذکر کوي، خو کله نا کله ځای د خپل مسلک (یوناني طب او حکمت) نوم (حکیم) هم

ذکر کوي، څکه طاهر کلاچوي یا حکیم غلام سرور کلاچوي لیکي. د پلار نوم یې حضرت فقیر نور محمد سرور قادري دی، پلار یې د قادریې طریقې پیر او خلیفه و، بیعت او لاس نیوي سلسله یې د قادریه طریقې له پیر حضرت سلطان باهو (رح) څخه شروع کېږي. یعنې د ستر عارف حضرت سلطان باهو (رح) د سلسلې صوفي دی. دا چې پلار یې ستر عارف او صوفي تېر شوی او د (عرفان) په نامه مشهور تصوفي اثر یې هم لیکلی دی، نو ده ته هم فیض او انوار د خپل پلار له سینې حاصل شوي وو، چې په شاعري کې یې تصوفي رنګ ترې موندلی دی. (کلاچوي، ۲۰۱۴: ۲٦)

په دې لیکنه کې په ترتیب سره تر ډېره دیني کیسو ، تاریخي پېښو او د فولکلوري کیسو او روایاتو تلمیحات تحلیل شوي دي.

**ابراهیم علیه السلام**

کلاچوي وايي:

لا د مینې د آذر تسلـي نــه شـــي
که یې جوړې کړې د حسن مُجسِمې[1] هم
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۸۰)

په دې بیت کې آذر ته اشاره شوې ده، آذر د حضرت ابراهیم علیه السلام تره و، چې بت جوړونکی و. د هغه دنده دا وه، چې د قوم لپاره به یې د خدایانو مجسمې جوړولې، دا د جاهلیت او شرک سمبول و. که د حسن مجسمې (د ښکلا بوتان) جوړ کړې، بیا هم د مینې د آذر (یعنې د مینو بوتانو جوړونکي) تسلي نه کېږي. کلاچوي مینه له دیني مینې سره تشبه کړې، چې آذر پکې د مجسمو (بوتانو) جوړونکی دی. حتی که د ښکلا تر ټولو ښایسته بوتان جوړ شي، خو د مینې دغه تش زړه تسلي نه کېږي. ظاهراً آذر یو بوت جوړونکی دی، خو دلته د مینې آذر دی، یعنې د مینو مجسمو جوړونکی، یو مجازي آذر. کلاچوي دا تلمیح د مینې د آتر او بې تسلي حالت ښودلو لپاره کارولې. دا ښیي چې مینه دومره اثر لري، چې د ښکلا تر ټولو ښایسته مجسمې هم د هغې تنده نه شي ماتولی:

د مجاز په شیش محل کې د وفا نقشونه ګورم
د آذر په بت خانه کې زه دعا د ایمان غواړم

---

[1] - مجسمه چې په وزن د مُفَعَّلة ده، یعنې په اصل کې څلور سیلابه ده، شاعر د خپل شعر د وزن ساتلو په پار درې سیلابه کړې ده، نو یې مُجسِمې لیکلې ده، چې د دویمې نیم بیتې دوولس سیلابونه پوره شي او د شعر نورې د قافیې کلمې: بتکدې، صحیفې، دایرې، مُجسِمې، غمکدې، فلسفې، اندازې، بسترې، ګلکدې او قافیلې دي، چې دا ټولې د قافیې کلمې درې سیلابه دي.

(کلاچوي،۲۰۱۴: ۹۷)

دا د ښکلا یو ډول تضاد دی، په شرک خانه کې د توحید دعا کول! نو دلته کلاچوي وايي: زه د مجازي ښکلا په نازک محل کې د وفا نقشونه وینم، یعنې د ناپایدارو او دروغجنو شیانو منځ کې د وفادارۍ نښې لټوم. د آذر په بت خانه کې د ایمان دعا غوښتل یو اخلاقي، فکري او معنوي تضاد څرګندوي. د ایمان او وفا لټول اوس د شرک، فریب، مجاز او ښکلا تر شا پټ شوي دي. یعنې حقیقت د مجاز له پردې تېرېدلو وروسته موندل کېږي. هغه څوک چې د آذر په بوت خانه کې د ایمان دعا کوي، د ظاهري ښایست تر شا د معنوي حقیقت طلب دی. کلاچوي دلته د زمانې د منافقت، مجازي ښکلاوو او د حقیقي وفا د کمښت تصویر وړاندې کوي. دلته د آذر تلمیح  د شرک او بې‌ایمانه فضا استازیتوب کوي، خو کلاچوي پکې د ایمان دعا غواړي:

خلیل د مینې مې د حسن په اور
په مینه مینه سوزېدل غواړي
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۱۴)

خلیل د ابراهیم علیه السلام لقب و، چې دلته حضرت ابراهیم علیه السلام ته تلمیح دی، چې په اسلام کې د خلیل‌الله (د الله تعالی دوست) په لقب یادېږي. دا تلمیح د قرآني پېښې سره تړاو لري، چې الله جل جلاله حضرت ابراهیم علیه السلام  د نمرود  او ملګرو له خوا په اور کې واچوه، خو هغه د الله جل جلاله د امر تابع و او اور پرې ګلزار شو. دلته کلاچوي خپل ځان ته د خلیل لقب کارولی دی، دا یوه تشبیه او تلمیح دی، چې ځان د خلیل‌الله (ابراهیم علیه السلام) سره تشبیه کوي، خو دلته اور د الله تعالی لپاره نه، بلکې د حسن او مینې اور دی. د حسن په اور، د ښکلا (محبوب یا الهي ښکلا) اور ته، یعنې د هغې جذابیت، شدت او جذبې ته اشاره ده، خو کلاچوي پکې سوځېدل غواړي. یعنې په مینه مینه سوزېدل، دا تکرار (مینه مینه) د مینې شدت څرګندوي. دا بیت په یو وخت کې تلمیح (حضرت ابراهیم ته) او استعاره (مینه، جذبه، جمال، اور ته) دواړه لري او بل اړخ هم لري، ځکه په الهي عشق کې عاشق د ابراهیم علیه السلام غوندې ځان بلو لمبو ته هم سپاري، چې که وسوځي هم، خو له خپل عشق څخه نه تېرېږي. یعنې کلاچوي وايي، چې زه خلیل یم، خو زما اور د حسن دی او زه د دې ښکلا په عشق کې خوښ یم چې وسوځم، ځکه زما دا سوځېدل ( په عرفان او تصوف کې ځان فنا کول) الله تعالی ته د رسېدو  یوه لاره ده:

زه د داسې موذن په انتظاریم
چې اذان وکي د وخت په بت کدو کې

(کلاچوي،۲۰۱۴: ۵۳۳)

دلته د حضرت بلال حبشي (رض) او د اسلام د پیل دور ته اشاره ده، چې اذان به د توحید غږ و او د کعبې د جاهلیت دور حالت ته، چې بتان پکې ایښودل شوي وو، تلمیح ده. کلاچوي دلته د خپلې زمانې د باطل او مادیت پرستۍ حالت ته اشاره کوي، چې زه د داسې اذان (حق او رښتیا ) غږ ته منتظر یم، چې د دې زمانې بتان (باطل ارزښتونه، ظلم، مادیت،...) مات کړي. دا بیت یو ډول د فکري بیدارۍ غږ دی، لکه کلاچوي چې وايي: زه داسې انسان ته منتظر یم (لکه: بلال، یا یو روحاني مجاهد) چې د نن عصر د دروغو بتان مات کړي او د رښتیا اذان پورته کړي. یا زه د یو فکري انقلاب په انتظار یم، چې د حق غږ په هغه ځایونو کې پورته شي، چې چېرته، فساد او دنیا پرستي حاکمه ده:

په هر دور او زمانه کې د هر یو نمرود  لپاره
ابراهیم به پیدا کېږي، دا څه نوې کیسه نه ده
(کلاچوي،۲۰۱۴: ٤۲٦)

نمرود دلته د هر دور ظالم، دیکتاتور، مستبد، یا فاسد نظام او شخص سمبول دی او ابراهیم علیه السلام د مقاومت، حق، عدالت او توحید استازیتوب کوي. کلاچوي دا پیغام ورکوي، چې  که څه هم د ظلم شکلونه بدلېږي، خو د حق او صداقت خلک هم تل رابښکاره شوي، دا د تاریخ یوه تکرارېدونکې کیسه ده. شاعر موږ ته وايي: ظلم همېشه و، دی او ښايي وي. خو هر دور ته خپل ابراهیم پیدا شوی، دا د حق فطري غږ دی. موږ باید و نه وېرېږو، ځکه چې د حق مبارزه نه مړه کېدونکې کیسه ده:

حوصلې دي چې زیاتېږي د نمرود د نایبانو
ابراهیم نه مونده کېږي، تجربې نه درته وایم
(کلاچوي،۲۰۱۴: ٤٦٦)

د ظلم استازي (د وخت نمرودي نایبان) زور اخلي، پرمختګ کوي، جرئت زیاتوي؛ خو د حق پلویان، مقاومت کوونکي (ابراهیم‌صفت خلک) یا خو نه پیدا کېږي، یا چوپ دي، یا کمزوري شوي دي. کلاچوي یوازې دا نظر نه ګڼي، بلکې دا یوه تجربه ګڼي، یعنې د ژوند واقعي حالت بیانوي. کلاچوي دا نه وايي چې ظلم نوې خبره ده، دا یې مخکې هم یادونه کړې ده. خو د وخت اوسني حالت ته اندېښمن دی، نمرودي ځواکونه لا قوي شوي، خو ابراهیم‌صفته خلک مو یا ورک دي، یا خاموش. یعنې که موږ د ظلم پر وړاندې ابراهیم و نه لرو، نو نمرود به نور هم پیاوړی شي:

ابراهیم غوندې د حق لپاره اور تــه هـــم ور زغلې
خلاصوی شې انسانان له غلامۍ د انسانانو
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۳۷۱)

ابراهیمي‌صفت لرونکي خلک، د حق لپاره اور ته ورتګ ته هم تیار وي او له همدې لارې دوی کولای شي، نور انسانان د نورو انسانانو له غلامۍ څخه خلاص کړي. ابراهیم غوندې خلک هغه دي، چې د باطل او ظلم پر وړاندې چوپ نه وي پاته، حتی که اور ته هم ولاړ شي. دا ډول قرباني، مبارزه او زړورتیا کولای شي چې خلک د استبداد، استعمار، ناپوهۍ او نفسي غلامۍ څخه راخلاص کړي. کلاچوي موږ ته وایي: ازادي ارزښت لري، خو قرباني غواړي. که څوک غواړي نور انسانان د ظلم څخه خلاص کړي، باید د ابراهیم غوندې زړه ولري، حتی که اور ته هم ولاړ شي. غلامي سیاسي، فکري، کلتوري، اقتصادي، مذهبي او ټولنیزه بڼه هم لري. دا بیت له نمرود سره د ابراهیم علیه السلام د مبارزې په لړۍ کې یو بله حلقه ده. دلته کلاچوي د قربانۍ او ازادۍ تر منځ اړیکه روښانه کوي؛ شخصي راحت د قربانۍ له لارې د ټولنې نجات یادوي؛ لوستونکي ته وایي: که غواړې چې نور خلاص کړې، لومړی باید ځان اور ته تیار کړې.

**سلیمان علیه السلام**

کلاچوي وایي:

ورته حاصله ده بلقیس د محبت "طاهره"
زما د فکر سلیمان د چا پروا نه لري
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۱۱)

بلقیس د یمن ملکه وه، چې د حضرت سلیمان علیه‌السلام سره یې قصه په قرآن کریم کې یاده شوې ده. هغه د خپل جمال، دولت، هوښیارۍ او بالاخره د تسلیمۍ له امله مشهوره شوې ده. په دې بیت کې د محبت بلقیس ته اشاره شوې، چې یوه استعاره ده، د یوې ډېرې ښکلې، محبوبې، با ارزښته او شاید مغرورې معشوقې لپاره. زما د فکر سلیمان، سلیمان علیه‌السلام په قرآني قصصو کې د علم، حکمت، فکر او قوت خاوند دی، هغه مرغان، حیوانات، باد او حتی جِنّات کنټرولول. دلته کلاچوي خپل فکر د سلیمان سره تشبیه کوي. یعنې، زما فکر دومره ځواکمن او حکیم دی، لکه: د سلیمان (ع) واکمني، خو دا بلقیس د محبت ته هیڅ ارزښت نه لري. دا یو ډول خودباوري ده او دا هم قرآني داستان ته تلمیح ده، چې سلیمان (ع) د بلقیس سره فوق‌العاده چلند وکړ، خو دلته معشوقه ورته ارزښت نه لري. دا تلمیحات د کلاچوي د فکري لوړتیا او معشوقې د بې‌پروایۍ ترمنځ تضاد ښیي:

کله کله سلیمان هم د مېږي غوندې ناتوان شي
د مېږي غوندې ناتوان هم سلیمان شي کله کله
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۱۳)

دلته هم سلیمان (ع) ته اشاره ده، هغه پېغمبر چې له هر څه (جنیاتو، مرغانو، حیواناتو، باد) سره یې خبرې کولې او واک یې پرې درلود. قرآن کریم کې یې کیسه له یو مېږي سره هم راغلې ده، کله چې مېږي خپلو نورو مېږیانو ته وویل: حَتّٰىٓ إِذَآ أَتَوْا عَلٰى وَادِ النَّمْلِ قَالَتْ نَمْلَةٌ يٰٓأَيُّهَا النَّمْلُ ادْخُلُوا مَسٰكِنَكُمْ لَا يَحْطِمَنَّكُمْ سُلَيْمٰنُ وَجُنُودُهُۥ وَهُمْ لَا يَشْعُرُونَ (سورة النمل، آیت ۱۸)

ژباړه: تر هغه پورې کله چې راغلل دوی پر کنده د مېږو، نو وویل یوه مېږۍ (چې مشر ؤ پر نورور) ای مېږیو! ننوځئ ټول مساکنو (سوړو) خپلو ته، چې مات او چیت پیت مو نه کړي، هرورو (خامخا) تاسې لره سلیمان او لښکر د ده، حال دا چې دوی به نه وي پوه ( د تاسې له دې پائمالیدو نه). (کابلی تفسیر، دویم ټوک سورت النمل:۴۳۹ )

کلاچوي د دې داستان له لارې ښیي، چې حتی سلیمان علیه السلام د دومره ځواک او اقتدار خاوند  کله ناکله د یوه کوچني، ضعیف مخلوق په اندازه ناتوان شي. یعنې، که څه هم انسان ته ځواک، عقل، شرف او عظمت ورکړل شوی، خو بیا هم ځینې وختونه داسې حالات راځي چې هغه د یوه کوچني مېږي په شان بې وسه، عاجز او بېچاره وي. قدرت، علم او مقام هم د انسان فطري کمزوري نه شي ختمولای:

بلقیس غوندې طاهره ناخبره له انجامه
د مینې بې نیازه سلیمان لره ورځمه
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۹۵)

بیا هم بلقیس د یمن مشهوره ملکه وه، چې د حضرت سلیمان علیه‌السلام له قصې سره تړاو لري. دا پېښه د قرآن کریم په سورة النمل کې ذکر شوې. بلقیس د لوی سلطنت، عقل او جمال خاونده وه، خو بالاخره یې د سلیمان علیه‌السلام د حکمت، نبوت او رباني ځواک تر اغېز لاندې ایمان راوړ. دلته کلاچوي ځان د بلقیس غوندې له انجامه ناخبره بولي، لکه څرنګه چې بلقیس هم د سلیمان له مقام، نبوت او حقیقت څخه په پیل کې ناخبره وه. دا بیت له قرآني کیسې (سورة النمل) تلمیح اخلي، د بلقیس او سلیمان ترمنځ، خو کلاچوي دا داستان د عصري مینې یا عرفاني حالت لپاره استعاره کوي. دلته طاهر د عاشق تمثیل

دی، چې د مینې له انجامه ناخبره ده او سلیمان یو بې‌نیازه، خو معنوي څواکمن معشوق دی:

سلیمان مې د وقار بې وقار مه کړې
او بلقیس مې د ناموس بې پردې مه که
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۴۱۸)

حضرت سلیمان علیه‌السلام، چې د وقار، سلطنت، حکمت او الهامي قدرت سمبول دی، کلاچوی وایي، چې زما د فکر، ایمان، شخصیت، یا د عشق دنننۍ لویه څېره مه بې وقاره کوه. یعنې سلیمان دلته د یو دروند شخصیت، یا کلاچوي د خپل باطني عظمت، یا یو مقام انځوروي او کلاچوي (ممکن خدای تعالی ته) وایي چې هغه باید دا وقار له منځه یو نه سي او بلقیس، چې د ناموس، عزت، جمال، هوښیارۍ انځور ده. یعنې زما معشوقه، یا د عزت، پاکۍ، وقار یو سمبول دی، هغه باید بې پردې یا رسوا نه شي. دا ممکن د یوې ښځې د عزت، عفت، یا احترام غوښتنه وي. یا استعاره وي د خپلې ارزو، مینې، یا یو ارزښتمن احساس د افشا کېدو په وړاندې د ساتنې غوښتنه وي. سلیمان د وقار، درون، شعور او باور سمبول دی او بلقیس د پاکۍ، ناموس، یا معشوقې تمثیل دی.کلاچوي غوښتنه کوي، چې زما دا ارزښتناک باطني حالتونه مه توهینوه، مه یې رسوا کوه:

زه خو د بلقیس په شانې سم در کتی نه شم
ته مې د سرتاج یې، شهنشاه او سلېمان یې
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۵۲۸)

دلته کلاچوي وایي: زه د بلقیس په شان نه یم، دومره شان، عقل، حیثیت یا مقام نه لرم. دا تواضع (انکسار) ده او همدا راز د قرآني کیسې له مخې د بلقیس مقام ته یوه تلمیح ده. بیا وایي: ته خو د سرتاج، شهنشاه او سلیمان یې! دا درې واړه صفات یو له بله لوړ دي. دلته بیا هم د قرآني داستان پر بنسټ تلمیح ده، چې مخاطب ته یو عرفاني، روحاني یا لوړ مقام ورکوي. دا بیت د عاشق له خولې د ځان ښکته ګڼلو او د محبوب لوړ مقام منلو اظهار دی. دا له مینې ډکه تواضع ده، خو د عشق وفاداري، اطاعت او درناوی هم پکې پټ دی. دا بیت د مینې له لارې د ځان ټیټ ګڼلو او د معشوق لوړ مقام منلو بیان دی، چې پکې بلقیس ته تلمیح د ښځې لوړ شخصیت ته اشاره ده. سلیمان ته تلمیح د معشوق حکمت، درناوي او روحاني مقام ته اشاره ده.

**موسی علیه السلام**

کلاچوي وايي:

چې د وخت فرعون د وخت په نیل کې ډوب کړي
داسې خلک کله کله پیدا کیږي
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۳۰۳)

د مصر ظالم واکمن، چې د حضرت موسی علیه‌السلام د وخت د طاغوت تمثیل دی. فرعون یو ظالم، متکبر، د خدایي دعویدار (نعوذبالله) او د خلکو د ازادۍ سخت مخالف و.د قرآني روایت پر اساس، الله تعالی فرعون د نیل په سیند کې ډوب کړ، کله چې موسی علیه السلام او بني اسرائیل له هغه څخه وتښتېدل او فرعون د هغوی تعقیب ته سیند ته ور ننوت. دلته د ظلم پای ته دا واضح تلمیح دی، چې طاغوتي قوتونه بالاخره له منځه ځي، که څه هم ډېر ځواکمن وي. کلاچوي د مخکني تاریخ کیسه رااخلي او په هنري بڼه یې تعبیروي. د وخت فرعون، یعنې د کلاچوي د وخت د پاکستان ظالم، د قدرت مغرور خلک، هغه واکمنان یا نظامونه چې د خدایي دعوه کوي (نعوذبالله). د وخت نیل، یعنې د وخت هغه طبیعي، الهي، یا انقلابي ځواک چې دا ظلم له منځه وړي. دا یوه تاریخي-دیني تلمیح ده، چې کلاچوي د معاصرو حالاتو لپاره کارولې ده. د حق، ازادۍ خلک همیشه نه وي، خو کله ناکله راځي او د تاریخ لوری بدلوي. د صداقت او د حق خلک کم وي، خو کله چې راشي، تاریخ جوړوي، لکه د معاصر فرعون (انگریز، روس او امریکا) په وړاندې د وخت د موسی (ع) ملګري (مجاهدین) را ولاړ شول او د وخت په نیل(افغانستان) کې یې غرق کړل:

شکایت او ګیله مه کوئ د وخت له فرعونانو
په خپل وخت د وخت موسی به ترینه اخلي انتقام
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۳٦۱)

دلته د وخت فرعونان، یعنې: د د کلاچوي د وخت واکمنان چې د ظلم، استبداد، فساد، یا استکبار تمثیل کوي. حضرت موسی علیه‌السلام د الله تعالی پیغمبر و، چې د فرعون مقابله یې وکړه، خپل قوم (بني‌اسرائیل) یې له ظلم څخه خلاص کړل او بالاخره الله تعالی د موسی علیه السلام دښمن (فرعون) د نیل په اوبو کې غرق کړ. د وخت موسی دلته د هغه چا تمثیل دی، چې د حق استازی وي، د خدای له لوري مرسته ورسره وي او بالاخره د ظلم په وړاندې ودریږي؛ نو کلاچوي دا وايي: د ظلم پر مهال شکایت مه کوئ، ګیله مه کوئ، ځکه چې د هر فرعون لپاره یو موسی شته، خو هغه پر خپل وخت راځي. عدل ممکن ژر را نه شي، خو راځي. د ظلم د پای لپاره صبر په کار دی، ځکه چې دا کار د خدای تعالی په تقدیر کې وي:

نن په لپو لپو ژاړي حق ګویي د باطل لاس نه
د رښتیا ملګري نه شته د تکذیب قدردان ډېر دي
د غرور په چیګه پینګه استبداد تر اوسه زانګي
د موسی غوندې څوک نه شته د فرعون نایبان ډېر دي
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۰۲)

د رښتیا ملګري نه شته، د تکذیب قدردان ډېر دي، صداقت ته څوک ارزښت نه ورکوي، خو دروغجن کسان، له رښتیا انکار کوونکي، د خلکو د قدر وړ ګرځېدلي. دا د ټولنیزو اخلاقو زوال ته اشاره ده. کله چې رښتیا رد شي، دروغ جایزه واخلي، ټولنه خپل وجدان له لاسه ورکوي او استبداد (ظلم، دیکتاتوري) لا هم ژوندی دی، د غرور نارې وهي. استبداد لا هم خپل ځان د ځواک په بستر کې نازوي. دا بیتونه په واک‌مینو، متکبره نظامونو او بې‌عدالتۍ پر دوام یو تنقید دی. یعنې دا شعر د معاصر وخت یو تصویر وړاندې کوي، چې په دنیا کې رښتیا له منځه تللي. دروغ مشهوره شوي. ظلم ژوندی دی.حق نه شته. د وخت مشران د ظلم نماینده‌ګي کوي، نه د عدالت. که څه هم دلته موسی نه شته، خو دا خپله یوه راتلونکي موسی ته اړتیا  او اشاره ده. موږ ته وایي: حق ته ژړا ورپاته ده، دروغ ستایل کېږي، استبداد لا نازېږي، موسی نه شته او فرعونیان ډېر شوي دي. خو دا وخت یو نوي موسی ته اړتیا لري، یو څوک چې بیا حق ته ژبه ورکړي، باطل ته ماتې ورکړي:

دا متل دی د هر یو فرعون سزا او سرکوبۍ ته
یو موسی به ضرور زېږي دا څه نوې کیسه نه ده
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۴۲۶)

دلته هر یو فرعون، یعنې هر وخت او ځای کې د ظلم استازی، د تاریخ په مختلفو پړاوونو کې هغه خلک چې د قدرت، ظلم او غرور سره ولاړ وي. دلته کلاچوي وایي: هر ظالم ته به خامخا یو موسی پیدا شي، چې د هغه ظلم ته به د پای ټکی کېږدي. دا متل دی... یعنې دا خبره ازمویل شوې ده، یو دود دی، یا د تاریخ تکراري حقیقت دی، د حق غږ خامخا راولاړېږي، که څه هم ناوخته وي، خو راځي. دلته د (ضرور) کلمه، یو ایماني باور، عرفاني یقین او اخلاقي امید څرګندوي. ځکه دا څه نوې کیسه نه ده، دا خبره نوې نه ده، دا د تاریخ، وحې او بشري تجربو تکرار دی. په دې بیت کې طاهر کلاچوی د قرآني تلمیح له لارې یو ابدي حقیقت بیانوي: هر فرعون ته یو موسی راځي. دا د تاریخ، الهي سنت او بشري وجدان تکرار دی؛ نو ناامیدي بې‌معنا ده؛ ظلم دوامداره نه وي:

نن د وخت د فرعونانو په دربار کې اې "طاهره "

پـه څو رنگه سجدې کېږي، تجربې نه درته وايم
(کلاچوي،۲۰۱۴: ٤٦٦)

دا اصطلاح د فرعون استعاره ده، چې دلته د کلاچوي د وخت ظالمو واکمنانو، يا د زور او ظلم استازو ته اشاره کوي. د وخت ټکي د کلاچوي معاصر زمان ته اشاره ده، چې پدې کې هغه زورواکي شامل دي، چې واک او قدرت په ناوړه توگه کاروي. سجدې دلته د ښکاره يا پټو نفاقونو، دروغو عبادتونو او يا د بې ځايه ستاينې په معنا کارول شوې دي. په حقيقت کې، دا د هغو درباري يا ټولنيزو کړنو انتقاد دی، چې ظاهراً د احترام يا اطاعت په نوم ترسره کېږي، خو په اصل کې دا ظالمو واکمنانو ته د چاپلوسۍ او سازش نښې دي. بيا کلاچوي دلته د شخصي يا ټولنيزو ناوړه تجربو يادونه کوي. له دې عبارت سره کلاچوي غواړي وښيي، چې دا حالت نوی نه دی او ده پخپله له پخوا څخه د دې حالاتو تجربه کړې ده، نو د طاهر لپاره دا يو عبرت دی. په اصل کې دا يو خبرداری دی، چې حقايق درک شي، له تجربو څخه زده کړه وشي او نوي نسل ته د ټولنې په اړه خبرداری ورکړل شوی دی:

د حسين رض غوندې د وخت له يزيدانو په شا نه ځې
ماتوی شي د موسی غوندې غرور د فرعونانو
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۳۷۱)

حسين (رض) په اسلام کې مقدس شخصيت دی، چې د کربلا په جگړه کې يې د حق او عدالت لپاره قرباني ورکړه. د مقاومت، زړورتيا او د ظلم پر وړاندې بې مثاله بېلگه ده او يزيدان د يزيد بن معاويه په مشرۍ د هغه وخت واکمنان چې امام حسين او د هغه خاندان يې په کربلا کې شهيدان کړل، د ظلم، طغيان او استبداد نښه ده. موسی او فرعون د قرآني او تاريخي داستان له مخې، موسی عليه السلام د ظلم او طغيان پر وړاندې ولاړ و او فرعون د ظلم او غرور سمبول دی. موسی د حق استازيتوب کوي، فرعون د ظلم. کلاچوي وايي: لکه څرنگه چې حسين رض د خپل وخت ظالمانو (يزيدان) څخه ماتې ونه خوړه او خپلو اصولو ته ټينگ پاته شو، همداسې ظلمونه او واکمنان چې د فرعونيانو په شان غرور کوي، بالاخره د موسی غوندې مقاومت لخوا ماتېږي. دا يو تاريخي او روحاني يقين دی، چې ظلم دوام نه لري او حق تل بريالی وي. دا بيت د حق مقاومت د دوو تاريخي پېښو (کربلا او مصر د موسی وخت) تر منځ يو انځور وړاندې کوي. کلاچوي په دې بيت کې د تاريخ دوه مهم سمبولونه يو ځای کړي دي، چې د ظلم او استبداد په وړاندې د مقاومت او حق تل پاته والی څرگندوي.

**سلطان محمود غزنوي/** کلاچوي وايي:

محمود هم دا ستا له بخت سره سيالۍ نه شي کولی
چې حاصل تا ته دلبره د طاهر غوندې اياز دی
(کلاچوي،۲۰۱۴: ٦٠)

په دې بيت کې کلاچوي د سلطان محمود غزنوي او د هغه د وفادار غلام اياز کيسې ته اشاره کړې ده، چې يو ادبي او تاريخي تلميح دی. سلطان محمود يو ځواکمن باچا و، چې ډېر واک او سلطنت يې درلود او اياز د هغه وفادار، خو عاجز غلام و، چې د محمود بې‌سارې مينه ورسره وه. په ادبياتو کې د محمود او اياز کيسه د مينې، وفادارۍ او عاجزۍ سمبول ګڼل کېږي. دا کيسه په فارسی، اردو او پښتو ادبياتو کې ډېره مشهوره ده. دلته کلاچوي خپل محبوب ته وايي: ته دومره بختور يې، چې طاهر د اياز په څېر درته وفادار او عاجز عاشق حاصل دی. يعنې: حتی محمود، چې د اياز په درلودو مشهور و، هم ستا د بخت مقابله نه شي کولای، ځکه ته يو طاهر (شاعر) لرې، چې د اياز په شان دې په عشق کې وفادار دی. دا تلميح د معشوق لوړ مقام او د عاشق عاجزي ته اشاره کوي:

هغه کومه مجبوري وه لږ مې پوه کړئ
چې محمود يې محتاج کړی و اياز ته
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۴۳۵)

سلطان محمود غزنوي يو ستر مسلمان فاتح و. اياز د هغه يو غلام و، چې ښکلا، وفاداري، عاجزي او عقل يې درلود. محمود اياز ته دومره خاص مقام ورکړی و، چې درباريانو او مشاورينو يې له اياز سره حسد پيدا کړی و؛ خو د محمود او اياز تر منځ اړيکه يوازې د عشق په اساس وه. نو محمود ولې محتاج شو اياز ته؟ په تصوف کې محمود د حق يا مالک يا بادار سمبول هم کېدای شي او اياز د غلام او معشوق سمبول. دلته دا ښيي چې بادار، سره له کمالاتو، خپل غلام ته رجوع کوي، ځکه چې غلام د عاجزۍ، مينې او وفادارۍ څرګندونه کوي. دا اړيکه يو متقابل عرفاني راز لري. نو مجبوري دا وه: محمود د اياز په ظاهري غلامۍ کې، د روحاني مينې، صفا، عاجزۍ، وفادارۍ او صداقت هغه تجلی پيدا کړې وه، چې هېڅ بل مقام يا سلطنت يې نه شي ورکولای. سلطان که هر څومره ستر و، خو د مينې اړتيا يې درلوده، د راحت او اعتماد اړتيا او داسې څوک يې غوښت چې مخلص، نه مصلحت‌کاره وي. اياز دا هر څه و. نو محمود ورته محتاج و، ځکه نور هر څوک د مقام، قدرت او خودغرضۍ پر اساس راچاپېره وو. په ادبياتو کې، محمود د دنيا سمبول دی او اياز د مينې. مطلب دا چې د دنيا بادشاهان هم، د عشق او صداقت محتاج وي. زړه همدومره محتاج وي، لکه وجود

چې د اوبو محتاج وي. ایاز وفادار، مخلص، صادق، عاجز او د مینې پوره نمونه و او دا صفات، حقیقي سلطنت جوړوي، نه تخت او تاج، ځکه خو بل ځای وایي:

برابر ورته کتلی د احسان محمود ته نه شي

په آیاز کې د اخلاص مې لا خو دومره شرافت شته

(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۹۷)

کلاچوي ځان له ایاز سره تشبیه کوي او مقابل لوری (دلبر، معشوق، حق تعالی یا مخاطب) د محمود په ځای یاد شوی نه دی، خو دا استعاره واضح ده. یعنې محمود چې د زمانې ستر باچا و، هغه هم زما د اخلاص برابر احسان نه شي کولای.یا هغه هم دومره ستر احسان نه لري، لکه څرنګه چې زه یې په خپل اخلاص کې لرم. په بل عبارت، اخلاص تر سلطنت او احسان لوړ ګڼل شوی دی. یعنې که زه د آیاز په شان عاجز یم، خو زما اخلاص دومره شریف او لوړ دی، چې هیڅ سلطنت، قدرت یا احسان یې مقابله نه شي کولای. دا یو عرفاني فخر دی، کلاچوي وایي، چې زه ممکن غلام ښکاره شم، خو زما اخلاص یو داسې شرافت لري، چې حتی محمود ته هم د حیرانېدو وړ دی. اخلاص د باطن شرافت دی، چې ظاهري قدرت یې نه شي سیال کېدای.

**یزید او حسین (رض)/** کلاچوي وایي:

د حسین رض ملګري نن ګناهګاران دي

یزیدان د معصو متوب دعوه کوي

(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۵٦)

حسین (رض) د اسلام یو لوی اتل او د کربلا شهید. حسین (رض) د حق او عدل لپاره و درېد او د ظلم او جبر پر وړاندې یې خپله قرباني ورکړه. هغه کسان چې له هغه سره وو، د حق لارویان او قرباني ورکوونکي وو. یزیدان دلته د یزید او د هغه ملاتړو ته اشاره ده، چې د ظلم او بې عدالتۍ سمبول دي. کلاچوي وایي، چې د حسین (رض) هغه ملګري چې په کربلا کې ورسره وو، نن ورځ ګناهګاران بلل کېږي او په مقابل کې، د یزید پلویان (یزیدان) د معصومتوب دعوه کوي. یعنې څرنګه تاریخ، ټولنه او خلک د حق او باطل په اړه خپل دریځونه بدلوي. هغه کسان چې د حق لپاره یې قرباني ورکړې ده، اوس په ټولنه کې ګناهګاران ګڼل کېږي او هغه څوک چې ظلم یې کړی، د پاکانو او معصومانو په څېر ځانونه ښیي. دا بیت د عدالت او حقیقت د لیدو پر اهمیت ټینګار کوي. په لنډه توګه، د وختونو په تېرېدو سره، د حق او باطل مخونه بدلیدای شي، خو اصلي حقیقت تل پاته دی:

د یزید د مظالمو سلسله به هم جاري وي

هر حسین رض به آزار ېږي، دا څه نوې کیسه نه ده
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۴۲٦)

یعنې، د ظلم او بې‌عدالتي سلسله هیڅکله نه ختمېږي؛ لکه د یزید زمانه، هم داسې خلک شته چې د حق او عدالت پر ضد ظلم کوي. هر ځل چې یو امام حسین (رض) (یعنې یو رښتینی، د حق لپاره درېدونکی انسان) راپورته شي، هغه به ځورول کېږي، اذیت کېږي. دا یو عام واقعیت دی، نه نوې یا ځانګړې پېښه. د ظلم د سیستم پر ضد درېدل تل ګران او له کړاوونو ډک وي. د حق لارې لارویان (حسینان) به تل د ظالمانو لخوا ځورول کېږي. دا د تاریخ تکرار دی؛ تل به د حق او باطل ترمنځ جګړه وي. کلاچوي د ټولنیز واقعیت پر وړاندې خپل فکر بیانوي او دا یو خبرداری دی، چې ظلم به هیڅکله په بشپړه توګه له منځه لاړ نه شي. خو همدارنګه، دا هم څرګندوي چې د حق لپاره درېدل ارزښت لري، که څه هم زحمتونه او ځورونې لري. په هر زمان کې چې څوک د حق لپاره ودرېږي (حسین رض شي)، نو ظلم او ځورونه به ورسره وي، ځکه دا د انساني تاریخ یوه ناپېیلېدونکې کیسه ده.

**ادم خان او درخانۍ/** کلاچوي وایي:

دغه عشق دی چې خوبان پورې یادېږي
پېژندلی چا درخو که ادم نه وې
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۹۲)

په دې بیت کې د پښتو ادبیاتو تر ټولو مشهور عشقي داستانونو ته اشاره شوې. آدم خان د مغلو د زمانې یو زړور زلمی او عاشق و. درخانۍ (درخو) یوه ښکلې نجلۍ چې آدم خان پرې سخت عاشق شو. د دوی مینه د وخت د سیاست، د کورنیو دښمنیو او د ټولنیزو بندیزونو ښکار شوه او دواړه بالاخره له ژوند څخه پاته شول، خو په ادبیاتو کې تلپاته شول. کلاچوي وایي: همدا د آدم خان عشق و، چې درخانۍ یې مشهوره کړه. خوبان یا ښایسته ښځې، نه د ښکلا له کبله، بلکې د عاشق د عشق له کبله مشهوره کېږي. یعنې که آدم خان نه وای، چا به درخانۍ پېژندله؟ درخو به هم یوه عادي ښځه وه؛ خو د آدم خان زړور او صادق عشق درخانۍ ته نوم، یاد او مقام ورکړ. دا د عاشق عشق دی، نه د معشوق ښکلا، چې محبوب ته نوم ورکوي. معشوق به هیڅوک هم نه وای، که دا عاشق نه وای، چې په معشوق پسې سوځي، ژاړي او قرباني ور کوي. ځکه معشوقه هم د عاشق له مینې ژوندۍ پاته کېږي. نو په دې بیت کې طاهر کلاچوي د پښتو ادبیاتو یو مشهور داستان (آدم خان او درخانۍ) ته تاریخي تلمیح کارولې ده، څو دا وښیي چې: خوبان د عشق له امله مشهوره کېږي، نه یوازې د ښکلا له امله. که عاشق نه وای، معشوق به یوازې یو بې‌یاده ښایسته انسان وای:

درخانۍ د خپل ناموس به ورښکاره نه کړم هیچا ته
لا خو دومره د غیرت په آدم خان کې مې غیرت شته
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۹۷)

دلته بیا هم «درخانۍ» د معشوقې/ښځې نوم دی او «آدم خان» د هغه زلمي/عاشق یا مدافع سمبول دی، چې د ناموس او عزت ساتنه ورسره تړلې ده. کلاچوي وایي: زه به دې درخانۍ خپل ناموس هیچا ته ښکاره نه کړم، یعنې د هغې عزت، د هغې بې‌غمي، یا د هغې شخصي حیثیت به د چا په لاس کې ور نه کړم. ځکه وای زما په آدم خان کې دومره غیرت شته، یعنې د آدم خان په سیرت، وجود، قهرماني کې دومره قوي غیرت (عزت‌غوښتنه) شته چې د دې ټولو ساتنه کوي. ناموس، غیرت، آدم خان او درخانۍ ټول په ګډه د ټولنیز کلتور او عشقي قربانۍ موضوع جوړوي. دا بیت د مرد غیور او محافظت تصویر وړاندې کوي، غیرت دلته د دفاع، ژمنتیا او عزت د ضمانت په توګه کارول شوی. کلاچوي غواړي وښيي چې عشق یوازې احساس نه دی؛ دا عمل، دفاع او د ناموس ساتنه هم ده. په پښتني ټولنه کې ناموس او غیرت ډېر بارز ارزښتونه لري؛ بیت دا ارزښتونه د عشقي روایت له لارې تاییدوي، خو هم مهاله کېدای شي د ټولنیزو توقعاتو او فشارونو انعکاس هم وي.

**فرهاد او شیرنۍ**/کلاچوي وایي:

مینه د فرهاد که یې سبب نه وې جوړ شوی
خوارې شیرینۍ ته به د هیچا نه و پام
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۹۵)

یعنې که د فرهاد مینه نه وای، که هغه دومره وفادار، زړور او قرباني کوونکی عاشق نه وای، خوارې شیرینۍ ته به د هیچا نه و پام. یعنې شیرینۍ به د چا په ذهن کې نه وای، نه به مشهوره وه، نه به یې ارزښت دومره درلود. ځکه دا عاشق وي، چې معشوق ته مقام ورکوي. عاشق د معشوق د یاد سبب وي. که فرهاد نه وای، شیرینۍ به یوازې یوه ښکلې ښځه وه، نه د ادب یوه مشهوره افسانوي څېره. دا د عشق د قدرت یو انځور دی. تلمیح د فرهاد او شیرینۍ کلاسیک داستان ته ده، چې د وفادارۍ، سختیو او د ناکام عشق نښه ده. که څه هم معشوق ښکلی وي، خو بې له عاشقه د هغه ښکلا بې‌یاده پاته کېږي. مینه، ژمنتیا او وفاداري هغه عوامل دي چې خلک (حتی ښکلي خلک) یې محبوب، مشهور او ارزښتمن کوي. ښکلا د ستاینې وړ ده، خو یاد، بقا او افسانه جوړونه د عشق کار دی. ځکه که فرهاد نه وای، د شیرینۍ ښکلا به دومره ارزښت نه درلود. دا د فرهاد مینه او خواري وه، چې شیرینۍ یې د

ادب، عشق، او تاریخ برخه کړه. معشوق د عاشق په مینه ژوندی پاته کېږي. ښکلا هغه وخت شهرت مومي، چې عشق ورپسې شي.

دلته به د کلاچوي هغه بیتونه تحلیل کړو، چې بېلابېل تلمیحات یې پکې کارولي وي:

خضر هم د هغو خلکو برابري کولی نه شي

چاچې ځښلې ستا د شونډو د چشمې آب حیات دي

(کلاچوي،۲۰۱۴: ٦١)

حضرت خضر علیه السلام د اسلامي روایت له مخې یو پېغمبر یا ولي دی، چې د اب حیات (د تل پاتې ژوند او ځوانۍ اوبه) یې ځښلې او تل ژوندی پاته شوی دی( کله چې خدای تعالی وخت پوره کړ، بیا به مري). دا یو مشهور کلتوري او مذهبي سمبول دی، چې د اب حیات له ځښلو سره ابدي ژوند، حکمت او اسرار تړاو لري. کلاچوي دلته وايي، چې حتی خضر، چې د اب حیات ځښلو له برکته تل ژوندی پاته شوی، هم د هغو عاشقانو برابر نه شي کېدلای، چاچې د معشوق له شونډو د چشمې (چینې) آب حیات ځښلي دي. یعنې معشوق(حق تعالی) دومره مقدس یا روحاني دی چې د هغه مینه، بوسه، یا کلام، تجلیات او انوارات تر اب حیات هم لوړ او تلپاته دي. خضر دلته د ابدي ژوند سمبول دی، خو کلاچوي وايي، چې حقیقي ژوند یا معنوي بقا خو د محبت یا معشوق له لارې ترلاسه کېږي. دا د تصوف او عرفان موضوع ده، چې محبت پکې د معشوق (خدای تعالی) سره د وصل تر ټولو لوړ مقام ګڼل کېږي، چې سالک وصل شي، نور فنا شي او دا د فنا حالت او مقام تر اب حیات لوړ دی. ځکه خضر تر اوسه لا فنا شوی نه دی او د وصال مقام ته نه دی رسېدلی، ځکه د هغو (منصور حلاج او ...) سالکانو له مقام سره نه شي برابرېدلای:

د هوس سپېره یا جوج ماجوج لپاره

کلک له سد سکندر دی زما عشق

(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۸۴)

نوموړې موضوع ته د قرآن کریم په څو ځایونو کې اشاره شوې ده، لکه: قَالُوا يٰذَا الْقَرْنَيْنِ إِنَّ يَأْجُوجَ وَمَأْجُوجَ مُفْسِدُونَ فِي الْأَرْضِ فَهَلْ نَجْعَلُ لَكَ خَرْجًا عَلٰىٓ أَن تَجْعَلَ بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمْ سَدًّا. (سُورَةُ الكهف: آیت٩٤)

ژباړه: وویل دغو (ترجمانانو) ای ذوالقرنینه! بیشکه چې یأجوج او مأجوج فساد کوونکي دي په ځمکه کښې، پس آیا (حکم کوې ته چې) مقرر کړو تاته خرج (محصول) لپاره د دې کار، چې جوړ کړې ته په منځ زموږ او په منځ د دوی کښې یو دیوال.

(کابلی تفسیر، دویم ټوک: ۱۱)

بل ځای راغلي دي: حَتَّىٰ إِذَا فُتِحَتْ يَأْجُوجُ وَمَأْجُوجُ وَهُم مِّن كُلِّ حَدَبٍ يَنسِلُونَ. (سُورَةُ الأنبِيَاء : ۹٦آیت)

ژباړه: تر هغو پورې کله چې پرانستلی شي یأجوج او مأجوج ( او دیوال ئې له منځه لرې شي) او دوی به له هرې لوړې (وچتې) څخه څخه ګړندي راکوزېږي. ( کابلی تفسیر، دویم ټوک: ۱۷۷)

جوج او ماجوج (یا یأجوج او مأجوج) د قرآني او توراتي روایتونو یو مشهور مفهوم دی. دوی داسې قومونه دي، چې د آخرالزمان په پېښو کې د فساد، وېرې او تباهۍ سمبول ګڼل کېږي. د روایتونو له مخې، ذوالقرنین (چې ډېر مفسرین یې د اسکندر مقدوني یا سکندر سره تطبیقوي) د دوی د شر د مخنیوي لپاره یو کلک دیوال (سد) جوړ کړ، چې دوی پکې بند پاته شول. نو دلته تلمیح ده سد سکندر ته، یعنې هغه قوي دیوال ته چې د ذوالقرنین له خوا د یاجوج او ماجوج د مخنیوي لپاره جوړ شوی و. دا دیوال د دفاع، زغم او استقامت سمبول دی. کلاچوي وایي، چې د هوسونو (شهوت، دنیاوي خواهشات، داخلي فتنې) لپاره، چې هغه یې سپېره جوج ماجوج بللي، زما عشق داسې کلک، مضبوط او نه ماتېدونکی دیوال دی، لکه د سکندر سد. یعنې زما عشق دومره خالص، سپېڅلی او قوي دی، چې د دنیا هوسونه یې نه شي ماتولی. په دې بیت کې کلاچوي د یاجوج او ماجوج له مفهومي بار څخه ګټه اخلي او د هغوی مثال د دنیوي هوسونو لپاره کاروي. ورپسې، خپل عشق داسې معرفي کوي، لکه یو سد سکندر، یعنې یو داسې کلک دیوال، چې دا هوسونه یې نه شي را ماتولی:

زه د زړه غنا له خدایه همیشه او مدام غواړم

د قارون غوندي بې سوده خزانې مې پکار نه دي

(کلاچوي،۲۰۱۴: ۱۹۱)

قارون هم یو مشهور قرآني او توراتي شخصیت دی، چې د حضرت موسی علیه السلام د قوم (بني اسراییل) غړی و. هغه د بې‌ساري شتمنۍ خاوند و، خو دا شتمني یې تکبر، غرور او بخل ته واړوله او د الهي عذاب ښکار شو، ځمکه پرې وښورېده او هغه د خپلو خزانو سره یو ځای ګیر یا غرق شو.

دي موضوع ته په قرآن کریم کې هم اشاره شوې ده: إِنَّ قَٰرُونَ كَانَ مِن قَوْمِ مُوسَىٰ فَبَغَىٰ عَلَيْهِمْ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ مِنَ الْكُنُوزِ مَآ إِنَّ مَفَاتِحَهُۥ لَتَنُوٓأُ بِالْعُصْبَةِ أُولِى الْقُوَّةِ إِذْ قَالَ لَهُۥ قَوْمُهُۥ لَا تَفْرَحْ ۖ إِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِينَ. (سُورَةُ القَصَص : ۷٦آیت)

ژباړه: بیشکه چې قارون ؤ د موسی ( یعنې د ده تربور ؤ) پس سر کشي وکړه (قارون) پر دغو (بني اسرائیلو) او ور کړی ؤ موږ ده ته له خزانو دومره قدر، چې بیشکه کلي‌ګانې د هغو به خامخا درنېدلې پر (داسې يوې) ډلې، چې خاوندان د قوت زور به ؤ، (یاد کړه) هغه وقت چې وویل دغه (قارون) ته قوم د ده ( چې مسلمانان ؤ په کبر او غرور سره) مه خوشالېږه! بیشکه چې الله نه خوښوي خوشالیدونکی (په مال د دنیا). (کابلی تفسیر، دویم ټوک: ۵۲۷)

بل ځای راغلي دي: فَخَرَجَ عَلٰى قَوْمِهٖ فِي زِينَتِهٖ ۖ قَالَ الَّذِينَ يُرِيدُونَ الْحَيٰوةَ الدُّنْيَا يٰلَيْتَ لَنَا مِثْلَ مَآ أُوتِىَ قٰرُونُ إِنَّهٗ لَذُو حَظٍّ عَظِيمٍ.

(سُورَةُ القَصَص : ۷۹آیت)

ژباړه: پس راووت (قارون) پر قوم خپل په زینت ښائیست (او دج خپل) وویل هغو کسانو چې غوښت ئې دغه ژوندون (لږ خسیس دَ) دنیا ای کاشکې چې وي موږ ته هم (له ثروته) په شان د هغو (اموالو اتباعو) چې ور کړی شوی دی قارون ته، بیشکه چې دغه (قارون) خامخا خاوند دی د برخې لوئي (له دنیا څخه). (کابلی تفسیر، دویم ټوک: ۵۳۱)

بل ځای الله تعالی فرمایلي دي: وَقٰرُونَ وَفِرْعَوْنَ وَهٰمٰنَ ۖ وَلَقَدْ جَآءَهُم مُّوسٰى بِالْبَيِّنٰتِ فَاسْتَكْبَرُوا فِي الْأَرْضِ وَمَا كَانُوا سٰبِقِينَ.

(سُورَةُ العَنکبوت : ۳۹آیت)

ژباړه: او (هلاک کړي مو وو) قارون، فرعون او (وزیر ئې) هامان او خامخا په تحقیق راغلی ؤ دوی ته موسی په معجزاتو ښکاره ؤ سره، پس تکبر وکړ دوی په ځمکه (د مصر) کښې او نه ؤ دوی ړومبی کېدونکي (له حکم او غذابه زموږ).

(کابلی تفسیر، دویم ټوک: ۵۶۱)

کلاچوي وايي: زه د زړه غنا، یعنې روحاني شتمني، قناعت، آرام او دروني خوشحالي له خدایه غواړم، دا زما غوښتنه ده، تل او همېشه. خو د قارون په څېر شتمني، چې فقط مادي ده، سود نه لري، یعنې نه خوشحالي راولي، نه برکت لري، نه آرام.

دلته دوه تلمیحات کارېدلې: تلمیح د قارون شخصیت ته، د مادي شتمنی بې‌ارزښته والی بیانوي. بل تلمیح د زړه غنا ته، دا اصطلاح هم د احادیثو او اسلامي ادب برخه ده، چیرې چې وايي: لیس الغنی عن کثرة العرض، ولکن الغنی غنی النفس.

غنا د مال ډېرښت نه دی، بلکې د نفس غنا ده. د انسان اصلي شتمني دروني قناعت او رضا ده، نه د سرو زرو خزانې. همدارنګه د خدای تعالی له وصله او د نفس له آرام پرته بل هیڅ شی حقیقي ارزښت نه لري:

په نغمه مې د داود زړګی تازه که
په ګرمۍ د عشق سینه زما تاوده که
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۴۱۷)

دا تلمیح د حضرت داود علیه السلام نغمو ته ده. حضرت داود علیه السلام ته خدای تعالی ځانګړی غږ ورکړی و، چې: مرغانو، غرونو او طبیعت، ټولو به یې د تلاوت او نغمو سره یو ځای تسبیح ویله. دا نغمه‌یي طاقت دومره روحاني و، چې زړونه به یې نرمه ول او انسانان به متأثره کېدل. داود علیه السلام ته د زبور کتاب هم ورکړل شوی و، نو دلته کلاچوي دا غوښتنه کوي: خدایه، زما زړګی د داود د نغمو په برکت تازه (ژوندی، نرم، رون) کړه. بیا دا نیم بیت د روحاني عشق (تصوفي یا عرفاني مینې) سمبول دی. سینه تاوده کول، یعنې د عشق له اوره سینه ډکه، جذبه، ولوله او داخلي حرارت پیدا کول. دا د صوفیانو په اصطلاحاتو کې یوه عامه استعاره ده، چې د عشق اور انسان له ظاهري ژوند څخه راوباسي او د حقیقت، خدای تعالی، یا معشوق د وصال لوري ته یې بیایي. د حضرت داود علیه السلام د نغمو په شان زما زړګی ژوندی او نرم کړه، چې روح ته خوږوالی ورکړي. یعنې زما وجود د الهي عشق په جذبه وسوځوه:

نن هاتیان د ابرهه تیار ولاړ دي پیش قدمۍ ته
په هیڅ حال نه په شا کېږي، تجربې نه درته وایم
(کلاچوي،۲۰۱۴: ٤٦٦)

ابرهه د یمن والي و، چې غوښتل یې کعبه ورانه کړي او د مکې پر ښار یې یرغل وکړ، د هاتیانو (فیلانو) سره. دا پېښه د عام الفیل په نوم یاده شوې، هماغه کال چې رسول الله ﷺ وزېږېد. الله تعالی دا یرغل د ابابیلو په واسطه ناکامه کړ، لکه څرنګه چې په سورة الفیل کې راغلي: أَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِأَصْحَابِ الْفِيل. (سُورَةُ الفیل : آیت۱)

ژباړه: آیا نه و لیدلی تا نه یې خبر چې څرنګه کار کړی و رب ستا له خاوندانو د فیل سره. (کابلی تفسیر، دویم ټوک: ۱۷٦۱)

کلاچوي وايي: نني (يهود) ظلم کوونکي، مستبدين، يا ښکېلاک کوونکي د ابرهه هاتيانو ته ورته دي، تيار ولاړ دي، مخ ته د ورانۍ يا يرغل لپاره را روان دي. دا خلک په هيڅ حال نه په شا کېږي، يعنې ډېر غرور، بېفکره، يا ځواک ته مغرور دي. خو کلاچوي وايي: زه تجربه درته بيانوم! يعنې دا نه يواځې يو تنقيد دی، بلکې يو خبرداری هم دی. دا حالت پخوا هم تېر شوی، نتيجه‌يې ښه نه وه، ځکه له تاريخ څخه زده کړه وکړه! دغه بيت د ابرهه له پېښې سره په تلميح يو پيغام ورکوي، تاريخ بيا تکرارېږي. که نن هم څوک د حق پر وړاندې غرور او يرغل ته درېږي، نو د ابرهه د هاتيانو غوندې به يې برخليک هم ناکامي، شرم او تباهي وي:

ستا مئينان ستا په درشل باندې پرېوځي داسې
لکه سومنات ته په سجده کې مجاور پرېوځي
(کلاچوي،۲۰۱۴: ٥٣٦)

سومنات د هند په تاريخ کې يو مشهور معبد و. دا معبد په منځنيو پيړيو کې د هندوانو لپاره ډېر مقدس ځای و، چې مجاورينو او زايرينو به يې هلته عبادت او نذرونه کول. سومنات د اسلامي تاريخ له اړخه هم ياد شوی، ځکه چې د سلطان محمود غزنوي له خوا د سترو فتوحاتو او يرغلونو په ترڅ کې ويجاړ شو. نو دلته سومنات د يوه غير اسلامي، خو ډېر مقدس عبادت‌ځای سمبول دی، چې خلک ورته په سجده، عبادت او کامل تعظيم کې پرېوځي. کلاچوي وايي: ستا(خدای تعالی ته وايي) مئينان (يعنې عاشقان، سالکان، بنده گان)، ستا (يا مراد ترې حضرت محمد صلی الله عليه وسلم دی) درشل ته داسې لوېږي (ځان ورکوي)، لکه څرنگه چې يو مجاور د سومنات په معبد کې په تعظيم کې پرېوځي. دا يوه شاعرانه مبالغه هم ده او تلميح پکې داسې کارېدلې: چې مينان دومره تعظيم کوي، چې که هر څوک يې ووينې، د بت پرستانو عبادت به ورته ياد شي. بل دا چې د فنا، سجدې او تسليمۍ حالت څرگندوي. بل دا چې تاريخي تلميح هم لري، سومنات نه يوازې د تعظيم سمبول دی، بلکې د مذهبونو تر منځ ټکر، ويجاړې او طاقتونو مقابله هم ورسره تړلې ده. ځکه د سومنات مثال په يوه اسلامي فرهنگي سياق کې تناقض ښکاري، خو شاعرانه لحاظه ډېر قوي تاثر لري. دا د يو داسې عشق تصوير دی، چې مئين پکې ځان ته، خپلې عقيدې ته او حتی شعور ته هم نه پاته کېږي.

دا بيت يو له هغو مواردو دی، چې تلميح پکې ، تشبيه، تاريخ او ادبي جسارت ټول سره يو ځای شوي، کلاچوي د سومنات د عبادت له سمبول څخه کار اخلي، تر څو د معشوق درشل ته د عاشق فنا، بېخودۍ او سپارل داسې بيان کړي، چې نور تشبيهات يې نه شي ادا

کولای. دا تلمیح نه یوازې تاریخي ده، بلکې کلتوري او مذهبي پارونه هم پکې ده، خو همدغې پارونې پکې د شعر اغېز خورا ډېر کړی دی:

تا د رسم و رواج لات و منات کړل درې ورې
ځار شم ستا له دې گزاره سلامونه مې قبول که
(کلاچوي،۲۰۱۴: ۲۶۳)

لات او منات په عربو کې د جاهلیت د دورې دوه مشهور بتان وو، چې عربو به یې عبادت کاوه. دا دواړه د اسلام له بعثت څخه مخکې د مکې او شاوخوا سیمو د خلکو لپاره مقدس خدایان گڼل کېدل. قرآن کریم هم د دوی یادونه کوي: أَفَرَءَيْتُمُ اللَّٰتَ وَالْعُزَّىٰ، وَمَنٰوةَ الثَّالِثَةَ الْأُخْرٰىٓ.(سورة النجم، آیتونه ۱۹-۲۰)
ژباړه: آیا پس وینئ تاسې لات او عزی او منات (په مرتبه کښې) درېیم بل له دغو (یعنې دغه بتان بخې بېکاره شیان دي) (کابلی تفسیر، دویم ټوک: ۱۲۷۲)
د اسلام او د محمد رسول الله له راتگ سره سم، دا ټول بتان باطل، عبث او د انسان پر ناجوړو عقیدو ولاړ تشخصونه وبلل شول او ویجاړ شول. نو دلته کلاچوي څه وایي؟ رسم و رواج ته اشاره کوي. یعنې: هغه د عربو د ټولنې، ناوړه دود، عقاید، دودیز بندیزونه، یا سنتونه چې انسان یې له آزادي، عشق، یا ربښتوني ژوند څخه منع کړی و؛ خو محبوب دا ټول درې ورې کړل، لکه څرنگه چې دې دنیا ته په راتگ باندې لات او منات مات کړل. یعنې تا (محمد رسول الله) دومره لوی کار دې کړی دی، زه دې فدا یم، زما سلام قبول کړه، چې دا خپل پیغمبر ته بشپړ درناوی دی.

**پایله**

موږ که د طاهر کلاچوي په شاعري نظر واچوو، زیاته برخه په کې د تصوف ده او حقیقت هم دا دی چې، تصوف د شاعري هغه سپېځلې او افاقي برخه او روح ده، چې بغیر له دې څخه شاعري هیڅ دوام نه شي پیدا کولای. بل اړخ ته که وگورو، کلاچوي ادبي صنایع هم زیات کارولي دي، د دې سربېره په شاعري کې د بیان برخه هم بارزه ده، په معنوي ادبي صنعتونو کې تلمیح ادبي صنعت هم زیات کارولی دی، چې پنځه دېرش تلمیحي بیتونه په دې لیکنه کې تحلیل شوي دي، زیاتره تلمیحات یې په دیني برخې پورې اړه لري، تاریخي، مذهبي او کلتوري مسایلو ته یې پکې نغوتې کړې دي، په هنري او ادبي ژبه یې خورا هنرمندانه اوډلي او راوړي دي.

زياتره يې د ابراهيم عليه السلام، موسی عليه السلام او سليمان عليه السلام او د هغوی د وخت واکمنانو: آذر، فرعون، بلقيس او اړوند کسانو ته په اشارې تلمحات کارولي دي. همدارنگه د وخت حالاتو ته په کتو، محبت، تصوف او ټولنيز واقعيتونو په تړوا د محمود غزنوي او اياز، ابرهه، ادم خان او درخانی، لات او منات، فرهاد او شيرنی، نمرود او قارون، جوج ماجوج او سکندر، امام حسين او يزيد او خضر عليه السلام په يادولو سره تلميحات کارولي دي. چې له يو اړخه يې ادب بډای کړی او له بل اړخه يې د نصيحت په ډول ولس ته د تېر ښه او بد تاريخ يادونه کړې او خپلو عيبونو ته يې متوج کړي دي.

**مأخذونه**


۱ – القرآن کريم او کابلی تفسير لومړی او دويم ټوک

۲ – افغان، م. (۱۳۸۸). قصص الانبياء. کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه.

۳ - الهام، م. ( ۱۴۰۳). د غلام سرور عرفاني شاعري ته تحليلي کتنه. قلم مجله، نهم کال، ۲۰ گڼه، پاڼې: ۱۵۷ ، ۱٦۵

۴ - الهام، م. ( ۱۴۰۳). د محمدالدين مقيد عرفاني شاعري ته کتنه. کابل مجله، درېيمه - څلورمه گڼه، پاڼې: ۱۲۳، ۱۳۵.

۵ – پنهان. ف. (۱۳۹۰). ادبي ارمغان. کندهار: نارنج خپرندويه ټولنه

٦ - خليل. ح. (۲۰۲۲). علم و فن. پېښور: يونيورسيټي خپرندويه ټولنه.

۷ – سيدي. س. (۱۳۹۱). زرچاڼ. ننگرهار: مومند خپرندويه ټولنه

۸ - شيرزاد. م. (۱۳۹۵). ادبي فنون. ننگرهار: ميهن خپرندويه ټولنه.

۹ - کلاچوي. ط. (۲۰۱۴). د طاهر کليات. پېښور: دانش خپرندويه ټولنه.

۱۰ - کلاچوي. غ. (۱۹۹۷). د مينې غېږ. چ۸. بنو: قاري حضرت گل شاکر.

۱۱ - هاشمي. س. (۱۳۹۳). د ادبپوهنې څانگې. ننگرهار: ميهن خپرندويه ټولنه.

۱۲ - همکار. م. (۱۳۹۴). بديع فن او پښتو شاعري. ننگرهار: مومند خپرندويه ټولنه.

۱۳ - نوري. م. (۱۳۸۹). ملي هنداره. کندهار: صداقت خپرندويه ټولنه.

۱۴ – يوسفزی، م. (۲۰۱۰). زرکاڼی. پېښور: يونيورسيټي بُک اېجنسي.

څېړندوی احمد الله وصال

# په پښتو ژبه کې نا اړین او تکراري نویزونه

# Unnecessary and repetitive coined words(neologism) in the Pashto Language

Assistant Prof.Ahmadullah Wisal

## Abstract

The creation of new words for the expression and communication of new concepts is a vital and innovative linguistic process that must be cultivated systematically to ensure the vitality and survival of a language. Fortunately, the tradition of word formation has, to some extent, been maintained in Pashto. While neologisms in Pashto offer numerous advantages, they are also accompanied by certain challenges.

In the ongoing process of Pashto neologization, there are many concepts for which new lexical items have been coined despite researchers' inadequate understanding, superficial treatment of the concepts, and the absence of comprehensive linguistic dictionaries. This has occurred even though suitable lexical equivalents for these concepts already exist in Pashto dialects and textual sources. Furthermore, there are concepts for which two or more neologisms have been created, resulting in lexical inconsistency and duplication.

This article aims to identify such issues and draw the attention of linguists to them. In addition, it discusses the necessity and priority of utilizing the language's existing lexical resources, particularly dialectal and archaic words. This article argues that, in the processes of language preservation, modernization, and standardization, greater reliance should be placed on the

language's own lexical heritage. It further recommends that newly coined words should be based on genuine linguistic needs, remain as unified as possible, and primarily serve to fill lexical lacunae within the language.

**لنډيز**

په ژبه کې د نويو مفاهيمو د انتقال او اړايې لپاره نوې کلمې جوړول يو حياتي او نوښتي عمل دی، چې د ژبې د ژوند او بقا لپاره بايد په اصولي ډول وپالل شي او له ښه مرغه په پښتو کې د وييرغاونې دود تر څه بريده پالل شوی هم دی. په پښتو کې نوې جوړونې که له يوې خوا پرېمانه ښېگڼې لري؛ له بلې خوا ځينې ستونزې هم په کې ليدل کېږي. د پښتو ژبې د نيولوگېزمونو په روان بهير کې ډېر داسې مفاهيم  شته چې د څېړونکو د ناسم درک، سرسري برخورد او  بشپړو ژبنيو قاموسو د نه شتون له امله کې ورته نوې کلمې جوړې شوې، حال دا چې د دغو مفاهيمو د ښوولو لپاره د پښتو ژبې په گړدودونو او متونو کې تيارې کلمې شته او ځينې داسې مفاهيم هم شته چې د اړايې لپاره يې دوه يا ډېرې نوې کلمې جوړې شوې دي، دا مقاله د همدغه ډول ستونزو د تشخيص او دې موضوع ته د ژبپوهانو د پام وراړلو په پار ليکل شوې. د دې تر څنگ په دې مقاله کې د ژبنۍ پانگې (گړويزونو، زړويزونو) په اړتيا او لومړيتوبونو بحث شوی او لارښوونه کوي چې د ژبې د بنې د ساتنې، عصريت او معيارسازۍ په پروسه کې بايد د ژبې پر خپله پانگه (گړويزونو او زړويزونو) زياته اتکا وشي او نوې جوړونې بايد پر ژبنيو اړتياوو بناء او د امکان تر بريده متحدې او په ژبه کې د شته تشو د ډکون چار ترسره کړي.

**سريزه**

نن‌سبا د ملتونو تر منځ د فنونو او توکو د تبادلې لړۍ خورا چټکه شوې چې له امله يې له يوې ژبې څخه بلې ژبې ته د وييونو د تگ بهير هم ښايسته چابک شوی. له ژبو څخه ژبو ته د وييونو د تگ په دې چابک بهير کې پښتون پښت هم د نورو ملتونو غوندې د نده لري چې د خپلې ژبې د بقا لپاره د نورو فکټورونو تر څنگ د ويیرغاونې په برخه کې خپل مسؤليت ته اوږه ورکړي، چې له ښه مرغه زموږ څېړونکو خپل دې مسؤليت ته څه ناڅه پام کړی او د بېلابېلو مفاهيمو لپاره يې څه اندازه نوي وييونه جوړ کړي؛ خو ستونزه دا ده چې دا نوې جوړونې د يوه نه، بلکې ډېرو ادرسونو له لوري په داسې ډول شوې چې يوه يې په کامله معنا د بل کارونه او جوړونې نه دي تعقيب کړې. د دې تر څنگ پښتو ژبه چې خورا غني گړدودونه او په ښه اندازه متون لري؛ خو څرنگه چې تر اوسه پورې د پښتو ژبې ټول گړدودونه نه دي

راټول شوي او نه يې هم متونو ته هغسې پاملرنه شوې چې څنګه پکار ده؛ نو موږ تر دې دمه داسې يو جامع قاموس نه لرو چې د پښتو ژبې ټول ويیونه او د هغو معناوې دې په کې راغلې وي چې په دې سره زموږ د ژبې د ويیونو په اړه نيولوګېزم جوړوونکي د معلوماتو له خلا سره مخامخېږي او د دې خلا په شتون کې نوي جوړ شوي ويیونه به حتمي ده چې له تېروتنو خالي نه وي .

په دې مقاله کې هڅه شوې د هغو نويو جوړو شويو ويیونو بېلګې راوړل شي چې په ژبه (ګړدودونو او متونو) کې تيار موجود وو، خو د معلوماتو د خلا، بشپړ قاموس د نه شتون او ګړدودي پانګې ته د نه لاسرسي په پايله کې پرې په ژبه کې د نه شتون ګومان شوی يا هم د نيولوګېستانو د نه تجسس او راحت طلبۍ له امله داسې ويیونه ګڼل شوي چې ګواکې په ژبه کې نه شته او نوي ويیونه ورته جوړ شوي، د دې تر څنګ په دې مقاله کې د ځينو داسې مفاهيمو او نومونو بېلګې هم رااخيستل شوې چې د افادې لپاره يې د بېلابېلو اشخاصو او ټولنو له خوا دوه يا زيات نويزونه جوړ شوي دي.

## د څېړنې اهميت او مبرميت

د دې څېړنې اهميت په دې کې دی چې ويي رغوونکو ته ور په زړه کوي چې له ويیونو سره سرسري چلند و نه کړي، د دې ترڅنګ دا څېړنه د نا اړينو نويزونو ستونزې بيانوي او ښيي چې په پښتو ژبه کې د ځينو مفاهيمو د افادې لپاره ستونزه د ويیونو کموالی نه، بلکې د ويیپانګې په اړه نابشپړ پوهاوی دی. د څېړنې مبرميت په دې کې دی چې دا څېړنه په عملي ډول د بې ضرورته نويزونو بېلګې ښيي او هغه ستونزې بيانوي چې د بې ضرورته نويزونو د جوړښت په پايله کې بنه مومي.

## د څېړنې پوښتنې

۱ـ په ژبه کې د کومو مفاهيمو د افادې او کومو پديدو د نومولو لپاره نويزونه جوړ شي؟
۲ـ په پښتو نويزونو کې د نا اړينو او تکراري نويزونو څه کول پکار دي؟

## د څېړنې ميتود

په دې څېړنه کې له تحليلي او انتقادي ميتود څخه ګټه اخيستل شوې او د څېړنې ډول يې کتابتوني دی.

## د مقالې متن

دا چې د نويزونو د جوړښت روايت د نويو پديدو له ايجاد، د ژبې د خپلې پانګې (ګړويزونو او زړويزونو) د شته تشو او د نورو ژبو د پور ويیونو له خوا د دغو تشو د ډکون له مخنيوي څخه سرچينه اخلي؛ نو له همدې امله د نويزونو پر اړتيا باندې عام بحث هم له همدې توکو (ګړويزونو، زړويزونو او پورويزونو) سره په ارتباط کې بڼه پيدا کوي؛ خو څرنګه چې زه دلته پر دې نه غږېږم

چې کومو پوروېزونو ته نويزونه جوړ شي؟ نو په همدې وجه مو په دې موضوع تمرکز هم نه دی کړی او که په کومو برخو کې دې موضوع ته اشاره هم شوې وي، نو لامل به يې د دې نظر تقويه وي چې ((په ژبه کې شته وييونو ته بايد نويزونه جوړ نه شي)). دلته زموږ د بحث اصلي موضوع دا معلومول او بېلګې وړاندې کول دي چې په ژبه کې کومو شته وييونو ته نويزونه جوړ شوي او کوم نويزونه تکراري دي؟ دا چې د نويزونو په تعريفونو کې د نويزونو څرنګوالی درک کېدای شي، نو پر همدې بنسټ غواړم خپل بحث د نويزونو په ځينو تعريفونو پيل کړم:

## نويزونه

د نويو توليد شويو شيانو او نويو مفاهيمو لپاره په ډېرو ژبو کې نوي نومونه جوړ شوي او لا هم جوړېږي چې نيولوګېزمونه يې بولي.

نيولوګېزم هغه لغت، اصطلاح يا عبارت ته ويل کېږي چې نوی جوړ شوی وي او زياتره پر يوه نوي مفهوم باندې دلالت کوي يا يوې زړې اصطلاح ته نوی ژبنی رنګ ورکوي. (هوتک، ۲۰۰۷م: ۵٦ مخ)

خپللاسي يا مصنوعي ويی (نيولوګېزم) هغه دی چې په بېلښتي يا تړښتي ډول د يوې علمي ټولنې له خوا د تيارو بېلګو له مخې جوړ شوی وي. (زيار، الف، ۱۳٦۰ل: ۳ مخ) يا نيولوګېزم نوي لغت ته ويل کېږي، هغه لغت يا اصطلاح چې د نوي او غيري مشهور څيز يا نوي مفهوم د څرګندولو لپاره وضعه وي. نيولوګېزمونه په دوه ډوله دي:

۱ـ لفظي نيولوګېزم: هغه ته ويل کېږي چې د کومې معنا لپاره نوی لغت جوړ شي.

۲ـ معنوي نيولوګېزم: هغه دی چې لغت په ژبه کې پروت وي خو د کومې نوې معنا لپاره وکارول شي. (لودين، ۱۳۹۹ل: ۱۰۸مخ)

## د نيولوګېزمونو د جوړښت اړتيا

د ژبې غنا او بسيانه د ژبې د لغوي پانګې په غنا او بسيانې پورې تړلې ده. په هره اندازه، چې ديوې ژبې وييپانګه غني وي په هماغه اندازه ژبه هم غني بلل کېږي.

دا مشهوره خبره ده چې ژبه يوه متحرکه او بدلېدونکې پديده ده چې له ټولنيزو بدلونونو سره سم په کې هر وخت تغير راځي، نو ويلای شو چې په ژبه کې نوي وييونه رامنځته کېدل د ژبې له پيدايښت څخه تر نن ورځې پورې يو معمول دودو او د ژبو د لغوي تشو د ډکولو او ژوند لپاره لومړی درجه اړتيا ده.

د پوهاند زيار په وينا د ( ژب ـ فرهنګي ) يرغل پر وړاندې وار له مخه وييرغاونه (نيولوجېزم) له نټه نه منونکو اړينتياوو څخه ګڼل کېږي. (زيار، ۱۳۹۱ل: ت مخ)

د نويو وييونو جوړول ژبنۍ اړتيا ځکه ده چې د اړيکو، علم او پرمختګ په دې نړۍ کې له يوې خوا نوې پوهې او ټولنيز فرهنګونه په تېزۍ سره له يوې ټولنې څخه بلې ته انتقالېږي او له نويو نومونو سره نوي مفاهيم ليږدوي او له بلې خوا هره ورځ نوي او ناليدلي توکي توليدېږي چې هر يو يې ژر يا وروسته له خپل ځانګړي نوم سره چې د توليدوونکو له ژبې ورته ټاکل کېږي، نورو ټولنو ته ځي او په دې توګه د وخت په تېرېدا سره د فرهنګ ورکوونکو او توليدوونکو ټولنو په ډېره اندازه وييونه د واردوونکو ټولنو په ژبه کې ځای نيسي او دا لړۍ مخ پر وړاندې ځي. که چېرته اخيستونکې ټولنې دې چارې ته پام و نه کړي او د خپلې ژبې د خونديتابه تدابير ونه نيسي، نو د وخت په تېرېدا سره يې معلومه خبره ده چې د ژبې لمنه له پرديو کلمو څخه ډکېږي، نو د دې لپاره چې هره ټولنه خپله ژبه د پرديو ژبو له بې‌زغمه تاثير څخه وژغوري، اړه ده چې د تناسب او اړتيا له مخې نوي وييونه جوړ کړي. د حبيب الله رفيع صاحب له قوله ((... ځينې کسان لغت جوړونه او د ژبې د بشپړتابه چار بدعت او ناروا بولي او په لوی لاس له خپلې ژبې نه د پرديو ژبو موزيم جوړول غواړي، خو په مقابل کې يې ځينې نور کسان په يوازې ځان او افراطي ډول په خپله ژبه کښې نوې نومونې کوي او په دې وسيله ژبه د تجريد او ګوښه ګيرۍ لور ته سوق کېږي. موږ بايد يوه منځوۍ لار خپله کړو نه دا چې هڅه وکړو پښتو سوچه کړو او د هر څه لپاره نوي نومونه کېږدو او په دې توګه خپله ژبه له انزوا او تجريد سره مخامخ کړو او نه د نورو ژبو د بهير او نړيوالو نويو پديدو په وړاندې لاس تر زنې کښېنو او هر څه چې زموږ ژبې ته راځي او هر څومره نومونه چې پښتونخوا ته را وارېدېږي په پټو سترګو يې په خپله ژبه کې ځای کړو او له خپلې ژبې نه د نورو ژبو موزيم يا لوښی جوړ کړو، چې يوازې چوکاټ يې د پښتو له (( ده، نه، تر، دی او...)) څخه جوړ وي او نور ټول نومونه او لغاتونه د نورو ژبو ور واچوو)). (رفيع، ۱۳۹۴ل: ۱۲۸ مخ)

## ګړويزونه او زړويزونه که نويزونه

د پو هانو له نظره د ويي پانګې غنا پر څلورو ستنو ولاړه ده، د ارکايکولغتونو را ژوندي کول، له لهجو څخه لغات ابستل، له نورو ژبو څخه پورول او د نويو لغتونو جوړول. (هوتک، ۲۰۰۸م: ٦٣ مخ . د ژبنيو توکو دا څلور واړه ډلې پر خپل ځای د ځانګړې ارزښت لري. د نړۍوال تعامل په پروسه کې ښېکه پوروينو ته اړتيا ده؛ زاړه لغات سره له دې چې ژبه له پرديوالي ژغوري د پخوانيو ژبنيو زمينو په مرسته زموږ ننۍ ژبنۍ اړتياوې پوره کوي او هم زموږ د فرهنګ او پخوانۍ ويل کېدونکې ژبې د غنا او زموږ د خلکو د فکرونو ښکارندوي کوي او نيولوګېزمونه ژبه له فقر او ګدايي‌ګري څخه ساتي، خو که څه هم چې په ترتيب سره

زړویزونه، نویزونه او پورویيونه د اوسنۍ ژبې په غنا کې خورا زیات ارزښتمن دي، سره له دې هم دا درې واړه کټګورۍ وییونه د ګړویزونو ځای نه شي نیولای.

پوهاند مجاوراحمد زیار د یوې (نګه، بشپړې، کره) لیکنۍ یا علمي پښتو د رامنځته کولو لپاره په ګړویزونو او بیا له زړو متونو څخه په را ترلاسه کړیو وییونو باندې ټینګار کوي او د ګړویزونو په باره کې یې ټینګار تر دې حده دی چې وایي ((یو ویی چې یوازې یو وګړی هم وایي ثبت دې شي)) او دا هم وایي چې نوې جوړونه باید ((یوازې په علمي، تخنیکي، مدني، اداري او داسې نورو مفاهیمو پورې تړلې وي))، خو د دې ترڅنګ د یوې (نګه، بشپړې، کره) لیکنۍ یا علمي پښتو د وییونو په برخه کې په سلو کې د ۲۵ فیصدۍ نسبي نظر هم وړاندې کوي او وایي چې د یوې (نګه، بشپړې، کره) لیکنۍ یا علمي پښتو د رامنځته کولو لپاره مو د انډول او تناسب لپاره د فیصدي آر او معیار وټاکه. په سلو کې ۲۵ له اوسنیو ګړدودنو (لهجو)، ۲۵ له زړو ادبي متونو، ۲۵ له ټاکنو او ۲۵ له نورو ژبو څخه د پورونو په توګه. (زیار، الف، ب، ۱۳۶۰ل: ۲۹ مخونه) او یو ځای د مقالو د یوې ټولګې (د پښتو ژبې د ودې، اړتیا او لارې چارې «۱۳۷۸ل) په ۹۹ مخ کې د ۲۵ سلنې وېش داسې واضح کوي چې ((... که څه هم دا پرتلیز (نسبي) وېش دی او په بشپړه توګه کومه د کاڼې کرښه نه ده، خو د ژبې د ګډوله کېدو د مخنیوي یوازینی منل شوی آر (اصل) دی او له دې سره سره د یومخیزې یا بنسټیزې سپېڅلتیا (پیوریزم) د مخنیوي لپاره هم یو سولیز (معقول) بنسټ بلل کېږي)).

نن ورځ د پښتو ژبې د لوړو زده کړو ډېر غمخوارن شته چې دوی د پوهاند زیار صاحب ۲۵٪ وېش د کاڼې کرښه بولي او داسې یې تعبیروي چې ګویا په ژبه کې باید ۲۵٪ ګړویزونه، ۲۵٪ زړویزونه، ۲۵٪ نویزونه او ۲۵٪ پورویزونه وي او ډېر ځله د نویزونو جوړولو او پورویزونو کارولو ته د پوهاند زیار پورته وېش د دلیل په توګه راوړي او زموږ د نویزونو او پورویزونو مینانو ته بې له دې چې ګړدودونو او پخوانیو متونو ته مراجعه وکړي په پرانستي مټ د پورویزونو د کارولو او په ډېره اندازه نویزونو د جوړلو جواز ورکوي چې دا کار له یوې خوا په ژبه کې د پوهولو او راپوهولو چار ستونزمنوي او له بلې خوا ژبه پردۍ کوي.

که څه هم چې پوهاند زیار خبره واضیح کړې او د یوه معین حد په توګه ۲۵٪ وېش ته قایلېدل هېڅ منطق هم نه لري، خو که له همدې وضاحت سره سره هم ځینې په خپل اخیستي مفهوم ټینګ وي؛ بیا هم دا وېش په پښتو ژبه کې عملي کېدای نه شي؛ ځکه: لومړی خو باید د دې هېڅ پوښتنه پیدا نه شي او دې ته اړتیا هم نه شته چې موږ د یوه مفهوم لپاره په پښتو ګړدودونو کې کلمه ولرو او د فیصدۍ تر دې تیورۍ لاندې یې له ژبې یا معیاري ژبې او لیک څخه وغورځو او ځای یې بلې پردۍ یا نوې جوړې شوې او ژباړل شوې کلمې ته

ورکړو، دويم دا چې موږ تر اوسه د پښتو د ټولو ګړدودونو وييونه نه دي راټول کړي چې د هغې له مخې دا پرېکړه وکړو چې دا يا هغه لغت په ورځنيو خبرو اترو کې کارېږي او که زړويزى دى؟ ځکه چې له يوې خوا د پښتو ګړدودونه خورا بډايه وييزې زېرمې لري او له بلې خوا پښتو يوه ځانساتې ژبه ده او د دې ژبې ګړدودونو ډېر هغه وييونه تر اوسه ساتلي چې په پخوانيو متونو کې راغلي، خو دا چې دا وييونه زموږ په ګړدودونو کې نه شته، نو موږ يې د خپلې محدودې وييزې زېرمې پر بنسټ زړويزونه بولو چې په حقيقت کې زړويزونه نه دي، بلکې ګړويزونه دي او په پښتو ګړدودونو کې لږ يا ډېر ژوندى کارونګ لري. زما د ليدنو له مخې د پښتو ژبې زړويزونه ډېر کم دي او تر ګړدوديزو پلټنو وروسته ډېر او پوره باور لرم چې د شته ژبې ۲۵ سلنه خو لا څه چې د دې سلنې نيمايي هم پوره نه کړي. درېيم دا چې نړۍ د پرمختګ په حال کې ده او هره ورځ نوي، نوي توکي توليدېږي او له نويو نومونه سره نورو ټولنو ته واردېږي، د دې ترڅنګ د نړۍوالو ترمنځ پراخو اړيکو دې ته هم لاره پرانيستې چې نوي علمي او فرهنګي مفاهيم له خپلو نومونو سره په تېزۍ له يوې ټولنې څخه بلې ټولنې ته ولاړ شي. په اوسني وخت کې د نړۍ خورا پرمختللي هيوادونه هم د فرهنګي تاثر په پايله يا د فرهنګي خلا ډکولو او فرهنګي ونجون په موخه نوي فرهنګي عناصر اخلي، د نورو علوم حاصلوي، مادي توکي واردوي او لا هم په يوازې توګه خپلې اړتياوې نه شي پوره کولاى چې په دې توګه يې ژبو ته ګڼې پردۍ کلمې او اصطلاحات را درومي. نو زموږ غوندې ټولنه چې له يوې خوا يې د اسلام مقدس دين په منلو سره په ژبه کې پرېمانه ديني و علمي اصطلاحاتو او عربي کلمو ځاى نيولى او له بله پلوه د خپلې کريابۍ لامله له واړه څخه تر لوى ځيزه پورې له نورو ټولنو راواردوي، د نورو ټولنو علوم او فونون را انتقالوي او دا لړۍ اټکلېداى هم نه شي او ممکنه هم نه ده چې ودرېږي او په دې بهير کې زموږ ژبې بې شمېره کلمې اخيستې او لا هم ورته بې له دې چې احصايه يې معلومه شي پرېمانه پردۍ کلمې راروانې دي او هم يې پر وړاندې د نويزونو د جوړښت کار ښه په کش کې روان دى چې د دې د هېڅ ډول احصايه نه شته؛ نو په دې ډول نامعلوم حالت کې د يوه معين حد په توګه په ۲۵ سلنه وېش هېڅ ډول تکيا نه شي کېداى.

پوهاند زيار وايي چې ((پښتو بايد لومړى خپله اره پانګه له ګړدودونو او زړو متونو څخه را ترلاسه کړي او بيا يوازې په علمي- تخنيکي او مدني ډګر کې د پښتو د وييپوهنې او ويي‌رغاونې بنسټونو له مخې نوي ټاکنې وکړي او تر ټولو وروسته بيا پرديو ژبنيو (وارداتو) ته غېږ پرانيزي. (زيار، الف، ب، ۱۳۶۰ل: ۲۹ مخونه) بل ځاى وايي چې پښتو هم د نورو ژبو غوندې حق لري چې لومړۍ خپله پانګه په کار واچوي او بيا پردۍ. (زيار، ب: ۲۹ مخ) او دا

هم وايي چې د پښتو غونډې نوې مدني کېدونکې او علمي کېدونکې ژبه تر هر څه لومړی د يوې پراخې او بشپړې وييپانګې (لغوي زخيرې) تثبيت ته اړتيا لري او هغه په دې ډول چې لومړی يې د لهجوي او متني څېړنې له لارې خپله آره او اصيله پانګه راټوله شي او بيا يې نوره تشه (خليګاه) له يوې خوا د ځينو نوو مدني او علمي نومونو په ژباړنو او ټاکنو او له بلې خوا په پورونو اخيستو ډکه شي. (زيار، الف: ۳۲ مخ) نوموړی دا هم وايي چې په وييپانګې پسې د ژبې ټول ګړدودونه وپلټل شي، هر ويی په خپله فونولوژيکي، سيمانتيکي او ايډيمي ځانګړنو سره په غږ ليک او غږ نيونې (ټايپ ريکارډر) ثبت کړي، که څه هم هغه ويی په يوه ويونکي پورې اړه ولري. د متونو څېړنه چې د ژبې زړو ليکلو يا شفاهي متونو او ادبياتو او همدا راز نومهالنيو چاپونو او خپرونو ته مخه وشي او نوي ويي تر را چاڼ شي.

آرپوهنيزه (اتمولوژيکي) څېړنه چې د آرپوهنې د ميتودونو د په کار اچولو له لارې له خپلوانو ژبو څخه ځينې له لاسه وتلي ويي بېرته خپل يا يې ورسره يو ګډ ميراث ثابت شي. کله چې د دې راز پلټنې له لارې وييپانګه راټوله او جوته شوه بيا وار دې ته رسي چې د ژبپوهنې له بنسټونو سره سمه يې د قاموسونو په بڼه خوندي کړي او هغه هم په بېلا بېلو ټوليو او کټګوريو لکه د وييونو قاموس، د ګړنو (محاورو) قاموس او داسې نور. په دې توګه چې د ژبې خپله آره سوچه وييپانګه لاس ته راغله، له يوې خوا به مو د خپلې ژبې د اړتيا يوه لويه برخه پوره کړې اوسي او له بلې خوا به مو د وييپانګې د پراختيا يوه وسيله تر لاسه شوې وي)). (زيار، ب: ۲۹ مخ)

او دا هم وايي چې نوې جوړونه بايد يوازې په علمي، تخنيکي، مدني، اداري او داسې نورو مفاهيمو پورې تړلې وي چې زموږ فکري او کلتوري زېږنده نه وي، لکه ژبپوهنه د لينګويسټيک، ټولنپوهنه د سوسيولوجي، پوهنتون د يونيورسيټي، څارندوی د سکوټ او پوليس، توغندی د راکټ، او وړکتون د کودکستان لپاره، مګر که سوکړک يا سوړسک ته د جوارو ډوډی وټاکو يوه بېځايه ټاکنه به وي، (زيار، الف: ۱۳۶۰، ۳۴ مخ)) دا خبرې په خپله د دې معنا لري چې د ده په اصطلاح د يوې (نګه، بشپړې، کره) ليکنی يا علمي پښتو د رامنځته کولو پر وخت بايد نويزونه او پورويزونه د هغو مفاهيمو د ارايې او پديدو د نومولو لپاره وکارول شي چې د هغو د ارايې او نومولو لپاره په ګړويزونو او زړويزونو کې خلا موجوده او کلمې نه وي، نو پر دې بنسټ هم په ژبنی پانګه کې د يوه معين حد په توګه ۲۵ سلنه وېش ته قايلېدل مناسب نه برېښي.

### شته ګړويزونو او زړويزونو ته د نويزونو جوړول

پورته لاربښوونې رابښيي چې د نويزونو له جوړښت مخکې بايد د ژبې د ټولو توکو د موندلو او راټولولو لپاره ګړدودي، متني، فکلوري او ايتيمولوژيکې پلټنې وشي او پايلې يې په قاموسونو کې

ځای شي. کله چې ژبنۍ پانګه راټوله او په قاموسي ډول خوندي شوه، بیا باید ټولې هغه ریښتیانۍ موجودې ژبنۍ تشې چې زموږ په ژبه کې د نویو او پردیو راغلیو مفاهیمو د افادې په برخه کې موجودې وي او یا هم ناریښتیانۍ (ذهني یا معلوماتي) تشې[1] یعنې هغه تشې چې د افادې کلمه یې زموږ د ژبې په کوم ګړدود کې وي، خو موږ یې په اړه معلومات نه لرو؛ د دغو لاسته راغلو ګړویزونو او زړویزونو (ارخایزمونو او هېستوریزمونو) په وسیله ډکېدای شي ډکې شي او پاتې نورې تشې دي په ژباړلو، ټاکنو او پور اخیستو ډکې شي او نوې جوړونې باید یوازې په علمي، تخنیکي، مدني، اداري او داسې نورو مفاهیمو پورې تړلې وي چې زموږ فکري او کلتوري زېږنده نه وي، لکه ژبپوهنه د لینګویستیک، ټولنپوهنه د سوسیولوجي، پوهنتون د یونیورسیټي، څارندوی د سکوټ او پولیس، توغندی د راکټ، او وړکتون د کودکستان لپاره، مګر که سوکړک یا سوړسک ته د جوارو ډوډۍ وټاکو یوه بېځایه ټاکنه به وي.

د محمد معصوم هوتک په وینا د ژبو ماهران کله کله له نیولوګیزمونو سره له دې اسیته مخالفت کوي چې د نوموړي لغت لپاره په ژبه کې پخوا لغت موجود وي. دغه راز مخالفت د غیري ماهرو اشخاصو له خوا هم کېږي)). (هوتک، ۲۰۰۷م: ۵۷ مخ).

خو اوس موږ وینو چې زمو په فرهنګي کړۍ پورې اړوندو ځینو داسې ځیزونو او مفهومونو ته هم نوې جوړونې او پورژباړې راشوې چې نومونه او د افادې کلمې یې په ګړدودونو کې تیارې شته؛ داسې مفاهیم او پدیدې هم شته چې د افادې توکي او نومونه یې په زړو متونو کې تیار وو، خو بیا هم نوي وییونه ورته جوړ شوي دي او داسې مفاهیم او نومونه هم شته چې د مختلفو پوهانو له خوا ورته دوه یا څو نوي وییونه جوړ شوي.

داچې ولې په پښتو نویزونو کې دا ډول ستونزې لیدل کېږي؟ شوخ (سبب) یې دا دی چې له یوه لوري موږ د خپلو ژبنیو (ګړدودي، متني او تاریخي) توکو بشپړ قاموسونه نه لرو او له بله لوري زموږ په نیولوګبسټانو کې د وییپانګې او وییونو د معنا په اړه پرته خلا، په متونو او ګړدودونو کې د وییونو نه پلټنه او پسته‌پایي (راحت طلبي) د دې لامل ګرځي چې ځینې وخت په ژبه کې د شته وییونو په اړه د نه شتون پرېکړه کوي او نوي وییونه ورته جوړوي، چې په دې سره بېلا بېلو ستونزو ته لار هواروي.

[1] ـ له ناریښتیانۍ تشې (ذهني یا معلوماتي تشې): له دغو تشو څخه مې موخه دا ده چې په ګړدودونو او متونو کې د ځینو مفاهیمو د افادې لپاره تیارې کلمې وي، خو د نویو وییونو جوړونکي ترې، نه وي خبر، لکه د متونو او لهجو د (تپار، پټارۍ او درځني) لپاره چې (مړولنځ) کلمه جوړه شوې، یا د یوه مفهوم د افادې لپاره د ژبې ویونکو نومونه کړې وي، لکه په (زغره‌وال ټانک) یې چې د (شوبلې) نوم ایښي، خو د نویزونو جوړوونکی ترې، نه وي خبر او نوې نومونه ورته وکړي.

دا چې دا څېړنه د نويزونو په ارزونه راڅرخي نو کېدای شي تاسې ته دا فکر پيدا شي چې د نويزونو له جوړښت څخه مخکې چې د ټولې ژبنۍ پانګې د قاموسونو د جوړښت، د وييپانګې په اړه د معلوماتو د خلا ډکولو او پوره پلټنې ته اړتيا ده؛ نو په نويزونو د څه ويلو لپاره هم د همدې تشو ډکون بنسټيزه اړتيا ده او په نه شتون کې يې لکه څنګه چې د نويزونو جوړښت له تېروتنو خالي نه دی، په همدې ډول د نويزونو نقد هم له تېروتنو سره مل دی چې دا يو معقول فکر او پرځای خبره ده او بايده دا وه چې موږ پورته يادو شويو توکو ته لاسرسی درلودای، خو ستاسې د ډاډ په پار به دا ووايم چې په دې څېړنه کې د نويزونو او په ژبه کې د هغو د شته بديلونو بېلګې له پوره پلټنې ورسته راوړل شوې. زه دا نه وايم چې زما دا کار به هېڅ (خو) او د (نقد ځای) و نه لري؛ اما، ما ته ګټمن ښکاري او د نويزونو د جوړښت پر وخت ځينو ښوېېدنو ته د جوړونکو پام ور اړولای شي.

د بشپړو قاموسونو د نه شتون او د وييونو په اړه د پرتې معلوماتي خلا ترڅنګ بله ستونزه دا ده چې زموږ نويزونو له يوه ټاکلي ادرسه نه، بلکې له مختلفو ادرسونو په داسې ډول سرچينه اخيستې چې ځينو يې د بل کړی کار نه دی څارلی او يوه ته د بل جوړونې هم نه دي معلومې او موږ ويلای شو چې ډېر ځله زموږ د ويي‌جوړونې کار انفرادي شوی، نو ځينې داسې مفاهيم او پديدې ليدل چې ورته د يوه له خوا جوړ شوی نويزی د بل د قناعت وړ نه وي، نو يا ورته بل نوم ړدي او يا يې هم په بڼه کې د بدلون غوښتونکی وي او د خپلې وړاندې کوونکې بڼې د ترويج کوښښ کوي او کړی يې هم دی؛ چې په دې سره په دې برخه کې يو ډول ګډوډې او خوا تورونکې رنګارنګي رامنځته شوې ده.

لکه مخکې چې وويل شول زموږ په ژبه کې داسې توکو او مفاهيمو د نومولو او ارايې لپاره هم نوي وييونه جوړ شوي يا ورته پورژباړې شوې چې د ارايې توکي يې په ګړدودونو کې تيار موجود دي او ځينو يې قاموسونو ته هم لاره موندلې، چې ځينې بېلګې دا دي:

| ګڼه | ګړوييزی | اړوند ګړدود او ځای | معنا | نويزی | معنا | موندنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | پټاری، درځنی، در ځن | خوست (منګل)، خوست، پکتيا (نيازي) پښتو پښتو تشريحي قاموس | د مړي د مينځلو ځای، هغه نښه چې د مړي د مينځلو پر ځای جوړه شوې وي. | مړولنځ | د مړي ولنځي، د مړي د مينځلو ځای (پا) مرده شوی خانه، غاسلخانه | پښتو سيندګی ۱۳۹۱ل |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 2 | پتیاری | لغمان | هغه څوک چې مړي مینځې. | مړولاند | مړولونی، مړي پرېوونکی، مړي مینځونکی (پا) مرده شوی، مرده شور (عر) غاسل میت | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| 3 | مخ و لاس | خوست، پکتیا (نیازي، منګل) | اودس | وچ اودس | څلور غړی (پا) وضوع، چهار اندام | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| 4 | پیاڅه | خوستوال (خوست) | موم، د شاتو د مچیو ټمبکه | ګبین‌ژاړله | د ګبینو یا شاتو پاتې شونی موم (پا) موم و یا درد انګبین یا شهد | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| 5 | ټکې، تاړی | خوست (خوستوال)، کوزه پښتونخوا | چکچکې | لاسپړکا | لاس پړک، لاس پړکوونه، چکچکې، چکچک (پا) چکچک، کف زدن | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ٦ | پون | خوست (نیازي) او قاموسونو (پم) هم اخیستی. | پمنتوب، پون ناروغي | پمرنځ | پمن رنځ، پمنه یا خپرېدونکې ناروغي (پا) بیماری ساری یا همه جاګیر، وبا | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۷ | دروېزګر | خوست (نیازي) | هغه څوک چې په کلیو او کورونو چنده او خیرات غواړي | بسپنغاړی | بسپنه، چنده یا نندره غوښتونکی یا ټولوونکی | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| | | | | دَروېزَی | ګدا | یوازینۍ پښتو |
| ۸ | خوبي | خوست نیازي | ډېر خوب کوونکی | خوبژلی | ډېرخوب کوونکی، خوبجن، خواب الود | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۹ | کوډګر، پاړوګر | خوست نیازي | هغه څوک چې کوډې کوي. | کوډلوبی | کوډګر، سحر ګر، مداري، شعبده باز، حقه باز، جادوګر | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۱۰ | لامبوزن | خوست | هغه څوک چې لامبو یې زده وي. | لامبوګر | لمبوونکی، لامبوزن، | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۱۱ | لامبوځن | ویبپوهنه ۱۵۸ مخ | | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | لامبووهونکی، شاگر، اباز | |
| ۱۲ | لاس اچول | خوست نیازي | په مستویو کې یو بل نیول او ځملول، یو له بل سره زور وهل، داسې جنګ چې جنګ کوونکي یوازې سره لاس او کرېوان شي. د سوک څپېړې جنګ. | لاسلګی | لاسلګونه، د سوک څپېړې جنګ (پا) دست اندازي، زد و خورد، دست بگریبان | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۱۳ | ویستونی، | خوست (نیازي) | ویستونکی، هغه ځوک چې ښه نښه ولي. | موخه مار | (پا) نشانزن | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۱۴ | ویشتندوی | ژبپالنه ۱۱۰ مخ | ؟ | | | |
| ۱۵ | بادوریه | خروار | د واورې هغه ورښت چې باد ورسره ملګرې وي | واور دوړ | بادوړه (پا) برف کویه، بادکویه | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۱۶ | بادجړی | پښتو پښتو تشریحي قاموس | هغه واوره چې باد راغونډه کړې وي | | | |
| ۱۷ | زرګر | اکثره پښتانه | هغه ځوک چې له زور ځخه ګاڼې جوړوي. | زرپښ | زرګر (پا) نقره کار، نقره‌ګر، نقره ساز | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| | | | | | زرګر | یوازینی پښتو |
| ۱۸ | کنډه تار | ننګرهار کوټ او لغمان کرغه‌یو | سیم خاردار | اغزن سیم | اغزن مزی (پا) سیم خار دار | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| ۱۹ | بې دیني | اکثره پښتانه | دین نه لرل | بېدینواله | بېدیني (پا) الحاد ګرایی، (عر) الحاد (ان) atheism | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |

داسې وییونه هم شته چې په زړو متونو کې موجود دي، خو بیا هم ورته نوي وییونه جوړ یا را ژباړل شوي دي، چې له دغو جوړو شویو او راژباړل شویو ځخه یې ځینې خورا مشهور شوي هم دي، لکه:

| ګڼه | متني ويي | اثر | معنا او بېلګه | نويزی | معنا | موندنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | ادار | ژبپانګه | روغتياپال، طبيب: دا عمل هم دردول کا دا عمل دارو ادار (ګګيانۍ) | رنځپوه | ډاکټر | ۲۰۰۰ پښتو وييونه |
| ۱ | درملګر | دا کلمه د زيار د ويي پوهنې ۱۳۶۰ل (۱۶۰مخ) په شمول په ډېرو قاموسونو کې شته خو په عملي ډول مې په کوم ګړدود او يا پخواني متن کې و نه مونده | | درملی | ډاکټر | يوازينۍ پښتو |
| ۲ | پالک | زړه پانګه | په زوی توب نيول شوي هلک په معنا، ظفر اللغات، خلف، لاسکوزي په معنا، پښتو قاموس اخيستی. بيا له پسه شمس الدين د ده پالک و چې په خلکو يې اواز د عدالت و (خ، قصيدې) | زوی نيو | دينی زوی، (پا) پسر خوانده، فرزند | زيار سيندکی ۱۳۹۱ل |
| ۳ | بلکښ | ژبپانګه | په پرديو متکي، پردي‌پال، هغه څوک چې خپل او خپلوان پرېږدي او په پرديو تکيه کوي. د (بل+ کښ) مرکبه کلمه ده، په کندهار کې دغه کلمه متداوله ده، مقابل يې خپلکښ دی: دا خپل ځان کړه توري خاورې کينه وکاږه بل کښه | پردی پال | بيګانه پال، (پا) بيګانه پرور، بيګانه پرست | زيا، پښتو سيندکی، ۱۳۹۰ل |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | خپلکښ | ژبپانګه | د بلکښ متضاده بېلګه | خپلپال | خپل پالونکی، (پا) خویشخور، فامیلی ګرا | پښتو سیندکی، ۱۳۹۰ ل |
| ۵ | تپاری | ژبپانګه | د مړي د وینځلو ځای، ولانګه:<br>لالکه! جګ یې لکه تیلی<br>ښنګه مو ژړکې لکه ناړی<br>خور دې خپره سه پر تپاری<br>د لالاکو تیې ده سور غمی<br>ملا ځینې وکښه پر تپاری<br>د بابا پرې سوی د زړګي زی | مړولنځ | د مړي ولنځی، د مړي د مینځلو ځای، (پا) مرده شوی خانه، غاسلخانه | پښتو سیندکی، ۱۳۹۰ ل |
| ٦ | ګوډاګی | پښتو زیاتره قاموسونه | د بل په واک کې، د بل د لاس اله، هغه سړی چې د بل په اشاره کار کوي، لاسپوځی | لاسکښېنولی | ګوډاګی، (پا) دست نشانده (ان) satellite, protege | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |
| ۷ | ګوډاګی | پښتو سیندګی(۱۳۹۱ل) | کښېنولی(لاس)، بړیخی، نانځکه، تالي ښتی(پا) دست نشانده ، کاسه لیس، عروسک، (عر) عمال | | | |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | satellite, (ان)، protégé, puppet | | | |
| ۸ | راشپېل، پارو | پکتیا، احمدزي او لوګر خراوري | هغه اله چې واوره پرې پاکیږي، هغه اله چې بامونه پرې توربږي، هغه اله چې درمند پرې بادېږي. | واور پاک | واروه پاکی (وسیله)، واوره پاکوونکی (وګړی) (پا) برف پاک، برف پاکن، برف روب | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |
| | ښتره | پښتو اکثره قاموسونه او د زیار ويي پوهنه (۱۷۸ مخ) | د واورو او نورو شیانو د پاکولو اله. اله پاک کردن برف و امثال آن. | واوره سپېخ | واوره پاک، هېندار سپېخ، (پا) برف روب، برف پاک، برف پاکن | پښتو سیندکی، ۱۳۹۱ل |

داسې هم شوي چې د یوه څیز د نومولو لپاره دوه یا څو نوي وییونه جوړ شوي، لکه د ګرامر لپاره چې د (پښویه، ژبدود، ژبښود، لیار) نومونه کارېدلي، یا هم یو څیز چا په یوه نوم نومولی، لکه انقلاب چې پاڅون بلل شوی او بل په بل نوم نومولی، لکه همدا انقلاب چې اوښتون ښوول شوی؛ دا ډول وییونه نور هم شته چې ځینې بېلګې دا دي:

| ګڼ | نویزی | ماخذ | معنا | نویزی | معنا | موندنه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | نیاوتون | ۲۰۰۰پښتو لغات | محکمه | میانځګړی | محکمه | ژبپالنه ۱۲۸ |
| ۲ | غږپوهنه | ژبساتنه ۱۲۱مخ پښتو ګرامر جز اول ۳ مخ | فونولوژي | اوازپوهنه | فونولوژي | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |
| ۳ | ویل پوهنه | پښتو ګرامر جز اول ۳ مخ | نحوه، جمله پوهنه | غونډله پوهه | جمله پوهه، نحوه، جمله شناسي | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | چپ توري | پښتو ګرامر جز اول ۵ مخ | حروف صامت، کانسونېنېنټ | ببواک (غږ) | حروف صحیح، همخواهان، صامت، کانسونېنېنټ | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |
| ۵ | کتوځی | پښتو ګرامر جز اول ۲۵ مخ | معاینه خانه | کتنځی | د ناروغ کتنې (معاینې) ځای، (پا) معاینه خانه، درمانگاه، دمانکده | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |
| ٦ | پوهنګیره | ژبپالنه ۱۲٦ مخ | انسایکلوپیډیا | پوهنغونډ | پوهنجونګ، دانش جونګ (عر) دایرة المعارف، (ان) انسایکلوپیډیا | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |
| ۷ | تیری/ تیري | پښتو ژبه او لیکدود، ۱۹۹۱م ۳۲ مخ | تجویز/ تجاویز | مخېښود | وړاندیز، (پا) پېشنهاد (ار) تجویز، proposal, offer, suggestion | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |
| ۸ | تونو | پښتو ژبه او لیکدود، ۱۹۹۱م ۱۸ مخ | جمعه مغیره حالت دی، کتب اللغات | سیند | ویي لیکی، (پا) کتاب لغت، فرهنګ، واژه نامه، (عر) قاموس، لغت | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |
| | ژبتونی | پښتو ژبه او لیکدود، ۱۹۹۱م ۲٦ مخ | په لیندیو کې ورته (لغت) لیکل شوي، سړی نه پوهېږي چې د لیکوال موخه به تري (قاموس) وي که (کلمه/ویی)؟ | | | |
| ۹ | در ببنو | زړه‌پانګه | خیاط، ګنډونکی، درزي. غم کړ زړه د حمید هسې څېرې څېرې چې حیران یې په ګنډل شو دربښو | ګنډونکی | درزي، خیاط، دوزنده، درزګیر، خیاط | پښتو سیندګی ۱۳۹۱ل |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | (حمید) | | | |
| | ځربښمار | ۲۰۰۰پښتو لغات | جامو گنډونکی، اوبدونکی | سکونکی | خیاط | یوازینی پښتو |
| ۱۰ | ښور | پښتو ژبه او لیکدود، ۱۹۹۱م ۱۹ مخ | حرکت، لکه زور، زېر، پېښ. | خوځندی | حرکت یعنې زور، زېر، پېښ، زورکی: خوځندی حرکت، غړوندی اما چو وچ گردید با ساکن مفسر | نصاب الصبیان۱۳۶۲ل ۵ مخ |
| ۱۱ | نوکی | یوازینی پښتو | ناخن گیر | نوکتراش | نوک اخیستونی، ناخنگیر، ناخن بر | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| ۱۲ | نوکغوڅی | ۲۰۰۰ پښتو وییونه | ناخونگیر | | | |
| ۱۳ | زېږدَله | یوازینی پښتو | زلزله، ځیلځیله ځلځله | ځمکرېږد | ځمکرېږدله، رېږدله، رېږده، زمین لرزه، زلزله | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| | ځمکلړزه | ۲۰۰۰ پښتو وییونه | | | | |
| ۱۴ | سل کالي | یوازینی پښتو | قرن | سلکلیزه | پېړی، سلیزه، سدی (پا) سده، صد ساله گی | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| ۱۵ | گړار | پښتو ۲۰۰۰ لغاتونه | بحث، Discussion | وبینه | وینه، سکالو، ښکالوه، گفتگو، بحث، مباحثه، مذاکره | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| ۱۶ | ټیکلپخي | پښتو ۲۰۰۰ لغاتونه | نانوایي | ډوډېَخَنَي | نانبائي | یوازینی پښتو |
| ۱۷ | پایرساند | پښتو ۲۰۰۰ لغاتونه | Graduate فارغ، | زده‌کړوتی | (پا) دانش آموخته ، (عر) فارغ التحصیل، (ار) ډگری یافته، (ان) graduate, absolvent | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۸ | اړتون | پښتو ۲۰۰۰ لغاتونه | زندان، prison | اړتون | اړځی، ځارنتون، توقیف ځای، (پا) توقیفگاه، (ار) حولات، custody | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| | بندیخونه | | | ستنځی | اړځی ، اړتون ، پولیسي توقیفځي، (پا) توقیف خانه، بازداشتگاه، (ار) حوالات، (ان) a house of detention | |
| ۱۹ | گاډیوان | پښتو ۲۰۰۰ لغاتونه | Driver، موټروان | گاډی چلوونکی | موټروان، (پا) راننده ، گاریچی، driver(ان) | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| | گاډی چلوونکی | | Driver، موټرچلوونکی | گاډیوان | بگیوان، گاډی چلوونکی، ټانگه ولا، کوچوان، (پا) گادی ران، گادیوان، کالسکه چی | |
| ۲۰ | پخوال | پښتو ۲۰۰۰ لغاتونه | اشپز | پخلیکار | پخوونکی، پخوونی، (پا) اشپز، باورچی | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| | پخولی | یوازینی پښتو | | پخوونی | پخوونکی، پخلیکار، (پا) اشپز، باورچیو (عر) طباخ | |
| ۲۱ | چای خوښ | کابل، خیراباد | چاینک | چای دمی | چاینک | زیار وییپوهنه ۱۸۰ مخ |
| | چي‌جوش | موسی‌خېل خوست نیازي | | چای دمی | چاینک | یوازینی پښتو |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | باډول[1] | ۲۰۰۰ پښتو وییونه | چایجوش | | | |
| ۲۲ | ژونکه | ۲۰۰۰ پښتو وییونه | حجره، cell | ژوندینکه | کوره کی فارسي :حجره ، سلول انگرېزي : cell | پښتوسیندگی ۱۳۷۸ل |
| | | | | ژونکه | کورکی، ژندینکه، (پا) حجره، سلول،(ان) cell | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| | | | | کوره کی | کورگی فارسي :حجره ، سلول انگرېزي : cell | پښتوسیندگی ۱۳۷۸ل |
| ۲۳ | اوښتون | ۲۰۰۰ پښتو وییونه | انقلاب، revolution | اوښتون | اوړون، بدلون (پا) دیگرگون، واژگونی، انقلاب (ان) revolution | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| | پاخون | | انقلاب، revolution | پاخون | سرغړاوی (پا) رستاخیز، برخاست، شورش، یاغی گری (عر) قیام، (ار) بغاوت (ان) insurrec, tion, revolt, uprising, riot | |
| ۲۴ | کب نیوان | ۲۰۰۰ پښتو وییونه | Fishman | کب‌نیوی | کب‌نیوونی، کب‌نیوونکی، (پا) ماهیگیر (ان) fisher | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |
| ۲۵ | الوتوان | د علومو اکاډمي پښتو انستیتیوټ | پیلوټ | الوتاند | (پا) خلبان (ان) pilot | پښتو سیندگی ۱۳۹۱ل |

[1] ـ دا چې باډول نوې جوړه شوې کلمه ده که ګړدودي؟ و نه توانېدم چې معلومات یې پیدا کړم.

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۲۶ | شپغالی | ژبپالنه<br>غلام سرور<br>زهیر | نایټ کلب | بنډارځی | بنډار خونه فارسي:<br>بزمگاه، باشگاه<br>انګرېزي (night) :<br>club | پښتو سیندګی<br>۱۳۹۱ل |
| | | | | شپه غالی،<br>بنډار غالی | نایټ کلب | پښتو سیندګی<br>۱۳۹۱ل |
| ۲۷ | کلولی | ژبپالنه ۱۲۷<br>مخ | تهذیب | هڅوب | (هغه څه چې<br>ولسونه سره بېلوي)<br>د درېګونو وییونو -<br>هغه، څه، ولسونه)<br>له سرغړونو رغول<br>شوی نویز<br>(نیولوګېزم) ،<br>کلتور، کلچر، (پا)<br>فذهنګ، کلتور،<br>(عر) ثقافت،<br>تهذیب | پښتو سیندګی<br>۱۳۹۱ل |
| ۲۸ | ژواک | ژبپالنه ۱۲۸<br>مخ | کلچر | | | |
| ۲۹ | نومکی | پښتو ژبه او<br>لیک دود | اسم تصغیر | کوچنینوم | مصغرنوم | زیار، ویي<br>پوهنه۱۳٦۰ل |
| ۳۰ | سولپوهنه | ۲۰۰۰ پښتو<br>وییونه | فلسفه | سولپوهنه | دمنطق علم (پا)<br>علم منطق (ان)<br>logic | پښتو سیندګی<br>۱۳۹۱ل |

## پایله

په ژبه کې د نویو وییونو جوړښت د ژبې د هویت ساتنې یوه نا انکاري ارزښتمنه لار ده چې د یو لړ ځانګړو ارونو په پالنه بڼه پیدا کوي او ژبه له فقر، ګدايي‌ګري او پردیوالي څخه ساتي؛ خو که چېرته همدا جوړونې پر ژبنیو اړتیاوو بناء نه وي او یا یې د ژبې د ټولو ګړدودونو او متونو له وییونو څخه د نویزونو جوړوونکو د نه، ناسم یا نابشپړ خبراوي په پایله بڼه موندلې وي؛ نو په دې حالت کې نه یوازې دا چې نوښت بې ګټې کېږي، بلکې له اصلې ژبې سره د زده‌کوونکو فاصله، د معیار پر وړاندې ستونزې او ژبنۍ ګډوډې هم رامنځته کوي. د دې تر څنګ دا کار د زده‌کړې بهیر ستونزمنوي او په ضمن کې یې د نویو جوړونو بهیر هم بې‌اعتباره او تر شک لاندې راځي. د ځینو په اصطلاح په ژبنۍ پانګه کې د ۲۵ سلنې د تیورۍ رعایت چې په کې د نویزونو او پورویزونو په شان د ګرویزونو او زړویزونو په ۲۵ سلنه کارښت اتکا

کېږي بل هغه فکټور دی چې خپلې ژبنۍ پانګې په مورد د بې‌بندوبارۍ حس روزي او پر ځای یې د پورویزونو د ناسنجول شوي مقدار او افراطي ویي‌جوړونې او کارونې پروسه تقویه کېږي.

**وړندېزونه**

۱ـ د علومو اکاډمي ته مې (چې عملاً د نویزونه چاره پر مخ وړي) وړاندیز دی چې ټول متفرق نویزونه راټول او د یوه ډېټابس په وسیله خوندي کړي، ترڅو د نورو نویزونو د جوړولو پر وخت د تکرار مخنیوی وشي.

۲ـ نیولوګیستانو ته مې وړاندیز دی چې د نویزونو د جوړښت پر وخت د نورو کړي کارونه تر نظره تېر کړي او د دې تر څنګ په هغه مفهوم پسې چې دی غواړي نوې کلمه ورته جوړه کړي په ګړدودونو، قاموسونو او متونو کې پوره پلټنه وکړي او تر بشپړ ډاډ وروسته دې په ژبه کې د واقعي تشو د ډکون په موخه نوې جوړونې وکړي.

**مأخذونه**


۱. اڅکزی، عبدالصمد خان. پښتو ژبه او لیک‌دود، یونائټېډ پرنترز کوته: ۱۹۹۱م.

۲. رښتین، صدیق الله. پښګرامر «جزء اول»، پښتو ټولنه: ۱۳۲۷ل.

۳. رفیع، حبیب الله. ژبپالنه، د افغانستان د علومو اکاډمي، دویم چاپ، ۱۳۹۷ل.

٤. رفیع، حبیب الله. ژبساتنه، مومند خپرندویه ټولنه جلال اباد، ۱۳۹۴ هـ ش.

۵. زیار، مجاور احمد «پښتو نیولوجېزم یا نوې ویي رغاوونه (لغت جوړونه)»، د پښتو ژبې د ودې اړتیا او لارې چارې، (د مقالو ټولګه)، د محمد اسماعیل یون په زیار، د پښتني فرهنګ د ودې او پراختیا ټولنه – جرمني، ۱۳۷۸ل.

٦. زیار، مجاوراحمد. پښتو سیند ګی(نوویزونه)، چاپ: دویم، دانش خپرندویه ټولنه،۱۳۹۰ل/ ۲۰۱۲م.

۷. زیار، مجاوراحمد. پښتو سیند ګی(نوویزونه)، ساپي د پښتو څېړنو او پراختیا مرکز، ۱۳۷۸ل/ ۲۰۰۰م.

۸. زیار، مجاوراحمد. لیکلا، ننګرهار پوهنتونو د ښوونې او روزنې پوهنځی، ۱۳٦۰ل.

۹. زیار، مجاوراحمد. ویي پوهنه، د لوړو او مسلکي ښوونو چاپخونه: ۱۳٦۰ل.

۱۰. عظیمي، قاري محمد عظم. نصاب الصبیان، د علومو اکاډمي، دولتي مطبعه: ۱۳۶۲ل.

۱۱. لودین، دولت محمد. لغت پوهنه، د داود عربزي په زیار، دویم چاپ، ختیځ خپرندویه ټولنه: ۱۳۹۹ل.

۱۲. منگل، کامران. ۲۰۰۰ پښتو ویپونه، (....)، ۱۳۹۶ل.

۱۳. هوتک، محمد معصوم. پرمعیاري ژبه د معیار په ژبه یوه څېړنه، اولویل کاناډا، ۲۰۰۶م.

۱٤. هوتک، محمد معصوم. له کندهاره تر اټکه، علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار، ۱۳۸۹ ل.